نيم حصه عذاب دے چه په آزادو دے دا جوړ از د نکاح د وينځو سره د هغهٔ چا د پاره دے چه ويريږى

الْعَنَتَ مِنْكُمْ ؕ وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۵﴾ ع

د زنا نه - او صبر ستاسو غوره دے تاسو لره - او خدائے بخونکے مهربان دے -

يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

غواړى الله چه بيان اوکړى تاسو ته او وخائ تاسو ته طريقے د هغو چه وو مخوا ستاسو نه،

وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۶﴾ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ

او معافى اوکړى تاسو ته او الله پوهه د حکمت والا دے - او الله غواړى چه معافى اوکړى

له يعنى بهتره دا ده چه د آزادى سره طاقت د نکاح لرى نو د وينځې سره دے نکاح نه کوى او په صورت د نکاح کښې دے د مسلمانے وينځې سره نکاح کوى او نکاح د وينځې په اذن د مولى سره به وى سره د مهر نه او د واده نه روبيا حم کړے حد د آزادے د حد په نيمه کے سه لَا اِذَا الْحُصَيْنُ د وينځې حد نيم دے د حد د ځوے نه څکه نعمت کم دے ۱۲
سه چه اولاد مريان نه شى ۱۲

عَلَيْكُمْ ۚ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا

تاسو ته - او غواړي هغه خلق چه اخته دي په مزو کښې چه کاږه کړي تاسو په کوږوالي

عَظِيمًا ﴿٢٧﴾ يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ

لوي سره - غواړي الله پاک چه آسان راکړي پر تاسو - او پيدا کړے شوے دے انسان

ضَعِيفًا ﴿٢٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ

کمزورے - اے مؤمنانو مه خورئ مالونه خپل په مينځ خپل کښې (يعني د يو بل)

بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ ۚ وَ

په ناحقه سره مګر کړوئ تجارت د رضا ستاسو نه - او

لَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾ وَمَنْ يَفْعَلْ

مه وژنئ تاسو يو بل - يقينًا الله دے په تاسو مهربان - او چا چه اوکړو

ذَٰلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ

دا کار په زياتي او په ظلم سره نو بو زم به دے اور ته - او دے دا کار په

عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾ إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ

الله تعالیٰ آسان - که ځان ساتئ تاسو د لويو ګناهونو نه چه منع کړے شوي يئ تاسو د هغې نو

عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُدْخَلًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَتَمَنَّوْا

معاف به کړو تاسو واړه ګناهونه او داخل به کړو تاسو ځائے د عزت ته - او مه غواړئ هغه

مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ

شے چه غوره کړے دے الله په هغے سره ځينے ستاسو په ځينو نورو بانديے - نارينو لره حصه ده د

مِمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ وَاسْأَلُوا اللَّهَ

هغه شي نه چه ګټلے ئې دي - او ښځو لره حصه ده د هغه شي نه چه ګټلے ئې وي - او غواړئ د الله نه

له تجارت هغه جائز دے چه په کښے رضا وي د دواړو جانبينو ۱۲ ٢ه پردے مال چه ځمکے خوري نو فساد او قتل جوړيږي نو پردے مال مه خورئ چه فساد او قتل جوړنه شي ۱۲

٣ه احکام د دين بيانول د الله تعالیٰ رحم دے ۱۲

٤ه يو لوئے ګناه دے چه مقصود دے او بل د هغې ګناه د حاصلولو ذريعه دي چه خانکه لوڅا ګرزي نو که تاسو د هغه مقصودي ګناه نه ځان بچ کړو نو هغه ذرائع اګرچه تاسو کړي يدي نو هغه به درته معاف کړم مثلًا د غلا نه سرئ توبه اوويسته نو د غلا هغه اسباب کوم چه ده تيار کړي وو هغه معاف به ورته الله اوکړي ۱۲

عه دا يو لسم حکم دے پردے مال مه خورئ ۱۲ يُرِيدُ اللّٰهُ الخ دا ترغيب دے تعميل د احکامو ته ۱۲ وَمَنْ يَّفْعَلْ الخ دا د عذاب اُخروي بيان دے ۱۲ إِنْ تَجْتَنِبُوا الخ دا بشارت اُخروي دے ۱۲

ه يعني کوم منصب چه خاص دے په نارينو پورے مثلًا امامت د هغې خواهش دے نه کوي زنانه بلکه په نيکو کښې دے کوشش کوي ۱۲

عه دا دولسم حکم دے يعني د غير اختياري نعمت او منصب د حصول کوشش مه کوئ ۱۲

ؔ یعنی سرې ما قلان دي او بل دوی خرچ ؎ یعنی ښځه ښه سلوک کوي ۱۲

مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۳۲﴾ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا

فضل د هغه - یقیناً الله دے په هر څه باندے پوه - او هر یو له مقرر کړي مو دي

مَوَالِیَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ؕ وَالَّذِیْنَ عَقَدَتْ اَیْمَانُكُمْ

وارثان د هغه مال چه پریښي وي مور و پلار او خپلوانو - او د چا سره چه شوے وي لوظ ستاسو

فَاٰتُوْهُمْ نَصِیْبَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ شَهِیْدًا ﴿۳۳﴾

نو ورکوئ دوی ته حصه د دوی - یقیناً الله پاک ته هر څه ښکاره دي -

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَی النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰی

نارینه حاکمان دي په ښځو باندے ځکه چه غوره کړې دی الله ځینې د دوی په

بَعْضٍ وَّبِمَاۤ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ

ځینو باندے او ځکه چه خرچ کوي دوی د خپلو مالونو نو نیکے ښځے تابعداري دي حفاظت کوونکے

لِّلْغَیْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِیْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ

په شا ځکه چه حفاظت کړے دے الله - او هغه ښځے چه ویریږئ تاسو د بد خوئی د هغوی نو وعظ ورته

وَاهْجُرُوْهُنَّ فِی الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا

او کړئ او جدا ئې تر پریږدئ د خملاستو ځایونو او ووهئ دوی - نو که حکم ئې او منلو ستاسو نو مه لټوئ

عَلَیْهِنَّ سَبِیْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِیًّا كَبِیْرًا ﴿۳۴﴾ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ

په دوی الزام - یقیناً الله دے برتر او لوئے - او که ویریږئ تاسو د خلاف نه

بَیْنِهِمَا فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ

په مینځ د دوی کښے نو ولیږئ یو منصف د اهل د سړي نه او یو منصف د اهل د ښځے نه - که

یُّرِیْدَاۤ اِصْلَاحًا یُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَیْنَهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِیْمًا خَبِیْرًا ﴿۳۵﴾

اراده وکړه دواړو د موافقت نو روغه به راولي الله په مینځ د دوی کښے - یقیناً الله دے علم والا خبردار -

ع ۵

ؔ یعنی د چا سره چه ستاسو دوستي وي د هغوی سره ښه سلوک کوي ۱۲ ؔ یعنی سرې ما قلان دي او بل دوی خرچ کوي نو ځکه د دوی مشری به وي په کور کښے ۱۲
ؔ یعنی د خپل ځان او د مال د خاوند کے حفاظت کوي ۱۲
ؔ یعنی الله تعالیٰ د دے حفاظت حکم کړے دے ۱۲
ؔ وهل په لاس به وي او د نازک اندام به له وي او داسے وهل به نه وي چه اندام ماتیږي یا سخت زخمي کیږي ۱۲
ؔ یعنی بیائے نو ره مه کړ وئ د پاسه په تاسو لوئے بادشاه دے هغه بیا د ظلم تپوس کوي او که په وهلو سره نه شوه نو خلورم حکم د طلاق دے چه بالکل سرے ناچاره شي د دے فیصله نبي کریم صلے الله علیه وسلم فرمائیلے ده نو فقهاء رنا کاره مباح والي دے طلاق ته - او باري تعالیٰ فرمائي کړه دوي چه اشو غږه دواړو په ښځه غور او کرم څهٔ ښځه مهربانه الله تعالیٰ دے ۱۲
عه او یا رسم حکم دے سړي په ښځو حاکمان دي ۱۲
عه او اصوار سم حکم دے صلح په مینځ د زوجین کښے ۱۲

سلہ دا د اِتفاقی امورو نه بعد اصل مسئله د توحید ده ۱۲ سلہ ظاهر سبب د وجود مورا و پلار دی لو ځکه ئې حقوق الله تعالیٰ د خپل حق نه پس ذکر کوي نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمائي رضا د خدائے رضا د مور او پلار ده او غضب د خدائے غضب د مورا و پلار دے ۱۲

وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا

او عبادت کوئ د الله او مه جوړوئ د الله سره هیڅ شے - او د مور و پلار سره ښه کوئ

وَّبِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى

او د خپلوانو سره او د یتیمانو سره او د غریبانو سره او د ګاونډي نږدے سره

وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ وَمَا مَلَكَتْ

او د ګاونډي لرے سره او د ملګري د ډډے سره او د مسافر سره او د خپل مال سره

اَيْمَانُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرَا ۙ الَّذِيْنَ

(یعنی غلامانو سره) یقیناً الله نه خوښوی هغه څوک چه تکبر کوي او لاف کوي - کوم چه

يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰىهُمُ

بخل کوي او حکم کوي خلقو ته په بخل سره او پټوی هغه شے چه ورکړے دے ورله

اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ۚ

الله د فضل خپل نه - او تیار کړے مونږ دے کافرانو لره عذاب د ذلت -

وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُوْنَ

او هغه خلق چه خیرات کوي مالونه خپل د پاره د خودلو خلقو ته او ایمان نه راوړی

بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا

په الله او نه په اخرے ورځے - او هغه څوک چه وی شیطان د هٔ لره ملګرے

فَسَآءَ قَرِيْنًا ۚ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

نو کاره ملګرے دے - او څه نقصان دے د دوی که ایمان ئې راوړے وے په الله او په ورځے د قیامت

وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ۚ اِنَّ اللّٰهَ

او خرچ کړے ئې وے د هغه مال نه چه الله ورکړے دے او دے الله په دوی پوهه - یقیناً الله

سلہ خپلوان وا دوه دی چه هغه بد کوي او ته ښه کوے څوک چه د خپلوانو سره خپلولی کوي نو مال به ئې زیاتیږی او عمر به ئې هم زیاتیږی او خپلوان به ئې تابه کیږی او که څه نه کوي نو وا خپلوان به ورته خیرے کوي چه خدائے وا سره مرق کړے چه ځما لحاظ نه کوي ۱۲
سلہ چه په نسب کښے نږدے وي یا په دروازه کښے ۱۲
سلہ لکه ملګرے د سفر شو
سلہ لکه مریان او نور مالونه شتو ۱۲
سلہ یعنی خپل مال نهٔ ښکاره کوي ۱۲
سلہ ریا پټ شرک دے ۱۲
سلہ یعنی که دهٔ قیامت منلے نو دهٔ به ولے ریا کول ریا د شیطان لسه ده او شیطان ناکاره ملګرے دے ۱۲
عہ نه اولیاء نه انبیاء نهٔ ملائک نهٔ پیریان نهٔ په ذات کښے او نهٔ په صفت کښے د الله سره شریک سۀ جوړه وئ ۱۲
اَلَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ الخ: دا زورنه ده ۱۲
وَمَاذَا عَلَيْهِمْ الخ: دا د عذاب اخروي بیان دے ۱۲

له په صوا کښې نورې نورې نورې هم شته ۱۲ کله الذین کفروا مشرکان دی، و عصوا الرسول: یهودیان دی ۲ کله
کم په دغه احکامو عمل کړے شی، نو دا شکر کار دی، تعالیٰ په دربار کښې حاضری ورکړه چه کړان عملونه ورته آسان شی

لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ

نهٔ کوی ظلم په قدر د ذرې یا ... - او که وی دا ذره نیکی نو زیاتوی دے لره او ورکوی د

مِنْ لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٤٠﴾ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ

خپل طرف نه اجر لوئے - نو څهٔ حال به وی هغه وخت چه راولو د هر امت نه

بِشَهِيدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ﴿٤١﴾ يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِينَ

گواه او راوبه ولو تا لره په دوی شاهد - په دغه ورځ به غواړی هغه خلق

كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْأَرْضُ ۗ وَلَا يَكْتُمُونَ

چه کفر ئے کړے او نافرمانی ئے کړې د رسول چه هواره شوے په دوی زمکه - او نه به شی پټولے

اللّٰهَ حَدِيثًا ﴿٤٢﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَأَنْتُمْ

د الله نه هیڅ خبره - اے مؤمنانو مهٔ نژدے کیږئ مانځهٔ ته چه تاسو

سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ

په نشه کښې یئ ترڅو پورے چه پوهه شئ په هغې چه څهٔ وایئ او نه په جنابت کښې مګر که یئ تاسو

حَتّٰى تَغْتَسِلُوا ۚ وَإِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰى أَوْ عَلٰى سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ

تیریدونکی په لار ترڅو چه غسل اوکړئ - او که یئ تاسو ناجوړه یا یئ په سفر یا راشی یو ستاسو د

مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ أَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَآءً

حاجت نه یا یو ځائے شئ تاسو د ښځو سره نو نهٔ مومئ تاسو اوبه

فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ ۗ إِنَّ

نو تیمم کوئ په خاوره پاکو، نو مسح کړئ د دغه خاورې په مخونو خپلو او لاسونو خپلو - یقیناً

اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ﴿٤٣﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا

الله دے بخښونکے او معاف کوونکے - آیا نه گورې ته هغو ته چه ورکړے شوے ده ورته حصه

په نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه په تکلیف راغے نو حضرت بلال رضی نه بیعت او فرمائیل چه بلال اذان مونږ ته راحت راوړه سره یعنې د مانځه د پاره اعلان اوکړه ۱۲

۴ معلومه شوه چه نشه ناکاره څیز دے ځکه د مانځه سره نهٔ جوړیږی ۱۲

۵ یعنی په جنابت کښې مونځ مهٔ کوئ البته که مسافر یئ او اوبه نه وی نو په تیمم سره مونځ اوکړئ

۶ یعنی د ښځو سره تعلق کړے وی ۱۲

۷ نو قصد اوکړئ د خاورې پاکو نو په تیمم کښې نیت شرط دے نیت اراده ته وائی او تیمم په جنس د زمکې وی، د خاورو مناسبت د او بو سره دے په پاکولو کښې او د مانځه سره مناسبت دے په تواضع کښې چه په مخ باندے خاورے او موږی لګه په سجده کښې مخ په خاورو باندے ږدو ۱۲

۸ امر مصلح دے ۱۲

اَلَمْ تَرَ الخ: تعجب له ده ۱۲

۹ یعنی صرف لفظونه دے عمل پرے نهٔ کوی ۱۲

وقف النبی علیه السلام

ربع

سله په خولے والی چه موږ منلے دے او په زړه کښې والی چه نه دے منلے ۱۲ ګله په ظاهر والی چه تا لره وے خدا ئے

لوئے منصب ورکړی چه توک ورته خبرے نه شی کولے او په زړه کښې والی چه خدا ئے دے کو نړ کړه ۱۲

ګله تا وس ډیر چه یعنی راعنا والی یعنی ته زمونږ شپونکے یے ۱۲

ګله عصینا ئے د وے ویلی او غیر مسمع ئے نه وے ویلی او راعنا ئے د وے ویلی ۱۲

شه مګر لږ ایمان د دیا ۱۲

ګله اے اهل کتابو ایمان راوړی ورنه د اعه ورځ را روانه ده چه په صفت کښې به ستاسو شکلونه بدل شی - او دغه په ورځ کښې چه یهودو کومه غلطی کړے وه او ضعفو شکلونه بدل شوی وو لو دغسے عذاب به په تاسو راشی ۱۲

یا ایها الخ ترغیب دے توحید ته او وعذاب ذکر هم بیان دے ۱۲

عه بقره ۶۵ - ۱۲

مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا

د کتاب اخلی غلطی او غواړی چه غلط کړئ تاسو لار د

السَّبِيْلَ ۝٤٤ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآئِكُمْ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ڎ وَّ

دین) - او الله پوهیږی په دښمنانو ستاسو، او پوره دے الله دوست - او

كَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا ۝٤٥ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ

پوره دے الله مدد ګار - ځینې خلق د یهودو نه بدلوی خبرو (د الله)

عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ

له ځایونو ئے ځینو نه او والی چه اوریدلے مونږ حکم او نه منلے مونږ او واوره چه نه ئے

مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّۢا بِاَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّيْنِ ۭ وَلَوْ

اورولے شوے او والی راعنا تاوحی ژبه خپله او طعن لګوی په دین - او که دوی

اَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا

ویلی وے چه اوریدلے مونږ او منلے مونږ او واوره او ګوره مونږ ته نو دا به ښه وے

لَّهُمْ وَاَقْوَمَ ۙ وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ

دوی لره او مضبوط به وے - او لیکن لعنت کړے دے په دوی الله په کفر د دوی سره نو ایمان نه راوړی

اِلَّا قَلِيْلًا ۝٤٦ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اٰمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا

مګر لږ - اے اهل کتابو ایمان راوړی په هغه کتاب چه مونږ رالیږلے دے چه رښتونکے

لِّمَا مَعَكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا فَنَرُدَّهَا عَلٰٓي اَدْبَارِهَآ

د هغه کتاب چه تاسو سره دے مخکښې د دے نه چه ورانه کړو مخونه نو واپس به ئے کړو په شا نو خپلو

اَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ۭ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ۝٤٧

یا به لعنت او کړو په دوی لکه چه لعنت کړے دے په ملګرو د شنبے - او د حکم د خدائے کړے شوے دے -

لہ شرک بے د توبے نہ نہ معاف کیږی او گناہ کبیرہ معاف کیږی مګر په توبه او یا په فضل د خدای تعالیٰ سره او گناه صغیره معاف کیږی په توبه سره او په حسنات سره او په فضل د خدای تعالیٰ سره ۱۲ ۔ کہ یعنی خپل ځان ته پاک وائی او ځان

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن

یقیناً الله نه بخی چه شرک او شی د ده سره او بخی هغه گناه چه کم دی د دغه نه هغه چا ته

يَشَآءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفْتَرَىٰٓ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ أَلَمْ

چه رضا ئے شی ۔ او چا چه شریک جوړ کړو د الله سره نو دوی کړو گناه لویه ۔ آیا نه گورے

تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم ۚ بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّى مَن يَشَآءُ وَ

ته هغوی ته چه پاکوی ځانونه خپل ۔ بلکه الله پاکوی هغه څوک چه رضا ئے شی او

لَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ ۖ

ظلم به او نه شی د دوی سره په قدر د تار د کجورې ۔ او گوره څنگه تړی په الله باندے دروغ ۔

وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا ع ۷

او پوره دے دا گناه ښکاره ۔ آیا نه گورے ته هغوی ته چه ورکړے شوے ورته حصه

مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُؤْمِنُونَ بِٱلْجِبْتِ وَٱلطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ

د کتاب نه ایمان راوړی په بُت او په شیطان او وائی کافرانو ته

كَفَرُوا۟ هَٰٓؤُلَآءِ أَهْدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ سَبِيلًا ﴿٥١﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ

چه دوی ښه برابر دی د مؤمنانو نه په لاره (دین) کښے ۔ دوی هغه

ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ ۖ وَمَن يَلْعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾

خلق دی چه لعنت پرے کړے دے الله او په چا چه لعنت وکړی الله نو هیڅ کله به پیا نه مومی ته هغه له مددگار

أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ ٱلْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾

آیا دوی له حصه ده د باچاهئ نه نو په دغه وخت به ورنه کړی خلقو ته په قدر د پوستکی د کجورې

أَمْ يَحْسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۖ فَقَدْ

آیا کینه کوی د خلقو سره په هغه شی چه ورکړے دے دوی ته الله د فضل خپل نه ۔ نو یقیناً

معلوم شو چه د خپل ځان صفت کول ښه کار نه دے ۱۲ ۔ کہ حسد وائی آرزو د زوال د منصب د غیر ته چه څه کار کے هم کړے وی د دے زوال ۔ او چه څه کار کے د شئ نه وی او کړے نو یوازے صرف دا آرزو ته خفقه وائی ۔ او کله چه کینه دے حسد باندے خفه وی نو دیته حسد طبعی وائی ۔ په دے کښے گناه نشته البته کو دے خفگان به ورته الله تعالیٰ ثواب ورکوی نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی حاسد به مشرنګ نه شی او حسد خوری نیکی لکه چه سیزی اور لرگو لره او ښه کار ته چه سرے تنګیږی دیته غبط وائی د دے ثواب به ورله الله تعالیٰ ورکوی ۱۲ ۔ اللّٰہ کرام اللہ ورزو رز دہ بنی نضیر خپله وعده ماته کړه او په مکه معظمه کښے کفارو ته ښه ؤ او وئیل ۱۲

ك يعنى په اوركى جهنم كښې دومره طاقت دى چه سوزولو او بلولو بيائي كولو په خلاف د اوركى دنيا نه چه صرف سوزول كوى نه بيائي كول ۱۲

آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُمْ مُلْكًا عَظِيمًا ﴿٥٤﴾

ما وركړے دے خاندان د ابراهيم ته كتاب او علم او ما وركړے دے دوى له بادشاهى لويه -

فَمِنْهُمْ مَنْ آمَنَ بِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ صَدَّ عَنْهُ ۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ

پس بعضے د دوى نه هغه دى چه ايمان ئے راوړے په دے او بعضے د دوى نه هغه دى چه منع كړے ئے دوى نه او پوره دے جهنم

سَعِيرًا ﴿٥٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا سَوْفَ نُصْلِيهِمْ نَارًا كُلَّمَا

تيز اور - يقيناً هغه خلق چه انكار ئے كړے د آيتونو زمونږ نه ننباسو به مونږ دوى له اور ته - هر كله چه

نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا الْعَذَابَ ۗ

وسوزى د دوى څرمنے بدلے به كړو مونږ دوى له نورے څرمنے چه حاصل كړى عذاب لره -

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٥٦﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

يقيناً الله دے زبردست او حكمت والا - او هغه خلق چه ايمان راوړے او كوى نيكى

سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا

زر به داخل كړو مونږ دوى لره جنتونو ته چه بهيږى به لاندے ترے ويالے هميشه به وى په هغه كښې

أَبَدًا ۖ لَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴿٥٧﴾

هميشه - د دوى د پاره په هغے كښې ښځے دى پاكے او داخل به كړو دوى سورى گڼ ته -

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ

(۱) يقيناً الله تعالىٰ حكم كوى تاسو ته چه اورسوئ امانتونه خپل اهل ته او كله چه حكم كوئ تاسو

بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ ۗ

په مينځ د خلقو كښې نو حكم كوئ په انصاف سره - يقيناً الله ښه وعظ كوى تاسو ته په دے سره

إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ

يقيناً الله دے اوريدونكے او ليدونكے - اے مؤمنانو حكم اومنئ د الله تعالىٰ

ك حكمهٔ قرمن ورو خو كيږى
ك يعنى عذاب به وركولے شى او دا عذاب په لے خالى نه دے د حكمت نه ۱۲
ك معلومه شوه چه په جنت كښې سورى هم شته او هغه قسم شته نو په سورى كښې كيناستل به يو قسم مزه وى او په نمر كښې كيناستل به بل قسم مزه وى الله تعالىٰ دے نصيب كړى په خپل فضل سره ۱۲
ك هر امانت چه وى او ته هم امانت وركړے او په امانت كښې خيانت غټ جرم دے په ورځه شكل امانت او قرضا او ورس وغيره امانتونه وى ۱۲
ك مرقيه وى نو امانتدارى او خيانت د خلقو ورته معلوم وى ۱۲
ك حكومت د داؤد او سليمان عليهما السلام نو دوى بيا ولے ستا په ورتيى او ديشوى غزه خفه كيږى
ك دا وراغى (۱) احكام شروع شو دا اول حكم دے يعنى امانت حقدار ته وركول ۱۲
اگے اكتولين تكثر (۱) دا احد ايه كا آخر بيان دے ۱۲
دالذين آمنوا (۱) دا ديرے وے ۱۲

ے یعنی حکم ئے معلوم کړئ د الله د کتاب نه او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حکم

وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ ۖ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي

او حکم منئ د رسول او د حاکمانو خپلو ۔ نو که په جګړه شوئ تاسو ۴

شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ

په شی کښې نو واپس ئے کړئ الله ته او رسول ته که ایمان راوړئ تاسو په الله تعالیٰ

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٥٩﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى

او په ورځ د قیامت ۔ دا غوره ده او انجام ئے ښه دے ۔ آیا نه ګورے ته هغه

الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن

خلقو ته چه دعوی کوی چه ایمان ئے راوړے دے په هغه کتاب چه نازل شوے په تا او په هغه کتاب چه نازل

قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا

شوے مخکښې ستا نه غواړی چه فیصله یوسی شیطان ته ۔ او دوی ته حکم شوے دے چه

أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾

نه به منئ هغه ۔ او غواړی شیطان چه غلط کړی دوی ډیر لرے د حق نه ۔

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ

او کله چه او وئیلے شی دوی ته چه راشئ حکم د الله ته او د رسول ته نو ته به ویني

الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾ فَكَيْفَ إِذَا أَصَابَتْهُم

منافقان چه واپس کیږی به ستا نه منع شوی ۔ نو څه حال به وی کله چه اورسی دوی ته

مُّصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ جَاءُوكَ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ

تکلیف د کولو د لاسونو د دوی نه بیا راشی تا ته قسمونه کوی په الله پاک

إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا إِحْسَانًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا

چه اراده نه وه کړے مونږ مګر نیکی او موافقت ۔ دوی هغه خلق دی چه معلوم دی الله ته هغه

ع ۵

لہ پیغمبران د دنیا دپاره دے چه د دوی تابعداري ... او په ټوله مخلوق کښې ... محمد نبي کریم صلی الله علیه وسلم

فِیْ قُلُوْبِهِمْ ۗ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ فِیْۤ اَنْفُسِهِمْ

چه زړونو د دوی کښې دي ... نو ځان ترې ګرځوه او نصیحت کوه دوی ته او ووایه دوی ته په حق کښې د

قَوْلًۢا بَلِیْغًا ﴿۶۳﴾ وَمَاۤ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِیُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

دوی خبره ... او نه دی لیږلی موږ هیڅ رسول مګر د دې دپاره چه حکم یې ومنلے شي په حکم د الله سره

وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ

او که دوی کله چه ظلم یې کړے وو په ځانونو خپلو ... او بخښنه یې غوښتلے وے د الله نه

وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِیْمًا ﴿۶۴﴾ فَلَا

او بخښنه غوښتلے وے دوی دپاره رسول نو خامخا به موندلے وو دوی الله معاف کوونکے مهربان پس قسم دے

وَرَبِّكَ لَا یُؤْمِنُوْنَ حَتّٰی یُحَكِّمُوْكَ فِیْمَا شَجَرَ بَیْنَهُمْ

نه دي ... قسم دے په رب ستا دوی نه دي مؤمنان تر هغه چه منصف ... ونه ګرځوي تا په هغه معامله کښې چه جګړه ...

ثُمَّ لَا یَجِدُوْا فِیْۤ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَیْتَ وَیُسَلِّمُوْا

شوی په مینځ د دوی کښې بیا او نه مومي په زړونو خپلو کښې تنګوالے د فیصلے ستا نه او قبول کړي فیصله ستا

تَسْلِیْمًا ﴿۶۵﴾ وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَیْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْۤا اَنْفُسَكُمْ اَوِ

په خوشحالۍ سره — او که مقرر کړے وے موږ په دوی چه تاسو مړه کړئ خپل ځانونه او یا

اخْرُجُوْا مِنْ دِیَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِیْلٌ مِّنْهُمْ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ

او وځئ د کلو خپلو نه نو نه به یې وه کړے دا کار مګر لږو د دوی نه — او که دوی

فَعَلُوْا مَا یُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَیْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ تَثْبِیْتًا ﴿۶۶﴾ ۙ

کړے وے هغه کار چه دوی ته کړے شي د دوی په هکله سره — نو به شوے وو دوی لره او زیات به ټینګوالے کړے

وَّاِذًا لَّاٰتَیْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّاۤ اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۶۷﴾ ۙ وَّلَهَدَیْنٰهُمْ صِرَاطًا

او په هغه وخت به موږ ورکړے وو دوی ته ثواب چه ډیر لوی وے — او خامخا به موږ ښوولے وو دوی ته لار

فرمائي چه سره عمر شو نو عمل نے ختم شي او د خاص عمل دے او نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضرت عائشې رضي الله عنها ته ... او زړه ډروند دے وو نو زړه به تا لره بخښنه او طلب او موصحاب پس د وفات نه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه دعا نه ده غوښتے البته په محشر کښې شفاعت د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حق دے د مشرکانو کافرانو دپاره نو چه په عقیده او مشرکان نه وي او علماء او شهداء به هم شفاعت کوي پس د شفاعت کبري د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ده ۱۲

۲ معلومه شوه چه په اسلام کښې لپاره یوځل لازم دی نو سړے په لفظونو د شرعي کار سره او په لپاره نه یوځل دوسره کافر کیږي او په نه کولو سره فاسق کیږي ۱۲

۳ یعنې اسلامي کار ونه آسان وي ۱۲

۴ د زبیر او یو عوام د یو انصاري سره یوه فیصله نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم صلوا او کړه نو په هغه انصاري خفه شو نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم زبیر ته او وے چه خپل حق پوره واخله ۱۲

مشکوٰة ... د نبي ... اصحاب عن ولي وي ته ... موسم ۱۲

او بل عبادت دے یعنی اطاعت حکم منل د او باری تعالیٰ د او د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم او د علماء

مُّسْتَقِيمًا ﴿۶۸﴾ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ

برابر ۵ - او چا چه حکم ومنلو د الله او د رسول نو دوی به د هغه چا سره وی

أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ

چه مهربانی کړې ده الله په هغوی باندې چه نبیان نو نه او صدیقان نو نه او شهیدان او نه

وَالصَّالِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا ﴿۶۹﴾ ذَٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ

او صالحان نو دی - او ښه دی دوی په ملګرتیا کښې - دا فضل دے د الله

اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ عَلِيمًا ﴿۷۰﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ

نه - او بس دے الله پوهه - اے مؤمنانو واخلئ وسله خپله

فَانفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انفِرُوا جَمِيعًا ﴿۷۱﴾ وَإِنَّ مِنكُمْ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ

بیا ځئ جدا جدا یا ځئ په جمع - او یقیناً ځینې تاسو کښې هغه څوک دے چه روستو کیږي

فَإِنْ أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَالَ قَدْ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ إِذْ لَمْ

نو که او رسي تاسو ته تکلیف نو وائي چه مهرباني اوکړه الله په ما کله چه نه وم

أَكُن مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴿۷۲﴾ وَلَئِنْ أَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللَّهِ

د دوی سره حاضر - او که او رسي تاسو ته مهرباني د الله تعالیٰ نه

لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُن بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ مَوَدَّةٌ يَا لَيْتَنِي كُنتُ

نو خامخا وائي ګویا نه وه په مینځ د تاسو او د ده کښې دوستي ارمان دے وے زه د

مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿۷۳﴾ فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ

دوی سره نو مومندلے به مې ډیر لوئے - نو جنګ دې کوي په لاره د الله تعالیٰ کښې هغه خلق

يَشْرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ

چه خرڅوي ژوندون د دنیا په آخرت - او هغه چا چه جنګ اوکړو په لاره د

سله اطاعت حکم منل مختاجی چیره کول دا خاصه ده په الله تعالیٰ پورې په دې کښې لوئے فرق دے په عبادت د غیر الله سره سورې کا فر کیږي ۱۲

سلہ یعنی د موقعه مناسب لږ لږ ځئ او په جمع کله چه کفار غلبه اوکړي بیا جهاد په ټولو فرض شي بیا به نو کرې د اذن د مالک نه ځي او که غلبه ئې نه وه کړې نو په نږدې خلقو جهاد لازم دے ۱۲

سلہ دا د هغو قول دے

سلہ چه جنګ په لاره د خدائے تعالیٰ کښې هغه څوک کولے شي چه هغوی د آخرت طلبګار دي ۱۲

سلہ نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائي څوک چه غزا اوکړي او غنیمت ئې راوړي نو دوه حصې ثواب ئې په دنیا کښې واخستو او یوه حصه ثواب ئې آخرت ته پاتې شو او که غنیمت ئې رانه وړو نو ټول ثواب ئې آخرت ته پاتې شو د غسې ویلي کار و نه دي چه سړے پکښې د ثواب نه نه محروم کیږي ۱۲

سلہ د دوئیم حکم سلطان ته دے جنګ له ځي حسب موقعه ۱۲

ك يعني ستاسو لپاره عذر نشته چه جنگ نه کوئ ... چه ... سړي او ښځې او بچي
د مکې د الله تعالیٰ په لاره کې تکلیف کښې دي او ... او فریاد ... د نبي کريم صلی الله علیه وسلم

اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ وَ

د الله کښې بیا مړه کړے شو یا غلبه اوکړه نو زر به ورکړو مونږ هغه لره ثواب ډیر لوئ. او

مَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ

څه عذر دے تاسو لره چه جنگ نه کوئ په لاره د خدائے کښې او د پاره د عاجزانو د

الرِّجَالِ وَ النِّسَآءِ وَ الْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا

سړیو او ښځو او بچو کوم چه وائي اے ربه زمونږه اوباسه مونږ

مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَ اجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚ

د دے کلي نه چه ظالمان دي اهل د دے، او مقرر کړه مونږ لره د خپل طرف نه دوست،

وَّ اجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ۝ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ

او مقرر کړه مونږ لره د خپل طرف نه مددګار. کوم چه مؤمنان دي نو جنگ کوي

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ

په لاره د الله کښې - او کوم چه کافران دي نو جنگ کوي په لاره د شیطان کښې

فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ۝

پس جنگ کوئ د دوستانو د شیطان سره - یقیناً مکر د شیطان دے کمزور دے.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

آیا نه کوري ته هغوته چه اووئیلے شو هغوته چه منع کړئ لاسو خپل (د جنگ نه) او کوئ مونځ

وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ

او ورکوئ زکوٰة - پس هرکله چه فرض شو په دوي باندے جنگ په دغه وخت یوه ډله د دوي نه

يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَ قَالُوْا رَبَّنَا

ویریدل د خلقونه په شان د ویره د الله نه بلکه زیات د دوي ویره کښے. او اووئیل اے ربه زمونږه

چه څوک مړ شو او که غزا کښې نه وي نو منافق مړ شو ۱۲

ك يعني مؤمنانو په پوره ته کوله د توحید کښې کوشش کړه او کافرانو د شرک په خوره کوله کښې کوشش کوي ۱۲

ك يعني د وینه او دیکه شو چه جنگ لازم دے فرض نو جنگ نه کوئ د دے نه روسره د موقع او زکوٰة ادا کوئ د دے اوس شو پیدا شو هرکله چه لازم خوښ دوي جها د نو دوي ویریدل د خلقو نه داسے لکه چه ویریدل د الله تعالیٰ نه بلکه د ویریدل هم زیات ویریدل او اووئیل چه یا الله واخو تیار مرګ سره مونږ ته په دے نه یو صبر کړے وه خو دے داعی ته او ورته او وایه د دوي زړونه ورته ویریدل د شي نو د دنیا سامان څه دے د خدائے په لاره کښے کو شهید شو ته شو غرب ویریدل دے نو هغه په اولحمه نهان سانق د شرک نه او د بدعت نه مشرک لا اله الا الله نه منی او بدعتي محمد رسول الله نه مني او په دین کښے د خان نه نوے نوے طریقے جوړوي نو دوي سیاسي بچیان دي دوي نه معاف کیږي تر څو چه دوي توبه نه وي ویستلے ۱۲

هو ما تحت الاسباب سره دوئ او ... مافوق الاسباب سره دوئ ... اللهم اجعل لنا ... نصیره ... پوره ۱۲ ۱۲

ع ١٢

لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ أَخَّرْتَنَآ إِلٰىٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ۗ

ولې دې فرض کړو په مونږ جنګ - ولې دې رو ستونه کړو تر نیږدې نزدې نه پورې موده -

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ ۚ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۚ وَ

ورته او وایه سامان د دنیا کم دے او آخرت غوره دے هغه چا لره چه ځان ساتي ناروا نه او

لَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿۷۷﴾ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ

او ظلم به او نه شي تاسو په د را برابره - چرته چه یئ تاسو نو لاس به کړي تاسو مرګ اګر که یئ تاسو

فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هٰذِهِ مِنْ

په قلعه ګانو محکمو کښې - او که او رسي دوی ته خوشحالي نو وائي دا د طرف د الله

عِندِ اللّٰهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هٰذِهِ مِنْ عِندِكَ ۚ

تعالیٰ نه ده - او که او رسي دوی ته تکلیف نو وائي دا ستا د طرف نه دے -

قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللّٰهِ ۖ فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ

او وایه هر څه د طرفه د الله نه دی - نو څه حال دے د دے قوم چه هیڅ کله نه

يَفْقَهُونَ حَدِيثًا ﴿۷۸﴾ مَّآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ۖ وَمَآ

پوهیږي په خبره - هغه چه او رسي تاته څه خوشحالي نو د طرفه د الله نه ده او هغه چه

أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ

او رسي تاته څه تکلیف نو د طرفه د ځان ستا نه دے - او رالیږلے مونږ تا لره د خلقو د پاره رسول -

وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيدًا ﴿۷۹﴾ مَّن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ ۖ

او بوره دے الله ګواه - چا چه حکم او مانه د رسول نو حکم ئے او مانه د الله تعالیٰ -

وَمَن تَوَلّٰى فَمَآ أَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ﴿۸۰﴾ وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ

او څوک چه واپس شو نو مونږ نه دے لیږلے تا لره په دوی څوکیدار - او وائي دوی قبول دے زمونږ تا (ته)

ل یعنې خوشحالي د الله د طرفه ده د هغه فضل د په د عمل نه یعنې خوشحالي باري تعالیٰ ورکوي د خپل طرفه : په د عمل د وسیلے نه او عمل صالح هم ګاند د خدائے تعالیٰ فضل دے او تکلیف په سبب د بد عمل دے ۱۲

ل د دې نه دا معلومه شوه چه زمونږ کار څوک ګند دی او هغه چه کله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حضور د لاس شي نو د شي غلطي مشوره نه کوي لیکن باري تعالیٰ ته د دوی کار معلوم دے نو بدله به ورله ورکوي نو ته ئے پروا مه ساته او ځان الله تعالیٰ ته او سپاره ۱۲ -

لـه منافقانو او وئيل چه مونږ خو فرمان د الله تعالیٰ منو خو په وخت د نه په خبره کښې وائي د قرآن د هدایت کښې نه خو الله تعالیٰ فرمائي چه د قرآن هغوی له چه په هغه د قرآن نه معلومیږي چه دومره لوئي کتاب دی او هیڅ تفاوت پکښې نیشته په فصاحت کښې او په دلائل کښې او د غیب په خبرو کښې د انسان کلام داسې نه شي کیدې او که څوک پکښې اختلاف معلوموي نو د هغه د علم کمی دی ۱۲

فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي

پس کله چه ولاړ شي له نزد ستا نه مشوره کوي یوه ډله د دوی نه خلاف د هغې چه

تَقُولُ ۖ وَاللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى

وائې ته - او الله لیکي هغه چه دوی مشوره کوي د شپې - نو بې پروا شه د دوی نه او توکل وکړه په

اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا (81) أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ۚ وَلَوْ كَانَ

الله - او بس دی الله کارساز - آیا پس سوچ نه کوي دوی په قرآن کښې - او که چیرې وې

مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا (82) وَإِذَا جَاءَهُمْ

د طرف د غیر الله نه نو موندلې به وې په دې کښې تفاوت ډیر - او کله چه راشي دوی ته

أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ

یو خبره د امن یا د ویرې نو مشهوره کړي هغه - او که دوی رسولې وې رسول ته

وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ ۗ

او خپلو حاکمانو ته نو پوهه شوي به وې په هغې هغه څوک چه تحقیق کوي د دوی نه -

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا

او که نه وې فضل د الله په تاسو باندې او مهرباني د هغه نو خامخا روان به وئ تاسو په شیطان پسې

قَلِيلًا (83) فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ۚ وَحَرِّضِ

مګر لږ د تاسو - پس جنګ کوه په لار د الله کښې ذمه وار نه یې ته مګر د ځان او تیزوه مؤمنان

الْمُؤْمِنِينَ ۖ عَسَى اللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ وَاللَّهُ

د جنګ ته - امید دی چه الله به ختم کړي جنګ د کافرانو او الله تعالیٰ

أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنكِيلًا (84) مَّن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن

سخت دی په جنګ کښې او سخت دی په سزا کښې - څوک چه اوکړي سفارش ښه نو ملاؤ به شي

۲ منافقانو به دا هغه خبرې مشهورولې چه د مسلمانانو به ئې کولو نو په دې آیت کښې هدایت راولیږه چه هغه خبره به مشهوره وي د کومې په ستاسو مشرانو اجازت ورکړې وي ۱۲

۳ یعنې که د الله تعالیٰ فضل نه وې په لیګلو د رسولانو خلق به ګمراه شوي وې البته لږ خلقو به خپل مولیٰ په عقل سره معلوم کړې وې۔

۴ یعنې د اعلاء کلمة الله د پاره چه پخپله جنګ کوه او نور مسلمانان جنګ ته تیزوه قتال جنګ ته وائي او جهاد کوشش ته وائي د پاره د دین پورته کولو - نو جهاد عام دی په توره په مال او په ژبه او قلم وغیره سره او اصل مقصد پورته کول د دین دی ۱۲

۵ د غزا یا نورو ویړولو د پاره ئې کوشش اوکړو نو لوئي ثواب دی او که چا د غازیانو حق کښې ورته کړو نو هغه ته د لوئي نقصان او رسا وه او که دا یې راشي د جهاد د پاره او سلام اوکړي نو تاسو د

هغه ښه په قدر سره سلام واخلئ او نه چه د هغه بې قدري اوکړئ ۱۲ فَقَاتِلْ الخ ترغیب دی جنګ ته ۱۲ س

لَهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ

وکړي سفارش ناکاره نو شته ورته حصه تری (ګناه)
حصه تری ده - او څوک چې

مِّنْهَا ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ۝ وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا

او کله چې دعا او کړی تاسو ته په احترام سره په دعا کولو
ورته حصه - او دی الله په هر شی باندې طاقت والا -

بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا ۝

د هر شی حساب کوونکے
غوره د هغې نه یا ورګرځوئ دعا کوئ - یقیناً الله دی

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۗ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۗ

الله نشته هیڅ څوک د بندګۍ لائق - خامخا به جمع کړي تاسو لره په ورځ د قیامت کښے نشته شک په هغې کښے

وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ۝ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ

او څوک دے رشتونی د الله نه په خبره - کښے پس ولې یئ په منافقانو کښے دوه

فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ۗ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ

ډلې او الله واپس کړیدلي دي لره په سبب د اعمالو د دوي - آیا غواړئ تاسو چې هدایت او کړئ هغه چا ته چې

اَضَلَّ اللّٰهُ ۗ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ۝ وَدُّوْا

غلط کړي دی الله هغه لره - او هغه لره چې غلط کړي الله نو هیڅ کله به بیا نه مومې هغه لره لار - غواړي دوي

لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ

چې تاسو کافر شئ لکه چې دوي کافر شوي دي نو شئ به تاسو برابر. نو مه جوړوئ د دوي نه

اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۗ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ

دوستان تر دې پورې چې هجرت وکړي وطن خپل په لار د الله کښے - پس که منع او ګرځیدل نو اونیسئ دوي

وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۪ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّ

او وژنئ دوي چرته چې موندل دوي لره او مه جوړوئ د دوي نه دوستان او

ف مثلاً حفظه السلام او کړي
السلام علیکم نے او دے
نو ته و رحمة الله زیات کړه
او که حفظه و رحمة الله او
وائي نو ته و برکاته
زیات کړه نو جواب نے
زیات شي البته و برکاته
نه زیادت مقصد نه ته
ضعیف دے او حدیث ١٢
له جهاد د دے سلسله
د پاره دے ١٢
ف د اعلا د کلمة الله د
پاره ضرور جهاد کول
څکه ورځ د قیامت
راځي د حساب د پاره
ف دا دارېخ حکم سلطان
دے د مرکز نه پېچې
منافقان وژني ١٢

[illegible]

لَا نَصِيرًا ۝ إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ

نه مددګار - مګر هغه خلق چه یو ځائے کیږی د قوم سره چه په مینځ ستاسو او د هغوی کښے

مِّيثَاقٌ أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَن يُقَاتِلُوكُمْ أَوْ يُقَاتِلُوا

وعده وی یا راشی تاسو ته په تنګے شوی وی سینے د دوی د جنګ تاسو نه یا د جنګ د قوم

قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقَاتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ

خپل نه - او که رضا وے الله نو خامخا به ئے زور آور کړی وو دوی په تاسو نو قتل به ئے کړی وے تاسو نو که

اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ فَمَا جَعَلَ

جدا شو ستاسو نه پس نه قتلوی تاسو لره او وړاندے ئے کړه تاسو ته صلح نو نه دے جوړه کړے

اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ۝ سَتَجِدُونَ آخَرِينَ يُرِيدُونَ أَن

الله تاسو لره په دوی لار (د قتل) - بیا به مومئ نور خلق چه غواړی چه په

يَأْمَنُوكُمْ وَيَأْمَنُوا قَوْمَهُمْ كُلَّ مَا رُدُّوا إِلَى الْفِتْنَةِ أُرْكِسُوا فِيهَا ۚ

امن شی ستاسو او په امن شی د قوم خپل نه - هرځل چه ورګرځولے شی فساد ته نو واپس کیږی په هغے

فَإِن لَّمْ يَعْتَزِلُوكُمْ وَيُلْقُوا إِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوا أَيْدِيَهُمْ

بیا - نو که جدا نه شو ستاسو او ونه ئے کړه تاسو ته صلح او منع ئے نه کړه لاسونه خپل

فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ ۚ وَأُولَٰئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ

نو اونیسئ دوی او قتل کړئ دوی چرته ئے چه مومئ دوی لره - په دوی باندے مونږ درکړے تاسو ته

عَلَيْهِمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا ۝ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَن يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا

دلیل ښکاره - او نه دے کار د مؤمن چه قتل کړی یو مؤمن لره مګر په

خَطَأً ۚ وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ

خطاء سره - او چا چه قتل کړو مؤمن په خطاء سره نو آزادول دی د یو مریی مؤمن او دیت دے

[illegible]

دارنګه د باری تعالیٰ حق دے ... که مقتول خپل حق د مرګ نه مخکښې معاف کړی نو دیت ورته نه ورکولے شی
(پاړ۲ د ۲۲) نه) بچی په غلطئ سره مړ کړو نو دیت ورته پوره ورکول ... چه دا حق د دهٔ دے ۱۲ ۱۲ ۱۲
قصاص حق د وارث دے نو دے قصاص معاف کولے شی او پلار رحم مګر نه قصاص کیږی

مُسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا ۚ فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ

چه اورسوی اهل د هغهٔ ته مګر که هغوی معاف او کړی - پس که وی وژل شوی مقتول د هغه قوم نه چه دښمن دی

لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ

ستاسو او هغه مؤمن وی نو آزادول د غاړې د مؤمن مریی - او که وی وژل شوی مقتول د هغه قوم نه چې

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ

ستاسو او د هغوی په مینځ کښې معاهده وی نو دیت دے چه رسولے شی اهل د هغهٔ ته او آزادول د غاړې

رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ

د مؤمن مریی - نو چا چه نهٔ مونده مریی نو روژے دی د دوه میاشتو پرلپسے -

تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٩٢﴾ وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا

بخښنه ده د طرف د الله نه - او دے الله پوهه حکمت والا - او چا چه قتل کړو مؤمن په

مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَ

قصد سره نو جزا ئے جهنم دے همیشه به وی په هغه کښې او غضب کړے دے الله په هغه باندے او

لَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ

لعنت ئے کړے دے او تیار کړے ئے دے دهٔ له عذاب لوئے - اے مؤمنانو کله چه سفر کوئ تاسو

فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَامَ

په لاره د خدائے کښې نو تحقیق کوئ او مهٔ وایئ هغه چا ته چه اوکړی تاسو ته سلام

لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِندَ اللَّهِ مَغَانِمُ

چه نهٔ ئے ته مؤمن - غواړئ تاسو سامان د ژوندون نړۍ - نو په نزد د الله دی غنیمتونه

كَثِيرَةٌ ۚ كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا إِنَّ

ډیر - دغسے وئ تاسو مخکښې نو احسان اوکړو الله په تاسو باندے نو تحقیق کوئ - یقینا

(د دے نه) لـه یعنی په هغه شی سره چه قتل اوکړی کوم چه د قتل د پاره جوړ شوی وی لکه توره او ټوپک یا په بدن تو ږی لکه تیر وغیره وغیره قتل عمد والا په دے کښې قصاص دے او اخروی عذاب ئے جهنم دے قصاص د بنده حق دے او عذاب د جهنم د الله تعالیٰ حق دے البته چه قصاص اوشی نو الله تعالیٰ کریم دے خپل حق معاف کوی ۱۲ او که په غټ لرګی یا غټه کاڼی ئے مړ کړو نو دیته شبه عمد وائی په دے کښې دیت مغلظ دے تفصیل ئے په فقه کښې دے ۱۲

لـه دغسے وئ تاسو یعنی اوس چه په تحقیق مرکوڼ په موکول نواوس هم مسلمانان شوئ نو تحقیق کوئ ۱۲

لـه شاه صاحب ۱۲ په دا اولوم حکم دے احتیاط په سفر کښې چه مسلمان قتل نهٔ شی ۱۲

ے یو مجاهد دے او بل ناست وی لیکن د عذر د وجه نه او د جهاد ارمان وی نو د دواړو سره د باري تعالیٰ د ثواب
وعده ده البته د مجاهد ثواب زیات دے او بل ناست وی بے د عذره نو د ده او د مجاهد په مینځ کښې ډیر فرق
دے بلکه دے معنی سره ۱۲

اللّٰهُ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿٩٤﴾ لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ

الله دے ستاسو د کارونو نه خبردار - نه دی برابر ناست د

الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

مؤمنانو نه بے د عذر نه او جهاد کوونکي په لارے د خدائے کښې

بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۭ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَ

په مالونو خپلو سره او په نفسونو خپلو سره - غوره کړي دي الله جهاد کوونکي په مالونو خپلو سره او

اَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ۭ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ۭ وَ

په نفسونو خپلو سره په ناستو باندے یوه درجه - او د هر یو د دوی سره وعده کړې ده الله د ثواب - او

فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجٰتٍ

غوره کړي دي الله جهاد کوونکي په ناستو باندے په اجر لوئے سره - چه درجے دی

مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٩٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

د طرفه د هغه او بخښنه ده او مهرباني ده - او دے الله بخښونکے مهربان - یقیناً هغه خلق چه

تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰۗىِٕكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ۭ قَالُوْا كُنَّا

چه وفات کوی دوی له ملائک چه ظلم کونکی وی په ځانو او وائی چه په کوم دین کښې وئ تاسو - او به وائی چه

مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۭ قَالُوْٓا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً

وو مونږ عاجزان په زمکه کښې - او به وائی چه آیا نه وه زمکه د الله تعالیٰ ارته

فَتُھَاجِرُوْا فِيْھَا ۭ فَاُولٰۗىِٕكَ مَاْوٰىھُمْ جَهَنَّمُ ۭ وَسَاۗءَتْ مَصِيْرًا ﴿٩٧﴾

چه هجرت کړے وے تاسو په هغه کښې - نو ځائے د دوی دوزخ دے - او بد ځائے دے د او وزم -

اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاۗءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

مګر عاجزان نارینه او زنانه او بچي چه طاقت نه لري

ے عبدالله بن مکتوم او نور صحابو اُووے یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زه ړوند یم کرنه زه په تلے دے نو غیر اولی الضرر حکم راغے - زید بن ثابت رض وائی چه دا وخت ما لیکو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ژبے نه لاندے وه نو ما دے چه وُرو دیم ختم شو ۱۲
ے کوم خلق چه هجرت نه کوی نو چه کله مړه کیږی نو ملائک به ورته او وائی چه ستاسو ځائے دین دے نو دوی به وائی چه مونږ مسلمانان یو نو ملائک به ورته وائی چه ستاسو ملک خو دار الحرب و چه د اسلام حکم پکښې لیکیشو نه مونځ نه هجرت او نه جهاد و غیره نو دوی به ورته او وائی چه مونږ عاجزان وو مونږه کافرانو د اسلام د کارونو نه منع کولو نو ملائک به ورته او وائی چه زمکه د الله تعالیٰ خو ارته وه نو بل ځائے ته به تللی وئ نو دوی لائق د عذاب دی چه هجرت نه کوی البته واړه وړه یا عاجزان سری او ښځے چه د هجرت طاقت نه لري نو هغوی معافی دی ۱۲
ے چه نه هجرت سره مطلق هجرت اوس باقی دے البته خاص هجرت د مکے نه اوس نیشته لیکن د طلب د علم یا د دعوت یا د قتال د پاره اوس هم هجرت کولے شی ۱۲ عه دا عام حکم دے د هجرت لزوم ۱۲

ركوع

ــــه چا چه هجرت او کړو او صفة لره [illegible] کوی د اخیال دے نه کوی چه کور راته پاتے شو او چا شهداء په ورلره [illegible] د اخیال دے نه کوی چه مال کور راته پاتے شو او په وتو سره د هغه ثواب لازم شو

حِيلَةً وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ۝ فَأُولَٰئِكَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَعْفُوَ

حیلې او نه ورته لاره معلومه وه - نو دوی ته امید دے چه الله تعالیٰ معافه او کړی

عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ۝ وَمَنْ يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

او دے الله معافه کونکے او بخونکے - او چا چه هجرت او کړو په لاره د الله کښې

يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهِ

نو بیا به مومی په زمکه کښې ځائے ډیرا و فراخی - او هغوک چه راووځی د کور خپل نه

مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ

د پاره د هجرت په طرف د الله او د رسول د هغه بیائے بیا مونده مرګ نو یقیناً مقرر شو ثواب د هغه

عَلَى اللَّهِ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ۝ وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ

په ذمه د الله - او دے الله بخونکے او مهربان - او کله چه سفر کوئ په زمکه کښې

فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ إِنْ خِفْتُمْ

پس نشته په تاسو باندے ګناه چه کمے کوئ د مونځ نه که ویریږئ تاسو

أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُبِينًا ۝

چه تنګ به کړی تاسو لره کافران - یقیناً دغه کافران تاسو لره دشمنان ښکاره دی -

وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ

او کله چه ته په دوی کښې ئے نو کوه دوی لره مونځ نو او دے دریږی یوه ډله د دوی نه

مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِنْ وَرَائِكُمْ

ستا سره او دے واخلی وسلے خپلے - نو کله چه سجده او کړی نو شی اګر وستو ستاسو نه

وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا

او دے راشی بله ډله چه مونځ ئے نه وی کړے نو مونځ دے او کړی ستا سره او دے واخلی

د اخیال دے نه کوی چه کافران به هم په لاره کښې مړه کړی نو هجرت هم او نه شو او د کور هم به شوم ۔ ــــه په سفر کښې څلور رکعته فرض دوه رکعت شی نو په سفر کښې به دوه رکعت ادا کوی البته که چا مقیم امام پسے مونځ کولو نو پوره به کوی او مؤکد سنت نفل شی په سفر کښې او په سخت مرض کښې هم مؤکد سنت نفل شی په رغه شان وظائف هم په سفر کښې تکلیف کښې کول یا ختمول جائز دی ۔ یا په بل اهم کار کښې مشغول وی نو هم وظائف کول یا ختمول جائز دی ۔ ــــه په رسول الله علیه السلام وی یا بل مقتدی وی نو صلوٰة خوف وائی کله چه ارادہ کړی وی چه د مانځه په وخت به دوی قتول په جمعه په مانځه او دریږی نو حمله به پرے او کړی نو باری تعالیٰ د صلوٰة خوف طریقه راوښکله د صلوٰة خوف تفصیل فقهاء کړی چه ورځ طریقے دی ۔ ــــه نو هم مکر قصر مانځه په سفر کښې - په سفر کښې کول د مانځه د خدائے تعالیٰ خیرات دے نو چه پوره مونځ کول کار دے چه سفر کښې [illegible]

په روان سفر کښې چه [illegible] سنت [illegible] آرام [illegible] تعالیٰ [illegible] رسول الله صلی الله علیه وسلم [illegible] صلوٰة خوف [illegible]

ك يعني د الله تعالیٰ چه صرف په موږ کښه تاسو خيال مه کوئ بلكه د موږ د بهر حم په هر حالت باندي ډېر مهربان الله تعالیٰ یاد وئ - ګ یادونه صرف د ہے چه ګ .... عقیده وي چه په ګ باري تعالیٰ نه بل هیڅوک حاجت روا

حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ۚ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ

احتیاط خپل او وسله خپله - غواړي کافران چه غافل شئ تاسو ګ

أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً ۚ وَ

وسلو خپلو نه او ګ سامان خپل نه نو او به کړي په تاسو باندي حمله په یو ځل - او

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ

نشته ګناه په تاسو که وي تاسو لره تکلیف د باران یا یئ تاسو ناجوړه

أَن تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ ۖ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ

چه پرده ږدئ وسلې خپلې - او واخلئ احتیاط خپل یقیناً الله تیار کړي دي کافرانو لره

عَذَابًا مُّهِينًا ﴿۱۰۲﴾ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا

عذاب د سپکولو - پس کله چه اداکړئ تاسو مونځ نو یادوئ الله په ولاړه او په ناستي

وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ۚ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ ۚ إِنَّ الصَّلَاةَ

او په ډډه - نو کله چه په آرام شوئ تاسو نو سم کوئ مونځ - یقیناً مونځ دے

كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا ﴿۱۰۳﴾ وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ ۖ

په مؤمنانو باندي لازم په وخت مقرر کښه - او سستي مه کوئ په طلب د قوم کښې -

إِن تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ ۖ وَتَرْجُونَ مِنَ

که دردمند کیږئ تاسو (یو په تاسو ته) یقیناً دوي دردمند کیږي لکه تاسو - او امید کوئ تاسو

اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿۱۰۴﴾ إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ

الله نه د هغې نو اميد چه دوي امید نه لري - او دے الله علم والا حکمت والا - یقیناً رالیږلے مونږ تا ته

الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ ۚ وَلَا تَكُن

کتاب په رشتوني چه حکم اوکړې په مینځ د خلقو کښه هغه چه خودلے دے تا ته الله - او مه کیږه

مشکل کشا نشته نو په هر کار کښه به حاجت صرف د الله تعالیٰ نه غواړي. ر (ارحمن هیڅوک نه غوښتي) ګ کړئ او غوښتل نه دي ابته د ما تحت الاسباب کاروبار نو ښیت انسان ته کیږے شي په اعتبار د کسب سره لکه دارو خوړل د سبب دے لیکن شفا ورکول و ګ صرف باري تعالیٰ دے او کړیو سره په اعلیٰ توکل عمل کوي نو دارو خوړل نبي کریم صلی الله علیه وسلم دارو خوړلیدي او په ادني توکل عمل کړے دے د پاره د جواز او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ادنیٰ توکل عمل د اعلیٰ توکل نه بهتر دے د پاره د فراخي په امت باندے ۱۲

عه دا یو اسم حکم سلطان دے عدم تعاون د ظالم سره دی لکه طعمه بن ابیرق زغره د خپل ګاونډي نه پټه کړه او هغه د وړه په ګمي کښه وه او هغه وړه ارتا د شوي هغه په الزام او د هغه بیا د یو یهودي کره امانته کیښودله او په هغه بیا د غلا دعوه او کړه او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته د منافق په رشتونه نشکار ید ۱۲ ۱۲ ۱۲

ولا تهنوا الایۃ ترغیب دے قتال ته ۵

ع ۱۵ ۱۲

لہ کہ تا پہ زرہ کښے فکر کيږي دے وی د طرفدارئ نو د هغوئ نه بچنه او غواړه ۔ هغه فکر هو جائز غیر اختیاری دے خو د انبياء علیهم السلام شان ته مېرلوړ دے د اور سره ته دونا سب ۱۲ ۔ سلہ پہ دے کښے تعریض دے مسلمانانو ته ۱۲

لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ۙ وَّ اسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا

د وکه بازو لړه فيصله مار ۔ او بخنه او غواړه د الله نه يقينًا الله دے بخونکے او

رَّحِيْمًا ۱۰۶ وَ لَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

مهربان ۔ او جګړه مه کوه د هغو د طرف نه چه خيانت کوی د ځان سره ۔ يقينًا الله تعالیٰ

لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ۱۰۷ ۚۙ يَّسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَ

مينه نه کوی د د وکه باز ګناه ګار سره (دا عام معنی د ګړه او نور په حمے فقا غو ښها لو ی) ځان پټوی خلقو نه

لَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَ هُوَ مَعَهُمْ اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى

او نه شي پټولے د الله نه او هغه د دوی سره دے کله چه د شپې جرګه کوی د هغې خبرے چه

مِنَ الْقَوْلِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ۱۰۸ هٰۤاَنْتُمْ

الله ئے نه خوښوی ۔ او دے الله په کار و نو د دوی باندے خبردار ۔ آيا تاسو

هٰۤؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ

جګړه او کړه د دوی د طرفه په دے ژوند نزدے کښے ۔ نو څوک به جګړه او کړی د الله سره

عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ۱۰۹ وَ مَنْ يَّعْمَلْ

د دوی د طرف نه په ورځ د قيامت ۔ يا څوک دے چه شي به د دوی ذمه وار ۔ او چا چه عمل و کړو د

سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۱۱۰

د بل د خفه کو يا ئے ظلم او کړو په ځان جهل بيا ئے بخنه او غوښته د الله نه بيا به مومي الله بخونکے مهربان ۔

وَ مَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

او چا چه او کړو ګناه نو يقينًا کوی د ځان د نقصان د پاره ۔ او دے الله علم والا

حَكِيْمًا ۱۱۱ وَ مَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓئًا فَقَدِ

حکمت والا ۔ او چا چه او کړو وړو کے ګناه يا لوئے ګناه بيا او تړله ئے هغه په چا پاک باندے نو يقينًا

سلہ ابليس عليه اللعنة خلق د استغفار نه منع کوی چه بدعت او شرک ورته نيکی ښکاره کوی ۱۲ عنکبوت پ ۲۱ ۔ ۱۲

(رباعے د صلی ۱۳ نه) مسلمانانو کښے ايمان ختموی ۱۲

شہ اصل مقصود د احکامو نه دا دے چه شرک ختم شي شرک بے د توبے نه نهٔ معاف کيږی او ګناه کبيره معاف کيږی په توبے سره او په فضل د خدائے سره او ګناه صغيره معاف کيږی په توبے او په فضل د خدائے او په نيکو سره او حقوق د انسانان معاف کيږی چه د حق خاوند ورته هم معاف او کړی ۱۲

عه دا لحکمة ، يو ص په د ين کښے ۱۲

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ ، د احکامو سلطانيو نه روستو اصل مسئله د توحيد ۱۲

عه : دا د يوليسم حکم سره تعلق لری يعنی د دروغو د شهادت د پاره مشورے غلطے دی ۱۲

اِحْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ۝ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ

الْخَاسِرُونَ ۶۹ أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوحٍ

برباد دی - آیا نه دے راغلے دوی ته خبره هغو خلقو چه وو پخوا د دوی نه د قوم د نوح

وَعَادٍ وَثَمُودَ وَقَوْمِ إِبْرَاهِيمَ وَأَصْحَابِ مَدْيَنَ

او د عادیانو او د ثمودیانو - او د قوم د ابراهیم او د مدین د خلقو

له یعنی د ثواب نه محروم وی په دواړه جهانه کښې
له دا د عذاب ونیو بیان دے یعنی دا قومونه په دنیا کښې هلاک شو دوی په گمان ظلم کاوه بعض دوی نا فرمانۍ کول الله تعالی په چا ظلم نه کوی - اصحاب مدین د شعیب علیه السلام قوم دے - مدین ښار ته وائی چه دا قوم پکښے اوسیدو
او دغه قوم ته هم مدین وائی - المؤتفکات د لوط علیه السلام د قوم کلی دے چه خداوند تعالی الاندے باندے ړپ ستن کړیدو

لہ د مؤمنانو صفتونو نه مقابله د منافقانو او د مؤمنانو به بيان ... د مؤمنانو دوستي د مؤمنانو سره او امر کوي په
نيکئ سره ... منع کوي له بدئ

وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ فَمَا كَانَ اللّٰهُ

او د اسکلو شوو کلو د خلقو - راغلي وو دوی ته رسولان د دوی صاف حکمونه - نو نه وو الله چه

لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝۷۰ وَالْمُؤْمِنُوْنَ

ظلم کاوه په دوی باندې ليکن دوی به په خپلو ځانونو باندې ظلم کاوه - او مؤمنان سړي او

وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ

او مؤمنانې ښځې د دوی دوستان د ځينو دي حکم کوي په نيکئ سره

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ

او منع کوي د دوی خلق د بدو نه او سم کوي مونځ او ورکوي

الزَّكٰوةَ وَيُطِيْعُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ

زکوٰة او حکم مني د الله او د رسول د هغه - په دوی باندې به مهرباني او کړي الله -

اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝۷۱ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

يقيناً الله زبردست حکمت والا دے - وعده کړې ده الله د مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو سره

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَمَسٰكِنَ

د باغونو چه بهيږي به د لاندې د هغو نه ولې، هميشه به وي دوی په هغو کښې او د ځايونو نه

طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ ذٰلِكَ

صاف دي په باغونو کې او سيدو کښې - او رضا مندي د الله خو ډيره لويه ده - دا

هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۷۲ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ

بريا ده لويه - اے نبي جهاد کړه د کافرانو سره

وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ

او د منافقانو سره او سختي کوه په دوی - او ځای د دوی جهنم دے - او ناکاره

لہ د مؤمنانو صفتونه د منافقانو د صفتونو ترتيب وار دي - د پنځم صفت د منافقو په مقابل د مؤمنانو دلته او اکو ل د مانځه دي او د شلورم صفت د منافقو چه بند ولکاس دي مقابل دلته او اکول د زکوٰة دي - او د شپږم صفت د منافقو چه نافرماني وه د مؤمنانو صفت د خدای تعالی حکم منل دي او په بدله د مؤمنانو رحم د الله دے او دوی ته د جنت د باغونو وعده ده او د ټولو نه لويه د الله رضا وه ۱۲

۳ له دا د جهاد اعلان دے دوباره - نبي کريم صلی الله عليه وسلم په دوی نرم وو نو خدای تعالی ورته فرمائي چه د کافرانو او منافقانو سره مناسب سختي کوه ځکه چه دوی د دوزخيان دي الله تعالی ورسره سختي کوي په آخرت کښې نو ته ورسره هم سختي کوه په دنيا کښې په دې سختي کښې د الله تعالی اطاعت دے ۱۲

ع ۵ ۱۵

... قسمونه کوي چه موږ نه دي ويلي ... نبي کريم صلى الله عليه وسلم په ...

الْمَصِيرُ ۝ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ مَا قَالُوا وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ

ځای دی - قسمونه کوي په الله باندې چه دوی نه دي ويلي - او قسم چه ويلي دوی خبره

الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا

د کفر او کافر شوي دي پس د اسلام خپل نه او قصد کړی وو دوی د هغه شي چه ونه موندو

وَمَا نَقَمُوا إِلَّا أَنْ أَغْنَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ مِنْ فَضْلِهِ

دوی - او عيب نه دی کړی دوی مګر چه غني کړه دوی لره الله او رسول د هغه د فضل خپل نه.

فَإِنْ يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَهُمْ وَإِنْ يَتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ

نو که دوی توبه کار شي نو دا به وي بهتر دوی لره - او که دوی وګرځي نو عذاب به ورکړي دوی لره الله

عَذَابًا أَلِيمًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُمْ فِي الْأَرْضِ

سخت عذاب په دنيا او په آخرت کښې - او نيشته دوی لره په زمکه کښې

مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ۝٧٤ وَمِنْهُمْ مَنْ عَاهَدَ اللَّهَ لَئِنْ

هيڅ دوست او نه امداد کوونکی - او څينې د دوی هغه دي چه لوظ کړی وو د الله سره که

آتَانَا مِنْ فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ

راکړي موږ ته د فضل خپل نه (مال) نو موږ به ضرور خيرات اوکړو او شو به د نيکانو نه -

فَلَمَّا آتَاهُمْ مِنْ فَضْلِهِ بَخِلُوا بِهِ وَتَوَلَّوْا وَهُمْ

نو کله چه ورکړو هغوی ته د فضل خپل نه (مال) نو بخل ئې اوکړو په هغه سره او واپس شو او دوی

مُعْرِضُونَ ۝٧٦ فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِي قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ

مخ اړوونکي وو - نو بدله ورکړه الله دوی ته منافقت په زړونو د دوی کښې تر هغه ورځې چه ملاقات به کوي

بِمَا أَخْلَفُوا اللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ۝٧٧ أَلَمْ

ملاقات اوکړي د الله سره ځکه چه دوی خلاف کړی وو د الله د وعدې نه او ځکه چه دوی دروغ ويل - آيا نه

له دوی سره جهاد ځکه نه کولو چه ... نو الله تعالى ترې نه خفه شو او دې منافق شو ١٢ ٣ دوی د الله د حکم نه خلاف اوکړو او د حق په بدل کښې ورته الله تعالى منافق وګرځول تر مرګه پورې ١٢

له دوی سره جهاد ځکه نه کوي چه خبره نه ده کړې او دوی خو د کفر خبرې کړې دي او د اسلام نه پس کافر شو بيا دي. او هغه د کفر خبرې د دوی څو بيرې وي او لکه دوی وژلې وو چه نبي عليه السلام رسول شوي وو او په هغو خبرو کښې چه زه موږ به حق کړي د دوی نو بيا خو موږ د ځوړنا کاره يو. د دوی سره الله تعالى او رسول صلى الله عليه وسلم وايه کړي دي چه دوی فقيران وو او په زکوتونو او په غنيمتونو باندې دوی غنيان شو او هغه دوی سره ډيره خفه دي نو که دوی توبه ګار شي نو دا خه ده الله تعالى به ورته عفوه اوکړي او که دوی توبه نه او باسي نو به د دوی په جهاد به ورله الله تعالى عذاب ورکړي ١٢

٢ لکه ثعلبه ابن حاطب چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته مطالبه اوکړه چه مال راته وغواړه د الله تعالى نه او زه به د هغه پوره حق ورکوم او نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته اودعا چه مال مونږ غواړو حقوق ئې ... دوی خو قسم اوکړو چه زه به د هغه حق ورکوم نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورله سوال اوکړو او دې ... مال ... زکوة ئې بيانه ورکوله نو الله تعالى ترې نه خفه شو ...

نے الله تعالیٰ په پټه خبره پوهیږی نو دا منافقان چه په منافقت باندے مړه شو نو ګمان وا خیست دوی چه که دوی زړونه په توبه خپل حیثیت ثابتو ګټلو ته ګمان صا قوی او د دوی تیه دا اسلام کا وجدان نه بشکاری که ټوک لویره چنده د ورکوی نو د دی کار ته پاره وو نی چه وه

يَعْلَمُوٓا أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ	ریا کاره دی لکه عبد الرحمن بن عوف په تبوک لښکر دیر مال ورکړے وه نو منافقانو اوئیل چه دا ریا کار دے او که چنده ورکوی نو وائی چه ته څه ضرورت وو لکه یو غریب انصاری چه مزدوری وکړه او یو او کے کجورے صدقه راوړے نو منافقانو ورپورے مسخرے او کړے ۱۲
پوهیږی دوی چه الله پوهیږی په پټه وردوی او په جرګو کوی او بے شکه الله ښه پوهیږی	
ٱلْغُيُوبِ ۝٧٨ ٱلَّذِينَ يَلْمِزُونَ ٱلْمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ	
په پټو خبرو باندے (دا دوی) هغه دی چه عیب لګوی په رغبت کوونکو مؤمنانو باندے په خیراتونو	
فِى ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ	
کښے او په هغو چه نه مومی څه مګر مزدوری خپله نو توقے کوی په	
مِنْهُمْ ۙ سَخِرَ ٱللَّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٧٩ ٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ	۲ دَ منافقانو مشر عبد الله ابن أبي مړ شو نو د هغه ځوی نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د جنازے د پاره طلب کړو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورانه شو نو عمر رضی الله منعه کړو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه زه الله تعالیٰ نه یم منع کړے نو باری تعالیٰ بخښنه ته کوی نو زه به بخښنه اوغواړم او هغه ګے نه قبلوی ذه به اویا ځلے بخښنه اوغواړم نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم لاړو او ځپل قمیص مبارک ئے هم هغه ته ورکړو د دے نبه سلوک په وجه ډیر منافق مخلصان شو او دَ نه بیا نو نو بشتے د ګمان د پاره نو بیا روستو حکم راغے چه دَ منافقانو جنازے له مه ځه او قبر ته ئے هم دعا مه کوه ۱۲
خلو پوښے، نو به دے ته توبه ورکړی اے او ددوی لره سخت عذاب دے ـ بخښنه غواړه ددوی لره	
أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن	
او نه غواړه ددوی لره ـ که بخښنه اوغواړے ددوی لره اویا ځله نو هیڅ کله	
يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ	
بخښنه نه کوی الله ددوی ـ دا ځکه چه دوی انکار کړے دے الله نه او د رسول د ده نه ـ او الله	
لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ۝٨٠ فَرِحَ ٱلْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ	
لاره نه ښیی نافرمان قوم ته ـ خوشحاله دی پاتے شوی په کیناستو خپلو باندے	
خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓا۟ أَن يُجَٰهِدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ	
خلاف د رسول الله نه او بد ګڼړی چه جهاد وکړی په مالو نو خپلو سره او په نفسونو خپلو سره	
فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُوا۟ لَا تَنفِرُوا۟ فِى ٱلْحَرِّ ۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ	۳ منافقان خوشحاله دی چه مونږ په کورونو کښے لاڑ پرو
په لارے د الله کښے او وائی دوی چه مه ځئ په ګرمئ کښے ـ او وایه اور د جهنم سخت	
أَشَدُّ حَرًّا ۚ لَّوْ كَانُوا۟ يَفْقَهُونَ ۝٨١ فَلْيَضْحَكُوا۟ قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا۟	
دے په ګرمئ کښے ـ ارمان که دوی پوهیدے ـ نو خاندی دې به لږه زمانه او جاړی دې به	

او باری تعالیٰ فرمائی چه دوی لره پاتے کیدل د جهاد نه ګټه چه دوی ته جهاد د بنده لره بشکاریږی او ۱۲ ۱۲ ۱۲

ئے د تبوک په غزا کښې شریک نه شو او بیا ئې اذن غواړی د راتلونکې غزا د پاره نو د وی لره جواب ورکړه چه تاسو سره هیڅ کله
ذ شئ تلی تاسو چه کیناستو خوښ کړی نو کیناستئ د روستو خلقو سره چه غزا لره نه ځی ځکه یا منافقان دی یا ورانه یا زاړه
یا لیونی یا زنانه دی یا معذور

كَثِيرًا جَزَآءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ۝ فَإِن رَّجَعَكَ اللَّهُ إِلَىٰ

ډیره زمانه - جزا ده د هغه شی چه دوی ګټلو - نو که واپس کړو تا لره الله تعالیٰ یو

طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ فَاسْتَأْذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخْرُجُوا

ډلے ته د دوی نه بیا اجازت غواړی ستا نه د وتلو ، نو ورته او وایه چه هیڅ کله بهر نه وځئ

مَعِيَ أَبَدًا وَلَن تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا ۖ إِنَّكُمْ رَضِيتُم

ځما سره همیشه - او هیڅ کله جنګ به نه کوئ ځما سره مقابلے د دشمن سره یے شکه تاسو راضی شوئ

بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوا مَعَ الْخَالِفِينَ ۝ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ

په کیناستو اول ځل نو کیناستئ سره د روستو پاتے کیدونکو نه - او جنازه مه کوه په یو کس

أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا

باندے د دوی نه چه مړ شی هیڅ کله - او مه او دریږه په قبر د هغه (د دعا) یقیناً دوی انکار کړے

بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ ۝ وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ

دے د الله او د رسول د هغه نه او مړه دی نا فرمانه - او خوښ دے نه کړی تا لره مالونه د دوی

وَأَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِي الدُّنْيَا

او اولاد د دوی - یقیناً غواړی الله چه عذاب ورکړی دوی ته په دغه څیزونو سره په دنیا کښې

وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ ۝ وَإِذَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ

او اوځی نفسونه د دوی او دوی به کافران وی - او کله چه نازل شی یو سورت چه

آمِنُوا بِاللَّهِ وَجَاهِدُوا مَعَ رَسُولِهِ اسْتَأْذَنَكَ أُولُو الطَّوْلِ

ایمان راوړئ په الله او جهاد اوکړئ سره ملګرتیا د رسول د هغه کښے نو اذن غواړی ستا نه مالداران د

مِنْهُمْ وَقَالُوا ذَرْنَا نَكُن مَّعَ الْقَاعِدِينَ ۝ رَضُوا بِأَن يَكُونُوا

دوی او وائی پریږده مونږ چه شو سره د کیناستونکو نه - خوشحاله شو چه شو سره د

ے وا ره جهاد نه کښینی او اصلی باعث نه ورلره تیار دی همیشه په کښینی وی بس ے هم دغه دے ۔

یعنی د منافقو جنازه
هم مه کوه او قبر ته ئے د دعا
هم مه کوه - د زیارت د
قبر ته د دعا ئیه ده څو چه د
قبر والا د حاجت نه غواړی
حاجتونه پوره کوونکے او یو
حاجتونو باندے پوهه صرف
او صرف خدائے تعالیٰ دے
مخلوق ټول حاجت مند دی
په ټول مخلوق کښے لوئے
مخلوق نبی کریم صلی الله
علیه وسلم دے او هغه
زمانی حضرت عزیز په کله
هغه اذن او غوښتو د
عمر په د پاره چه الله روره
ماپه دعا کښے مه هیڅ وه

یعنی ډیر سری مالونه
او اولاد عذاب د خدائے
تعالیٰ دے او د ډیر اره
سری مالونه او اولاد رحمت
الهی دے

کله چه د جهاد د اعلان
د پاره سورت نازل شی نو
مالداران منافقان رخصت
غواړی د وی د زنانو سره
ملګرتیا غواړی د وی د
خدائے تعالیٰ د رحمت نه
محروم دی د وی ته قبر ثواب
وے نبی کریم صلی الله علیه
وسلم مؤمنان جهاد لره
تیار وی بحث کوی او
مالونه لګوی د وی لره
خوشحالی او کامیابی ده

له په دعوه د ایمان کښې - واد غلط عذر خلق وی لکه اعراب د منافقانو اسد او غطفان شول - د دوی عذر د الله په دربار کښې منظور نه دے

مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٨٧﴾

پاتے کیدونکو سره - او مهر او وهلے شو په زړونو د دوی نو دوی نه پوهیږی

لَٰكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ

لیکن رسول او هغه خلق چه ایمان ئے راوړے د ده سره جهاد کوی په مالونو خپلو سره

وَأَنفُسِهِمْ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٨٨﴾

او په نفسونو خپلو - او دوی لره خوشحالی ده - او صرف دوی کامیاب دی -

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ

تیار کړی دی الله د دوی دپاره باغونه چه بهیږی د لاندې د دوی نه ویالے همیشه به په هغو

فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٨٩﴾ وَجَاءَ الْمُعَذِّرُونَ مِنَ الْأَعْرَابِ

کښې - دغه دے بریالیتوب لوے - (د دوعذ رښه عذره تا ست و منطا و نه لی خوشلو) او راغلل بهانه کوونکی د

لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِينَ كَذَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ سَيُصِيبُ

بانډو خلق چه رخصت ملاؤ شی دوی ته او کیناستل هغه خلق چه دروغ ئے ویلی و الله او رسول د هغه ته - او رسی به

الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٩٠﴾ لَّيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ

او رسی کافرانو ته د دوی نه عذاب سخت - نیشتے په ضعیفانو باندې

وَلَا عَلَى الْمَرْضَىٰ وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ

او نه په ناجوړو باندې او نه په هغو چه نه مومی هغه شے چه خرچ کړی

حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِن

څه گناه کله چه خیرخواهی کوی د الله او د رسول د ده - نیشتے په نیکانو باندې څه

سَبِيلٍ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩١﴾ وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ

الزام - او الله بخونکے مهربان دے - او نه په هغو باندې چه کله راشی تا ته

سے وا د صحیح عذر خلق وی د دوی عذر په دربار الهی کښې منظور دے لکه جهینه او مزینه او بنو عذره قبیلے چه ذکر بیان ئے وشو که دوی جهاد له نه شی یا د ضعف یا د فقر د وجه نه نو پروا نیشته البته یکور په د الله او د رسول خیرخواهی یعنی دعوت الی الله کوی د الوئے جهاد دے الله تعالی به ورته معاف کوی د دے جهاد د وجه نه سے په هغو هم الزام نیشته چه ستانئے سورلی غوښته او تا سره سورلی نه وه او دوی په ژړا ژړا واپس شو گو یا ستر گے د هغوی د ژړا نه بهیدے وا او دوی کسان وو د وجه بکاؤو وائی (۱) سالم بن عمیر (۲) عتبه بن زید (۳) ابولیلی مازنی (۴) عمرو بن غنمة (۵) سلمه بن صخر (۶) عرباض بن ساریه (۷) عبدالله بن مغفل - په دوی الزام نیشته الزام په هغه چا دے چه خصت غواړی د جهاد او غنیان دی په دوی مهر تهر لگیدلے دے ۳

ركوع ١٢

لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ أَجِدُ مَآ أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا وَّأَعْيُنُهُمْ

چه ته سواره کړے دوی لره نو تا ووئیل چه نه موم څه شے چه سواره کړم تاسو په هغه نو واپس شو دوی او سترګې د دوی

تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنفِقُونَ ۹۲ إِنَّمَا

د دوی بهیدے د اوښکو نه د غم نه چه دوی نه مومی هغه شے چه خرچ کړی۔ یقینًا

السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَآءُ ۚ رَضُوا بِأَن

الزام په هغو دے چه اذن غواړی ستا نه او دوی غنیان دی۔ راضی شو دوی په دې چه وی

يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۹۳

د روستو پاتے کیدونکو ښځو سره او مهر وهلے دے الله په زړونو د دوی باندے نو دوی نه پوهیږی۔

يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ ۚ قُل لَّا تَعْتَذِرُوا

بهانے پیش کوی تاسو ته کله چه واپس شئ تاسو دوی ته۔ او وایه بهانے مه کوئ

لَن نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا اللَّهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ ۚ وَسَيَرَى اللَّهُ

هیڅ کله نه منو خبره ستاسو یقینًا خبر راکړے دے مونږ ته الله د احوال ستاسو۔ او او به وینی الله تعالیٰ

عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُۥ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ

عملونه ستاسو او رسول د هغه بیا به واپس کړے شئ هغه ذات ته چه پوهیږی په پټه او په ښکاره

فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۹۴ سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا

نو خبر به کړی تاسو په هغے چه کول تاسو۔ او س به قسمونه کوی په الله تاسو ته کله چه

انقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ ۖ فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ ۖ إِنَّهُمْ

واپس شئ تاسو دوی ته چه مخ واړوی د دوی نه۔ نو مخ واړوئ د دوی نه۔ یقینًا دوی

رِجْسٌ ۖ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ۹۵ يَحْلِفُونَ

ګنده دی۔ او ځائے د دوی جهنم دے۔ بدله به ورته ورکړے شی د کار د دوی۔ قسمونه کوی

له یعنی کریم صلی الله علیه وسلم چه کله واپس شو د تبوک نه نو هغه د پاسه ائیاکسه د منافقانو راغلل او دوی ته ئے عذرونه پیش کړل او دوی د هغوی عذرونه قبول کړل او بخښنه ئے ورلره او غوښته او د هغوی باطن ئے الله ته او سپاره څکه چه باری تعالیٰ خو ورته داسے نه ؤ ووئیلی چه فلانکے فلانکے منافق دے او د هغے عذر مه قبلوه ۱۲

۲ له علم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرائن نه دے یا په وحی سره ۱۲

۳ له د منافقانو مقصد دا چه زمونږ نه مخ واړئ وئی یعنی زمونږ سره مهربانی او کړی نو الله تعالیٰ او فرمائیل اوڅ مخ ترینه واړه ځکه دوی ګنده دی ۱۲

۴ له که تاسو ترینه راضی شئ نو الله تعالیٰ خو ترینه نه راضی کیږی ځکه چه دوی نافرمان دی ۱۲

نه وه او د بانډو منافقانو دي دوي خو وېره لکاره وي په قرآن نه پوهيږي او خيرات ته تاوان وائي او ستاسو مصيبت ته
منتظر وي ځکه چه د مسلمانانو د شمن کوي نو مصيبتونه به په هغو راځي په دوي به چهانه ۱۲ ؎۲ د اصحفه اعراب دي

لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ فَإِن تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَىٰ

ستاسو چه تاسو خوشحاله شئ د دوي نه - نو که خوشحاله شوئ تاسو د دوي نه نو بېشکه الله نه راضي کيږي

عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ۝٩٦ الْأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا وَأَجْدَرُ

د قوم نافرمان نه - د بانډو خلق سخت دي په کفر کښې او په منافقۍ کښې او لايق دي چه

أَلَّا يَعْلَمُوا حُدُودَ مَا أَنزَلَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ

پوهه نه شي په هغو حکمونو چه رالېږلي دي الله په رسول خپل باندې - او الله پوهه او

حَكِيمٌ ۝٩٧ وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغْرَمًا وَيَتَرَبَّصُ

حکمت والا دې - او ځينې د بانډو د خلقو نه هغه دي چه ګڼړي هغه شي چه خرچ کوي تاوان او انتظار کوي

بِكُمُ الدَّوَائِرَ ۚ عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝٩٨

په تاسو د آفتونو - په دوي دي وي آفتونه بد - او الله آوري او پوهه دې -

وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَن يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا

او ځينې د بانډو د خلقو نه هغه دي چه يقين کوي په الله او په ورځ د قيامت او ګڼړي هغه شي چه

يُنفِقُ قُرُبَاتٍ عِندَ اللَّهِ وَصَلَوَاتِ الرَّسُولِ ۚ أَلَا إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ۚ

خرچ کوي ثوابونه د الله نه او دعا ګانې د رسول - خبردار د اخيرات نزدې والې دې د دوي له الله

سَيُدْخِلُهُمُ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝٩٩ وَالسَّابِقُونَ

زر به داخل کړي دوي لره الله په رحمت خپل کښې - يقيناً الله بخونکي مهربان دې - مخکښې اول

الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ

د مهاجرينو نه او د انصا رونه او د هغو خلقو نه چه تابعداري کوي د دوي په نيکۍ کښې

رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي

راضي شو الله د دوي نه او دوي به راضي شي د هغه نه او تيار کړي ئې دي د دوي لره باغونه چه بهيږي به

چه يقين ئې دے چه مونږ به خپل خيرات سره الله ته نزدې کيږو او نبي کريم صلے الله عليه وسلم به راته دعا کوي نو باري تعالى فرمائي چه د دوي يقين برابر دے الله تعالى به خامخا دوي ځانته نزدې کوي او رحمت او مغفرت به ئې نصيب شي ۱۲

؎۳ بهترين درې فرقې (۱) هغه مهاجرين چه نبي کريم صلے الله عليه وسلم د هجرت د مخه ورپسې هجرت کړے وي نو دوي اولني مهاجرين دي (۲) او د ويم انصار چه نبي کريم صلے الله عليه وسلم د هجرت نه وړمبې ئې د مسلمانانو مهاجرينو مدد کړے وو دوي به اولنو انصارو کښې دي (۳) دريم د دوي تابعداران په دے هجرت او نصرت کښې د دوي به ټول د الله تعالى سره د چه رضا وجنتونو اولوئے برے وشه - معلومه شوه چه د مهاجرينو او انصارو کنا حونه په تقدير ره وبود سره معاف دي ځکه چه رضا د خدائے تعالى او ګناه حونه د واړه نه جمع کيږي او الله تعالى چه د چا نه رضا کيږي نو دا رضا په اعتبار د انجام سره وي ځکه چه باري تعالى په غيب باندے پوهه دے نو معلوم شو منکر ئې خسران د هغه چا چه په اصحابه په خبرے د نقصان کوي ۱۲

ع ۱۲

ﺗَﺤْﺘَﻬَﺎ ﺍﻟْﺄَﻧْﻬٰﺮُ ﺧٰﻠِﺪِﻳﻦَ ﻓِﻴﻬَﺎ ﺃَﺑَﺪًﺍ ۚ ﺫٰﻟِﻚَ ﺍﻟْﻔَﻮْﺯُ ﺍﻟْﻌَﻈِﻴﻢُ ﴿١٠٠﴾ ﻭَ

د لاندې د هغو نه ویالې او سیدونکي به وي په هغو کښې همیشه. دا بری دی لوی. او

مِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ مُنٰفِقُونَ ۛ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ ۛ

ځینې د هغو چا چه چاپیره ستاسو دي د بانډو د خلقو نه منافقان دي. او ځینې د اهل مدینې نه

مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ سَنُعَذِّبُهُمْ

کامل شوي دي په منافقۍ کښې. ته نه پیژنې دوی لره. زه پیژنم هغو لره. عذاب به ورکړو دوی لره

مَرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلٰى عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴿١٠١﴾ وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا

دوه ځله بیا به لاړ شي عذاب لوي ته. او نور دي چه اقرار ئې کړیدې

بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صٰلِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللّٰهُ أَنْ

په ګناهونو خپلو ملاو ئې کړیدي عمل ښه د بل بد عمل سره. امید دی چه الله به مهربان

يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٠٢﴾ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً

او کړي په دوي باندې. یقیناً الله بخونکي مهربان دی. اخله د مالونو د دوي نه زکوٰة

تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ

چه پاک کړې دوی لره او برکتي کړې دوی لره په هغې سره او دعا کوه دوي ته. یقیناً دعا ستا تسلي ده د

لَهُمْ ۗ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ

دوی د پاره. الله اوریدونکي پوهه دی. آیا نه پوهیږي دوی چه الله قبلوي توبه

عَنْ عِبَادِهِ وَيَأْخُذُ الصَّدَقٰتِ وَأَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾

د بندګانو خپلو نه او اخلي زکوٰتونه او الله زر زر بخلاکیدونکي مهربان دی.

وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ ۖ وَ

او او وایه چه عمل کوئ خو او به وویني الله عمل ستاسو او رسول د ده او مؤمنان. او

ك معلومه شوه چه غیب دان صرف الله تعالیٰ دی ١٢ ك عذاب دنیوی او عذاب د برزخ او عذاب عظیم د قیامت دی

ك ابو لبابه او د هغه ملګري مراد دي چه تبوک ته نه وو تلي او ځانونه ئې په ستنو پورې تړلي وو او الله تعالیٰ بیا معاف کړل ١٢

ك یعني د دې توبه ویستونکو نه زکوٰة اخله د دوی نه. الله تعالیٰ بخلاکې معلومه شوه چه خوک زکوٰة ورکوي نو ګناه ئې معاف کیږي او په مال کښې ئې برکت راځي او دا امی حق به پس د قبض د زکوٰة نه زکوٰة ورکوونکي ته دعا کول په ده سره د هغوی تسلي کیږي رفاقت (ه) په زړه دعا کول به ورسره متقلبا توکښې بهتر دي (۱) د تعلیم د پاره (۲) د ترغیب د پاره (۳) د دعوت د پاره ١٢

ك په حدیث شریف کښې دي چه صدقه لګي په لاس د رحمان کښې مخوا د هغه نه چه او رسي لاس د فقیر ته ١٢

ك لیدل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم او د مؤمنانو د اسباب له مخې په اعتبار سره دي او خدای تعالیٰ خو خپلو کارونو کښې اسباب ته محتاج نه دی ١٢

له كعب ابن مالك مراره بن ربيعه هلال بن اميه ١٢ سله ابو عامر خزرجي نصراني شوی وه او پس وه چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم را لحه مدينې ملوته نو وه تللے د موت وركړو او دا منظور نه كړو او مباحله ئې اوكړه چه دروغژنے الله تعالى امرېي ئې مړ كړي په درت روستو ځ لاړ مكي معظمې ته او د مسلمانانو دشمنانو ئې كوله د فتح مكې نه بعد ځ ملک شام ته د قيصر روم د نه بشكر راولو ښتو او منافقانو د مدينې منورې ته ئې اولیکے چه د مالره قيام ګاه تيار كړئ په نوم د جمات نو چه كله نبي كريم صلى الله عليه وسلم د تبوک نه واپس شو نو دا جمات ئې او سيزلو په حكم د الله سره د دې جمات نوم مسجد ضرار شو ١٢ سله د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه پوښتوس اوكړو د دے جمات متعلق نو هغوی او فرمائيل چه دا مسجد نبوی دے يعني نزول د آيت خو په حق د مسجد قبا كښے خو تخصيص په هغه پورې نيشته نو ځكه شاه ولي الله صاحب فرمائي چه شان نزول په فهم د قرآن كښے ډير علم رسان دے يعني تخصيص د آيتونو د قرآن په شان نزول پورې غلط دے اعتبار د عموم د لفظ له دے نه خصوص د واقعے لره سله نبي كريم صلى الله عليه وسلم د قبا د خلقو نه پوښتوس اوكړو چه ستاسو د پاكۍ

سَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ

واپس به شئ هغه ذات ته چه پوهيږي په پټو او په ښكاره - نو خبر به كړي تاسو په عمل ستاسو -

وَءَاخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ

او نور دي چه روستو كړے شوي دي حكم د الله ته يا به عذاب وركړي دوی ته يا مهرباني به وكړي په دوي

وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا

او الله پوهيږي او حكمت والا دے - او (دوهم) هغه دي چه جوړ كړے ئې جمات د پاره د ضرر او د كفر

وَتَفْرِيقًۢا بَيْنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ

او جدائي په مينځ د مومنانو كښے او د انتظار د هغه چا چه جنګ كړے ئې د الله او د رسول د هغه

مِن قَبْلُ ۚ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّا ٱلْحُسْنَىٰ ۖ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ

سره پخوا - او قسمونه كوي چه اراده مونږ نه ده كړے مګر د نيكۍ - او الله شاهدي كوي چه يقينا

لَكَٰذِبُونَ ۝ لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا ۚ لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقْوَىٰ مِنْ

دوی دروغژن دي - مه ودريږه په هغه كښے هيڅ كله - بے شكه هغه جمات چه بنياد ئې ايښودے شوے دے په

أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ ۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا۟ ۚ

تقوى باندې د اولې ورځې نه لائق دے چه ته ودريږې په هغه كښے په هغه كښے سړي دي چه خوښوي چه پاک اوسي دوی

وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُطَّهِّرِينَ ۝ أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَٰنَهُۥ عَلَىٰ تَقْوَىٰ

او الله مينه كوي د پاكو سره - آيا پس هغه څوک چه مضبوط ئې كړه آبادي خپله په ويرې باندې

مِنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنٍ خَيْرٌ أَم مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَٰنَهُۥ عَلَىٰ شَفَا

د الله نه او په رضامندۍ باندې غوره دے يا هغه څوک چه كيښودو هغه بنياد د آبادۍ خپلې په غاړه د

جُرُفٍ هَارٍ فَٱنْهَارَ بِهِۦ فِى نَارِ جَهَنَّمَ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ

كنده چه راتاويدونكې ده نو راتاو شو هغه د دوه لره په اور د جهنم كښے - او الله خو نه ښكاروي قوم

الله فرښتے دے هغه ته ... نو اوسي ... او مونږ اوكړو ... او بيا استنجا كوو نو نبي عليه السلام او فرمائيل چه په دے مضبوط شو ... سله يعني پوره آبادي كړي دے د الله ... د پاره او يو د الله ... وكړ پاره نو دا د دوی په د الله عبادت جوړ كړي ١٢

له دا بیان د حوالے د مبیعے دے الله تعالیٰ ته ؎ سڪ چونکه قیمت دستی نه دے نو اقرارنامه ته ضرورت و

نو باری تعالیٰ د دے اقرارنامے

الظّٰلِمِيْنَ ۝ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِيْ بَنَوْا رِيْبَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ

ظالمو ته - همیشه آبادی د دوی کومه چه جوړه کړې یې دی شک به وی په زړونو د دوی کې

إِلَّا أَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ إِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى

مګر که ټکړے ټکړے شی زړونه د دوی - او الله پوهه او حکمت والا دے - یقینًا الله اخستی دی

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ

د مؤمنانو نه نفسونه د دوی او مالونه د دوی په قیمت د جنت باندے.

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَيُقْتَلُوْنَ ۟ وَعْدًا عَلَيْهِ

جنګ به کوی په لاره د خدائے کښے نو مړه کوی به او وژلے کیږی به هم - وعده ده په ذمه

حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَالْإِنْجِيْلِ وَالْقُرْاٰنِ ۭ وَمَنْ أَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ

رشتینې په تورات کښے او په انجیل او په قرآن کښے - او څوک دے د لوظ پوره کونکی

اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ۭ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ

الله د نو خوشحالے شئ په بیعے خپلے کومه چه تاسو کړے ده - او دا بری دے

الْعَظِيْمُ ۝ التَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ

لوئے - هغوی توبه کونکی دی عبادت کونکی دی شکر کونکی دی بے تعلقه دی رکوع کونکی دی

السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ

سجده کونکی دی حکم کونکی دی د نیکو او منع کونکی دی د ناروا نه او

الْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ۭ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَ

حفاظت کونکی دی د حکمونو د الله - او زیری ورکړه مؤمنانو ته - نه ده مناسب نبی له او

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا أَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا أُولِيْ قُرْبٰى

نه مؤمنانو لره چه بخښنه غواړی د مشرکانو د پاره اګرکه وی خپلوان

ع ١٤

ورکړے په قرآن او په انجیل او په تورات کښے او الله وفا کونکے هم دے اګرکه قیمت نسیه دے خو هیڅ شبهه نشته ځکه چه قیمت جنت دے هغه باقی دے او ثمن مال او نفس د مؤمن دے او دا فانی شے دے بدل د وارو که الله تعالیٰ دی نو دا ډیره د خوشحالۍ سودا ده ؎ الله تعالیٰ دے زمونږ نصیب کړی آمین ؎

سڪ دا تعین د خرچ کونکو د مال او د نفس د شے دے

سڪ یعنی هر حکم په خپل مقام کښے منی، فرض فرض ګڼړی او سنت سنت او واجب واجب ګڼړی په دے کښے رد دے په هغو چه د دے پوهو لپاره د کوی د دے وجه نه فقهاء د ډیرو کړی چه کوم شے متروک شی په سنت او په بدعت کښے نو هغه لره به خلق پریږدی

ڪ هرکله چه د مؤمنانو نفس او مال د الله تعالیٰ شو نو بیا هم دے نه استغفار وی مشرکانو لره د الله دشمنان دی نو د هغوی د پاره به استغفار نه غواړی عام

له ابراهيم عليه السلام چه استغفار د پلار د پاره غوښتې وه نو ځکه چه هغه د پلار سره وعده کړې وه چه زه به تا لره بخنه غواړم
يعنې الله تعالی ته به منت او زاری کوم چه اے الله ما پلار لره توفيق د ايمان ورکړه نو چه هر کله هغه ته معلومه شوه

مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحٰبُ الْجَحِيمِ ﴿١١٣﴾ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ

پس د هغې نه چه ښکاره شو دوی ته چه هغوی دوزخيان دي - او نه وه بخنه غوښتل د

إِبْرٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ

ابراهيم پلار خپل لره مګر د وجې د وعدې نه چه کړې وه د هغه سره نو هر کله چه ښکاره شو ده ته

أَنَّهُ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرٰهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ ﴿١١٤﴾ وَمَا كَانَ

چه دی دشمن د الله دی نو بېزاره شو د هغه نه - يقيناً ابراهيم نرم زړی او صابر وه - او نه دی

اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدٰهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُونَ

الله چه غلط کړي يو قوم لره پس د هغې نه چه هغوی ته ئې لار ښودلې وه تر څو چه بيان کړي هغوی ته هغه شی چه بچ کيږي ل

إِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾ إِنَّ اللّٰهَ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

ترې مناسب دي. يقيناً الله په هر څه پوهه دی - يقيناً صرف الله لره ده بادشاهي د آسمانونو او د زمکې -

يُحْيِي وَيُمِيتُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُونِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيرٍ ﴿١١٦﴾

ژوندی کوي او مړه کوي - او نيشته تاسو لره سوا د الله نه هيڅوک دوست او نه مددګار

لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ

يقيناً مهرباني کړې ده الله په نبي او په مهاجرينو او په انصارو کوم چه

اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ

تابع شوي وو د هغه په حالت د سختئ کښې پس له هغې نه چه قريب وه چه کاږه شي زړونه د يو ډلې

مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٧﴾ وَعَلَى الثَّلٰثَةِ

د دوئ نه بيا مهرباني او کړه په هغوی باندې يقيناً الله په دوی مهربان او رحم والا دی - او په هغو دريو کسانو

الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتّٰى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ

چه پاتې کړې شوي وو د توبې قبول نه تر دې چه تنګه شوه په هغوی باندې زمکه سره د فراخئ والي نه

چه دا د خاتمې په کفر وه نو بيا ئې ترې نه بس کړل ابراهيم عليه السلام نرم زړے وه نو ځکه ئې بخنه غوښته نو بيا صابر شو.
٢ے د دے حکم نه مخکښې د چا بخنه غوښتلې وي نو هغه معاف دي.
٣ے په هر څه پوهه دے خپل او پردے ښه پيژني.
٤ے بادشاهي د آسمانونو او زمکې صرف د هغه ده ژوندي کول او مړه کول صرف هغه کوي او تاسو لره سوا د هغه نه هيڅوک دوست او مددګار نيشته نو د هغه حکم منئ او اطاعت ترې غواړئ او طمع ترې کوئ او د هغه نه ويريږئ.
٥ے په غزاء د تبوک کښې په مسلمانانو ډير تکليف راغلی وه.
٦ے کعب ابن مالک مراره بن ربيعه او هلال بن امية کعب صاحب وائي چه د تبوک په غزا کښې بې عذره پاتې شوم او ډير خفه وم نو چه کله نبي کريم صلى الله عليه وسلم کامياب واپس شو منافقانو خپل خپل عذرونه پيش کړل او نبي عليه السلام ورته معافي او کړه نو چه ما ته نمبر راغے ما ورته رښتيا اووئے چه بلا عذره پاتے شوے يم نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم او د ګ
مسلمانانو ته چه د دوئ سره هر تعلق ختم وي او په پنځوس شپو ورځو باری تعالی دا آيتونه را واستول او نبي کريم صلى الله عليه وسلم او مسلمانان ښه خوشحاله شول ١٢

وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْٓا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّآ

او تنګ شو پر دوی نفسونه د دوی او دوی خیال او کړو چه نشته ځای د پناه ځی د عذاب د خدای څخه مګر

اِلَيْهِ ۭ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ۝ ع ١٤ ٣

طرف د هغهٔ - بیا ئے مهربانی او کړه په هغوی چه واپس شی هغوی. یقیناً زرزر بخښونکے دے او ډیر مهربان دے.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ۝ مَا كَانَ

اے مؤمنانو ! او ویریږئ د الله نه او شئ د رشتو نو سره. نهٔ دے مناسب

لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا

د مدینے خلقو لره او چار چاپیره د بانډو خلقو لره چه روستو کیږی

عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ ۭ ذٰلِكَ

د رسول الله نه او نهٔ دے غوره کوی ځانونه خپل په هغهٔ باندے. دا ځکه چه

بِاَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ

نهٔ رسی دوی ته تنده او نهٔ ستړی والے او نهٔ لوږه په لار د

اللّٰهِ وَلَا يَطَـُٔوْنَ مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ

د الله کښے او نهٔ ځی په یو لار چه غصه کوی کافران او نهٔ حاصلوی د دشمن نه

نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ

څه شے مګر لیکلے کیږی دوی لره په هغے سره عمل ښهٔ. بے شکه الله نه ضائع کوی ثواب

الْمُحْسِنِيْنَ ۝ وَلَا يُنْفِقُوْنَ نَفَقَةً صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً

د نیکانو - او نهٔ خرچ کوی دوی نفقه وړه او نهٔ لویه

وَّلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا

او نه قطع کوی یو میدان مګر لیکلے کیږی دوی لره چه بدله ورکړی دوی لره الله ښه د

ـــه ابو خیثمه صاحب فرمائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم لاړو او زهٔ په خپل باغ کښے د خپل اهل سره ناست وم ناګهانه ما په زړهٔ کښے راغله د غزا خبره او زهٔ روان شوم تو د لرے نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه ما خیال دے چه ابو خیثمه راغے. یعنی د ولے مسلمانانو د اسلامی کار نه پاتے کیږی او په دے کار کښے څومره لوئے ثواب دے چه په لوږه او په تنده او په ستړی والی او په غنیمت او په هغهٔ کښے ثواب دے نو ولے کوا دے لوئے ثواب نه د مدینے خلق ځان محرومه کوی ۱۲

عـــه (وظیفه): لَا مَلْجَاَ وَلَا مَنْجَا مِنَ اللّٰهِ اِلَّآ اِلَيْهِ: د هر حاجت د پاره یو سل یو ویشت د دوو رکعتو نو نه پس لولی د شپے ۱۲

ﻟﮯ ځینې مؤمنان د ے د کور کار کوی او ځینې د ے بهرته لاړ شی د علم د پاره چه د توحید او سنت مسائل زده کړی او بیان او عملدې برابر شی او په دین کښې کامل شی او خپل قوم او وړیر وی او قوم له هم مناسب ده چه د خپل عالم خبره

كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا

عمل د دوینه - او نه ده په کار چه مؤمنان ټول (د علم د پاره) پس ولې نه ځی د هر یے

نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَ

ولے د دوینه یو ټولے چه پوهه شی په دین کښې او

لِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾ يَا أَيُّهَا

چه او ویروی قوم خپل کله چه واپس شی دوی ته امید دے چه دوی او وریږی - اے

الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ مِنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ

مؤمنانو! جنګ کوئ د هغو سره چه نزدې دی تاسو ته کافرانو نه او پیدا دې شی تاسو کښې

غِلْظَةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾ وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ

سختی - او پوهه شئ چه یقینًا الله د متقیانو سره دے - او کله چه نازل شی یو سورت

فَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ

نو ځینې د دوینه هغه دی چه وائی د کوم یو زیات کړو دے ایت ایمان لره - نو هغه چه

آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿١٢٤﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ

مؤمنان دی نو زیات کړو هغوئ ایمان د دوی او دوی خوشحاله دی - او هر چه هغه دی چه

فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَىٰ رِجْسِهِمْ وَمَاتُوا

په زړونو د دوی کښې مرض دے نو زیاتوی هغه د دوی ګندګی سره د ګندګی د دوینه او مړه به شی

وَهُمْ كَافِرُونَ ﴿١٢٥﴾ أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَرَّةً

او دوی به کافر وی - آیا نه وینی دوی دا چه دوی عذابیږی په کال کښې یو ځل

أَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ

یا دوه ځله بیا توبه کار کیږی نه او نه دوی سوچ کوی - او کله چه نازل شی

اوځی ورنه نو جهاد به کوی او عقیده به ئې صاف نه وی نو عمل به ئې لغوه وی او په دے ایت کښې عظیم بشارت دے علماء حق ته چه د انذار کار به ورته حواله کیږی او دا کار خو د پیغمبرانو وو یعنی عالم خو عالم دے البته کار به د پیغمبر علیه السلام کوی ۱۲

۲ے دا د سورت مقصد بیا ذکر کیږی ۱۲

۳ے دا زورنه ده یعنی کله چه یو سورت نازل شی نو کافرانو د تو تو په طور وائی چه دے ایت د کوم سړی ایمان له زیات کړو او سره د دے نه چه سورت انفال ۲ے خو وائی چه دا قرآن د خلقو ایمان زیاتوی نو ته ورله جواب ورکړه چه مؤمن وی نو د هغه په قرآن سره غښته تسلی راځی او چه منافق وی نو هغه ځکښې هم غلط وی او چه یو نوے اعلان راځی د قرآن نو د هغه انکار او کړی نو د هغه ګندګی زیاته شی او خاتمه د هغه په کفر اوشی - الله تعالی دې مونږ بچ کړی آمین ۱۲

۴ے پکار خو دا وه چه په دوی تکلیف راغلے دے نو دوی توبه ګار شوی وے لیکن په دوی تسا قسم تکلیفونه راځی او دوی توبه نه او باسی ۱۲ ۵ے کله چه یو سورت راشی نو دوی د هغه او ریدو ته نه تیاریږی بلکه د وتو کوشش کوی نو چه دوی د قرآن آوریدو او منلو ته تیار نه دی نو د پاری تعالی د دوی ته څه ضرورت دے ۱۲ اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ۱۲

لـه دا ترغيب دے اتباع د نبي كريم صلے الله عليه وسلم ته چه دا ډېر مهربان رسول دے چه ستاسو تكليف په غمېدي او ستاسو
په خير خواهۍ باندے حريص دے او مهربان دے ستاسو نو هرو دا ډېر نبي كريم صلے الله عليه وسلم خبره او منئ ۱۲ — لكه په ۱ كښے دا

سُوۡرَةٌ نَّظَرَ بَعۡضُهُمۡ اِلٰى بَعۡضٍؕ هَلۡ يَرٰىكُمۡ مِّنۡ اَحَدٍ ثُمَّ

يو سورت نو او كوري ځينے د دوي ځينو نورو ته - چه آيا وينى تاسو لره يو كس؟ بيا

انۡصَرَفُوۡا ؕ صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوۡبَهُمۡ بِاَنَّهُمۡ قَوۡمٌ لَّا يَفۡقَهُوۡنَ ۝١٢٧

واپس شي - واپس دے كړي الله زړونه د دوي ځكه چه دوي يو قوم دے چه نه پوهېږي -

لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ عَزِيۡزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ

يقيناً راغلے تاسو ته رسول د جنس ستاسو نه گران دے په ده تكليف ستاسو

حَرِيۡصٌ عَلَيۡكُمۡ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ رَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ۝١٢٨ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا

حريص دے ستاسو په خير خواهۍ په مؤمنانو باندے ډېر مهربان رحم والا دے - نو كه دوي مخ واړوي

فَقُلۡ حَسۡبِىَ اللّٰهُ ۖ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَهُوَ رَبُّ

نو او وايه چه بس دے ما لره الله - نشته الٰه سوا د هغه نه په هغه مے توكل كړے دے او هغه رب

الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡمِ ۝١٢٩

د عرش لوئي دے -

سُوۡرَةُ يُوۡنُسَ مَكِّيَّةٌ وَّهِىَ مِائَةٌ وَّ تِسۡعُ اٰيَاتٍ وَّ اَحَدَ عَشَرَ رُكُوۡعًا — بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

ايتونه (۱۰۹) — شروع په نوم د خدائے پاك چه ډېر مهربان رحم لرونكے دے — ركوع گانے (۱۱)

الٓرٰ ۚ تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡحَكِيۡمِ ۝١ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنۡ

الله ښه پوهه په معنے ددے - دا ايتونه د كتاب د كامل دي - آيا شته خلقو لره تعجب چه وحي

اَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰى رَجُلٍ مِّنۡهُمۡ اَنۡ اَنۡذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِيۡنَ

مو او كړه يو سړي ته د دوي نه چه او وېروه خلق او مبارك وركړه

اٰمَنُوۡۤا اَنَّ لَهُمۡ قَدَمَ صِدۡقٍ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ قَالَ الۡكٰفِرُوۡنَ

مؤمنانو ته چه دوي لره مرتبه ده لويه په نزد د رب د دوي - او وے كا فرانو

د توحيد مسئله ده چا عرش او كرسي چه عالم ده صرف الله تعالىٰ پوره دے ما صرف صفت ته عرش سپارلے دے او په حديث شريف كښے دي چه څوك صبح او ماښام اووه ځله دا او وائي حسبي الله ترآخره پوره نو الله تعالىٰ به د هغه د دنيا او د آخرت حاجتونه پوره كړي ۱۲ — دا تمهيد د بيان دے يعني دا سورت او منځ نبي كريم صلے الله عليه وسلم ته خاتمه نه واقع دا سورت د قرآن ايتونه دي او د عقل نه ډك دي خلق هسے تعجب كوي چه دا دوي د جنس نه يو سړي ته وحي او شوه دا خو د تعجب خبره نه ده ۱۲

عمر ما كه دي د بني اسرائيل ذكر او د حدود نه مخكښے نازل شو بيا د ده ځكه معظم په دويم ځاے كښے - په ترتيب قرآني كښے لسم دے او په ترتيب نزول كښے (۵۱) يو پنځوستم دے ۱۲ مقصد د سورت ځكه چه متصرف صرف الله تعالىٰ دے او د دے مسئلے د پاره د جنګ اعلان او شو نو دغسے په الله تعالىٰ باندے څوك په تصرف او توكل كښے غالب نشته - نو كه څوك دا عقيده لري چه په الله تعالىٰ غالب شته نو هغه هم قابل د قتل دے ۱۲

ربع ۲
المنزل الثالث ۳
وقف النبي صلى الله عليه وسلم

له دا اول دے د پاره د دے چه تصرف کوونکے د ټولو کارونو صرف الله تعالی دے نه او په الله تعالی څوک غالب نشته څوک بغیر د اذن د هغهٔ نه سفارش نه شی کولے. نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته په کافر ساحر وائی نو جواب د دے مسئلے د وجه نه وائی - ستة ایام نه مراد مقدار د شپږو ورځو دے عین شپږ ورځے د دنیا نه دی ځکه چه دا ورځے د دنیا د پیدائش نه وروستو دی : استوی علی العرش: نه مراد دا دے چه باری تعالی چا ته څهٔ حواله کړی نه دی ټول تصرفات په خپله کوی : ما من شفیع : نه مراد دا دے چه په باری تعالی څوک غالب نشته ١٢

٢ه دا هم باری تعالی خپل لوئے قدرت بیانوی چه هغه دے کولے شی په دے څوک نه شی غالب کیدے ١٢

٣ه دا هم د خدائے تعالی د عظمت بیان دے دا ټول د خدائے تعالی د یو والی دلیلونه دی خو چه څوک ویرېږی نو هغه پرے پوهیږی ضدیان نه پوهیږی ١٢ سه دا دویم دلیل عقلی دے ١٢

إِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ۝٢ إِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

یقیناً دے ساحر ښکاره - یقیناً رب ستاسو الله دے چه هغهٔ پیدا کړیدی آسمانونه

وَالْأَرْضَ فِيْ سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ

او زمکه په شپږو ورځو کښے بیا قائم شو په عرش باندے - تدبیر کوی د ټولو

الْأَمْرَ ۖ مَا مِنْ شَفِيْعٍ إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهٖ ۚ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ

کارونو - نشته سفارش کوونکے مګر پس د اذن د هغهٔ نه - دا الله دے چه رب ستاسو دے

فَاعْبُدُوْهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝٣ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا ۖ وَعْدَ اللّٰهِ

نو صرف د هغهٔ عبادت کوئ - آیا سوچ نه کوئ تاسو - دهٔ ته ده واپس ستاسو ټولو - وعده د الله

حَقًّا ۚ إِنَّهٗ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَ

حقه ده - هغه اول پیدا کوی مخلوق بیا به ئے دوباره پیدا کړی چه بدل ورکړی هغو ته چه ایمان ئے راوړی او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ

کوی ئے نیکی په انصاف سره - او کافرانو لره څکل دی د ګرمو

حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ أَلِيْمٌ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ۝٤ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ

اوبو نه او عذاب دے سخت ځکه چه دوی کفر کولو - الله هغه ذات دے چه کړی ئے دے

الشَّمْسَ ضِيَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا وَّقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ

نمر لره رڼا کوونکے او سپوږمئ لره نور او اندازه کړیده ئے هغوی لره منزلونه چه معلوم کړئ شمار

السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ

د کلونو او حساب د وختونو - نه دی پیدا کړی الله دا مګر په تدبیر سره، بیانوی

الْآيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝٥ إِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا

آیتونه د هغه قوم د پاره چه پوهیږی - یقیناً په تللو راتللو د شپے او د ورځے او د هغه شی

لـه داد عذاب اخروي كوم خلق چه د الله د ملاقات اميد نه لري او په ژوند د دنيا خوشحاله دي او دا يې مقصود دی او د الله تعالیٰ د وحدانيت د دلائلو نه بې خبره دي نو دوی د دوزخيانو دی ۱۲ سـ۲ـه دا د ثواب د آخرت بيان دے

خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ۝۶ اِنَّ

چه پيدا كړي دي الله په آسمانونو او په زمكه كښې دليلونه دي د هغه قوم د پاره چه ويريږي (د خدائه). يقيناً

الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاطْمَاَنُّوْا

هغه خلق چه اميد نه كوي د ملاقات زمونږ او راضي شوي دي په ژوند لنډ او مطمئن شوي دي په

بِهَا وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا غٰفِلُوْنَ ۝۷ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمُ النَّارُ

هغې او هغه خلق چه د آيتونو زمونږ نه بې خبره دي. د دوی ځاے اور دے

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝۸ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

په سبب د بد كسب د دوی سره. يقيناً هغه خلق چه ايمان ئې راوړيدے او كوي نيكي

يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ فِيْ

خو نه به او كړي دوی ته رب د دوی په سبب د ايمان د دوی. چه بهيږي به لاندې د هغې نه ويالے او سيلونه

جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝۹ دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ

جنتونو د نعمت كښې. بلنه د دوی به په جنت كښې (دا وي چه) پاك ده تا لره اے الله او صلاة د دوی به

فِيْهَا سَلٰمٌ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۰

په جنت كښې سلام وي. او آخري بلنه د دوی به دا وي چه ټول صفتونه ثابت دي صرف الله لره چه رب د عالم دے.

وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ

او كه زر رسولے الله خلقو ته تكليف په شان د زر غوښتلو د دوی خير لره نو ختم شوے به وو

اَجَلُهُمْ فَنَذَرُ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝۱۱

عمر د دوی. نو پريږدو هغه خلق چه اميد نه كوي د ملاقات زمونږ په سركشئ د دوی كښې بې عقله.

وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖٓ اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَآئِمًا

او كله چه اورسي انسان ته تكليف نو بلل ماله (ئې) په اړخ او په ناسته او په ولاړه.

يعني د كوم خلقو چه ايمان ټيك دے او د ايمان په رڼا كښې نيك عمل كوي نو د دے ايمان په وجه به باري تعالیٰ دوی په دين مضبوط كړي او د دوی خاتمه به په ايمان او شي او په جنت كښې به وي او صلاة منے دے چه د دوی غټه شی ته ورت شي نو دا به او وائي چه اے الله ته هر قسمه كمي نه پاك ئې ايمان دے چه ته د عيبونه پاك ئې نو ملك به ترې چه السلام عليكم د ځنته صفه مقصود دے نو دے به او وائي چه اے الله ته هر قسمه كمي نه پاك ئې او د ټول عالم د خير و رتو نه يو ره كو ونكے ئې باري تعالیٰ صفه كوي ځنګه چه د خلقو يقين وي په جنت كښې به په الله تعالیٰ يقين مضبوط شي دغسے كه څوك يو سړي په الله تعالیٰ يقين مضبوط شي په دنيا كښې نو د غسے الله تعالیٰ هر قسمه كولے شي لكه د انبياء عليهم السلام چه يقين پخپل سوال باندې مضبوط وه نو ځكه معجزے ښكاره كيدے سـ۲ـه دا زورنه دے چه كله انسان ته تكليف ورسي نو بيا سوالونه كوي او كله چه تكليف ترينه لرے كوم نو بيا ما هيڅ كړي داسے نه ده پكار. پكار دا ده چه هر وخت سره خپل مولیٰ ته ژړا او فرياد كوي ۱۲ عـ۳ـه بل مطلب په دين دے چه په دين خوشحاله وي ۱۲

۱ د وخه ته ایمان د و چه نه بوجا نو ته بدل ورکوو م ۔
۲ چه تاسو بد څه کار کوئ څه یا بد ۔
۳ د باری تعالیٰ د حضور نه ... کوی چه دوی وائی چه دا قرآن څه نه دے بدله کښې ... بد قرآن راوړه یا کم از کم د ده دا توصیف بدل کړه ته ورته اووایه چه د خپل طرفه نه په قرآن کښې زه تصرف نه شم کولے البته په حکم د خدائے تعالیٰ سره نسخ په قرآن کښې کیږی ۔
۴ ورته اووایه چه زه دا قرآن تاسو ته وایم دا د الله تعالیٰ حکم دے ورنه یو امی سړے څنګه دا سے فصیح کلام وئیلے شی چه ترا وسه د څلوېښتو کلونو پورے څه خو څه بیان قوم ته نه وی کړے بیا نا څاپه او دریږی او دا سے عجیب او غریب کلام قوم ته پیش کوی چه خلق ورته حیران شو ۔

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ كَأَنْ لَمْ يَدْعُنَا إِلَىٰ ضُرٍّ مَسَّهُ كَذَٰلِكَ

نو هرکله چه لرې کړو مونږ د ده نه تکلیف نو تیر شو داسې لکه چې نه وو بللی مونږ لره طرف د تکلیف ته چه رسیدلے وو ده ته ورته

زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ مِنْ

ذخبے ښائسته شوی دی بے ځایه کار کوونکو ته هغه عمل چه دوی کولو ۔ او یقیناً ما هلاک کړی دی پیړئ پخوا

قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوا وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ وَمَا كَانُوا

ستاسو نه هرکله چه ظلم کړے وو دوی ۔ او راغلی وو دوی ته رسولان د دوی په دلیلونو ښکاره او نه وو دوی چه

لِيُؤْمِنُوا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٣﴾ ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ

ایمان راوړے وے ۔ داسې جزا ورکوو مونږ قوم مجرمانو ته ۔ بیا مو کړی تاسو لره

خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ مِنْ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾ وَإِذَا

خلیفه ګان په زمکه کښې پس د دوی نه چه وګورو مونږ چه څنګه کوئ تاسو ۔ او کله چه

تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ

اولوستلې شی په دوی آیتونه زمونږ صاف ۔ وائی هغوی چه امید نه لری د ملاقات زمونږ دا وړه

بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ

قرآن بل په ځائې د دې نه یا دے بدل کړه ۔ او وایه نه دے کار زما چه بدل کړم دے د

تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ

خپل طرف نه ۔ تابعداری نه کووم مګر د هغې چه وحی کیږی ماته ۔ زه ویریږم که

عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ قُلْ لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا تَلَوْتُهُ

نافرمانی اوکړم د رب خپل نه د عذاب د لوئې ورځې ۔ او وایه که رضا وے د الله ما به نه وو لوستے دا

عَلَيْكُمْ وَلَا أَدْرَاكُمْ بِهِ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِنْ قَبْلِهِ

قرآن په تاسو او خبر کړی به نه وے تاسو په دې قرآن ۔ بیشکه زما یقیناً ما تیر کړیدے په تاسو کښې عمر یو لویه حصه

أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿۱۶﴾ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ

آيا تاسو نه پوهيږئ؟ نو څوک دے غټ ظالم د هغه چا نه چه تړى په الله باندے دروغ

كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ ﴿۱۷﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ

دروغژن کوى د هغه - يقيناً نه کاميابيږى مجرمان - او بندګى کوى سوا د

اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا

تعالىٰ د هغه چه نه ضرر رسولے شى ... او نه نفع رسولے شى ... او وائى چه دا ... سفارشيان ...

عِندَ اللَّهِ ۚ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي

په نزد د الله - او وايه چه آيا خبروئ الله لره په هغه څه چه معلوم نه دى الله ته په آسمانونو کښې او نه په

الْأَرْضِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۱۸﴾ وَمَا كَانَ النَّاسُ

زمکه کښې - پاک دے الله او اوچت دے د هغه نه چه شريکوى ئې د هغه سره - او نه وو خلق

إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً فَاخْتَلَفُوا ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ

مگر يو جماعت وه نو اختلاف ئې وکړو - او که نه وے حکم مخکښې شوے د رب ستا نه

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿۱۹﴾ وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنزِلَ

نو فيصله به شوى وه په منځ د دوى کښې په هغه خبره کښې چه دوى پکښې اختلاف کوى - او وائى ...

عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۖ فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ فَانتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُم

په ده باندے نښه د رب د ده نه - نو او وايه يقيناً غيب صرف الله پورې دے نو انتظار کوئ يقيناً زه تاسو سره

مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿۲۰﴾ وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّن بَعْدِ ضَرَّاءَ

انتظار کوونکو نه يم - او کله چه ورکړو خلقو ته مهربانى پس د تکليف نه چه رسيدلے وه

مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُم مَّكْرٌ فِي آيَاتِنَا ۚ قُلِ اللَّهُ أَسْرَعُ مَكْرًا ۚ إِنَّ

دوى ته په هغه وخت دوى لره مکر وى په آيتونو زمونږ کښې - او وايه الله زر لوى تدبير - يقيناً

سلے ... هغه هم ... تعالىٰ ... نو ... [illegible]
... تعالىٰ ... سفارش ... قيامت ... شفاعت ... نبى کريم صلى الله عليه وسلم ... مسلمانان ... سفارش ... [illegible]

لے د سختئ په وخت کافران الله تعالیٰ ته فریاد کوی معلومه شوه چه مشرکان الله تعالیٰ منی او د حقه نه جاجتونه هم

غواړی او د سختئ په وخت صرف د الله تعالیٰ نه حاجتونه غواړی او د صرف بیان الله تعالیٰ لره نه منی ولے افسوس په حقه مسلمانانو د سختئ په وخت آواز کوی چه یا پیرا! یا اولیه بابا! یا خواجه صاحب یا سید و صاحبه یا کاکا صاحبه رامدد شے او په نیکئ رااوړ سے - اے بدبخته مسلمانانو تاسو په مسلمانان وائے او د مشرک نه لا ندے شوے او که یو رب العالمین وړاندے د توحید مسئله کوی نو وائی دا نوے مسئله ده او زه د پلار نیکه دین ته پریږدم نو پلار نیکه ته ولے مشرک وائے نو که شرک کوی نو څه ن غم قوی په دنیا کښے یو شو ورځے مزه ده بیا ورسره فیصله ده او دنیا فانی شے ده نن شته صبا نشته په دے ولے باور کوئ دنیا خوبا ده لکه فصل تا زه بنکاره شی بیا ژر ختم شی دغسے دنیا ده الله فکر کوو نکو خلقو ته نمونے او مثالونه پیش کوی د پوهه کیدو د پاره چه د دی پوهه شی ۱۲

رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ ۝ هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ

رسولان ځمونږ لیکی هغه چه تاسو مکر کوئ - الله هغه دے چه بوزی تاسو لره په بیابان او په دریاب کښے

حَتَّىٰ إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا

تر دے چه شی تاسو په جهازونو کښے او بوزی دوی لره په هوا صافی سره او خوشحاله شو دوی په هغے

جَاءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا

راشی ورته هوا تیزه او راشی دوی ته چپے د هر طرف نه او ګمان اوکړی دوی

أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ ۙ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنجَيْتَنَا

چه دوی ګیر کړے شو سوال کوی د الله نه یو ازے شی د هغهٔ په بندګئ کښے - که ته بچ کړے مونږ ه

مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ۝ فَلَمَّا أَنجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ

د دینه نو شو به شکر ګذار - نو هر کله چه بچ کړی دوی لره و هغه نو دوی شرارت کوی

فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَىٰ أَنفُسِكُم ۖ مَّتَاعَ

په زمکه کښے ناحق - اے خلقو یقیناً شرارت ستاسو تاوان دے تاسو لره - نفع واخلئ

الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

په ژوند لنډ کښے بیا ما ته واپس ستاسو ده نو خبر به کړم تاسو په عمل ستا سو -

إِنَّمَا مَثَلُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ

یقیناً مثال د ژوند لنډ لکه اوبه چه او ورولو مونږ د آسمان نه نو ګډ شی را او خیژی په هغے سره

نَبَاتُ الْأَرْضِ مِمَّا يَأْكُلُ النَّاسُ وَالْأَنْعَامُ حَتَّىٰ إِذَا أَخَذَتِ

ګیاه د زمکے نه کوم چه خوری خلق او څاروی - تر دے چه کله واخلی

الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَا أَنَّهُمْ قَادِرُونَ عَلَيْهَا

زمکه ښکلی خپل او ښائسته شی نو ګمان اوکړی اهل د زمکے چه دوی قادر دی په دغه فصل -

سله د واده مومنانو د پاره زيرے دے چې الله تعالی خو ټول خلق بلي کور د سلامتۍ ته چې جنت دے په دنيا کښې او جنت په آخرت کښې هم نيکان ورته بلنه قبلوي ... وينه ارشاد او په آخرت کښې معزز جنتيان او هميشه جنتيان به وي ۱۲

أَتٰهَآ أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنٰهَا حَصِيْدًا كَأَنْ لَّمْ تَغْنَ

نو راشي ورته حکم زمونږ د شپې يا د ورځې نو کړو مونږ هغه ريبلې شوې لکه چې نه وه هغه

چه ولے نه دے راكښته شوے په ده (مجبوره كوونكے) نښه د رب د ده نه ۔ يقينا ته ويره وركوونكے ئے او

لِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ۝ اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا تَغِيْضُ

د هر قوم د پاره لار ښوونكے دے ۔ الله پوهيږى په امېد د هرے مادے او په هغه چه لږ وى

الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ؕ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ۝ عٰلِمُ

رحمونه او په زياتوالى د رحمونو ۔ او هر شے په نزد د هغه په اندازه دے ۔ پوهيږى په

الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيْرُ الْمُتَعَالِ ۝ سَوَآءٌ مِّنْكُمْ مَّنْ اَسَرَّ

غيب او په ښكاره لوئى دے ډير اوچت دے برابر دے ستاسو هغه څوك چه پټوى

الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهٖ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِالَّيْلِ وَسَارِبٌۢ

خبره او هغه څوك چه په ښكاره كوى خبره او هغه څوك چه پټيږى د شپے او په ورځ كښې ګرځى

ته وه مناسب وو د لره مناسب د الله تعالى زمان مثل دا دے عذاب خو په تلو دى الله تعالى عذاب وركولے شو خو بخښونكے دے ولے عذاب لے هم سخت دے ۱۲

سه دا زجر دے كافران وائى چه دا سے معجزه ولے ورته چه موږ ده په ايمان مجبوره كړى مقصود د كافرانو بدكى نه كول د مومنانو دى نو ته ورله جواب وركړه چه څه كار معجزے پيش كول نه دى څما كار وير ول دى نه منونكو لره د غيب د هر قوم د پاره لار ښوونكے دے زما څخه معلومه شوه چه معجزه د پيغمبر په لاس ښكاره كيږى خو د هغه قدرت پكښې نه وى ۱۲

سه دا دويم دليل دے چه په غيب باندے عالم صرف الله تعالى دے او حاجت هغه څوك پوره كولے شى چه حاجت ورته معلوم وى او قدرت ئے هم وى دا صرف الله تعالى دے او په حاجت پوره كولو كښې په ده څوك زور آور هم نيشته ۱۲

ك د د اوعذاب وشوي بيان دے ته تو شديد المحال پوه شه - يعني الله تعالىٰ دا سې عجيبه كار و د كوي او دومره ئې نو خالق يه دوي حملا كيږي ځكه چه الله تعالىٰ لوئې قدرت والا دے ۱۲ ﻻ كه انسان حفاظت كوي په حكم د الله تعالىٰ سره

بِالنَّهَارِ ﴿١٠﴾ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ

د ورځې - الله لره پېره دار كوونكي دي په مخكښې د انسان او وروسته د ده ځوكي كوي د ده

مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا

په حكم د الله سره - يقيناً الله نه بدلوي حالت د يو قوم تر دې چه بدل كړي دوي حالت د

بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاِذَاۤ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ

ځاني ونو خپلو - او كله چه اراده او كړي الله په يو قوم د آفت نو نشته واپسي هغې لره - او نشته دوي لره

مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ﴿١١﴾ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّ

سوا د الله نه مددگار - الله هغه دے چه ښائي تاسو ته برېښنا د پاره د وېرې او د

طَمَعًا وَّيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿١٢﴾ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ

طمع او پيدا كوي ورېځې درنې (د باران نه) - او وائي رعد ثنا د الله

وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا

او ملائك د وېرې د الله نه - او را لېږي تندرونه نو رسوي دا هغه

مَنْ يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿١٣﴾ لَهٗ

چا ته چه رضا ئې شي او دوي جگړه كوي په خبره د الله كښې - او الله سخت طاقتوالا دے - د الله

دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ

بلنه رښتيا ده - او هغه خلق چه دوي هغوي لره بلې د الله نه - نه شي قبلولے هيڅ دُعا

بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ؕ وَ

د دوي مگر لكه او بړده كوونكي د دوارو لاسونو خپلو اوبو ته چه ورسي خولې د ده ته - او نه دي رسيدونكي هغه ته او

مَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿١٤﴾ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

نه دے بلنه د كافرانو د عا بې كاره - او صرف الله لره سجده كوي هغه خلق چه په آسمانونو كښې دي

ﺷ يعني الله تعالىٰ خپل امت د خلقو نه حفاظت چه د دوي نيت خراب شي ۱۲ ﮐ كله چه سړے د رعد آواز واوري نو دا دُعا به كوي: سُبْحَانَ مَنْ يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ اَللّٰهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ وَلَا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذٰلِكَ

ﻫ يعني الله تعالىٰ دا سې عجيبه كارونه كوي نو د هغه حكمونه منل پكار دي ليكن دوي نه مني او جگړې كوي نو په عذاب به شي ځكه چه د الله تعالىٰ لوئې طاقت دے ۱۲

ﻭ يعني حركله چه هر څه صرف الله تعالىٰ كولے شي او په هر څه هم صرف هغه پوهه دے نو د هغه بلنه د قانون دے دا او د كلما سوىٰ الله بلنه دا سې بې فائده ده لكه يو ګيچ او بوت آواز كوي چه خولې ته راشي زه تږے يم نو اوبه نه كوي د ده د بلنې نه خبر دي او نه ئې د راتګو طاقت شته دے كل ماسوىٰ الله بې طاقته او بې علمه دي عاجز او بې علمه مخلوق سره لا زمه ده لكه قدرت كامله او علم محيط چه صرف د الله تعالىٰ صفت دے نو صرف هغه حاجت روا دے په دا ځوك روا او نه شته ۱۲

ﺯ دا مرسوم ليد دے كه الله تعالىٰ د بادشاهئ چه هر څه د هغه تابعدار دي او سوري هم د الله تعالىٰ تابعداري يعني اعراض او جواهر قبول د هغه تابعداري نو صرف هغه حاجت روا دے نه بل ځوك ۱۲

له دا معلومه شوه دلیل دے د دې چه سجده کوي هر څوک چه په آسمانونو او د زمکه کښې صرف الله تعالیٰ دے نو حاجت روا هم صرف الله تعالیٰ دے

وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلَالُهُم بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ۩ ۞ قُلْ

او په زمکه کښې دي په رضا او په ناچارۍ سره او سورې د دوی سحر او بیګاه - او وایه چه

مَن رَّبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ قُلِ اللَّهُ ۚ قُلْ أَفَاتَّخَذْتُم مِّن

څوک دے رب د آسمانونو او د زمکې - او وایه چه الله دے - او وایه نو څه جوړ کړي دي تاسو سوا

دُونِهِ أَوْلِيَاءَ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ قُلْ هَلْ

د الله نه مدد ګار داسې چه مالکان نه دي د ځان دپاره د نفع او نه د ضرر - او وایه آیا چه

يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ وَالنُّورُ ۗ

برابر دے روند او لیدونکے - یا برابر دے تیاره او رڼا ؟

أَمْ جَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ خَلَقُوا كَخَلْقِهِ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ

آیا جوړ کړي دي د الله سره حصه داران چه پیدا کړي یې وي پشان د پیدا کولو د الله نو ګډ وډ شو په دوی پیدائش

قُلِ اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿١٦﴾ أَنزَلَ مِنَ

بیا وایه - او وایه چه الله پیدا کونکے د هر شي دے او هغه یو غالب دے - راوړی د

السَّمَاءِ مَاءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا

آسمانه باران نو بهیږي کندې په اندازه خپله سره نو پورته کړي سیلاب زګ لره

رَّابِيًا ۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَاءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَاعٍ

ځاپسه او د هغه شي چه ګرموي دوی هغه په اور کښې د پاره د طلب د ګاڼې یا د سامان

زَبَدٌ مِّثْلُهُ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ۚ فَأَمَّا الزَّبَدُ

زګ د پشان د هغه - داسې بیانوي الله حق او باطل لره - نو هر چه زګ دے

فَيَذْهَبُ جُفَاءً ۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ ۚ

نو ځي اوچ - او هغه شے چه نفع رسوي خلقو ته نو پاتې شي په زمکه کښې -

هم صرف الله تعالیٰ دے نو واجب الله په دې دی او د هغه چانه حاجت غوښتل چه هغوی د نفع او ضرر مالکان نه دي - موحد بینا دے او مشرک روند دے توحید رڼا ده او شرک تیاره ده ۱۲

له دا پنځم دلیل دے د الله تعالیٰ د کامل قدرت چه باران ورو ونکے صرف الله تعالیٰ دے نو حاجت پوره کوونکے هم صرف الله تعالیٰ دے او په دے دلیل کښې مثال دے د باطل معبود او د حق معبود چه معبود باطل د غسې باطل دے او بے کاره دے لکه زګ د اوبو یا د زرو او معبود حق داسې د فائدے دے لکه اوبه او زر ۱۲

ــه وا بشارت دے مومنانو کو پاره چه شوک د باری تعالیٰ حکم منی د هغوی د پاره نو شمال ده ١٢ ســه وا دا نه منونکو بلچه ویرول دی چه شوک د باری تعالیٰ حکم نه منی نو که تمامه دنیا او د دے مثل ورسره وی نو دے بدله عذاب وا کو ماله

كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ۝١٧ لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى

دا رنگے بیانوی الله مثالونه - د هغو خلقو د پاره چه فرمان قبلوی د رب خپل نو شمال ده

وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّ

او کوم خلق چه حکم نه منی د الله نو که وی دوی له هغه چه په زمکه کښے دی تول او

مِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ وَمَاْوٰىهُمْ

پشان د دے د ومره نو ورکړی به دوی دغه شے د دوی د پاره بد حساب دے - او ځائے د دوی

جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝١٨ اَفَمَنْ يَّعْلَمُ اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ

دوزخ دے او ناکاره ځائے دے - آیا هغه شوک چه پوهیږی چه هغه کتاب چه نازل شوے تا ته د

رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ اَعْمٰى ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝١٩ الَّذِيْنَ

رب ستا نه حق دے پشان د هغه چا دے چه هغه روند دے (داسے نه دے) یقیناً سوچ کوی عاقلان - کوم چه

يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَلَا يَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ ۝٢٠ وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ

پوره کوی لوظ د الله او نه ماتوی وعده - او هغه خلق چه پوره کوی هغه کار

مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ

چه الله حکم کړیدے په هغه سره چه او لوے کړے شی او ویریږی د رب خپل نه او ویریږی د بد

الْحِسَابِ ۝٢١ وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

حساب نه - او کوم خلق چه صبر کوی د پاره د رضا د رب خپل او سم کوی مونځ

وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ

او خرچ کوی د هغه مال نه چه مونږ ورکړیدے دوی ته په پټه او په ښکاره او لرے کوی په نیکئ سره بدئ له

السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ۝٢٢ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا

د دوی د پاره به لرے کور د آخرت وه - چه باغونه دی او سیده وی د هغے چه به ننوځی دوی

بد لرونکی دی د ومره سخت عذاب دے او د هغوی د پاره بد حساب دے یعنی پوښتنه به ترے کیدے شی چه د اکار ولے کړے دے او آسان حساب وا دے چه دا کار تا کړے دے نو بند ده به او وائی چه او - او انکار کوی نه شی نو باری تعالیٰ به ور ته او وائی چه محمد صلی الله علیه وسلم دے پسے گرځیدے بازناف و واده چا له معلوم شی چه وعده دا ده یعنی کماسره انصاف کوے نو سوال به ترے کیږی چه ستا عقوی تاسره د وعده نه ووه کړیدے - بضاعت نیاورم الا امید نه خدایا ز معلوم مکن نا امید نه - سے وا منونکو او نه منونکو مقابله ده یعنی نه منونکی رانده دی او منونکی بیناوی دواړه کله برابروی په دے لوره ما ئلان پوهیږی ١٢ سکے وا عاقلانو بیان دے چه دوی د الله تعالیٰ لوظ پوره کوی یعنی چا چه ایمان راوړے نو دوی لوظ او کړو چه ژه به د هغه هر حکم منم نو دا لوظ پوره کوی او لوظ نه ماتوی او الله تعالیٰ چه د کوم کار حکم کړیدے هغه شے پوره کوی دا عام حکم دے یو لوئے صله رحمی ده او د الله تعالیٰ نه ویریږی او د بد

حساب نه ویریږی او صبر کوی د پاره د رضا د الله تعالیٰ او سم مونځ کوی او خیرات کوی پټ او په ښکاره حسب موقع او د بدئ په مقابله کښے نیکی کوی د دوی د پاره جنتونه دی او دوی به همیشه په کښے اوسیږی او نیک پلار نیکه او ښځے او اولاد چه به د دوی کوم هغه دا ئې لږ هم لرونکی به دوی نه په دغه ځائے به دی

ے داؤ ئیکا نو په مقابله کښې کړ نده و بیان دے ۲ ؎ دا د باری تعالیٰ د وحدانیت شپږم دلیل دے په دے دلیل کښې د الله تعالیٰ د لوئے قدرت ذکر دے

وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

او هغه خلق چه نیک وی د پلار نو د دوی نه او د بیبیانو د دوی نه او د اولاد د دوی نه او ملائک به

يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ۝ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ

راځی د دوی څنګ ته د هرے دروازے نه - وائی به چه سلام دے په تاسو ځکه چه تاسو صبر کړے وو

فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ۝ وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْ

نو ښه دے تاسو ته د کور د آخرت - او هغه خلق چه ماتوی لوظ د الله پس د

بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَ

مضبوط کولو نه او پریږدی هغه شے چه الله د هغه حکم کړے دے چه ادا دے شی او

يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ۝

ورانے کوی په زمکه کښې - د دوی د پاره لعنت دے او د دوی د پاره ناکاره کور د آخرت دے

اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

الله زیاتوی رزق د هغه چا د پاره چه خوښه ئے شی او تنګوی - او خوشحاله دی دوی په ژوند نزدے

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ۝ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او نه دے ژوند د دنیا په بدله د آخرت کښې مګر لږ سامان دے - او وائی کافران چه

لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ

ولے نه دے رالیږلے شوے په ده یوه نښانه د رب د ده نه - او وایه یقیناً الله غلطوی هغه څوک چه

يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ۝ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ

خوښه ئے شی او لارښوونه کوی خپل طرف ته هغه چا ته چه واپس کیږی هغه ته - هغه خلق چه ایمان ئے راوړے او تسلی لری

قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ۝ اَلَّذِيْنَ

زړونه د دوی په یاد د الله سره - خبردار صرف په یاد د الله کښې تسلی د زړونو ده - هغه خلق چه

الله تعالیٰ د لوئے قدرت خاوند دے چه رزق زیاتوونکے او کموونکے صرف الله تعالیٰ دے نه بل څوک روزی رسان شته او نه په رزق زیاتولو او کمولو کښې په خدائی تعالیٰ څوک شریک شته ۱۲

۳ ؎ دا زور نه ده چه حق ځکه نه منی چه دنیائی دولت غلطی ئے او کړه دنیا حیثیت نه دے په بدله د آخرت کښې ۱۲

۴ ؎ منی نه حق لره او اعتراضونه کوی چه خلق په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندے بد ګمانه شی یعنی هغه معجزه چه موږ د دے غواړو چه هغه سره به ایمان باندے مجبوره کوی دا سے معجزه ولے نه شو راتله وے دا خو ته نو باری تعالیٰ برابر کوی چه معجزے خو ویرے دی خو تاسو ضد یان یئ نو تاسو د هدایت نه محروم یئ هدایت الله هغه چا ته کوی چه ضد نه کوی هغه دا سے خلق دی چه د هغوی تسلی راغلے وی د الله تعالیٰ په یاد و باندے او تسلی هم صرف د الله تعالیٰ په یاد و کښې ده چه د سړی دا یقین وی چه ځه کوی نو صرف الله تعالیٰ کوی مخلوق څه نه شی کولے ۱۲

ربع

ل وا او دوم دلیل دے چہ لکہ عقلاء اغوا ئی او چہ حاجت روا صرف اللہ تعالیٰ دے نو خپیے تا تہ وحی شو یدہ مقدم وو
وحدانیت د اللہ تعالیٰ خوا ئی ١٢ ، ٣ یعنی ما خپل ځان صرف باری تعالیٰ تہ سپارلے دے او خاص اللہ تعالیٰ تہ واپس دہ

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَحُسْنُ مَاٰبٍ ۝ كَذٰلِكَ

ایمان ئے راوړی دے او کوی نیکی خوشحالی دہ دوی لرہ او بنہ ځائے دے ۔ دغسے

اَرْسَلْنٰكَ فِیْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ لِّتَتْلُوَا۠ عَلَیْهِمُ

را لیږلے دے مونږ تا لرہ پہ یو جماعت کښے چہ تیر شوی دی مخکښے د دوینہ نور جماعتونہ چہ او لولے تہ پہ دوی باندے

الَّذِیْٓ اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ وَهُمْ یَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ؕ قُلْ هُوَ رَبِّیْ

هغه کتاب چہ را لیږلے دے تا تہ او دوی انکار کوی د رحمان نہ ۔ او وایه هغه رب زما دے

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عَلَیْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَیْهِ مَتَابِ ۝ وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا

نیشتہ بل معبود مگر هغه د هغه تہ ما سپارلے دے او هغه تہ واپسی دہ ۔ او کہ چرے یقیناً وے قرآن

سُیِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى ؕ بَلْ

(نازل شوی) چہ وا لوزولے شی پہ هغه سرہ غرونہ او یا ټکړے ټکړے شی پہ هغه سرہ زمکہ یا پرے خبرے اوکړے شی د مړو

لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِیْعًا ؕ اَفَلَمْ یَایْـَٔسِ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ لَّوْ یَشَآءُ اللّٰهُ

(نو ایمان نہ راوړی) بلکہ صرف اللہ لرہ دی ټول کارونہ ۔ آیا تسلی نہ دہ شوے مومنانو تہ پہ دے کہ رضا شی د اللہ تعالیٰ

لَهَدَى النَّاسَ جَمِیْعًا ؕ وَلَا یَزَالُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا تُصِیْبُهُمْ

نو خو نہ بہ اوکړی ټولو خلقو تہ ۔ او همیشہ بہ کافرانو تہ رسی پہ

بِمَا صَنَعُوْا قَارِعَةٌ اَوْ تَحُلُّ قَرِیْبًا مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى یَاْتِیَ

سبب د بد عمل د دوی آفت یا بہ نازل شی نزدے کور د دوی تہ ۔ تر دے چہ را شی

وَعْدُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُخْلِفُ الْمِیْعَادَ ۝ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ

وعدہ د اللہ ۔ یقیناً اللہ خلاف نہ کوی د وعدے خپلے نہ ۔ او یقیناً ټوقے شوے وے د رسولانو سرہ

مِّنْ قَبْلِكَ فَاَمْلَیْتُ لِلَّذِیْنَ كَفَرُوْا ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۫ فَكَیْفَ

مخکښے ستا نہ نو صبر م اوکړو کافرانو تہ بیا م اونیول دوی لرہ ۔ نو څنګ وو

٣ دا د دے اعتراض جواب دے چہ ولے نہ شی راتلے نبی کریم صلے اللہ علیہ وسلم تہ معجزہ حاصل د جواب دا دے چہ کہ چرے داسے قرآن را ولیږے چہ غرونہ پرے الوزی او زمکہ پرے ټکړے ټکړے کیږی او مړی پرے گویا نہ کیږی نو بیا هم دوی ایمان نہ راوړی دوی ضدیان دی اللہ تعالیٰ جبراً ټولو خلقو تہ هدایت کولے شی خو جبری ایمان اللہ تعالیٰ تہ منظور نہ دے ١٢

٤ دا د عذاب دنیوی بیان دے چہ دوی خبرہ نہ منی نو عذاب بہ ورتہ رسی تر دے چہ راشی وعدہ د فتح د مسلمانانو ١٢

٥ دا تسلی دہ نبی کریم صلے اللہ علیہ وسلم تہ چہ تہ حق بیانوے او کافران ټوقے کوی دا نا آشنا خبرہ نہ دہ پہ مخکښے رسولانو پورے هم ټوقے شوی دی او ما کافرانو تہ صبر کړے وہ ۔ بیا م هغوی پہ عذاب سرہ اونیول د غسے بہ د دے کافرانو سرہ کیږی ١٢

ع ٥
١٠

له داد توحید دپاره اتم دلیل دے چه د الله تعالیٰ پشان څوک نیشته حفه د هر چا د عمل نه خبرو دے په وړے دلیل کښے
واسطه تعالیٰ ته لوی علم مظاهرے ده ۱۲ ۲ے د اکفار و ته زور نه ده چه د دوی لوی قدرت او لوی علم والا په مقابل

كَانَ عِقَابِ ۝ أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۚ

وه عذاب ځما - آیا هغه ذات چه قائم دے په هر نفس باندے څه چه کوي د ټپان د هغه په

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ قُلْ سَمُّوْهُمْ ؕ اَمْ تُنَبِّئُوْنَهٗ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى

سوا څوک) او مقرر کړي دي دوی الله لره حصه داران - او وایه چه نوم واخلئ د دوی - آیا خبروئ تاسو الله لره

الْاَرْضِ اَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ؕ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هغه شي چه معلوم ورته نه دے په زمکه کښے - یا کوئ تاسو سوچ خبره - بلکه خائسته شوے دے کافرانو ته

مَكْرُهُمْ وَصُدُّوْا عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

فریب د دوی او منع شوی دي د لارے نه - او چا لره چه ګمراه کړي الله نو نیشته ده لره

مِنْ هَادٍ ۝ لَهُمْ عَذَابٌ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

لارښونه کوونکے - د دوی د پاره عذاب دے په ژوند د دنیا کښے او عذاب د اخرت ډیر

اَشَقُّ ۚ وَمَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ۝ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِىْ وُعِدَ

سخت دے - او نیشته دوی لره د الله نه بچ کوونکے - حال د هغه جنت چه وعده یې شوے ده

الْمُتَّقُوْنَ ؕ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ اُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا ؕ تِلْكَ

متقیانو سره - روان دي چه بهیږي په لاندے د هغو ونے - میوے د هغو همیشه دي او سورے یې هم - دا

عُقْبَى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا ۖ وَّعُقْبَى الْكٰفِرِيْنَ النَّارُ ۝ وَالَّذِيْنَ

بدله د متقیانو ده - او بدله د کافرانو اور دے - او هغه خلق چه

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمِنَ الْاَحْزَابِ

ورکړي دي مونږ هغو ته کتاب خوشحالیږي په هغه کتاب چه رالیږلے شو تا ته او ځینے د جماعتونو نه هغه

مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ ؕ قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ

دي چه انکار کوي د ځینے د ده نه - او وایه ورته یقینا ما ته حکم شوے دے چه بندګي اوکړم د الله او شریک جوړ نکړم

کښے دوی د الله تعالیٰ سره حصه داران مقرر کړي نو ورته او وایه چه ما ته د هغو نوم واخلئ د الله تعالیٰ نه څوک چل شریک یا په الله تعالیٰ باندے زور آور په زمکه کښے شته دے معلوم وَلے راته بے سوچه خبره کوئ؟ بلکه دے کافرانو ته چل فریب خائسته شوے دے نو دوی د الله تعالیٰ د لارے نه بند شوي دي او دوی لره الله تعالیٰ ګمراه کړي دي نو د دوی ته به څوک خوند او کړي ۱۲

۳ے داد نه منونکو د پاره عذاب د دنیا او اخرت دے ۱۲

۴ے داد منونکو د پاره مزیت دے ۱۲

۵ے داد توحید د ثبوت د پاره نهم دلیل دے نقلي چه مخکښے انبیاء او چلوانو امتونه په دے توحید باندے خوشحاله وو او د انوے مسئله نه ده او بعضے ضدیان د قرآن او د توحید مسئله نه مني ۱۲

۶ے داد توحید د ثبوت د پاره لسم دلیل دے وحی چه ما ته حکم شوے چه زه به صرف د الله تعالیٰ بندګي کووم او شرک به نه کووم او دے توحید ته به خلق بلم ۱۲

ك ۵ وازورنه ده نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته دَ اَوزوى او نو خلق پو هه كوى چه دوه مره وليلونه دَ توحيد كربيا سره شرك كوى او دَ كافرانو خواهش قبلوى نو دَ حقوى دَ پاره حيثوك بچكوونكه دَ عذاب دَ الله تعالى ...

بِهٖ ۭ اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ۝ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا

ورهٔ سره شمه - دَ الله نه بلم خلق او دَ الله ته واپس تماده - او دَ غسے مارا ليكلے دَ اتاب حكم

عَرَبِيًّا ۭ وَلَىِٕنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَاۗءَهُمْ بَعْدَمَا جَاۗءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ

عربيا ژبه - او كه تا او مانه خواهش دَ دوى پس دَ هغه نه چه راغلے دَ تا ته علم

مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا

نه به وى تا لره دَ الله نه امدادى او نه بچ كوونكے - او يقيناً مارا ليكلى دى رسولان

مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً ۭ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ

پخوا ستانه او وركړى ما دى هغو لره بيبيانے او بچى - او نه دے كار دَ هيڅ رسول

اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ ۝ يَمْحُوا اللّٰهُ

چه پيش كړى يو معجزه مگر په حكم دَ خدائے سره - هر وعده ليكلے ده - ورانوى الله

مَا يَشَاۗءُ وَيُثْبِتُ ښ وَعِنْدَهٗٓ اُمُّ الْكِتٰبِ ۝ وَاِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ

هغه چه رضا لرى ئې او باقى ساتى (هغه چه خوښ دى) او هغه سره اصل كتاب دے - او كه او ښايو تاته څخ

بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ

هغه عذاب چه وعده ئې كوو مونږ دَ دوى سره يا وفات كړو تا لره نو په تا باندے رسول دى

وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ۝ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا

او په ما حساب دے - آيا نه گورى دوى چه زه راځم زمكے ته كموم هغه

مِنْ اَطْرَافِهَا ۭ وَاللّٰهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهٖ ۭ وَهُوَ سَرِيْعُ

دَ اطرافو دَ دينه - او الله حكم كوى نيشته بدلوونكے دَ حكم دَ هغه - او هغه زر حساب

الْحِسَابِ ۝ وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلِلّٰهِ الْمَكْرُ جَمِيْعًا

كوونكے دے - او يقيناً فريب كړے وه هغو خلقو چه پخوا وُو دَ دوى نه نو الله لره دَ تدبير تول

ع ۱۱

ك ۲ دا دَ اول اعتراض جواب دے چه دا څنګه پيغمبر دے ودهٔ خو ښځے دى او بچى دى. حاصل دَ جواب دا دے چه دَ مخكښے پيغمبرانو هم ښځے او بچى وُو ۱۲

ك ۳ دا دَ دويم اعتراض جواب دے چه مونږ ته معجزه پيش كړه. حاصل دَ جواب: دَ پيغمبر طاقت نيشته چه معجزه پيش كړى مگر په حكم دَ الله سره ۱۲

ك ۴ دا دَ دريم اعتراض جواب دے چه مونږ دَ نه منو ته عذاب راولہ. حاصل دَ جواب: چه عذاب دَ پاره وخت مقرر دے ۱۲

ك ۵ دا دَ څلورم اعتراض جواب دے چه عذاب مونږ له مقرر وى نو كه منو او كه نه منو هغه به راځى نو منلو ته څه ضرورت دے. حاصل دَ جواب دا دے چه عذاب په تقدير دَ نه منلو كښے او كه تا سو حكم دَ الله تعالىٰ او منلو نو هغه مقرر عذاب به واپس شى په قضا معلق كښے تغير راځى نه په قضا محكم كښے

ك ۶ دا دَ عذاب وينوى بيان دے ۱۲

ك ۷ په نبي كريم صلى الله عليه وسلم صرف رسول دَ حكم دى په خلقو باندے منل نه دى ۱۲

ك ۸ زمكه كموو يعنى دَ كفارو اقتدار كموو څنګه چه اسلام روزروغورزيږى په دے موت سره جهاد مراد نه دے څنګه راځى دا چه دا سورت مكى دے او په مكى سورتو كښے دَ جهاد حكم نه وه بلكه دَ جهاد حكم په مدنى سورتو كښے راغلے دے ۱۲

له دا كفارو ته زور نه دی چه دا سی غلطه خبره کوی او خلق بدگمان کوی ۱۲ ۝ دا جواب دی کفارو ته چه الله تعالیٰ زما په پیغمبری شاهد دی او حق علما رحم ۱۲ ۝ ربط ، قبل الانبیاء و بعد نوم زمانه نزول دورا آخر مکه مکرمه ترتیب

يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ الْكُفّٰرُ لِمَنْ عُقْبَى

پوهیږی په هغه شی چه کوی هر نفس - او زر به پوه شی کافران چه چا لره ده ښه بدله د

الدَّارِ ۝ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَسْتَ مُرْسَلًا ۗ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ

آخرت - او وائی کافران چه نه یی ته رسول - او وایه پوره دے الله

شَهِيْدًۢا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۙ وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ ۝

شاهد په مینځ زما او ستاسو کښے او هغه څوک چه هغه لره علم د کتاب دے

سُوْرَةُ اِبْرٰهِيْمَ مَكِّيَّةٌ ۝ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ وَهِيَ اِثْنَتَانِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

آیتونه (۵۲)	شروع په نوم د خدای سره چه بے حده مهربان او رحم کوونکے دے	رکوع گانے (۷)

الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى

الٓرٰ پوهیږی په دے ته اکتاب دے نازل کړے مونږ تاته چه راوباسے خلق د تیرو نه رڼا

النُّوْرِ ۙ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۝ اللّٰهِ الَّذِيْ

ته - په حکم د رب د دوی سره لارے د زبردست او ستائیلی شوی الله کوم چه هغه

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْكٰفِرِيْنَ مِنْ

هغه لره دی هغه څیزونه چه په آسمانونو کښے دی او هغه چه په زمکه کښے دی - او مصیبت دے کافرانو لره د

عَذَابٍ شَدِيْدِ ۝ الَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ

عذاب سخت نه - کوم چه غوره کوی ژوند د دنیا په آخرت باندے -

وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۗ اُولٰٓئِكَ فِيْ

او منع کوی خلق د لارے د الله نه او لټوی په هغے کښے کوږ والے - دوی په

ضَلٰلٍۢ بَعِيْدٍ ۝ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ

غلطی لرے کښے دی د رحق ۱۲ - او نه دے لیږلے مونږ هیڅ رسول مگر په ژبه د قوم د هغه

قرآن (۷۲) ترتیب نزول (۷۰) د تنبیهات نه پس وقائع دنیوی واخروی - خلاصه : دلائل عقلیه (۳) دلیل نقلی اجمالی دلیل نقلی تفصیلی د ابراهیم علیه السلام نه مجموعه دلائل (۸) امور دفعیه عذاب په ابتداء کښے ارشاد دے وقائع بیان کړه چه خلق د ظلمت نه رڼا ته راښکلو کله چه هغه کښے انبیا کو دا سے بیان کړے په ورمیان کښے وقائع دنیوی واخروی او په آخر کښے دلیل د توحید - ۱۲

۝ دا ترغیب دے منلو د سورت ته چه دا سورت یو لوئے کتاب دے او ما تاته رالیگلے دے چه خلق د تیرو نه د شرک او د بدعت راوباسے رڼا د توحید او د سنت ته حاصل دا چه دا کتاب چه ډیر لوئے دے او د لوئے بادشاه د طرفه رالیگلے دے او په لوئے پیغمبر د لوئے مقصد د پاره رالیگلے شوے دے او منئ ۱۲

مقصد د سورت بیان د وقائع دنیوی واخروی یعنی څوک چه د الله تعالیٰ فرمان نه منی او په هغه غالب منی نو په هغو په دنیا او آخرت کښے عذاب راځی یعنی وقائع بیان کړه هغه کښے پیغمبرانو دا بیان کړل وه ۝ دا اخبار باری تعالیٰ د صفات اول دلیل دے چه د زمکے او د آسمانونو قبول څیزونه صرف د الله تعالیٰ دی په دے دلیل کښے د الله تعالیٰ د لوئے قدرت او طاقت بیان دے چه د دے لوئے بادشاه په مقابله کښے بل حکمران نیشته او نه په دهٔ څوک زور آور شی ۱۲ ۝ دا د کافرانو د پاره (پاتے په ص ۳۶۸)

ربع ۱۲

ربانے د صفحے ۳۶۹ نه) د عذاب اخروي بیان دے چه دوی د سخت عذاب څکه لائق دی چه دوی دنیا واخسته او دین ئے پریخودو او نور خلق هم بے دینه کوی او په دین کښے خلقو ته نقصانونه ځائی ۱۲ ۶ نو د رو پیغمبرانو هم خپل قوم ته د حق بیان کاوه نو ضد یان الله تعالیٰ ګمراه کړه او انابت والا خلقو ته الله تعالیٰ خوښ اوکړه ۱۲

(د دے مخ) له دا خاص د موسیٰ علیه السلام قصه الله تعالیٰ کوی چه موسیٰ علیه السلام هم خپل قوم ته د الله تعالیٰ عذابونه بیان کړی وو ۱۲ ۲ یعنی موسیٰ علیه السلام خپل قوم د باری تعالیٰ د عذابونو نه ویره وه نو د غسے ته هم خپل قوم ویره وه د الله تعالیٰ د عذابونو نه ۱۲ ۳ دا د عذاب دنیوی بیان دے یعنی د دے قومونو د باری تعالیٰ حکم نه وه منلے نو هلاک شو نو د غسے دا موجوده کافر به باد شی ۱۲

لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ فَيُضِلُّ اللَّهُ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۚ

چه بیان اوکړی دوی ته - نو ګمراه کوی الله هغه څوک چه رضائی شی او خوښ کوی هغه چاته چه رضائی شی.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٤﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا أَنْ

او دی زبردست دے او حکمت والا دے - او یقیناً لیږلے وو موږ موسیٰ پخپلو دلائلو سره چه

أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ

راوباسه قوم خپل د تیرو نه رڼا ته - او یاد کړه دوی ته عذابونه د

اللَّهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٥﴾ وَإِذْ قَالَ

الله - یقیناً په دے کښے دلیلونه دی د هر صابر او قدردان د پاره - او کله چه اووے

مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنْجَاكُمْ مِنْ

موسیٰ خپل قوم ته چه یاد کړئ نعمت د الله پتاسو باندے کله چه بچ کړی ئی تاسو د

آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ

قوم د فرعون نه چه رسول ئی تاسو ته بد عذاب او حلالول ئی ځامن ستاسو

وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُمْ بَلَاءٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿٦﴾ ع ۱۴

او ژوندی ئی پریخودی جینکئ ستاسو - او په دے کښے لوئے امتحان وو د رب ستاسو نه.

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ

او کله چه اعلان اوکړو رب ستاسو که تاسو احسان اومنلو نو زیات به کړم نعمت ستاسو او که تاسو بے قدري

إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ إِنْ تَكْفُرُوا أَنْتُمْ وَمَنْ

اوکړه نو عذاب زما سخت دے - او اووے موسیٰ که ناشکری کوئ تاسو او هغه څوک چه

فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٨﴾ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ

په زمکه کښے دی ټول، نو یقیناً الله بے پرواه دے او صفتونو والا دے - آیا نه دی راغلے تاسو ته خبر د

له يعنې لاسونه ئې په خولو خپلو باندې کېښودل يعنې پيغمبرانو ته ئې اشاره اوکړه چه نور تقرير مه کوئ او موږ ته دا مسئله نه منو او زموږ ستاسو په مسئله تسلي نيشته ١٢ ک٢ پيغمبرانو ورلره جواب ورکړو چه تاسو ته د الله تعالیٰ په وحدانيت کښې شک کوئ آسمانونه او زمکه خو هغهٔ پيدا کړې دي تاسو لره هغه دين ته بلي چه خپل حق ورته معاف کړي که مسلمانان شوئ البته د انسان حق هله معاف کيږي چه د هغهٔ نه معافي اوغواړي البته که په دارحرب کښې سړے مسلمان شو نو د هغهٔ ټول ګناهونه معاف دي ځکه چه دارحرب وارګړ احکام موږ دے نو دا حربي چه مسلمان شو نو دے معاف ورد ے ١٢

ک٣ يعنې که تاسو ايمان راوړو په ځيال وعما فيت سره به ځپله نيتے د مرګ ته اورسئ ١٢

ک٤ کافرو ورته اووے چه تاسو خو زموږ پشان بشر يئ نو ځنګه ګمان ته پيغمبران وايئ د دوی خيال وه چه پيغمبر به نوري وي خاکي به نه وي ١٢

ک٥ پيغمبرانو ورلره جواب ورکړو چه موږ خو خاکي يو ليکن دا څهٔ لازمه ده چه خاکي به پيغمبر نه وي په خاکي که الله احسان اوکړي نو د هغهٔ پيغمبر جوړيدل کافروا وے چه موږ ته د خپله پيغمبري دليل پيش کړئ نو پيغمبرانو ورته اووے چه دليل پيش کول زموږ کار نه دے موږ خو خلقو ته احکام د رسول د الله تعالیٰ موږ په ځان خپل مولا ته سپارلے دے او هر مؤمن د ځان خپل مولا ته اوسپاري او که تاسو تکليف د رسوئ موږ ته نو موږ به د په صبر کوؤ ١٢ عه محاورات الخضم ١٢

الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ ۛ وَالَّذِينَ مِن

هغو خلقو چه مخکښې وو ستاسو نه د قوم د نوح او د عاديانو او د ثموديانو، او د هغو خلقو چه

بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ ۚ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ

روستو د دوی وو - نه پيژني هغو لره مګر الله - راغلي وو دوی ته رسولانو د دوی صفا دليلونه

فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم

نو واپس ئې کړل لاسونه خپل خولو خپلو کښې او اوئې ويل هغو يقيناً موږ انکار کوو د هغه مسئلے نه چه

بِهِ وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٩﴾ قَالَتْ رُسُلُهُمْ

تاسو ليږلي شوي يئ د هغې د پاره او يقيناً موږ په شک کښې يو د هغه مسئلے نه چه تاسو موږ بلئ هغې ته په زړه پورې او ويل

أَفِي اللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم

رسولانو د دوی آيا په الله کښې شک دے چه پيدا کوونکے د آسمانونو او د زمکے دے - بلي تاسو لره چه او بخښي تاسو لره

مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ قَالُوا إِنْ أَنتُمْ

ځينې ګناهونه ستاسو او روستو کوي تاسو لره نيتے مقررے ته - اووے هغو نه يئ تاسو

إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ

مګر بشر يئ زموږ پشان - غواړئ چه منع کړئ موږ د هغه نه چه بندګي ئې کوله

آبَاؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿١٠﴾ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن

پلار نيکه زموږ نو پيش کړئ موږ ته دليل ښکاره - او وے دوی ته رسولانو د دوی نه يو

نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ مِنْ

موږ مګر بشر يو پشان ستاسو ليکن الله احسان کوي په هغه چا چه رضا ئې شي د بندګانو

عِبَادِهِ ۖ وَمَا كَانَ لَنَا أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَانٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ

خپلو نه - او نيشته موږ لره طاقت چه پيش کړو تاسو ته دليل مګر په حکم د الله سره -

ل۱ کافرانو پیغمبرانو ته اووے چه مونږ تاسو له د خپلے زمکے نه او باسو یا به تاسو زمونږ دین قبول کړئ چه خو ته بیرته او ګرسیدو نو الله تعالیٰ پیغمبرانو ته حکم اوکړو چه دا ظالمان زه هلاک کووم او په دغه زمکه کښے تاسو له آباد ووم واضح

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَمَا لَنَآ اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى

او الله ته دے ځان سپاری مؤمنان - او څه عذر دے زمونږ چه ځان نه سپارو الله

اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنَا سُبُلَنَا ۭ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ۭ وَ

ته او هغه خو دلی دی مونږ ته زمونږ لارے - او صبر به کوو چه تکلیف رسوئ تاسو مونږ ته - او

عَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

الله ته دے ځان اوسپاری توکل کوونکی - او اووے کافرانو

لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ۭ

خپلو رسولانو ته چه اوبه باسو تاسو له د زمکے خپلے نه یا به واپس شئ تاسو دین زمونږ ته -

فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ

نو حکم اوکړو دوی ته رب د دوی چه هلاک به کړو ظالمان - او آباد به کړو تاسو له په

الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۭ ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ

زمکه کښے روستو د دوی نه - دا ملاویږی هغه چا ته چه ویریږی د ولاړیدو زما د وړاندے او ویریږی

وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾ وَاسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۱۵﴾ مِّنْ وَّرَاۗىِٕهٖ

د ویرے د وعدے د عذاب نه - او فیصله او غوښته پیغمبرانو او ذلیل شو هر ظالم ضدی - روستو د هغه نه

جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى مِنْ مَّاۗءٍ صَدِيْدٍ ﴿۱۶﴾ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ

جهنم دے او ورکولے به شی ورته اوبه د زوو - غوړپ غوړپ به یے کوی او تیرولے به یے نه شی

وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۭ وَمِنْ وَّرَاۗىِٕهٖ

او راځی به هغه ته مرګ د هر طرف نه او نه به وی مړ کیدونکے - او روستو د هغه نه به وی

عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِۨ

عذاب سخت - حال د هغو خلقو چه انکار کوی د رب خپل نه عملونه د دوی پشان د ایرو دی

ل۱ سخه چا د پاره چے چه ځما د حضور نه ویریږی او هغه له وزګه په مقابل بانندے بریږی ورکووم ۱۲
ل۲ پیغمبرانو د الله تعالیٰ نه فیصله او غوښته چه اے الله زمونږ فیصله اوکړے د دے کافرو سره نو ظالمان برباد شو په دنیا کښے او په آخرت کښے ورله هم سخت عذاب دے ۱۲
ل۳ دا جواب دے د سوال چه کافران خو هم نیک عمل کوی حاصل د جواب چه د کافرانو عملونه سبب د کفر سره ختم شوے دی (فائده) یو د هغه وجه دا ده چه هغه وجود د الله تعالیٰ نه منی (نعوذ بالله منها) او بل مشرک دے هغه وجود د باری تعالیٰ منی او تصرفات د الله تعالیٰ منی خو د غیر الله نه امداد غواړی او د هغوی په نوم نذر کوی او وائی چه دوی ته الله تعالیٰ تصرفات ورکړی دی نو دوی د الله تعالیٰ په اذن سره امداد کوی - او مسلمانان وائی چه یو کار د سبب نه لاندے دے نو په هغے کښے د انسان اراده شته او خالق الله پاک دے لکه خبرے کول او بل کار بلا سببه دے نو دا صرف الله تعالیٰ کوی نو چه یو ولی زنده وی نو نسبت د کار ورته صحیح دے که په اعتبار د اراده سره او پس د وفات نه خو اسباب ختم شو نو نسبت د کار ورته شو که چه یو ولی زنده وی او یو داسے کار چه بلا سببه کار صرف الله تعالیٰ کولے شی ۱۲

ع ۱۴

اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ ۖ لَا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُوا

چه سخته هوا پورے والوزی په ورځه د جیا پر کښه - قادر به نه وی د کسب خپل نه

عَلَىٰ شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿١٨﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ خَلَقَ

په هیڅ شی باندے - هم دغه گمراهی ده لرے د حق نه - آیا نه گورے چه الله تعالیٰ پیدا کړی دی

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ

آسمانونه او زمکه د حق بنکاره کولو د پاره - که رضائے شی نو ختم به کړی تاسو لره او پیدا به کړی

جَدِيدٍ ﴿١٩﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿٢٠﴾ وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا

مخلوق نوے - او نه دے دا کار په الله باندے گران - مخامخ به شی الله ته ټول -

فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ

نو اووبه وائی عاجزان غټانو ته یقینا مونږه وو تاسو تابع آیا تاسو

أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِن شَيْءٍ ۚ قَالُوا لَوْ هَدَانَا

لرے کولے شئ زمونږ نه څه د عذاب د الله نه - وبه وائی دوی که هدایت کړے وو مونږ ته

اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ ۖ سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن

الله نو مونږه به تاسو هدایت کړے وے بچاؤ ته - برابره ده په مونږ که فریاد کوو یا صبر کوو نیشته مونږ لره خلاصے

مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾ وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ

د عذاب نه - او به وائی شیطان هرکله چه فیصله شی کار یقینا الله وعده کړے وه تاسو

وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ ۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن

سره رشتینے او وعده کړے وه ما تاسو سره نو ما دروغ وئیل تاسو ته - او نه وه ما لره په تاسو باندے

سُلْطَانٍ إِلَّا أَن دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي ۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا

زور مگر ما تاسو لره بلل وو نو تاسو ومنله خبره او منله - نو مه ملامته کوئ ما لره او ملامته کړئ

١ دا د توحید د پاره دویم دلیل دے چه خالق د زمکے او آسمان صرف الله تعالیٰ دے ١٢

٢ دا د عذاب اخروی بیان دے چه عاجزان کافران به غټو کافرانو ته فریاد کوی چه مونږ د عذاب نه بچ کړئ نو مغروری به ورته او وائی چه مونږ ټول به عذاب کښے یو اوس صبر او فریاد بے فائدے دے په دنیا کښے به صبر او فریاد فائده کوله دا اوس هغه وخت نه دے ١٢

إِن يَشَأْ : د عذاب دنیوی بیان دے ١٢

سَوَاءٌ عَلَيْنَا : تائید قصص ع ٣٤ - ١٢

ع ٣ / ١٥

سله واؤ منو نکو د پاره زیری دے چه جنت ته به د الله تعالیٰ د وی یو ځی او هلته به خوشحاله وی ملائک به ورته سلام کوی
او د الله تعالیٰ د طرفه به سلام وی او پخپله مؤمنان به یو بل ته سلام کوی ۱۲ سله واد لیل نقلی دے کی انبیا و

انفسكم ما انا بمصرخكم وما انتم بمصرخي اني كفرت

نفسو نه خپل - نه یم زه ستا سو امداد ادی او نه تاسو زما امداد یان یئ - یقیناً زه منکر یم

بما اشركتمون من قبل ان الظلمين لهم عذاب

د هغی نه چه تاسو ما لره شریک کړی وه د الله سره پخوا - یقیناً ظالمانو لره دے عذاب

اليم ۝٢٢ وادخل الذين امنوا وعملوا الصلحت جنت تجري

سخت - او داخل به کړے شی هغه خلق چه ایمان ئے راوړے دے او کړی ئے نیکی باغونو ته چه بهیږی

من تحتها الانهر خلدين فيها باذن ربهم تحيتهم فيها

د لاندے د هغو نه ویالے همیشه به وی په هغو کښے په حکم د رب د دوی سره ملاقات د دوی به په جنت کښے

سلم ۝٢٣ الم تر كيف ضرب الله مثلا كلمة طيبة كشجرة

په سلام سره - آیا نه ګوری ته څنګه بیان کړے دے الله مثال د کلمے پاکے لکه اونه

طيبة اصلها ثابت وفرعها في السماء ۝٢٤ تؤتي اكلها كل

پاکه وی د بیخ ئے ثابت وی او څانګے د هغے ختلی وی آسمان ته - ورکوی میوے خپلے هر

حين باذن ربها ويضرب الله الامثال للناس لعلهم

وخت په حکم د رب سره - او بیانوی الله تعالیٰ مثالونه د خلقو د پاره امید دے چه دوی

يتذكرون ۝٢٥ ومثل كلمة خبيثة كشجرة خبيثة اجتثت

سوچ او کړی - او مثال د کلمے پلیتے لکه اونه ده پلیته چه راختلے وی

من فوق الارض ما لها من قرار ۝٢٦ يثبت الله الذين امنوا

په سر د زمکے نه وی هغے لره قرار (ټیکاؤ) - مضبوطوی الله مؤمنانو لره

بالقول الثابت في الحيوة الدنيا وفي الاخرة ويضل الله

په خبره مضبوطه سره په ژوند د دنیا کښے او په آخرت کښے (به ثواب ورکړی) او ګمراه کوی الله

سله نه چه تهولو انبیاؤ توحید مضبوط بیان کړے دے او د شرک زیلے ئے پریکړی دی ایمان پشان د اونے دے زیلے ئے تصدیق دے او ونه ئے اقرار دے او څانګے ئے اعمال دی او میوے ئے ثوابونه دی په دواړه جهانونو کښے مثال باری تعالیٰ بیانوی چه خلق پرے پوهه شی مثال د مسئلے د پاره دے لکه اوښ ته چه مهار واچولے شی ۱۲
سله د کلمے مثال دا دے لکه لنډ کچه او نه چه د هغے زیلے نه وی نو چه دا ئی بیان او کړی نو د هغه شرک ختم شی لکه کچه او نه چه زر سیرے وی ستلے شی په خلاف د ایمان نه چه د هغه زیلے په زړه کښے مضبوطے شوی دی یعنی ایمان د عاقل زړه ته ور پیدا ځی او شرک د عاقلانو زړه ته نه ورځی ۱۲
سله یعنی په دنیا کښے صحیح خبره کوی د الله تعالیٰ د وحدانیت او د رسالت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم یعنی عقیده ئے اسلام وی او د هغے نشر کوی او په آخرت کښے به ورلره الله تعالیٰ ثواب د دغے حقے خبرے ورکړی ۱۲ ۱۲

شجرة طيبة	(۱) زمکه (۲) زیله (۳) ونه (۴) څانګے (۵) میوه زړه ، تصدیق ، اقرار ، عملونه ، ثواب	مثالونه په قرآن کښے خلور خلوریشت (۲۴) دی

الظّٰلِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَاءُ ﴿٢٧﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ

ظالمانو لره - او کوی الله هغه کار چه رضا ئے شی - آیا نه گوری ته هغوته چه بدل ئے کړو نعمت د الله

اللّٰهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۖ وَبِئْسَ

تعالیٰ په ناشکری سره او بوتلو قوم خپل کورد هلاکت ته - چه جهنم دے - داخل به شی هغه ته او ناکاره

الْقَرَارُ ﴿٢٩﴾ وَجَعَلُوا لِلّٰهِ أَنْدَادًا لِيُضِلُّوا عَنْ سَبِيلِهِ ۗ قُلْ تَمَتَّعُوا

ځائے دے - او جوړ کړی الله لره مقابل چه گمراه شی د لارے د الله نه - او وایه فائده حاصله کړئ

فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ ﴿٣٠﴾ قُلْ لِعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا

یقیناً ځائے ستاسو اور دے - او وایه ته هغه بندګانو ته چه ایمان ئے راوړے دے چه ښه کوی

الصَّلَاةَ وَيُنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِنْ قَبْلِ أَنْ

مونځ او خرچ کوی د هغه مال نه چه ما ورکړے هغوی ته پټ او ښکاره مخکښے د هغه نه چه

يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ ﴿٣١﴾ اللّٰهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ

راشی یوه ورځ چه نیشته خرڅول به هغے کښے او نه دوستی - الله هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے دی اسمانونه

وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ ۖ

او زمکه او وروی ئے د آسمان نه باران پس را اوباسی په هغه سره میوے ستاسو د رزق د پاره ،

وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ ﴿٣٢﴾ وَ

ستاسو په خدمت کښے ئے لگولی دی جهازونه چه روان شی په دریا کښے په حکم د هغه او ستاسو په خدمت کښے ئے لگولی دی ولے

سَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿٣٣﴾

او ستاسو په خدمت کښے ئے لگولی دی نمر او سپوږمی په دستور سره - او ستاسو په خدمت کښے ئے لگولی دی شپه او ورځ

وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ

او ورکړے ئے دی هر هغه څه چه غواړئ - او که شمار کړئ نعمت د الله تعالیٰ نو نه شئ شمار کړے -

---

ل۱ دا منکرانو ته د عذاب اخروی بیان دے چه دوی د الله تعالیٰ د نعمت په مقابله کښے کفر او کړو او قوم خپل ئے هم کافر کړو او جهنم ته ئے بوتلل ۱۲

ل۲ دا د منکرانو د پاره زورَنه ده ۱۲

ل۳ دا د عذاب د دفع د پاره نسخه ده چه د اوس وخت دے مونځ او کړئ او خیرات او کړئ بیا به داسے وخت راشی چه په هغه کښے به هیڅ د تبلیغ

ل۴ دا د الله تعالیٰ د وحدانیت دریم ښکاره ثبوت دے چه آسمانونه او زمکه هغه پیدا کړیدی او باران هغه وروی او میوے په هغه ستاسو د خوراک د پاره پیدا کوی جهازونه هغه تاسو لره تیار کړیدی او ولے هم د هغه دی نمر او سپوږمی هم هغه ستاسو په خدمت کښے لگولی دی او شپه او ورځ هم هغه پیدا کړیدی ستاسو د پاره او چه څه غواړئ نو درکولے شی بیا د هغه اختیار دے چه سوال ستاسو پوره کوی یا نه د الله تعالیٰ نعمتونه شمار نه شی شکر د هغه څوک کړی انسان ظالم دے چه دا سے محسن نه پیژنی ۱۲

ع۵ اِذَا کَانَ الْعَرَابُ رَئِیْسُ قَوْمٍ سَیَهْدِیْهِمْ اِلٰی قَدْرٍ ...

ﻟﻪ د عقلي دليلونو نه پس دا دليل نقلي دے د ابراهيم عليه السلام نه كفارو وے نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته چه ۱۲
توحيد بيانوے دا خوے مسئله ده څنګه چه مونږ نه ده آورېدلے نو الله تعالى فرمائي چه ابراهيم عليه السلام ته اورګوره

إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ۝ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا

يقيناً انسان ډېر ظالم او ناشكره دے - او كله چه اووے ابراهيم اے ربه كړه دا

الْبَلَدَ آمِنًا وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ ۝ رَبِّ إِنَّهُنَّ

ښار لره د امن ايځے ما او زما بچي د عبادت د بتانو نه اے ربه دوي

أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ

ګمراه كړيدي ډير خلق - نو چا چه تابعداري اوكړه زما نو هغه زما دے - او چا چه

عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝ رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي

نافرماني اوكړه زما نو يقيناً ته بخښونكے مهربان يے - اے ربه ما آباد كړو اولاد خپل

بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ

په يو ميدان كښے چه بے فصله دے په خوا د عزتمند كور ستا كښے اے ربه چه اوكړي مونځ دوي

فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ

نو كړه زړونه د څينې خلقو مائل دوي ته او روزي كړه دوي ته

الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ۝ رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ

ميوے اُميد دے چه دوي احسان اومني - اے ربه يقيناً ته پوهيږے په هغې چه پټوو او په هغې چه

وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِن شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ۝

ښكاره كوو او پټ نه دے د الله نه څه شے په زمكه كښے او نه په آسمان كښے -

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ ۚ إِنَّ

ټول صفتونه هغه الله لره دي چه اوبخښلو ماته په بوډاوالي كښے اسمعيل او اسحاق - يقيناً

رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ ۝ رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي

ربه زما اورېدونكے د دعا لره - اے ربه كړه ما لره اداكونكے د مانځه او اولاد زما -

هغه څنګه دُعا كانے نو ځكه چه اعمر به ما او زما اولاد د عبادت د بتانو نه بچ كړه اصنام كمعنه څيزونه وائي چه د هغه عبادت شوے وي بے د الله نه ۱۲

ﻟﻪ دوي سبب د ګمراهئ ګرځيدلي دي ۱۲

ﻟﻪ دا د ابراهيم عليه السلام ډيره نرمي ده او دعوت په نرمئ سره ډير اثر كوي

ﻟﻪ دا مكه معظمه ده چه اسمٰعيل عليه السلام ئے د لته او اسحاق عليه السلام ئے په شام كښے آباد كړو ۱۲

ﻟﻪ ابراهيم عليه السلام ته معلومه وه چه دا ځائے د بيت الله دے - بيت الله شريف د آدم عليه السلام په وخت كښے آباد شوے وه بيا روستو ابراهيم عليه السلام آباد كړو ۱۲

ﻟﻪ دا اسم اعظم د الله تعالى دے يعني غيب دان د هر شي صرف الله تعالى دے ۱۲

ﻟﻪ يعني څنګه چه الله تعالى په هر شي پوهيږي نو هم غيب دان كارساز هم الله تعالى دے او حاجت پوره كونكے هغه څوك وي چه هغه غيب دان او كارساز وي او دا صفت صرف د الله تعالى دے ۱۲

(فائده) حضرت ابراهيم عليه السلام په اُر علاق د عراق كښے پيدا شوے وه د ابراهيم عليه السلام تره په حره كښے رئيس وه هغه خپله لور ساره د ده لره ورکړه نو کله چه د نمرود نه مهاجر شو نو هغه هم د ابراهيم خبره او منله نو ده هغه د خپل كورنئ او وېستو ۱۲

له واقعي عذاب اخروي بيان دے د پاره د منكرانو چه وابه سخته ورځ ده چه سترګے د خلقو به پكښے پاتے وتلي وي سترګه به بنده
نه شي او پورته به كوري چه عذاب به كله راځي او زړونه به د دوي الوزي او ويريږي او ګمانونه به نه شي كولے ۱۲ ځكه

رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ

اے ربه قبول كړه دعا زما - اے ربه معاف كړے ما لره او مور و پلار زما لره او مومنانو لره په ورځ د

الْحِسَابُ ﴿٤١﴾ وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ ۚ إِنَّمَا

قيامت - او ګمان نه كوه په الله چه ناخبره دے د كاره د ظالمانو نه - يقيناً

يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ ﴿٤٢﴾ مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي

روستو كوي دوي لره هغې ورځے ته چه پاتے به شي پكښے سترګے - منډے به وهي او پورته كوونكي به وي

رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴿٤٣﴾ وَأَنذِرِ

د سرونو خپلو او نه به واپس كيږي دوي ته نظر د دوي - او زړونه د دوي به الوتلي وي - او اوويره وه

النَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا رَبَّنَا أَخِّرْنَا

خلق د هغه ورځے نه چه راشي دوي ته عذاب (په هغه ورځ) نو وابه وائي ظالمانان اے ربه روستو كړه

إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ تَكُونُوا

مونږه وخت نږدے ته چه او منو بلنه ستا او تابعداري او كړو د رسولانو او به وائي الله آيا قسمونه

أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمْ فِي مَسَاكِنِ

نه وو كړي تاسو خوا چه نيشته تاسو لره زوال - او آباد وئ تاسو په كورونو د هغه

الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا

چا كښے چه ظلم ئې كړے وه په ځانونو خپل او ښكاره شوه تاسو ته چه څه كار مونږ اوكړے د دوي سره

لَكُمُ الْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِندَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن

او بيان كړي مونږ تاسو ته متلونه - او كړے وه دوي فريب خپل او د الله په علم كښے دے فريب د دوي - او اګر وه

كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ ﴿٤٦﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ

مكر د دوي چه روان شي د هغے نه غرونه - ګمان مه كوه په الله چه خلاف به اوكړي د وعدے خپلے نه

وابه سخته ورځ ده چه كله راشي نو ظالمانان به او وائي چه مونږ ته موقع راكړه چه ستا او رسولانو حكم او منو نو الله تعالیٰ به ورلره جواب وركړي چه تاسو خو پخوا قسمونه كول چه زمونږ ختميدل نيشته چه دنيوي عذاب نيشته يا به په يو ځل ختم نه شو ځكه د مرګ نه خو كافرانكار نه شي كولے ۱۲،

ځكه تاسو د ظالمانو په كورونو كښے او سيدلي وئ نو ما دوي سره څه كار كړے وه او تاسو ته ما متلونه بيان كړي وو نو ولے تر نه تاسو عبرت نه اخستو ۱۲،

ځكه د پيغمبرانو مثال داسے دے لكه غرونه نو غرونه ځوك روان ولے شي يعني د كافرانو د مكرونو نه پيغمبران خپل دعوت كله پريږدي د الله تعالیٰ د پيغمبرانو سره وعده كړي ده د كاميابئ نو د هغے نه خلاف نه كوي الله زبردست دے او بدله وركوونكے دے په هغه ورځ چه دا زمكه به بدله شي په بلے زمكے سره او آسمانونه به هم بدل شي او د الله تعالیٰ دربار ته به خلق لاړ شي مجرمان به په زنځيرونو كښے بند وي او د ګوګړو به ئې قميص وي ځكه چه ګوګړ اور تيز وي ۱۲

له د واده قول سورت سره لګي يعني دا رسول دي په چا به زور منل نه دي او ټولو خلقو ته دعوت دے نو يو خاص قوم
ته محکمي پيغمبران به چه خاص خاص قوم ته رالېږلے کيده او نبي کريم صلی الله عليه وسلم ټولو دنيا ته رالېږلے شوي دے

رُسُلَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ؕ﴿۴۷﴾ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ

د رسولانو سره - يقيناً الله زبردست دے بدله اخستونکے دے - په هغه ورځ چه بدله به شي دا زمکه په بله زمکه

وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۴۸﴾ وَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ

او آسمانونه او بڅاره به شي دوي الله ته چه يو دے او غالب دے - او ته به وينے مجرمان

يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ﴿۴۹﴾ سَرَابِيْلُهُمْ مِّنْ قَطِرَانٍ وَّتَغْشٰى

په هغه ورځ تړلي شوي په زنځيرونو کښے - کميسونه د دوي به د ګوګړو وي او پټوي به

وُجُوْهَهُمُ النَّارُ ﴿۵۰﴾ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

مخونه د دوي اور - چه بدله ورکړي الله هر يو نفس ته د کسب د هغه - يقيناً الله زر حساب

الْحِسَابِ ﴿۵۱﴾ هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْٓا اَنَّمَا

کوونکے دے - دا رسول دي خلقو ته او چه او ويرولے شي دوي په دې سره او چه پوه شي دوي چه

هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۵۲﴾

يقيناً هغه الٰه يو دے او چه سوچ او کړي عاقلان -

سُوْرَةُ الْحِجْرِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

آيتونه (۹۹)	شروع په نوم د الله سره چه بے حده مهربان رحم کوونکے دے	رکوع ګانے (۶)

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱﴾

الله عالم دے - دا آيتونه د کتاب دي او د قرآن بيانوونکي دي -

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۲﴾ ذَرْهُمْ يَاْكُلُوْا

په يو وخت کښے به آرزو کوي کافران چه آرمان مسلمانان وے - پرېږده دوي چه خوري

وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾ وَمَآ اَهْلَكْنَا

او مزے کوي او غافل کوي دوي لوي اميدونه زر به پوهه شي - او نه دي هلاک کړي

ته د واقول بيا لونه د عذاب د دے مسئلے د پاره دي يعني دا واړے لويه مسئله ده چه لويک دا او نه منونکي دے په عذاب به وي دا سوچ ورته غافلان کوي کم عقلو ته دا مسئله دوهمه لويه نه ښکاري ۱۲ عه ربط: کړ د دوهمه بيانا تو نه بعد هم نه منونکو لوط را روان دے چه دوي پکښے غلامان شي - خلاصه: دلائل عقليه (ن) نمونے د تباه شوو کومونو دے د ملکينو قومونو او دوه د دے امت ديته اشاره په الکتب د قرآن مبين: سره په ابتدا د تمهيد مع ترغيب دے په درميان کښے اعلان دے چه د ابليس خبره مه منه او د پيغمبر خبره او منه په آخر کښے تسلي ده بل د قرآن پيرے باقي ټيبي مضامين دي نازل شوي قبل الانعام وبعد يوسف د زمانه د نزول دور آخر مکي مغلي د په ترتيب قرآني کښے (۱۵) او په نزول کښے (۵۴) دے سه دا تمهيدي بيان دے چه دا سورت لکه څنګه نه نه وليم ۱۲ سه د قرآن قانون دے چه په سر د سورت کښے قرآن او کتاب دواړه ذکر شي نو په هغه سورت کښے به د مکلفو ستو خوا او د دے امت بيان وي ۱۲ شه يعني بے خوده به وي نو چه کله به خوشي شي نو دا آرمان به او کړي

له دا زور ده د نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمائي چه اوس به الله تعالیٰ يقيناً او به رنجي د دنيا سره او د زياتے په صفت

ربانۍ ذکر (ص ۳۷۶ نه) هلاکت بخل او امید کوونکو وے . او نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی خلور خیزے د بدبختۍ دی . اوچ والے د سترګو ، سختوالے د زړهٔ - حرص د دنیا - او اوږد امید - او حسن بصری فرمائی چه د سړی امید اوږد وی نو عمل به ئے بد وی او چه امید ئے کم وی نو مونږ ته به ښهٔ عمل کوی . ته داد عذاب دنیوی بیان دے ۱۲ (قرطبی)

له داهم زور ته ده چه د حق نه منی او دا بے غلطے خبرے کوی او خلق بد گمانه کوی ۱۲

ته داهغوی ته جواب دے چه ملائک دنیا ته د عذاب د پاره راځی بیا به مهلت نه وی ۱۲

ته داهم دعوٰی په دیوی بیان دے چه قرآن مالیږلے دے او زهٔ به ئے حفاظت کوم . مخکښې ماهم نبیان لیږلی وو په هغوی پورے دوی ټوقے کړی دی دغسے دا ټوقے به د دوی په زړونو کښې کینوؤم مخکه چه دوی د ټوقو اراده کړے ده نو د مخکښې قومونو شان به هلاک شی - مرقان دغه په سورت تعامد که ئې دی چه د مخکښې کتابونو حفاظت علماؤ ته حواله شوے وهٔ نو مخکه پکښې تحریف او شو په خلاف د قرآن نه چه د دے حفاظت باری تعالیٰ خپله کوی ۱۲ ته داهغوی ته جواب دے هغوی او وے چه مونږ ته ولے ملائک نه راځی نو الله تعالیٰ جواب کوی چه کو ملائکو به خلاصه کړو دا کافران آسمان ته به ختلی نو بیا به هم دوی نه منی - سحر ویته وائی چه په څهٔ شی منتر او شی او حقیقت د هغې د بلو خلقو په سترګو کښې مثلاً مار ښکاره شی او نظر بند ویته وائی چه صرف حاضر شوے شخص ته مار ښکاری نورو ته نه ۱۲ ته یعنی د دهٔ په خیال کښې ۱۲

مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۴﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ

هیڅ کلی مگر چه حقوله ئې نیټه وه مقرره - نه مخکښې کیږي هیڅ امت د

اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿۵﴾ وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْ نُزِّلَ عَلَيْهِ

نیټې خپلې نه او نه روستو کیږي - او وائی دوی اے هغه سړیه چه راغلې دے تا ته

الذِّكْرُ اِنَّكَ لَمَجْنُوْنٌ ﴿۶﴾ لَوْ مَا تَاْتِيْنَا بِالْمَلٰٓئِكَةِ اِنْ كُنْتَ مِنَ

قرآن ته خو لیونے یې - ولے نه هیڅ کوې مونږ ته ملائک که یې ته د

الصّٰدِقِيْنَ ﴿۷﴾ مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ اِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوْٓا اِذًا

رشتینو نه - نه را لیږو ملائک مگر د حق خبرے کولو د پاره او نه به وی دوی په وخت د

مُّنْظَرِيْنَ ﴿۸﴾ اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿۹﴾ وَ

مهلت والا - یقیناً مونږ را لیږلے دے قرآن او مونږ د دهٔ ساتونکی یو - او

لَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِيْ شِيَعِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۰﴾ وَمَا يَاْتِيْهِمْ

یقیناً مالیږلی دی رسولان پخوا ستا نه په مخکښې جماعتونو کښې - او نه راتلو دوی ته

مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۱﴾ كَذٰلِكَ نَسْلُكُهٗ فِيْ

هیڅ رسول مگر دوی به په هغهٔ پورے ټوقے کولے - دغسے کینوؤ مونږ دے لره په

قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۲﴾ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾

زړونو د مجرمانو کښې - ایمان نه راوړی په دهٔ او تیر وتلی دے قانون د پخوانو -

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ ﴿۱۴﴾

او که پرانیزو مونږ ورته دروازے د آسمان نه نو ټوله ورځ به هلته ختیږی -

لَقَالُوْٓا اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ﴿۱۵﴾ ع

نو وبه وائی یقیناً بند شوی دی نظرونه زمونږ بلکه په مونږ سحر شوے دے -

له د الله تعالیٰ د وحدانیت د پاره بیان برهان دے اول چه په آسمان کښے ستوری ما پیدا کړی دی زمکه ما نه وه لیدلے او غر و نه یکښے ما پیدا کړی دی او گیاه هلته یکښے ما نو کول دی او اسباب د گذران ستاسو ما پیدا کړی دی او هغه

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّاهَا لِلنَّاظِرِينَ ١٦ وَحَفِظْنَاهَا

او یقیناً ما جوړ کړی دی په آسمان کښے برجونه او ښائسته کړی مو دے د کتونکو ته - او ساتلی مو دے هغه

مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ ١٧ إِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَأَتْبَعَهُ

د هر شیطان مردود نه - لیکن هغه څوک چه په غلا سره واوری نو ورپسے شی

شِهَابٌ مُبِينٌ ١٨ وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ

لمبه ښکاره - او زمکه مو غوړه کړے ده او غورزولی مو دی په هغی کښے غرونه

وَأَنْبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَوْزُونٍ ١٩ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا

او تو کولے مو دی په هغی کښے هر شے په اندازے سره - او پیدا کړی مو دی په هغی کښے تاسو د

مَعَايِشَ وَمَنْ لَسْتُمْ لَهُ بِرَازِقِينَ ٢٠ وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا

اسباب د گذران - او هغه څوک چه تاسو ورله رزق نه شئ ورکولے - او نشته هیڅ څیز مگر

عِنْدَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَعْلُومٍ ٢١ وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ

ځما سره د هغه خزانے دی او نه رالیږو مو هغه مگر په اندازے معلومے سره - او رالیږو مو بادونه

لَوَاقِحَ فَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ وَمَا أَنْتُمْ لَهُ

د اوبو نه ډک نو وروو مو د آسمان نه باران نو سکو مو هغه په تاسو باندے - او نه یئ تاسو د هغے

بِخَازِنِينَ ٢٢ وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ ٢٣ وَلَقَدْ

جمع کوونکی - او یقیناً موږ ژوندی کوونکی او مړه کوونکی او موږ وارثان یو - او یقیناً

عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ ٢٤ وَإِنَّ

معلوم دی موږ ته مخکنی خلق ستاسو او یقیناً پیژنو روستنی خلق او یقیناً

رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ٢٥ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ

رب ستا به جمع کړی دوی لره - یقیناً الله حکمت والا پوهه دے - او یقیناً پیدا کړے مو دے انسان

خلق مو پیدا کړی دی چه خدمت ستاسو کوی او رزق ورلره ځه ورکوم مریوان او څاروی وغیره د هر څه خزانے ما سره دی په اندازه هر څه ځه پیدا کوم ورته ځه پیدا کوم او باران ترینه ځه وروم ژوندی کول ځه کوم او مړه کول ځه کوم او د هر څه وارث ځه یم په دے کښے د الله تعالیٰ د قدرت مظاهر دی ۱۲

ﷺ په دے حصه کښے د باری تعالیٰ د لوئے علم بیان دے چه مخکنی خلق ما ته معلوم دی او روستنی خلق هم ما ته معلوم دی نو حاصل دا شو چه د لوئے قدرت والا صرف الله تعالیٰ دے او د لوئے علم والا هم صرف الله تعالیٰ دے او حاجت پوره کوونکے هغه څوک وی چه حاجت ورته معلوم وی او په حاجت پوره کولو باندے قادر وی او قدرت کامل او علم محیط خو صرف د الله تعالیٰ صفت دے نو حاجت پوره کوونکے هم صرف الله تعالیٰ دے نو حاجت صرف د هغه نه غواړئ نه د کل ماسوی الله نه ځکه چه کل ماسوی الله لره نه علم محیط شته او نه ورلره قدرت کامله شته لیز غونډے عارضی علم ئے دے په اسبابو سره او د غسے ئے لیز غونډے قدرت عارضی دے په اسبابو سره په حکم د عدم کښے دی وایه دی ۱۲

ع ٢

له ولته الله تعالیٰ دَخپل قدرت بیان وایې کوم چه انسان خپل ځان ته اوګوره تر اوم دَ خاورې نه پیدا کړې شو او بیا ئې هم د او
نه پیدا کړې شي نو دَ دومره لوئې قدرت والا بادشاه نه عاجز نه خو بتل پکار وي نه دَ عاجز نه - دَ مخلوق سره عجز او

مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٦﴾ وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ

دَ آواز کوونکې خټې خمبیره نه - او پیریان مو پیدا کړي وو د

مِنْ نَّارِ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾ وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّیْ خَالِقٌۢ بَشَرًا

اور دَ ګرمې هوا نه - او کله چه اووې رب ستا ملائکو ته چه زهٔ پیدا کوم بشر له

مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٨﴾ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ

دَ آواز کوونکې خټې خمبیره نه - نو کله چه برابر کړم هغه او پو کړم په هغه کښې

مِنْ رُّوْحِیْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿٣٠﴾

دَ خپل طرف نه روح نو شئ هغهٔ ته سجده کوونکي - نو سجده اوکړه ملائکو ټولو په جمع -

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰۤى اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ يٰۤاِبْلِيْسُ

مګر ابلیس - منع اوکړه دَ دې نه چه شي دَ سجده کوونکو نه - اووې الله اے ابلیسه

مَا لَكَ اَلَّا تَكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ اَكُنْ لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ

څهٔ اوشو تا لره چه نهٔ کیږې دَ سجده کوونکو سره - اووې هغهٔ زهٔ هغه نه یم چه سجده اوکړم بشر ته

خَلَقْتَهٗ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٣٣﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا

چه تا پیدا کړې دې دَ آواز کوونکې خټې خمبیره نه - اووې الله نو اوځه دَ دې ځائے نه

فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿٣٤﴾ وَّاِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٣٥﴾ قَالَ

نو یقیناً ته مردود ئې - او یقیناً په تا باندې لعنت دې تر ورځې دَ انصاف پورې - اووې ابلیس

رَبِّ فَاَنْظِرْنِیْۤ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿٣٧﴾

اے ربه نو مهلت راکړې ماته تر هغې ورځې پورې چه مړي پکښې پورته کولې شي - اووې الله یقیناً ته مهلت دے

اِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ بِمَاۤ اَغْوَيْتَنِیْ لَاُزَيِّنَنَّ

تر ورځې دَ وخت مقرر پورې - اووې ابلیس اے ربه په سبب دَ دې چه ما لره دې ګمراه کړو نو زهٔ به ښائست

بې علمي لازمه ده لکه قدرت کامل او علم هم دَ الله صفت دے نو ځکه الله تعالیٰ په قرآن کښې ځان ته بار بار دوا دَ عزیز او حکیم دَ عزیز نه معلومیږي لوئې قدرت او دَ حکیم نه معلومیږي لوئې علم دَ باري تعالیٰ ۱۲

۲ دَ ابلیس لعین قصه باري تعالیٰ کوي دَ دې ځائې دَ پاره چه ابلیس ستاسو ټیکنې دشمن دے دَ دهٔ خبره مهٔ منئ دے په تاسو شرک کوي بلکه دَ خیرخواه خبره چه پیغمبر دے او منئ ۱۲

۳ یعنی تر قیامته پورې خو صرف لعنت دے یعني دَ الله دَ نعمت نه محرومي ده چه ایمان دے او بیا به په قیامت کښې سره دَ لعنت نه نور عذاب زیات شي دائمي ۱۲

۴ یعنی ما لره مهلت راکړه تر دویمې شپیلۍ پورې بیا نو مرګ نیشته مطلب دا چه ما لره دائمي ژوند راکړه ۱۲

۵ الله تعالیٰ ورلره جواب ورکړو چه نا بلکه تا ته مهلت تر اولې شپیلۍ پورې دے یعني دَ نورو خلقو سره به مړ کیږې دائمي ژوند درلره نیشته - دَ شیطان اولنۍ حمله ده دَ شرک دویمه دَ بدعت او دریمه دَ رسمو نو څلورمه دَ ګناه هو نو دَ دهٔ چه دا ټولې حملې فیل شي نو بیا پخمه اخري حمله دَ وسوسو ده په زړهٔ دَ خلقو کښې کند دَ ګنده خطرې غور کړوي نو ځکه نبي کریم صلے الله علیه وسلم فرمائي چه دا بې اختیاره خطرې دَ ایمان علامه ده ۱۲

له څومره لوی بے ادبی ده د ابلیس چه مونږ ته وائي چه تا ګمراه کړم دا اُوږد دوږخونه د هغه بے ادبی اثر دے او آدم علیه السلام
خپل مونږ ته عذر پیش کړو چه اے الله ځان غلطی شوے ده نو هغه الله جنتونه د دے ادب نتیجه ده. شاه ولی الله ...

لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝٣٩ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ

کړم دوی ته به ښکلے په زمکه کښے او ګمراه به کړم دوی ټول - مګر بندګان ستا د دوی نه

الْمُخْلَصِينَ ۝٤٠ قَالَ هَٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ۝٤١ إِنَّ

غوره - او وے الله دا لاره ده ما ته (د توحید) برابره - یقیناً

عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ

بندګان زما چه دی نشته تا له په دوی باندے زور، مګر هغه څوک چه تابعداری وکړی ستا د

الْغَاوِينَ ۝٤٢ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ۝٤٣ لَهَا سَبْعَةُ

ګمراهانو نه - او یقیناً جهنم وعده ګاه د دوی ده د ټولو - د هغه اووه

أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِنْهُمْ جُزْءٌ مَقْسُومٌ ۝٤٤ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي

دروازے دی - د هرے دروازے د پاره د دوی نه حصه ده مقرر - یقیناً متقیان به په

جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ۝٤٥ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ ۝٤٦ وَنَزَعْنَا مَا فِي

جنتونو او چینو کښے وی - (او به ورته وئیلے شی) ورننوځئ په دے کښے په آرام او په سلامتیا سره - او لرے به کړو هغه څه چه

صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُتَقَابِلِينَ ۝٤٧ لَا يَمَسُّهُمْ

په سینو د دوی کښے وی کینه ده ورونړه ورونړه به وی په تختونو به وی مخامخ - نه به رسی دوی ته

فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ ۝٤٨ نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي

په جنت کښے تکلیف او نه به دوی د جنت نه او ویستلے شی - خبر کړه بندګان زما چه زه

أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ۝٤٩ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ۝٥٠

بخښونکے مهربان یم - او یقیناً عذاب زما هغه عذاب دے سخت دردناک

وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ ۝٥١ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا

او خبر کړه دوی د میلمنو د ابراهیم نه - کله چه لاړل هغه ته نو او وے وئیل سلام

تنہائی غرور داشت بدو بکند کز درجه آفاق زدی یعنی بے ادبه سړے ځان ته تکلیف نه رسوی بلکه نور خلق هم ترے وی لکه ابلیس علیه اللعنة ۱۲

۲ دا د صراط مستقیم بیان دے ۱۲

۳ دا د منکرو د پاره زړے دے د جنت او چه په جنت کښے به د هغوی تکلیف او حسد به ختم وی او دوی به پکښے همیشه وی ۱۲

۴ دا د دے نه د الله تعالیٰ رجا او امید معلومیږی ۱۲

۵ د دینه خوف معلومیږی او ایمان هم د ویرے او د امید نوم دے چه ځان ته ګوری نو ویریږی او چه د باری تعالیٰ رحم ته ګوری نو امید به لری د الله تعالیٰ د رحم نه. شیخ سعدی وائی
بضاعت نیاوردم الا امید خدایا ز عفوم مکن ناامید
یعنی د عمل وسیله مې نشته البته ستا د رحم وسیله لرم حضرت عمر فرمائی که په قیامت کښے د یو تن د جهنم فیصله اوشی نو زه وایم چه هغه زه یم دومره ویریږم د الله تعالیٰ نه او که د یو تن د جنت فیصله اوشی نو زه وایم چه هغه زه یم دومره م طمع ده ۱۲

۶ دا تمهید دے او لے قوم د تباه کولو ته چه قوم د لوط علیه السلام وو ۱۲ ۷ یعنی د هغوی ملائکو سلام او کړو په انسانی شکل کښے راغلی وو هغه او وے چه دا نا آشنا قوم دے څکه چه غیبدان نه وو ۱۲

له دا تهوم لے اوکړه سره د یقین نه په خبره د ملائکو د پاره د دوباره کولو د زیری ۱۲ ۲ له د خدائے تعالیٰ د رحم نه ناامید ګمراه وی ځکه رحم د الله تعالیٰ په عمل باندې موقوف نه دې ۱۲ ۳ له د دغو ملائکو نه خو حیبت معلومید و چه تو

ابراهیم علیه السلام ترې نه تپوس اوکړو ۱۲
۴ له واوتباه قوم او له نمونه ده چه څوک غیر الله ته متصرف او واک یائے په الله تعالیٰ زور آور ګنړی نو هغه هلاکیږی لکه د لوط علیه السلام قوم چه هلاک شو
۵ له یعنی ستا د ضرر د پاره نه یو راغلی بلکه هغه عذاب مونږه راوړے دے چه دے کفار ورپکښې شک کوو
۶ له په دے تباه قوم بیبے وے افسوس نه کوی ۱۲
۷ له د لوط علیه السلام ښځه منافقه وه نو غرقه شوه لوط علیه السلام د خپلے ښځے د کفر نه نه وو خبر او نه ئے هغه مسلمانو لے شوه معلومه دا شوه چه په غیب پوهید و نکے او کارساز صرف او صرف الله تعالیٰ دے او دا هم ښکاره شوه چه وسیله اتباع د خو خلقو وه او بشأ خلق بے د اتباع نه نه شی وسیله کیدے لکه د مثال په طور سړک وسیله ده د رسید و منزلِ مقصود ته ولے چه سړے په روان شی بے د تللو نه په سړک باندې سړک وسیله نه شی کیدے نو ځکه نبی کریم صلی الله علیه وسلم او وے اے فاطمے ګمان بچ کره د او ونه (په

قَالَ إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ ۝٥٢ قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ

او وئیل ابراهیم چه مونږ ستاسو د یریږو - او وے هغوی چه مه ویریږه مونږ زیرے درکوو تا ته په هلک

عَلِيمٍ ۝٥٣ قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰٓ أَن مَّسَّنِيَ ٱلْكِبَرُ فَبِمَ

پوهه سره او وے هغه آیا زیرے راکوئ ما ته سره د دې چه رسیدلے دے ما ته بډها والے نو د څه

تُبَشِّرُونَ ۝٥٤ قَالُوا بَشَّرْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْقَٰنِطِينَ ۝٥٥

زیرے راکوئ ما ته - او وے هغوی چه زیرے کوو تا ته د رښتیا نو مه کیږه د ناامیدو نه -

قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ۝٥٦ قَالَ فَمَا

او وے هغه او څوک ناامیده کیږی د مهربانئ د رب نه مګر ګمراهان - او وے هغه نو څه

خَطْبُكُمْ أَيُّهَا ٱلْمُرْسَلُونَ ۝٥٧ قَالُوٓا إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ۝٥٨

مقصد ستاسو دے اے استازو (د الله) او وے هغوی مونږه رالیږلی شوی یو یو قوم مجرم ته -

إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ ۝٥٩ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ قَدَّرْنَآ

مګر خاندان د لوط ، مونږ بچ کوو دوی لره ټول - مګر ښځه د هغه مقرر کړیده مونږه چه

إِنَّهَا لَمِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ۝٦٠ فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلُونَ ۝٦١ قَالَ

دا پاتے کید ونکو نه ده په عذاب کښې - نو هر کله چه راغلل خاندان د لوط ته استازی د الله او وے هغه

إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ۝٦٢ قَالُوا بَلْ جِئْنَٰكَ بِمَا كَانُوا فِيهِ يَمْتَرُونَ ۝٦٣

یقیناً تاسو قوم یئ نا اشنا - او وے هغوی بلکه راوړے مونږ تا ته هغه عذاب چه دوی پکښې شک کولو

وَأَتَيْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ۝٦٤ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ

او راوړیده مونږ تا ته پخه خبره او مونږه رښتونی یو - نو بوزه کور والا په شپه په څه حصه د

ٱلَّيْلِ وَٱتَّبِعْ أَدْبَٰرَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَٱمْضُوا۟ حَيْثُ

شپے کښے او روان شه په دوی پسے او نه دے ګوری بیرته ستاسو نه یو کس او لاړ شئ هغه ځائے ته د کوم چه

اتباع سره) زه تا نه شم بچ کولے د بے د اتباع نه) یا الله زمونږ اتباع د نبی کریم صلے الله علیه وسلم نصیب کړے ۱۲

له واوا قصه ګڼکښې وه او په ذکر کښې روستو ده ۱۲ ۳ له یعنې داستاسو تخم تخم اشر می لو نره وی ګډوډ څه خیل خوشحال
پوره کړی ۱۲ ۳ له دا قسم د پاره د دعا ئې خبره ده یعنې الله تعالیٰ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وائی چه الله تعالیٰ زوند

تُؤْمَرُونَ ﴿٦٥﴾ وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ الْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ

تاسو ته حکم شوی دی - او مقرر کړه مونږ ده ته دا خبره چه بنیاد د دوی ختو لګی دے

مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ إِنَّ

په سحر کښې - او راغلل د کلی خلق خوشحاله لم - او وے فرمائيل يقيناً

هَٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِى فَلَا تَفْضَحُونِ ﴿٦٨﴾ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ ﴿٦٩﴾

دا میلمانه زما دی نو ما مه شرموئ - او وویریږئ د الله نه او زما بے عزتی مه کوئ -

قَالُوٓا أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعَٰلَمِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِىٓ إِن

او وے ویل آیا ته منع کړے مونږ تا له د عالم (د حمایت) نه - او وے فرمائیل دا لونړه ستاسو واچیګړه د ګټی

كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿٧١﴾ لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِى سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٢﴾ فَأَخَذَتْهُمُ

که تاسو څه کوئ (خواهش خپل) الله د ژوند ستا قسم ته واي ته خبر یقیناً دوی په مستئ خپله کښې بے خوده ګرځی نو راونیول

الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ

دوی له سخت آواز د نمر په ختو کښې - نو کړه مونږ د پاسه طرف د دغو کلو لاندې او اوروم ورول په دوی باندې

حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾

کانړی د پخو خاورو - یقیناً په دے کښې نښے دی فکر کوونکو لره -

وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

او دغه کلی په برابر لارے باندې دی - یقیناً په دے کښې نښه ده مؤمنانو لره -

وَإِن كَانَ أَصْحَٰبُ الْأَيْكَةِ لَظَٰلِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَانتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَ

او وو او سیدونکی د ځنګل ظالمان - نو بدله واخیسته مونږ د دوی نه او

إِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿٧٩﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ ﴿٨٠﴾

او دا دواړه کلی په صاف لارے باندې دی - او دروغژن کړل د حجر خلقو پیغمبرانو لره -

له تالوه ژوند سالو د محمد قوم په مستئ کښې بے خوده وو ۱۲
۳ له شروع د عذاب وه په صبا ختو کښې نو هلکوا الله تعالیٰ ګڼکښې او وے مُّشْرِقِينَ او ختم د عذاب وه په نمر ختو کښې ۱۲
۵ له او کوم خلق چه بهر وه د کلو نه په مخ دا سے کښې او ورېږ ے ۱۲
۶ له دا سے سوچ کوی چه څوک د خپل مولٰی نه خلاف کوی نو دا سے به هلاک کیږی ۱۲
۷ له یعنې دا خلق کله چه شام ته ځی نو دغه کلی د لوط علیه السلام د قوم ګڼکښې راځی او آثار د دغو کلو لا باقی دی ۱۲
۸ له دا دویمه نمونه ده د تباه قوم دا د شعیب علیه السلام قوم وه ایکه د مدین بنار د متعلقاتو نه وه مدین او ایکه د واړو ته شعیب علیه السلام رالیږلے شوے وه د ایکه معنی ده ځنګل دا ښار د ونو په ځنګل کښې آباد وه ۱۲
۹ له دا دریمه نمونه ده د تباه قوم حجر یو میدان دے ته موږ یان پکښې اوسید صالح علیه السلام دوی ته رالیږلے شوے وه دوی ښه کاریګر وو په غرونو کښې به ئې د غرونو نه کور جوړ ولے د صالح علیه السلام دعوت ئې ونه منلو نو په سخت آواز سره هلاک شو - د یو پیغمبر دروغ

ژن کول د ټولو پیغمبرانو دروغ ژن کول دی ځکه چه عقائد د ټولو پیغمبرانو یو دی صرف په فروعی مسائلو کښې لږ لږ فرق وه ۱۲

ك دا اشياء خدائے تعالیٰ د وحدانيت دويم دليل دے چه آسمانونه او زمکه باري تعالیٰ د دے فائدے د پاره پيدا کړي دي
چه هغه مسئله د توحيد ثابته شي او کړه مسئله چا او مسئله او کړه او نۀ منله نو د دواړو فرقو د فيصلے د پاره قيامت
واروان دے که دا مخالفين ستا دا حقه مسئله نۀ مني الته بد دے وائي نو ته ترينه واړه وه په ښۀ طريقه سره نه چه زړۀ د جوش د انتقام نه ډک وي. باري تعالیٰ ځکه کولے شي ما چه تونه هم پوره کولے شي او قيامت هم قائمولے شي او ستا مخالفين هم ذليل کولے شي ١٢

وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ

او ورکړي وو مونږ دوي لره دليلونه نو دوي د هغونه مخ اړوونکي وو - او کنستل دوي

مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا اٰمِنِيْنَ ﴿٨٢﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿٨٣﴾

په غرونو کښے کورونه په آرام سره - نو اونيول دوي لره سخت آواز په سحر کښے -

فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ

نو فائده ورنه کړه دوي لره هغه څيز چه دوي ګټلے وه - او مونږ نۀ دي پيدا کړي آسمانونه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ

او زمکه او هغه شے چه په مينځ د دواړو کښے دے مګر د فائدے د پاره - او يقيناً قيامت راتلونکے دے نو ته اوړوه

الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿٨٥﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ

په ښۀ طريقه سره - يقيناً رب ستا پيدا کوونکے د ګرده څۀ پوهه د ګرده څۀ - او يقيناً

اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿٨٧﴾ لَا تَمُدَّنَّ

مونږ درکړے دے تا ته اووۀ آيتونه وظيفه او قرآن لوئے - مۀ اوږدوه ته خپلے

عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ

سترګے هغه شي ته چه مونږ فائده ورکړې ده په هغې سره ډيرو ټولګو د دوي نه او مۀ غم کوه په دوي باندے

وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ اِنِّيْٓ اَنَا النَّذِيْرُ

او ښکته کړه وزر خپله مؤمنانو ته - او وايه چه زۀ ويروونکے ښکاره يم نازل به کړو مونږ

الْمُبِيْنُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿٩٠﴾ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ

دو عذاب) لکه مونږ نازل کړے وو عذاب په تقسيم کوونکو د ګرده باندے - کوم چه جوړ کړے وه قرآن لره

عِضِيْنَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾

ټکړے ټکړے - قسم دے په رب ستا چه تپوس به اوکړو مونږ د دوي ټولو - د هغه څه نه چه دوي کول -

ك دا تسلي ده چه تا سره خدائے تعالیٰ دومره لوئے فضل کړے دے نو د مخالفينو د مخالفت پرواه مۀ ساته او خلقو ته مۀ پسخيږه او د خپلو ملګرو لحاظ کوه ١٢

ك دا د تباه قوم ځلونو نه ده درے قسمه د ځکښے قومونو تيرے شوے او دوه د دے امت دي يعني په دے موجوده وکا فرو به عذاب راولېږم لکه چه ما عذاب رالېږلے وه په هغو ولسو کسانو باندے چه هغوي لارے د مکے معظمے تقسيم کړے وے او په هره لاره به يو کس ناست وه او راتلونکو خلقو ته به ئے ووے چه نبي کريم صلے الله عليه وسلم ليونے يا شاعر يا دروغژن وغيره دے نو په هغوي باندے عذاب راغلے وه ١٢

له په بیان کښې کړه ما کوه صاف بیان کوه ۱۲ ښه وا خطمے تو نه دی تباه قوم ده وا قوع کو ونکی پلخه کسان وو په وخت د جبرئیل علیه السلام په اشاره سره هلاک شوه وو نوم ئے وا وی ۔ اسود ابن مطلب ۔ عاص ابن وائل ۔ اسود ابن یغوث ۔ ولید ابن مغیره ۔ حارث ابن طلاطله ۔ د پنځو و نوم نه حاصل دا شو چه څوک د الله تعالیٰ حکم نه منی نو هغه به هلاک شی ۱۲

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ۝٩٤ إِنَّا كَفَيْنَاكَ

صاف بیان کړه هغه شے چه تا ته ئے حکم کیدے شی او مخ واړوه د مشرکانو نه ۔ یقیناً کوو مونږ

الْمُسْتَهْزِئِينَ ۝٩٥ الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۚ فَسَوْفَ

د توقو کوونکو نه ۔ کوم چه جوړوی د الله سره اِله بل نو زر به پوهه

يَعْلَمُونَ ۝٩٦ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ۝٩٧

شی دوی ۔ او یقیناً پوهیږو مونږ چه تنګیږی سینه ستا په هغې چه وائی دوی ۔

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ۝٩٨ وَاعْبُدْ رَبَّكَ

نو بیان وه صفتونه د رب خپل او شه د سجده کوونکو نه ۔ او بندګی کوه د رب خپل

حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ۝٩٩

تر دے چه راشی تا ته یقینی خبره (مرګ)

سورة النحل مكية وهي مائة وثمان وعشرون آية وستة عشر ركوعا ... بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

رکوع ګانی (۱۶)	شروع په نوم د خدائے سره چه بے حده مهربان رحم کوونکے دے	آیتونه (۱۲۸)

أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝١

راورسید حکم د الله نو تلوار مه کوئ د هغهٔ ۔ پاک دے الله او لوئے دے د شریک جوړولو نه ۔

يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ

رالیږی ملائک د روح د پاره په حکم خپل سره په هغه چا چه رضا ئے شی د بندګانو خپلو نه

أَنْ أَنذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ ۝٢ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ

چه او ویروئ دوی چه نیشته اِله مګر زهٔ یم نو او ویریږئ ما نه ۔ هغهٔ پیدا کړی دی آسمانونه

وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ تَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝٣ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن

او زمکه د حق بشکاره کولو د پاره لوئے دے د هغوی د شریک جوړولو ۔ هغهٔ پیدا کړے انسان د

(side note:) په دے آیت کښې امر دے چه توحید بیان له زور ورکړه او عبادت هم چیرکوه او تر مرګ پورے دے بندګی له زور ورکړه معلومه شوه چه په اسلام کښې داسے وخت نیشته چه سړے د عبادت د الله نه معاف شی لکه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم تر مرګ پورے په عبادت مامور وو البته دا سے کیدے شی چه یو کس چرے عبادت کوی نو عبادت د هغهٔ عادت شی بیا ورته عبادت نه ګرانیږی ۱۲ ۳ وا د عذاب دنیوی بیان دے ۱۲ شه عذاب لکه راځی چه د الله تعالیٰ سره شریک نیشته نه په ذات او نه په صفات کښې ۱۲ شه دا د روح بیان دے ۱۲ شه وا د عذاب د ویره وجه ده چه دوی په مسئله د رسالت کښې غدر کوی نو لکه عذاب راځی ۱۲ شه دا د باری تعالیٰ د وحدانیت صانع اول دلیل دے عقل چه آسمانونه او زمکه هغهٔ پیدا کړی

آسمانونه او زمکه هغهٔ پیدا کړی دی انسانانو خپل ځان ته او ګوره تر دے د تخلیق نه پیدا کړے نو او سی په توحید کښې څکوه هم کو ے هغه دی هغهٔ پیدا کړی دی تر څو چه سامان او خوراک نا شی دی پکښې او د څښلو اوبه او غله او ځناور او میوه جات ورکړل دی نو د اوسوزانهٔ بوبیږ نه ورکړی دی او اسونهٔ هغهٔ پیدا کړی دی او په زمانه کښې نور ... (ص ۳۰۳)

(ربائے وغیرہ نہ) پیدا کوی لکه لاری موټر ریل هوائی جهاز وغیره چه دا کاروغه ئے کړیدی نو تاسو بیا دوباره هم پیدا کولی شئ. ۱۶ دا سورت نحل نازل شوے دے پس د کهف نه او دی ډیرے تر نوحه نه زمانه د نزول د ورآخرچکه معظمه. په ترتیب قرآنی کښے (۱۶) او په ترتیب نزول کښے (۷۰) دے ۱۲

مقصد: الحرمی عذاب نه ورکنارہ دنیوی عذاب په دوی باندے دغه دے راغے چه دوی په الله تعالیٰ باندے غیر لره غالب گنړی او متصرف ورته وائی ۱۲ (رکوع ۲) ۱ دے په کوم ته په راوستو د غارو وکښے کورته په ولو زیات ښکلے دا ښکاری

نُطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ④ وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ

نا څرګند نو هغه جګړه کوونکے ښکاره دے - او څاروی لره هغه پیدا کړی دی ستاسو د پاره

فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ⑤ وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ

په هغې کښے د ګرمی سامان او د فائدے دی او د هغې نه خوری - او تاسو لره په هغو کښے ښکلا ده کله چه

تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ⑥ وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَىٰ بَلَدٍ لَّمْ

بیگاه ئے کور ته راولئ او کله چه ئے څر لره بوځئ: او وړی پیتی ستاسو هغه ښار ته چه تاسو

تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنفُسِ ۚ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ⑦

ورته نه شوئ رسیدے مګر په ځان ستړی کولو سره - یقیناً رب ستاسو مهربان او رحم والا دے -

وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ وَيَخْلُقُ مَا

او پیدا کړی ئے هغه آسونه او قچران او خره چه تاسو ئے سواره شئ او د ښکلا د پاره - او پیدا به کړی هغه

لَا تَعْلَمُونَ ⑧ وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ ۚ وَلَوْ شَاءَ

چه تاسو ئے لا اوس نه پیژنئ - او الله ته رسی برابر لار او ځینے د هغو نه کږے دی - او که رضا ئے د

لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ⑨ هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ۖ لَّكُم مِّنْهُ

هغه نو تاسو ټولو ته به ئے خوښ کړے وے - الله هغه ذات دے چه ورولی د آسمان نه باران ستاسو د پاره د هغے

شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ⑩ يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ

څښل او د هغے نه او ونه کیږی چه تاسو په کښے څاروی څروئ - زرغونوی تاسو لره په دے سره فصل

وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَابَ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ ۗ إِنَّ فِي

او خونه او کجورے او انګور او قسم قسم میوے - یقیناً په

ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ⑪ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ

دے کښے دلیل دے د هغه قوم د پاره چه فکر کوی - او ستاسو په خدمت کښے ئے لګولے ده شپه او ورځ

ع ۱ / ۷

د امام صاحب دے ۱۲ ۳ په دے کښے داخل دی لاریګا موټر جهاز وغیره او د آئنده کښے به نور هم پیدا کړی چه لا اوس موږ ته نه دی معلوم ۱۲ ۴ د وا د توحید او د سنت لار ده ۱۲ ۵ دا د بدعاتو او شرکیاتو او رسوماتو لار ده ۶ یعنی جبراً برئے تاسو لره مسلمانان کړی د ولیکن جبراً ایمان الله ته منظور نه دے نو ځکه الله تعالیٰ انسان ته اختیار او اراده ورکړیده چه امتحان ئے اوکړی ۱۲ ۷ یعنی د باری تعالیٰ خو ورته ضرورت نیشته ۱۲ ۸ معلومه شوه چه مشرکان بے سوچه دی ۱۲

لکه شپه او ورځ او نمر او سپوږمۍ ټول د انسان د فائدے د پاره دی دا ځکه چه په نمر فصل پخیږی او د سپوږمۍ نه پکښے مزه پیدا کیږی او د ستورو نه پکښے رنګ پیدا کیږی یعنی دا څیزونه اسباب ظاهری دی او کوونکے د هر کار الله دے دا څیز ئے حکم.

لـه دا ټول د الله تعالیٰ د وحدانیت دلیلونه دي چه دا کار ونه صرف الله تعالیٰ کوي نو حاجتونه پوره کوونکے هم صرف الله تعالیٰ شو
په دے دلیلونو کښے د الله تعالیٰ د لویے قدرت مظاهر دي ۱۲ ؎ معلومه شوه چه مشرکان بے عقله دي په عقل خوږ ګمراه دي ۱۲

وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۗ وَالنُّجُومُ مُسَخَّرَاتٌ بِأَمْرِهِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

او نمر او سپوږمۍ - او ستوري تابعدار دي د حکم د هغهٔ - یقیناً په دے کښے دلیلونه

لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٢﴾ وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُخْتَلِفًا

دي د هغه قوم دپاره چه عقل لري - او هغه څه چه هغهٔ پیدا کړي تاسو لره په زمکه کښے چه مختلف

أَلْوَانُهُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الَّذِي

دي رنګونه د هغهٔ - یقیناً په دے کښے دلیل دے د هغهٔ قوم دپاره چه سوچ کوي - او الله هغه ذات دے

سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً

چه تابع کړے ئے دے دریاب چه خورئ ترے غوښے تازه او راوباسئ تاسو د هغهٔ نه کالي چه

تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَ

استعمالوئ ئے تاسو - او ته به وینے جهازونه څیرونکي د اوبو په دریاب کښے - او چه طلب کړئ د فضل د

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٤﴾ وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ

هغهٔ نه (مال) او امید دے چه احسان ومنئ تاسو - او غورځولي دي په زمکه غرونه چه خوځوي تاسو لره

وَأَنْهَارًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾ وَعَلَامَاتٍ ۚ وَبِالنَّجْمِ هُمْ

او ویالے او لارے امید دے چه تاسو لار بیا موئ (خپلو مقاصدو ته) او نښے - او په ستورو دوی

يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾ أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾

لار موندل - نو هغه ذات چه پیدا کوي هر څهٔ پشان د هغه چا دے چه څه شے پیدا کولے نهٔ شي آیا سوچ نه کوئ تاسو!

وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨﴾

او که شمار کړئ نعمتونه د الله نو نهٔ شئ شمار کړے هغه، یقیناً الله بخونکے مهربان دے -

وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿١٩﴾ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن

او الله پوهیږي په هغه چه پټوئ ئے تاسو او په هغه چه ښکاره کوئ ئے تاسو - او هغه خلق چه دوئ رابلي

ؔ؎ مطلب مراد دي ۱۲ ؎ مطلب مراد دي چه ښځے په کالو کښے استعمالوي (فائده) د کالو استعمال او ملغلرے پکښے لګول شرعاً جائز دي خو چه ښځے پرے تکبر نه کوي او پردو خلقو ته ئے نه ښائي او زکوٰة ترے ورکوي ورنه بیا به دا کالي په اور کښے ګرمیږي او هغه ښځے لره به پرے داغونه ورکوي دا خبره په حدیث کښے ده ۱۲ ؎ معلومه شوه چه حلال مال د خدائے فضل دے چه په صحیح طریقه ګټلے کیږي او بیا په صحیح طریقه خرچ کیږي او حقوق زکوٰة وغیره ترے ویستلے شي ورنه بیا خو مال د ماشي د وزرنه هم بے قیمته دے په دربار الٰهي کښے ۱۲
؎ یعني سبب د خوځولو پیدا کولو دا وه چه زمکه خوزیده ۱۲
؎ غرونه او ونے او چینے وغیره ۱۲ ؎ په ستورو کښے درے فائدے دي (۱) لار موندل - دا دلته ده او دوه فائدے ئے (۲) ښکلول د اسمان او (۳) ویشتل د شیطانانو دا په سورت ملک کښے دي ۱۲
؎ دا نتیجه ده د څلور دلیلونو یعني باری تعالیٰ خو د هر شي پیدا کونکے دے او نور خلق واړه بندګان دي نو هغه معبودان نشي کیدے ۱۲
؎ شکر خو لا پریږده دے ۱۲
؎ دا دریم دلیل دے په دے کښے د عقیده د اعلان دے ۱۲ ؎ دا نقلي دلیل دے په اول او دوهم دلیل باندے چه باری تعالیٰ خو خالق د هر شي دے او دا غیر د هغهٔ نه خو څهٔ نه شي پیدا کولے بلکه مره دي یا په اعمال یا روستو نو څنګه به معبودان شي ۱۲

ك واپه درېم ولیدل تفي یو ده چه باري تعالٰی خو په هر څه پوهه دے او غیر د هغهٔ نه خو داسے څه نه خبر دی نو هغهٔ به څنګه معبود شي ! ۱۲ ٣ك د انفي یو ده په دنو د ربو د لیلو نو چه هر کله هر څه صرف الله تعالٰی کولے شي او په هر څه هم صرف

دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمْوَاتٌ غَيْرُ

سوا د الله تعالٰی نه نه شي پیدا کولے څه شے او دوی پیدا کړی شوی دی - مړهٔ دی نه دی

اَحْيَآءٍ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۙ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٢١﴾ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ

ژوندی - او نه دی خبر چه کله به راپاڅولے شي دوی - الله ستاسو معبود یو دے -

فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ

نو کوم خلق چه ایمان رانهٔ وړی په اخرت زړونه د دوی نه منی حق لره او دوی

مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۭ

ځان غټ ګنړی - بے شکه الله پوهیږی په هغے چه پټوی دوی او په هغے چه ښکاره کوی دوی

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ مَّاذَآ اَنْزَلَ

یقیناً الله نه خوښوی تکبر کوونکی - او کله چه او وئیلے شي دوی ته چه څهٔ شے رالیږلے دے

رَبُّكُمْ ۙ قَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٤﴾ لِيَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَّوْمَ

رب ستاسو نو وائی چه قصے د مخکنو دی (قول انجام دا دے) پورته به کړی بوجونه خپل کامل په ورځ

الْقِيٰمَةِ ۙ وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۭ اَلَا سَاۗءَ مَا

د قیامت او څه د بوجونو د هغو نه چه دوی ګمراه کړی دی هغو لره بلا تحقیقه - خبردار بد دے هغه چه

يَزِرُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتَى اللّٰهُ بُنْيَانَهُمْ مِّنَ

دوی یې پورته کوی - فریب کړے وهٔ هغو چه مخکښ وُو د دوی نو راغے حکم د الله د دوی بنیاد ته د

الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ

بیخه نه نو راپرېوته په دوی باندے چت د پاسه نه او راغے دوی ته عذاب

مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُخْزِيْهِمْ وَيَقُوْلُ

د هغه طرف نه چه دوی ته معلوم نه وهٔ - بیا به ورځ د قیامت به او شرموی دوی لره او وبه وائی

دے عالم دے نو الٰه یو دے نو واحد هغه مسئله د توحید ده چه د هغه نه منلو په وجه عذاب دنیوی راځی ۱۲
٣ك د انکار اخرت نه زور زړه چه دوی ته شکه نه منی چه دوی تکبر کوی نو الله تعالٰی ته د دوی معلوم دی هغه ظاهر او پټ هر څه پیژنی ۱۲
٤ك دا د عذاب اُخروی بیان دے او زورنه هم ده چه دوی قرآن ته د مخکنو خلقو قصے وائی چه خلق به ګمراه کوی په قرآن باندے نو دوی به خپل ګناهونه او د هغو خلقو ګناهونه چه دوی ګمراه کړی دی پخپل سر باندے به واخلی ۱۲
٥ك دا د عذاب دنیوی بیان دے ۱۲
٦ك دا د عذاب اخروی بیان دے چه الله تعالٰی به دوی په اخرت کښے او شرموی او بیا به ترے نه تپوس او کړی چه چرته هغه شریکان څهٔ شو چه تاسو به د هغو په حق کښے ضد کولو انبیاء او علماء به او فرمائی چه نن به کافرانو د شرم ورځ ده ۱۲

ع ٢ / ٨

ع ١٠ / ٩

أَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تُشَآقُّونَ فِيهِمْ ۚ قَالَ الَّذِينَ أُوتُوا

چې چیرته دي شریکان زما هغه چې تاسو جګړه کوله دوی په حق د هغوی کښې - او به وائي هغه خلق چه ورکړ

الْعِلْمَ إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوٓءَ عَلَى الْكَٰفِرِينَ ﴿۲۷﴾ الَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ

شوی ورته علم زما شرم او بدي نن ورځ په کافرانو دي - کوم چه وفات کول دوی لره

الْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمْ ۖ فَأَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن

ملائکو چه ظلم کوونکي وه په ځانونو ځان باندې - نو ښکاره به کړي تابعداري چه مونږ نه وو کړې هغه

سُوٓءٍۭ ۚ بَلَىٰٓ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۲۸﴾ فَادْخُلُوٓا أَبْوَٰبَ

بد - ولې هو یقیناً الله پوهیږي په هغه چه تاسو کوئ - نو ځئ دروازو د

جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿۲۹﴾ وَقِيلَ

جهنم ته همیشه به یئ په هغې کښې - نو ناکاره ځائ دے د متکبرانو - او او به وئیلے شي

لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمْ ۚ قَالُوا خَيْرًا ۗ لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا

هغوی چه ځان ساتي څه رالیږلي دي رب ستاسو او به وائي چه ښه څیز - د هغوی پاره چه نیکي کوي

فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۚ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ ۚ وَلَنِعْمَ دَارُ

په دې دنیا کښې خوشحالي ده - او کور د آخرت ډیر غوره دے - او ښه دے کور د

الْمُتَّقِينَ ﴿۳۰﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ

متقیانو - چه باغونه د اوسیدو دي لاړ به شي دوی هغوی ته بهیږي به لاندې د هغوی ولې

لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ ۚ كَذَٰلِكَ يَجْزِي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ ﴿۳۱﴾ الَّذِينَ

دوی لره به جنت کښې هغه څه وي چه خوښ به شي - دغسې به بدل ورکوي الله متقیانو ته - کوم چه

تَتَوَفَّىٰهُمُ الْمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ ۙ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمُ ادْخُلُوا

وفات کوي هغوی لره ملائکې چه ښه پاک وو وائي به چه سلام دې په تاسو لاړ به شئ

۱ە ارشاد الهي دے او د هغوی کافرانو بیان دے چه دا کافران به د وفات په وخت د خپل بد عمل نه انکار او کړي نو الله تعالیٰ خو د هغوی په بد عمل خبر دے نو د جهنم اعلان به ورته او کړي ۱۲

۲ە دا د منونکو د پاره ذکر دے او کله چه غلطو خلقو مقابله کړي چه د دوی د قرآن په متعلق پوښتنه اوشي نو دوی به او وائي چه قرآن سراسر خیر دے نو دوی لره په دنیا کښې خوشحالي ده او په آخرت کښې ورله جنت دے چه هلته د هر قسم خوشحالي ده ۱۲

۳ە دا هم ارشاد الهي دے او د هغوی نیکانو بیان دے چه د وفات په وخت به ورته ملائک سلام کوي چه ځئ جنت ته ۱۲

له واؤ عذاب وئیوی بیان دے چه دا کافران چه حق نه منی نو څه شی ته صبر کوی انبیاء د راتلل اوکتابونه راتلل مګر دیته ګوری چه ملائک راشی د مرګ د پاره یا عذاب راشی نو بیا خوا یمان نه دے منظور ۱۲ ۳ واؤ

الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ۝ هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمُ

جنت ته دلکه چه تاسو بنه کول - صبر نه کوی دوی مګر دیته چه راشی دوی ته

الْمَلَائِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ ۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ

ملائک یا راشی دوی ته حکم د رب ستا - دغسے کار کړے وه هغو چه مخوا وو د دوی نه -

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ۝

او ظلم نه وه کړے په هغو باندے الله لیکن هغوی په ځپلو ځانو ظلم کوو لو -

فَأَصَابَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا وَحَاقَ بِهِمْ مَا كَانُوا بِهِ

نو اورسیدل دوی ته تکلیفونه د عملونو د دوی او چاپیر شو د دوی نه هغه عذاب چه دوی پوخه

يَسْتَهْزِئُونَ ۝ وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا عَبَدْنَا

توقے کولے - او وائی مشرکان که رضا وے د الله بندګی به نه وے کړے مونږه

مِنْ دُونِهِ مِنْ شَيْءٍ نَحْنُ وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ دُونِهِ

سوا د هغه د هیڅ شی - او نه پلار نیکه زمونږ ه او نه به وه حرام کړے مونږه سوا د هغه نه

مِنْ شَيْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى

هیڅ شے - دغسے کار کړے وه هغو چه مخوا وو د دوی نه - نیشته په رسول

الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ۝ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا

باندے مګر رسول دی ښکاره - او یقیناً لیږلے دے مونږ په هر امت کښے رسول

أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ۖ فَمِنْهُمْ مَنْ هَدَى

چه بندګی کوئ د الله او ځان بچ کړئ د شیطان نه - نو ځینے هغه دی چه خوندور کړیدل

اللَّهُ وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ ۚ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ

الله او ځینے هغه دی چه لازمه شویده پرے ګمراهی - نو لاړ شئ په زمکه کښے

دوی سره امداد او هم ختم وے واهغه خلق دی چه په دوی کړ قهر مهر لګیدلے دے ۱۲

د دوی یو اخلاق کار د دے ملکانو کا فرانو هم د غسے کار کا وه - الله تعالیٰ په چا ظلم نه کوی لیکن هغوی ځپل ځان ظلم کا وه نو د ځپل عمل بدل ور ته اورسیده او دوی به په هغه عذاب پوری توقے کولے ۱۲

۳ واؤ زنده ده کا فرانو ته چه وائی مونږ چه شرک کوو او د غیر الله بندګی کوو یا ځه شے حراموو نو په دے الله تعالیٰ خوشحاله دے ورنه هغه مونږ ولے نه منع کوی د غسے به ځنګو کا فرانو هم وئیل - په پیغمبر صلی الله علیه وسلم خو رسول دی او د کا فرانو سره نزل نه دی الله تعالیٰ فرمائی په جواب کښے که څه د دوی شرک خوښ وے نو د شرک د ختمولو د پاره په ما ولے پیغمبران را لیږل خو ځینے کسانو ته الله تعالیٰ خونه کوی چه ضد یان نه دی او ضد یان الله تعالیٰ ګمراه کړ یدی ۱۲

۴ واؤ عذاب وئیو ئ بیان دے چه دروغژن او ونکی مونږ ختم کړیدی نو دا موجود وه کا فرو هم ختم شی ته دے کا فرو ته هدایت نه شے کولے ځکه چه دوی ضد یان دی او د

لـه دا هم زور نه وه کا فرو ته چه دوی وائی چه پس د مرگه بیا ژوندون نیشته الله تعالیٰ فرمائی چه دا خلق به بیا ژوندی کوم چه حقه فیصله ورته معلومه شی او خپل دروغ هم معلوم کړی الله تعالیٰ ته دوباره ژوندی نول

فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝٣٦ اِنْ تَحْرِصْ عَلٰى

نو اوگورئ څنگه شو آخرة د دروغ ژن گڼونکو - که حرص کوے په

هُدٰىهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ يُّضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ

خونه د دوی یقیناً الله خونه نه کوی هغه ته چه گمراه کړی ئی هغه لره او نیشته هغوی

نّٰصِرِيْنَ ۝٣٧ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ

لره امداد کوونکی - او قسم کوی په الله کلک قسمو نه چه را پورته به نه کړی الله هغه څوک

يَّمُوْتُ بَلٰى وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٣٨

چه مړ کیږی - او وعده ده په هغه رشتونی لیکن زیات خلق نه پوهیږی (را پورته به ئے کړی)

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِيْ يَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

چه بیان کړی دوی ته هغه خبره چه دوی پکښې اختلاف کولو - او چه معلومه کړی کافران

اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰذِبِيْنَ ۝٣٩ اِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ اِذَآ اَرَدْنٰهُ اَنْ نَّقُوْلَ

دا چه دوی دروغ ویل - یقیناً خبره زمونږ شی ته کله چه ئے اراده او کړو داده چه اووایو هغه

لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ۝٤٠ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِي اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَا

ته شه نو شی هغه - او کوم خلق چه کور پریږدی د الله د پاره پس د هغې نه چه

ظُلِمُوْا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۚ وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ

ظلم پرے وشو خامخا به ځائے ورکړو دوی لره په دنیا کښې ښه - او خامخا ثواب د آخرت لوئے دے -

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝٤١ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝٤٢

آرمان که دوی پوهیدے ! - کوم چه صبر کړے وی او در رب خپل ته ځان سپاری -

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ

او مونږ دی لیږلی څوا ستانه مگر نارینه وحی به کوله دوی ته نو تپوس او کړئ د

۲ے کافران دی صرف اراده او کړی نو هر څه بیا شوی وی ۱۲ ۳ے دا زیره دے چه کومو خلقو د خدائے تعالیٰ د دین په خاطر خپل کورونه پریښودل او ظلم پرے شوے وه نو الله به دوی لره په دنیا کښې ښه ځائے ورکړی او ثواب د آخرت خو ډیر لوئے دے نو آسمان خلق په دے ثواب پوهیدلی نو څوک به کوی د دین د پاره هجرت نه کوی رفائده هجرت خپل کور پریښودل د دین د پاره لکه د طلب د علم د پاره یا د دین خورولو د پاره ۱۲ ۳ے دا جواب دے د دے سوال چه دا مسئله به مونږ د مثلے د چه ملائکو بیان کړے وے حاصل د جواب چه مخکښې هم پیغمبران سړی وو او دا مسئله ئے بیانوله ۱۲ ۴ے معلومه شوه چه کوم سړے د څه نه خبر نه وی نو په هغه د تقلید د غیر لازم دے د معین عالم خبره دی او کړی د عام وی د مسلمانانو اتفاق دے چه په دے زمانه کښې او س مجتهد نه شی جوړیدے د خاص عالم خبره چه منی هغه څلور فرقے وی، حنفیان، مالکیان شوافع، حنبلیان، او چه په خاص عالم پورے

ځان نه تړی هغه اهل حدیث وی دا پنځه واړه اهل سنت والجماعت وی - دا پنځه واړه بنده وی خو چه غلونه کوی او بلے فرقے ته گمراه نه وائی - نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه زما په حدیث او د خلفاء په طریقے کلکه عمل او کړئ ۱۲ ۱۲

رکوع ۱۱ ع ۵

ـه ذکر نه مراد قرآن لتبین مراد حدیث دے یتفکرون که فکره اهل امت وی نو اجماع ده او که د بعضو وی نو قیاس دے نو دا ئمه شرعی څلور دی

ـه دا د عذاب د څلور وی بیان دے ۱۲

ـه دا د خدائے تعالیٰ د وحدانیت څلورم صاف دلیل دے په دے کښے د لوئے قدرت مظاهر دی چه سوری د الله تعالیٰ تابعدار دی او د آسمانونو او د زمکو زنده سرا او ملائک د الله تعالیٰ تابعدار دی او ملائک د الله تعالیٰ نه ویریږی او حکم منی دومره لوئے بادشاه دے د ده په مقابله کښے څوک حاجت پوره کولے نیشته او نه څوک په ده زور آوریږی ۱۲

ـه دا د توحید مسئله ده اثنین مقصود دے په نفی سره یعنی الله یو دے دوه نه دی ۱۲

الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۳﴾ بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ ۗ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ

علماؤ نه که تاسو نه پوهیږئ۔ (لیګلی مو دی) د دلائلو او کتابونو سره۔ او رالیږلے مو دے تا ته

الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۴۴﴾

قرآن چه بیان کړے خلقو ته هغه کتاب چه رالیږلے شوے دے دوی ته او امید دے چه دوی فکر او کړی

اَفَاَمِنَ الَّذِيْنَ مَكَرُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّخْسِفَ اللّٰهُ بِهِمُ الْاَرْضَ

آیا په امن دی هغه خلق چه کوی بد فریبونه چه ننوځ کړی الله دوی لره په زمکه کښے

اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۴۵﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ

یا راشی په دوی باندے عذاب د هغه طرف نه چه دوی خبر نه وی۔ یا اونیسی دوی لره

فِيْ تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۴۶﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ عَلٰى تَخَوُّفٍ ؕ

په تلو راتلو کښے نو نه دی دوی عاجزوونکی (الله لره) یا اونیسی دوی لره سره د ویرے نه۔

فَاِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۴۷﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ

نو یقیناً رب ستاسو مهربان او ترس والا دے۔ آیا نه ګوری دوی هغه ته چه پیدا کړے دے الله شے

شَيْءٍ يَّتَفَيَّؤُا ظِلٰلُهٗ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِّلّٰهِ وَهُمْ

شے ګرځیږی سوری د هغه ښی طرف ته او ګینړی طرف ته سجده کوی الله ته او دوی

دٰخِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

عاجزوی۔ او الله ته سجده کوی هغه شے چه په آسمانونو کښے دے او هغه شے چه په زمکه کښے دے

مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ يَخَافُوْنَ

(زنده سرا و ملائک او دوی تکبر نه کوی۔ ویریږی د

رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع وَقَالَ

رب خپل نه چه غالب دے په دوی باندے او کوی هغه چه دوی ته حکم کیدے شی۔ او اعلان کړے دے

اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۚ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَاِيَّايَ

الله چه مه جوړوئ معبودان دوه - یقینًا معبود صرف یو دے - نو صرف ما نه

فَارْهَبُوْنِ ﴿٥١﴾ وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ

او وېرېږئ - او صرف د الله دی هغه ټول څیزونه چه په آسمانونو کښې دي او په زمکه کښې دي او صرف هغه د

وَاصِبًا ۭ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ

عبادت د همیشه - آیا غیر د الله نه وېرېږئ تاسو - او هر څه چه ستاسو سره نعمت دے نو د طرف د الله دے

ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ تَجْـــَٔــرُوْنَ ﴿٥٣﴾ ثُمَّ اِذَا كَشَفَ الضُّرَّ

بیا چه کله اورسی تاسو ته تکلیف نو صرف د هغه په طرف چغې او باسئ - بیا چه کله لرې کړي ستاسو تکلیف

عَنْكُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٥٤﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ

نو په دغه وخت یوه ډله ستاسو د رب خپل سره شرک کوي - چه انکار اوکړي د هغه نه

اٰتَيْنٰهُمْ ۭ فَتَمَتَّعُوْا ۣ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ

چه ما ورکړي دي دوی له - نو مزے اوکړئ - نو اخر به پوهه شئ - او جوړوي دوی حصه له هغو څیزونو چه دوی نه پوهیږي

نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ۭ تَاللّٰهِ لَتُسْـَٔــلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ ﴿٥٦﴾

حصه د هغه نه چه ما ورکړي دي ورته - قسم دے چه تپوس به اوشي د دروغو ستاسو نه

وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ ۙ وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِذَا

او جوړوي دوی الله له لونړه پاک دے هغه د دے نه او دوی له هغه څه چه دوی غواړي - او کله

بُشِّرَ اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰى ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿٥٨﴾

خبر کړے شي یو د دوی په لور سره نو شي مخ د ده تور او دے غمژن وي

يَتَوَارٰى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوْۗءِ مَا بُشِّرَ بِهٖ ۭ اَيُمْسِكُهٗ عَلٰي

پټیږي د قوم نه د وجه د بد خبر نه - آیا حصار د دی هغه څه سره د

ا۔ دا د باری تعالیٰ د یووالي یقیني ثبوت دے په هم غیر په دے کښې هم د لوئ قدرت بیان دے چه صرف د الله تعالیٰ دی هغه ټول څیزونه چه په آسمانونو کښې دي او په زمکه کښې دي او تعلق هم صرف د باری تعالیٰ دے همیشه ۱۲

۲۔ دا منکرانو ته زور نه دے چه بیا هم د غیرنه وېرېږئ او تعلق نه لوئ هغه اوکړئ او د تکلیف په وخت هغه ته زاری کوئ ۱۲

۳۔ نو چه کله تکلیف لرې کړي نو بیا شرک کوي ۱۲

۴۔ یعنې هغه شی له چه د دوی باطل معبودان وي حصه مقرر وي یعنې د هغوی په نوم څه نذر کوي د هغوی حقیقت یعنې د هغوی نفع او ضرر ورته معلوم نه دے نو الله تعالیٰ به د دوی د دروغو تپوس اوکړي ۱۲

۵۔ ملائکو ته د الله تعالیٰ لونړه وائي یعنې دوی دا ہے په الله تعالیٰ زور آوري وي لکه لونړه پلند پاند ے او خپل د ځانه خو دوی هلکان غواړي او په جینۍ چه خبر شي نو غمژن شي بیا ئے د ننګ لوته بیر کوي نو دا ے شے ولے الله لره منی ۱۲

له کافرانو د پاره بد صفت دے چه شرک وی او د باری تعالی لوئے صفت دے چه په هر څه قدرت والا دے او په هر څه
پوهه دے ۱۲ ؎۲ دا قانون دے د تاخیر د عذاب یعنی که باری تعالی په ګناه خلق نیولے نو انسان به د ګناه په

هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾

ذلت نه یا ئے ښخوی په خاوره کښے - خبردار بد دے هغه څه چه دوی یے حکم کوی -

لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ الْمَثَلُ

د هغو د پاره چه ایمان نه راوړی په آخرت باندے بد مثال دے - او الله لره دے صفت

الْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٠﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِم

لوئے - او دے زبردست او حکمت والا دے - او که نیولے الله خلقو لره د دوی په ظلم سره نو

مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَابَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى

نه پریخوده به په زمکه باندے ژوندی سر لیکن وروستو کوی دوی لره تر نیټے مقررے پورے -

فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾

نو کله چه راشی نیټه د دوی نو وروستو به نه شی دوی یو ساعت او نه به مخکښے شی -

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ أَنَّ

او جوړوی دوی الله لره هغه څه چه دوی ئے نه خوښوی او بیانوی ژبے د دوی دروغ چه دوی

لَهُمُ الْحُسْنَىٰ ۖ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَأَنَّهُم مُّفْرَطُونَ ﴿٦٢﴾ تَاللَّهِ

لره خوشحالی ده - خامخا دوی لره اور دے او دوی به ورته تیلو کړے شی - قسم دے چه

لَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ

یقیناً ما لیږلی دی رسولان جماعتونو ته مخوا ستا نه نو ښائسته کړل دوی ته شیطان ګندہ اعمال د دوی

فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ

نو هغه ملګر د دوی دے نن او دوی لره عذاب دے دردناک - او نه دے نازل کړے مونږ تا ته

الْكِتَابَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً

کتاب چه بیان کړے دوی ته هغه شے چه دوی اختلاف کوی په هغه کښے او خو نه دے او مهربانی ده

خلق نیولے نو انسان به د ګناه په
وجه ختم شوے وه او نور
ژوندی سر غونی د انسان د پاره
وی نو هغه به هم ختم شوی
وے لیکن د عذاب د پاره
وخت مقرر دے ۱۲
؎۳ کله چه وخت د عذاب
راشی نو بیا به یو لمحه لیټ
نه وی۔ لَا يَسْتَقْدِمُونَ ذکر
شوے دے د تاکید د پاره
ګله د وکیلا نه اراده ده چه د
دے شی په نرخ کښے یو شے
نیشتے ۱۲
؎۴ دا زورنه ده چه دوی
ځیلو ته رټا توکښے شریک
یا په ګمان ژوند آور به ګټری
او مالره چوکوی او بیا هم
کوی چه دا دین دے او په
دے کښے ثواب دے دا سے نه
ده بلکه دوی لره اور دے
دوی به د غه اور ته په غر د
کښے او وصله شی ۱۲
؎۵ دا داعی حق ته تسلی
ده چه منکران چه ستا نه
خلاف کوی دا څوا سے
دستور دے لیکن ته ورته
بیان کوه په هغه مسئله کښے
چه دوی پکښے خلاف کوی
(فائده) معلومه شوه
چه نبیان د نیا ته راغلی
دی چه په اختلافی مسئله
کښے د الله تعالی فیصله بیان
کړی او کفران کار هم دا بیان
دے د اعلم غواړی او جګړه
ده کښے لیکن د باری تعالی
دوستانو له جګړو ته سر
نیولی دے ۱۲

ے وادغه دا د خدائے تعالیٰ د وحدانیت څهٔ هم صاف دلیل دے په دے دلیل کښې د باری تعالیٰ د لوئے قدرت مظاهره ده چه
ښاروی هغه پیدا کړی دی یو ګیډه ده په کښې وینه او غوشان دی او په کښې پئ دی دا پئ د دغه کیدو د دوی

لِقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿٦٤﴾ وَاللّٰهُ اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحۡيَا بِهِ

هغه قوم ته چه ایمان راوړی - او الله وروی باران د آسمان نه نو تازه کړو په هغه سره

الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّسۡمَعُوۡنَ ﴿٦٥﴾

زمکه پس د شړ کیدو نه - یقیناً په دے کښې دلیل دے د هغه قوم د پاره چه حق آوری -

وَاِنَّ لَـكُمۡ فِى الۡاَنۡعَامِ لَعِبۡرَةً ؕ نُسۡقِيۡكُمۡ مِّمَّا فِىۡ بُطُوۡنِهٖ مِنۡۢ

او یقیناً تاسو له په څارو کښې عبرت دے - سکوو تاسو د هغه شی نه چه په ګیډو د دوی کښې دے

بَيۡنِ فَرۡثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيۡنَ ﴿٦٦﴾ وَمِنۡ

د میږو د غوشانو او وینے نه پئ صاف چه آسان تیریږی سکونکو له - او د

ثَمَرٰتِ النَّخِيۡلِ وَالۡاَعۡنَابِ تَتَّخِذُوۡنَ مِنۡهُ سَكَرًا وَّرِزۡقًا

میوو د کجورونو او د انګورونو نه جوړوئ ترے تاسو د نشے شے او رزق

حَسَنًا ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ﴿٦٧﴾ وَاَوۡحٰى رَبُّكَ

ښهٔ - یقیناً په دے کښې دلیل دے د هغه قوم د پاره چه پوهیږی - او حکم او کړو ستا رب

اِلَى النَّحۡلِ اَنِ اتَّخِذِىۡ مِنَ الۡجِبَالِ بُيُوۡتًا وَّمِنَ الشَّجَرِ وَ

مچۍ ته چه جوړ وه په غرونو کښې کورونه او په او نو کښې او د

مِمَّا يَعۡرِشُوۡنَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِىۡ مِنۡ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسۡلُكِىۡ سُبُلَ

د هغه شی نه چه دوی کګری - بیا خوره د هر قسم میوے نه او ځه په لار د

رَبِّكِ ذُلُلًا ؕ يَخۡرُجُ مِنۡۢ بُطُوۡنِهَا شَرَابٌ مُّخۡتَلِفٌ اَلۡوَانُهٗ فِيۡهِ

رب ستا کښې چه صافې دی - راوځی د ګیډو د هغے نه د سکلو شے چه مختلف دے رنګ د هغے په دے

شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿٦٩﴾ وَاللّٰهُ

کښې شفا ده خلقو له - یقیناً په دے کښې دلیل دے د هغه قوم د پاره چه فکر کوی - او الله

او د وینے رنګ او د غوشانو بوئ او خوند پکښې نیشتے او دا سے اعلیٰ غذا ده چه په مرئ کښې آسان تیریږی نبی کریم صلے الله علیه وسلم چه به چرته څه خوړل او پئ به نه وو نو دا سے دعا به ئے غوښته چه الله ماله په د طعام کښې برکت راکړه او ماله د دے نه ښهٔ خوراک راکړه او کله چه به پئ وو نو بیا به ئے دا سے دعا غوښته چه اے مولیٰ ماله په دے طعام کښې برکت راکړه او ماله دا طعام څیر راکړه معلومه شوه چه پئ ښهٔ طعام دے او دغسے ګبین د چه الله تعالیٰ ئے صفت کړے دے ۱۲ ؎ شراب ترے مراد دی په دغے وخت کښې شراب لا نه وو حرام ؛ د رزق حسن ؛ نه مراد سرکه ده د سرکے د صفت نه راسیخونو معلومه کړه چه شراب د باری تعالیٰ په نزد ښهٔ نه دی ۱۲ ؎ چه په چا کښې عقل وی نو د وینه د الله تعالیٰ وحدانیت معلومولے شی معلومه شوه چه بد عتیان او مشرکان بے عقله دی ۱۲ ؎ کنده ده د چه وند ۱۲ ؎ د مچۍ نه خیله لار نه خطا کیږی ۱۲ (رقائق) یو حکیم د شیشے

د د چوړ کړو د نو چه مچۍ د رلو راخلے او له ئے د دغه نه اخایئ کړو بیائے کار شروع کړو ۱۲ ؎ یو صحابی مریض وه نو نبی کریم صلے الله علیه وسلم او فرمائیل چه ګبین ورکړئ نو دستونړے جهٔ زیات شو بیا ئے او فرمائیل چه نور ورکړئ او دا ئے او فرمائیل چه الله تعالیٰ رشتونے د کړ پانے په دے (۳۹۵)

[illegible]

خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ

پیدا کړی یئ بیا تاسو مړه کوي او ځینې ستاسو نه داسې دی چې وګرځولی شي طرف د ډېر زوړ عمر ته

لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝ وَاللّٰهُ

چه معلوم نه کړی پس د علم نه هیڅ شی - یقیناً الله پوهه قدرت والا دے - او الله

فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلٰي بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِيْنَ فُضِّلُوْا

غوره کړي یئ ځینې ستاسو په ځینو باندې په رزق کښې - نو نه دي هغه کسان چې غوره کړی شوي دي

بِرَاۗدِّيْ رِزْقِهِمْ عَلٰي مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيْهِ سَوَاۗءٌ ۭ

ورکوونکي د رزق خپل په هغو چه دي د هغوي په لاس کښې چه دوی په هغه کښې برابر شي -

اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ۝ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ

آیا د نعمت د الله نه انکار کوي؟ او الله پیدا کړي دي تاسو له ستاسو د جنس نه

اَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ بَنِيْنَ وَحَفَدَةً وَّ

بیبیانې او پیدا کړي دي تاسو له د بیبیانو ستاسو نه ځامن او نمسي او

رَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۭ اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ

ورکړي ئې دي تاسو له روزي ستره - آیا په باطلو باندې ایمان راوړي او د الله په نعمت

هُمْ يَكْفُرُوْنَ ۝ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ

منکر کیږي - او عبادت کوي دوی سوا د الله نه د هغو چه مالکان نه دي

لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْـــًٔا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ۝

دوی له د رزق د آسمانونو او د زمکې نه د هیڅ شي او نه یې طاقت لري -

فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ

نو مه بیانوئ الله له مثالونه - یقیناً الله پوهیږي او تاسو

[illegible]

لے واضح اول مثال دے چہ غیر اللہ مملوک دے عاجز او مولیٰ قادر دے او مہربان دے دواړه برابر نه دی

لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۴﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ عَلٰى

نه پوهیږئ - بیان کړیدے الله مثال د بنده مملوک چه قادر نه وی په هیڅ

شَيْءٍ وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا

شی او د هغه چا چه مالدار کړی دے هغه د خپل طرفه رزق ښه نو هغه خرچ کوی د هغه نه پټ

وَّجَهْرًا ۭ هَلْ يَسْتَوٗنَ ۭ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۭ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾

او په ښکاره - آیا دواړه برابر دی؟ ټول صفتونه الله لره دی - بلکه زیات د دوی نه پوهیږی

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى

او بیان کړیدے الله مثال د دوو سړیو د دوی نه یو ګونګے دے او عاجز نه وی قادر په هیڅ

شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰىهُ ۙ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ ۭ

شی او دے بوج وی په خپل مولیٰ باندے - چرته چه رواں کړی نو نه راوړی خیر لره -

هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ ۙ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ

آیا برابر دے دے او هغه څوک چه حکم کوی په انصاف سره - او دے په لار د

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۷۶﴾ وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَمَآ اَمْرُ

برابر وی - او صرف الله لره دے غیب د آسمانونو او د زمکے - او نه دے کار د

السَّاعَةِ اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى

قیامت مګر د سترګے د رپ دے بلکه نزدے دے - یقیناً الله په هر شی

څنډم په دې پاڼې په بیزو خپلو ته او ما لره په دې کښے نور مقصدونه دي - الله او ویل چه او غورزوه دا

یٰمُوْسٰى ﴿١٩﴾ فَاَلْقٰىهَا فَاِذَا هِیَ حَیَّةٌ تَسْعٰى ﴿٢٠﴾ قَالَ خُذْهَا وَ لَا تَخَفْ

اے موسیٰ - نو او ئې غورزوله نو ناڅاپه هغه مار وه منډې ئې وهلے - الله او ویل او نیسه دا او مه ویریږه

سَنُعِیْدُهَا سِیْرَتَهَا الْاُوْلٰى ﴿٢١﴾ وَ اضْمُمْ یَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ

زه به واپس کووم دا لره حالت اول ته - او یو ځائے کړه لاس خپل ترخ خپل ته را به اوځي

له موسیٰ علیه السلام پوهه شو چه پاکے نه وے. مسئله: په پاکو پڼو سره مونځ جائز دے نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ما تمه کښے پڼو سره او ویستلے نو اصحابو هم او ویستلے نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته او وے چه ما پڼو کښے نوټا پاکے وو جبرئیل علیه السلام زه خبر کړم نو ما هغه او ویستے معلومه شوه چه غیبدان صرف الله تعالیٰ دے - سته دا د توحید مسئله ده واخلئ استنباطونه چه د مونځ دے مسئلے د پاره دی ١٢ سته په ماتمه سره اصلا ... بیه اکیری په انسان کښے شه دا د عذاب اخروي بیان دے ١٢ سته د قیامت متعین وخت باري تعالیٰ چا ته نه دے ښودلے دومره په روایتو کښے راغلي چه اول شپېلۍ په د جمعې په ورځ او د آسمان په ... کښے په لسم تاریخ دی نو کال نه دے معلوم ١٢ سته د دینه مقصود ښکاره کول وو موسیٰ علیه السلام ته چه ته ورته او ګوره چه دا هغه همسا ده چه ستا په کار ده او کړے به ئې نو هغه او وشي چه هم هغه وه خو ورته او وګوره چه دے لره او شومره د د پاره تو عجبه چه په موسیٰ علیه السلام اشتباه را نه شي چه دا خو په ...

نه وي خوره چه بیا په لاس ښکاره کیږي ... ١٢ سته ناڅاپه هغه مار شو معلومه شوه چه معجزه په قدرت د نبی کښے نه وي. ١٢ سته موسیٰ او وے ... د غه کرامت هم د ولي په لاس کښے نه وي ١٢ (پاتے په ص ٤٥١)

باندې د دغه (۲۵ نه) او نیسم مارد ے نو الله تعالیٰ فرمائي چه دغه و بیرېږه په دے کښې باری تعالیٰ مخلوق ته خان چه تی دې خو کامل قدرت والا او توله علم والا دے قدرت کامله او علم محیط خاصه د باری تعالیٰ ده - شاه صاحب فرمائي چه

بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ اٰيَةً اُخْرٰى ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرٰى ﴿٢٣﴾

سپینه بې د نقصان نه واخله دویمه نښه - د پاره د دے چه اوښایو تا ته لوئے لوئے د نښو نه زمونږ

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِىْ صَدْرِىْ ﴿٢٥﴾ وَ

لاړ شه فرعون ته بیشکه سرکشه شوے دے - موسیٰ اووئیل اے ربه زما پراخه کړه ماله سینه زما او

يَسِّرْ لِىْٓ اَمْرِىْ ﴿٢٦﴾ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِىْ ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِىْ ﴿٢٨﴾

آسان کړه ما ته کار زما او پرانیزه غوټه د ژبے زما - چه پوهه شی په خبره زما -

وَاجْعَلْ لِّىْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِىْ ﴿٢٩﴾ هٰرُوْنَ اَخِى ﴿٣٠﴾ اشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِىْ ﴿٣١﴾

او وګرځوه ماته وزیر د اهل زما نه - هارون ورور زما - مضبوطه کړه په ده سره ملا زما -

وَاَشْرِكْهُ فِىْٓ اَمْرِىْ ﴿٣٢﴾ كَىْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّكَ

او شریک کړه دے په کار زما کښې - چه پاکی بیانوو ستا ډیره - او یاد وو تا ډیر - یقیناً ته یے

كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا ﴿٣٥﴾ قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ

مونږ لره لیدونکے - الله اووئیل یقیناً منظور شو سوال ستا اے موسیٰ - او یقیناً ما

مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰٓى ﴿٣٧﴾ اِذْ اَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّكَ مَا يُوْحٰٓى ﴿٣٨﴾ اَنِ

احسان کړے دے په تا دویم ځل - کله چه ما حکم اوکړو مور ستا ته (په الهام) کوم چه ورته حکم اوشو -

اقْذِفِيْهِ فِى التَّابُوْتِ فَاقْذِفِيْهِ فِى الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ

چه اوغورزوه دے په صندوق کښې بیا اوغورزوه دغه په دریاب کښې نو دریاب به یے غاړے ته واچوی

يَاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّىْ وَعَدُوٌّ لَّهٗ ؕ وَاَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّىْ ۚ۬ وَلِتُصْنَعَ

واخلی به دغه لره دشمن زما او دشمن د ده او ما اوغورزوله په تا باندې مینه د خپل طرف - او چه پاله شے

عَلٰى عَيْنِىْ ﴿٣٩﴾ اِذْ تَمْشِىْٓ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ

د سترګو زما - کله چه تله خور ستا نو وے وئیل آیا او ښایم تاسو ته هغه څوک چه

موسیٰ علیه السلام ته اسان دو مال چا بیره کړو نو الله تعالیٰ ورته او فرمائیل چه دا رومال تا یو کولے شی نو موسیٰ علیه السلام او وئیل چه تا خوزه د انسان د عاجزۍ د انسان سره تواضع خوښه خو نه کوی لکه چه د خدائے تعالیٰ سره تکبر خوښ کوی (د دے مخ) ۲ نه هلاکت د فرعون مراد دے ۱۲

۳ نه یعنی ماله فصاحت راکړه چه ستا مسئله قوم ته رسولے شم ربانه دی د ژبے د فصاحت د پاره دا مقبوله دعا ده ۱۲ ۴ نه ستا یکوالے او پاکی به بیانوو خلقو ته او تا به یاد وو خلقو ته ځکه خلق مخلوق دی او هغه ورته یاد وی او خالق ترے نه هیر دے نو مونږ به مخلوق ته تا یاد وو چه مخلوق څه نه شی کولے او خالق هر څه کولے شی او په هر څه پوهه دے نو حاجتونه صرف د هغه نه غواړی نه د مخلوق نه ۵ نه یعنی دا سوال د ے هم منظور دے او ما په تا باندې بل هم احسان کړے دے ۱۲

۶ نه په موسیٰ علیه السلام په خلق مینه کیدل اَللّٰهُمَّ اَلْقِ فِىَّ مَحَبَّةً مِّنْكَ په واچیره پسه د عاده ۱۲

له په جدائۍ د موسیٰ علیه السلام غم وه او غم په هغه چا وو چه نابلده وو او په کور کښې د موسیٰ علیه السلام ۱۲ ؎ معلومه شوه چه په موسیٰ علیه السلام غم وه او غم په هغه چا وو چه نابلده وو، د موسیٰ علیه السلام طرف باری تعالیٰ وه مواعید او کوونکے د خپلو دوستانو سره ده طرف باری تعالیٰ وے ورته

يَكْفُلُهُ ۚ فَرَجَعْنَاكَ إِلَىٰ أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ۚ وَقَتَلْتَ

او پال به یې. نو واپس مو کړې ته مور ستا ته چه یخې شي سترګې د هغې او خفه نه شي. او ته مو کړے وو

نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ فُتُونًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِي

یو سړے نو مونږ بچ کړې ته لره د دغه غم نه او ازمیښت مو وکړو ستا لره د قسم قسم تکلیفونو نو حصار شوې وې کالونو په

أَهْلِ مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَا مُوسَىٰ ﴿٤٠﴾ وَاصْطَنَعْتُكَ

اهل د مدین کښې بیا راغلې (د خدائې) په تقدیر سره اے موسیٰ. او ما جوړ کړې ته لره

لِنَفْسِي ﴿٤١﴾ اذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِآيَاتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي ﴿٤٢﴾

د ځان د پاره. لاړ شه ته او ورور ستا سره د زما نښو ته او سستي مه کوئ په یاد زما کښې.

اذْهَبَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾ فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ

لاړ شئ فرعون ته یقیناً هغه سرکش شوے. نو او وایئ هغه ته خبره نرمه امید دے چه هغه سوچ وکړي

أَوْ يَخْشَىٰ ﴿٤٤﴾ قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَا أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴿٤٥﴾ قَالَ

یا او ویریږي. هغوئ او وئیل اے ربه زمونږ یقیناً مونږ ویریږو چه زیاتے به اوکړي په مونږ یا به زیات شي سرکشۍ کښې. او وئیل

لَا تَخَافَا ۖ إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾ فَأْتِيَاهُ فَقُولَا إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ

الله او مه ویریږئ یقیناً زه ستاسو سره یم اورم او وینم. نو لاړ شئ هغه ته نو او وایئ چه مونږ رسولان یو د رب ستا

فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ۖ قَدْ جِئْنَاكَ بِآيَةٍ

ستا نو اولیږه زمونږ سره بني اسرائیل او عذاب مه کوه دوی لره. یقیناً مونږ راوړې ده تا ته

مِّن رَّبِّكَ ۖ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ ﴿٤٧﴾ إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَا

دلیل د رب ستا نه. او سلام دې وي په هغه چا چه تابعداري کوي د هدایت. یقیناً وحی شوې ده مونږ ته

أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَا مُوسَىٰ ﴿٤٩﴾

چه عذاب به په هغه چا وي چه دروغژن کوي (رسولان) او مخ اړوي. او وئیل هغه څوک دے رب ستاسو اے موسیٰ!

ورو ته چیلو کا رو نو کښې اسبا بو ته بتا به نه وے په خلاف د نورو نه چه هغوی صرف ازده کولے شي په اعتبار د اسبابو ۱۲
۳؎ د قتل د سره بچ او بل تشدد د قبطي او لار ورکیده وغیره ۱۲
۴؎ موسیٰ علیه السلام او ورپسے لا پو ا و پیغمبري ورته ملاؤ شوه په تقدیر د الله تعالیٰ سره ۱۲
۵؎ یعنې ما مخلوق ته یاد وئ او سستي مه کوئ ځکه د مخلوق د زړه هیریږي او مخلوق ورته یاد وي یعنې مخلوق ته وایئ چه ما یاد د پیوره کوونکے یے د الله تعالیٰ نه بله څوک نیشته ۱۲
۶؎ دا اول وخت دے چه په دے کښې نرمي وه او د لا تطغٰی یا فرعون مشهورا اریخا اسرائیل ... اخر وخت دے د دعوت چه طمع د ښه کیدو نه وي نو په د غه وخت سختي مناسب وي ۱۲
۷؎ یعنې سوچ به او کړي او حق به او مني او یا به بلا سوچه او مني ۱۲
۸؎ یعنې حق به وا وري او انکار به او کړي یا به د سره حق نه غوږ کیږده وي
۹؎ یعنې زماني او مکاني معیت مراد نه دے ځکه چه باري تعالیٰ زماني او مکاني نه دے ۱۲ ۱۲

ـــــه هر شي ته صفة مناسب وجود ورکړے وے بیا ئے هغه ته په طرف د اسبابو د میشت لار خودلے ده ۲. ـــــه یعنی مخکني خو

دلیل عقلی — جواب ـ دعوه

قَالَ رَبُّنَا الَّذِيٓ أَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ۞ قَالَ فَمَا بَالُ

هغه اووے رب زمونږ هغه ذات دے چه ورکړے ئے هر شي ته صورت جوړښت بیا ئے ورته لار خودلے ده ۔ ـــــه ئے وے نو څه حال دے د

الْقُرُوْنِ الْأُوْلٰى ۞ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ فِيْ كِتٰبٍ ۚ لَا يَضِلُّ رَبِّيْ

قامونو ډیرو وړومبو (هغوی له نه مخلوق موسیٰ) ـــــه ئے ووئیل علم د هغوی په نزد د رب زما دے په کتاب کښے ۔ نه غلطیږی رب زما

وَلَا يَنْسَى ۞ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَّسَلَكَ لَكُمْ فِيْهَا

او نه ترے هیریږی ۔ هغه کر خوړونکے د تاسو لره زمکه فرش او جوړے کړے ئے د تاسو لره په هغې کښے

سُبُلًا وَّأَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۗ فَأَخْرَجْنَا بِهٖٓ أَزْوَاجًا مِّنْ نَّبَاتٍ

لارے ۔ او وروی د آسمان نه باران ۔ نو را اوباسو په هغه سره اقسام د مختلفو کیاه

شَتّٰى ۞ كُلُوْا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ ۗ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّأُولِي النُّهٰى ۞

مختلفو ۔ خورئ او څروئ څاروی خپل ۔ یقیناً په دے کښے دلیلونه دی عاقلانو لره ۔

مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرٰى ۞

د دغه خاورے تاسو لره پیدا کړی دی او دغه ته به واپس کوو تاسو او د دغے نه را اوباسو تاسو لره بیا ځل ۔

وَلَقَدْ أَرَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبٰى ۞ قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا

او یقیناً ما او ښودل هغه ته دلیلونه خپل ټول نو دروغجن ئے کړل او انکار ئے او کړو ۔ او هغه ووئیل آیا راغلے ئے مونږ

مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يٰمُوْسٰى ۞ فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ

چه اوباسے مونږ د زمکے خپلے نه په سحر خپل سره اے موسیٰ ! نو بیشکه به کړو تا ته سحر په شان د ده نو مقرر کړه

بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ وَلَآ أَنْتَ مَكَانًا سُوًى ۞

په مینځ زمونږ او ستا کښے وعده چه خلاف به نه کوو د هغے مونږ او نه تاسو په میدان صاف کښے ۔

قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّيْنَةِ وَأَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ۞ فَتَوَلّٰى

هغه اووے وعده ستاسو ورځ د اختر ده او چه جمع شی خلق په غرمه کښے ۔ نو واپس شو

ـــــه یعنی مخکنی خو خلقو د مسئلے نه ده منلے نو هغه تپوس کا فرشو مقصود د فرعون خلق و د ته قبرول وو نو موسیٰ علیه السلام ورته جواب ورکړو چه د هغوی څه ندی خبره د هغوی علم الله سره دے ۔

ـــــه دا ارشاد الٰهی دے چه باری تعالیٰ داسے لوئے ذات دے چه زمکه ئے فرش کړے پیدا او په هغې کښے ئے لارے جوړے کړے دی او د آسمان نه باران وروی ۔

ـــــه په دے کښے باری تعالیٰ خپله خبره شروع کړے مخکښے هغه ئے غائب کړے وه د دے ته التفات وائی د غیبت نه تکلم ته په دے خبره عالمان پوهیږی ۔

ـــــه د مور په کیده کښے د انسان د قبر خاوره د نطفے سره شریک شی ۔

ـــــه د موسیٰ علیه السلام خپل خدائے اعتماد وه نو هغه ورته وخت مقرر کړو د اختر د ورځے غرمه چه خلق جمع شی او تپوس خلق د موسیٰ علیه السلام صداقت او وینی ۔

له د موسیٰ علیه السلام او اجلال کلام چه هغوی واوریده نو په هغوی رعب راغی هغوی ووې چه دا سړی ربانی دی د ده سره مقابله نه ده پکار فرعون د دې معاملې نه خبر شو نو هغهٔ په دوی پسې سړي راولیږل او دوی له یې طمع ورکړه او ویې ویل

فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُ ثُمَّ أَتَىٰ ۝٦٠ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا

فرعون نو هغه جمع کړو خپل ټول تدبیر بیا راغی - او وویل هغوی ته موسیٰ ؑ افسوس دې شي په تاسو مه جوړوئ

عَلَى اللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ ۝٦١

په الله دروغ نو فنا به کړي تاسو په عذاب سره - او بې برخې شو هغه چه دروغ یې جوړ کړل -

فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّوا النَّجْوَىٰ ۝٦٢ قَالُوا إِنْ هَٰذَانِ

نو جګړه او کړه دوی په کار خپل کښې نو هغوی پټه او کړه جرګه (نو بیا ټاکره فیصله وشوه) او وویل هغوی دا دواړه

لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ

ساحران دي غواړي چه او باسي تاسو له وطنه ستاسو نه په سحر خپل سره او ختم کړي رواج ستاسو

الْمُثْلَىٰ ۝٦٣ فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا ۚ وَقَدْ أَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ

غوره - نو جمع کړئ تدبیر خپل بیا راشئ په قطار سره - او کامیاب دی نن هغه څوک چه

اسْتَعْلَىٰ ۝٦٤ قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ أَوَّلَ

غالب شي او کړه - هغوی وویل اې موسیٰ یا ته غورزوه او یا موږ یو اول غورزوونکي

مَنْ أَلْقَىٰ ۝٦٥ قَالَ بَلْ أَلْقُوا ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ

یو - هغه او وویل بلکې تاسو او غورزوئ - نو په دغه وخت رسۍ د دوی او همساګانې د دوی په خیال کښې

إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ۝٦٦ فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَىٰ ۝٦٧

ده ته د سحر د دوی نه چه دا منډې وهي - نو راوسته په زړه کښې ویره موسیٰ

قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَىٰ ۝٦٨ وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا

ما او ووې چه مه ویریږه یقیناً ته غالب یې - او او غورزوه هغه چه په ښي لاس کښې دي تیر به کړي

صَنَعُوا ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ۝٦٩

هغه چه دوی جوړ کړي دي - یقیناً هغه څه چه دوی جوړ کړي دي مکر د ساحر دی - او نه کامیابیږي ساحر کوم ځای چه ورشي

له پیږي حم او کړه نو د فرعون په تاثیر سره دوی او وې چه دوی ساحران دي او تاسو د زمکې نه او باسي او ستاسو چلن ختموي یعنې ستاسو چه کوم رواج دې په خلقو کښې چه تاسو له خلق مال ورکوي دوی دا رواج ختموي او خپل رواج قائموي یعنې دین د دوی مقصود دنده دې مرق ونیوی اقتدار غواړي ۔ رفا لګه د هر یو زمانې باطل خلق په حق پرستو باندې دا تهمت لګوي۔
له دې ساحرانو ادب او کړو د موسیٰ علیه السلام نو ایمان یې نصیب شو لیکن مقابله دوی او کړه د موسیٰ علیه السلام سره نو ځکه د دوی خپې او لاس شو باري تعالیٰ خوځ کړل دغه څوک چه د حق مقابله کوي نو هغه په عذابیږي او څوک چه د داعي د حق ادب کوي نو هغه کامیاب کیږي۔
له دا ویره په سبب د بشریت سره ده نو معلومه شوه چه قدرت کامله الا نه ځي او دا ویره ورته هم پیښه شوه چه خلق به دا سحر او وبنې نو ګمراه به شي چه د سحر او د معجزې فرق به او نه کړي۔

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوٓا آمَنَّا بِرَبِّ هٰرُونَ وَمُوسٰى ﴿٧٠﴾ قَالَ

نو وغورزول شو ساحران سجده کښې هغوی وویل ایمان راوړی دے مونږ په رب د هارون او موسیٰ. وفرمایل ورته

آمَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۖ

آیا ایمان راوړو تاسو په ده مخکښې د هغې نه چې اجازت درکړم زه تاسو ته. یقیناً دغه مشر ستاسو دے چې ښودلے ئې دے تاسو ته سحر

فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي

نو خامخا به پرې کړم لاسونه ستاسو او خپې ستاسو اړول بدل، او په سولۍ به کړم تاسو په

جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقٰى ﴿٧١﴾ قَالُوا لَن

وڅو د کجورو کښې. او تاسو به پوهه شئ چې څوک زمونږ سخت دے په عذاب کښې او همیشه دے. هغوی ووې چې

نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَا جَآءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا ۖ فَاقْضِ مَآ أَنتَ

هیڅ کله به غوره کوو تا له په هغه چې راغلې دي مونږ ته دلیلونه او په هغه ذات چې مونږ ئې پیدا کړي یو. نو

قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَآ ﴿٧٢﴾ إِنَّآ آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا

پوره کړه هغه چې کوونکے ئې یقیناً ته حکم کوې په دې ژوند د دنیا کښې. یقیناً مونږ ایمان راوړے دے په رب خپل چې معاف کړي

خَطٰيٰنَا وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ۗ وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَأَبْقٰى ﴿٧٣﴾ إِنَّهُۥ

مونږ ته گناهونه او هغه شی چې تا زور کړې وه په مونږ چې سحر کړو. او الله غوره دے او همیشه دے. یقیناً څوک

مَن يَأْتِ رَبَّهُۥ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ ۖ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿٧٤﴾

چې راشي رب خپل ته مجرم نو یقیناً هغه له دوزخ دے. نه به مړ کیږي په هغه کښې او نه به ژوندي وي

وَمَن يَأْتِهِۦ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَأُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ

او څوک چې راشي الله ته مؤمن چې هغه نیکي کړې وي نو دوی له لوړې درجې

الْعُلٰى ﴿٧٥﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا ۚ

دي. چې باغونه دي د اوسیدو چې بهیږي به لاندې د هغوئ ویالې همیشه به وي په هغو کښې

ك ساحرانو ته معلومه کړه چې دا د عصا د مارجوړیدو دا سحر نه دے ځکه د سحر د پاره چې اسباب وي او دلته هیڅ د پاره هغه اسباب نه وو.

ك يعني د دے ستاسو استاذ دے او دے ته تاسو ټول چې د دے نه ستاسو دوکه ده په دے خبره فرعون خلقو له دوکه ورکول.

ك دوی ورته ووے چې مونږ په حق پوهه شوي یو مونږ تا له اخلو د خپل مولیٰ په بدل کښې.

ك يعني د ایمان په ذریعه زمونږ گناهونه دے مولیٰ معاف کړي او فرعون چې په مونږ زور د سحر کړے د هغه هم معاف کړي.

ك دا د عذاب د آخرت بیان دے يعني د مجرمانو د پاره جهنم دے نه به ئې پکښې مرگ وي چې د عذاب نه خلاص شي او نه به ئې ژوند د عیش وي.

ك دا د مؤمنانو د پاره زیرے دے.

شو نه د دشمن نه ویریږي چه تاسو لا ندې کړي او نه به د دریاب نه ویریږي چه تاسو غرق کړي ۱۲ ؎ فرعون به په خپل قوم وباندې کاوه چه زه تاسو ته سمه لار ښایم سورت مؤمن ایت ۲۹ کښې دي وَمَا اَهْدِيْكُمْ اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ۱۲

وَذٰلِكَ جَزَآؤُا مَنْ تَزَكّٰى ۝ وَلَقَدْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ

او دا بدله د هغه چا ده چه ځان پاک کړي (د شرک نه) او یقیناً ما وحی وکړه موسیٰ ته چه بوځه د شپې

بِعِبَادِيْ فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيْقًا فِى الْبَحْرِ يَبَسًا ۙ لَّا تَخٰفُ دَرَكًا

بندګان زما نو جوړه کړه دوی لره لار په دریاب کښې اوچه — نه به ویریږې د رانیولو نه

وَّلَا تَخْشٰى ۝ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ

(د دشمن) او نه به ویریږي (د دریاب نه) نو روان کړے په دوی پسې فرعون لښکرې خپلې نو پټه کړه دوی د دریاب

مَا غَشِيَهُمْ ۝ وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهٗ وَمَا هَدٰى ۝ يٰبَنِيْٓ

هغه چه پټه کړله دوی او غلط کړه فرعون قوم خپل لره او خوند ئې ورته ورنه کړو — اے بنی

اِسْرَآءِيْلَ قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ الطُّوْرِ

اسرائیلو یقیناً ما بچ کړل تاسو لره د دشمن ستاسو نه او ما وعده وکړه د تاسو ښی طرف د طور

الْاَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ۝ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ

او ما راښکته کړی دی تاسو ته مَنّ او سلوىٰ — خورئ د مزیدارو هغه

مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيْهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَمَنْ

شیانو چه ما درکړي دي تاسو او سرکشي مه کوئ په هغه کښې نو نازل به شي په تاسو باندې غضب زما — او چا چه

يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ۝ وَاِنِّيْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَ

نازل شو غضب زما نو یقیناً هغه هلاک شو — او یقیناً زه بخښونکے یم هغه چا لره چه توبه او باسي او

اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ۝ وَمَآ اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ

ایمان راوړي او وکړي نیکي بیا ټینګ شي په سمه لاره — او څه شي تادي او کړې ته د قوم ستا نه

يٰمُوْسٰى ۝ قَالَ هُمْ اُولَآءِ عَلٰٓى اَثَرِيْ وَعَجِلْتُ اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ۝

اے موسیٰ — موسیٰ اوویل دوی دغه دی زما په قدم باندې او ما تادي اوکړه تا ته اے ربه چه ته خوشحاله شې

ده تاسو ته سمه لار ښایم ۱۲ ؎ نو وروسته د هغې ۱۲ ؎ په هغه وخت په موسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ لې تورات نازلول ۱۲ ؎ کله چې موسیٰ علیه السلام طور ته روان وه سره د بعضې مشرانو د قوم نه نو هغه مقام خاص ته په نږدې شو نو د ډیر شوق نه موسیٰ علیه السلام ابرته مخکښې او رسیده و نو باري تعالیٰ ترې نه تپوس اوکړو چه تا ولې تادي اوکړه نو هغه اووے چه دوی دغه دی زما په قدم او ما تادي اوکړه چه ته خوشحاله شې نو باري تعالیٰ ورته اوفرمایل چه په دوی پسې وروسته سامري د هغوی د ګمراهۍ سبب وشه نو موسیٰ علیه السلام په قهر او په افسوس سره واپس شو معلومه شوه چه هغه څه ناروا وو او دی دوه لره قهر ورشی او ارمان اوکړی چه دا ناروا وشه نو دا سنت د انبیاؤ دی او چه چرته ناروا نه کوي لیکن په ناروا خفه نه وي او د هغه د روغ سره کوه نو هغه اهل سنت وي چه هم د هغوی ناروا لو نکو سره شریک وشه ۱۲

ـه یعنی تاسو سره خو باری تعالیٰ وعده کړې وه د تورات نو تاسو ولې د سامری په فریب کښې راغلئ (فائده) د سامری خیل نوم موسیٰ ؤ دا دے منافق وه خلق به یې د موسیٰ علیه السلام نه غلا کول دا دے د سمیر قوم وه ۱۲

ـه دے بنی اسرائیلو به مصر کښې د قبطیانو نه د ستورو کالو استعمال کولو پاره د وی سوال سره کالی غوښتلی وو د واده د پاره د قبطیانو نو هرکله چه د بحر قلزم نه پورې شوا و موسیٰ علیه السلام د څلویښتو ورځو د پاره کوه طور ته لاړو نو سامری قوم ته اووئی چه دا د کالو رواج خو د مشرکانو و دے نو هغو زرغونه اووئ چه څه ورسره وو اوکړه نو هغه ورته او وئے چه دا سجده نو د ایښے ترینه هغه جوړ کړو او څکه چه دوی به مصر کښې د غوا عبادت کاوه نو څکه د غوا د بچه په دوی ګرانه وه او مکښې آواز وه پکښې او مقصود د سامری دا وه چه خلق ما پسے راشی نو هغه اعلان اوکړو چه دا ستاسو خدائے دے خو د موسیٰ علیه السلام نه هیر شوے دے ۱۲

ـه الله هغه ذات دے چه نفع او ضرر د رسولے شی او دا سے خو جواب نه شی واپس کولے نو خدائے څنګه کیدے شی

قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾

نو اووئیل یقیناً ما ګمراه کړے دے قوم ستا ستا نه روستو او غلط کړے دی دوی لره سامری .

فَرَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ

نو واپس شو موسیٰ خپل قوم ته په قهر او په افسوس سره - موسیٰ اووئے اے قومه آیا نه وه کړے تاسو

رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ أَمْ أَرَدْتُمْ أَنْ يَحِلَّ عَلَيْكُمْ

سره رب ستاسو وعده ښه - آیا اوږده شوه په تاسو باندې موده ؟ آیا اراده اوکړه تاسو چه نازل شی په تاسو

غَضَبٌ مِنْ رَبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُمْ مَوْعِدِي ﴿٨٦﴾ قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ

غضب د رب ستاسو نو خلاف اوکړو تاسو د وعدې ځما نه - هغوی اووئے مونږ خلاف نه دے کړے د وعدې ستا

بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِنْ زِينَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنَاهَا فَكَذَٰلِكَ

په طاقت خپل سره لیکن بار شوی وو په مونږه بوجونه د کالو د قوم نو مونږه هغه اوغورزول نو همدغسې

أَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَهُ خُوَارٌ فَقَالُوا

اوغورزول سامری (او ورته) نو جوړ کړه هغه دوی لره سخے یو جوسه وه چه هغه لره آواز وه نو هغو اووئے

هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ

دا اله ستاسو دے او اله د موسیٰ دے - نو هغه هیر شو دے - آیا نه ګوری دوی چه نه شی واپس کولے دوی ته

قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ

جواب - او مالک نه دے دوی لره د ضرر رسولو او نفع رسولو او یقیناً وئیلی وو دوی ته هارون

مِنْ قَبْلُ يَا قَوْمِ إِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهِ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ فَاتَّبِعُونِي

مخکښې اے قومه یقیناً ګمراه شوئ په دې سره - او یقیناً رب ستاسو رحمان دے نو تابعداری اوکړئ

وَأَطِيعُوا أَمْرِي ﴿٩٠﴾ قَالُوا لَنْ نَبْرَحَ عَلَيْهِ عَاكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا

زما او منئ حکم زما - هغوی اووئے همیشه به په دې عبادت کښې مشغول یو تر دې چه واپس راشی مونږ ته

لہ د هارون علیه السلام دومره کیږه وه چه نیږدې کېده چه فتنه القدیر والا واڼي چه د کینه کول د موسیٰ نه حیا ده ول روا کړی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چه خلق ا وګرځي د مشرکانو نه او غنیمت کېږي او ساتي او بیرته نه [illegible]

مُوْسٰى ۝۹۱ قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا مَنَعَكَ اِذْ رَاَيْتَهُمْ ضَلُّوْٓا ۝۹۲ اَلَّا تَتَّبِعَنِ ؕ

موسیٰ ته . موسیٰ اووې اے هارونه تا لره څه منع کړې وه کله چې تا اولیدل دوی لره چه ګمراه شو . چه تا پسې

اَفَعَصَيْتَ اَمْرِىْ ۝۹۳ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ ۚ

راغلې [illegible] آیا نافرماني دې اوکړه د حکم زما نه - هارون اووې اے د ماشي ځوئه مه نیسه ما ږیره زما او نه سر

اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ تَقُوْلَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَلَمْ تَرْقُبْ

زه ویریدم چه ته به وائې چه تا خلاف پیدا کړو په مینځ د بني اسرائیلو کښې او صبر دې ونکړو

قَوْلِىْ ۝۹۴ قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ۝۹۵ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا

خبرې زما ته - او وې موسیٰ نو ستا څه حقیقت دې اے سامري : سامري او وې معلوم کړو ما یو شي چه نورو خلقو نه

بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ

دوه معلوم کړي - نو ما واخستو یو موټی د نقش قدم د رسول نه . بیا م وارتاوو کړو او دغسې صلاح راکړه ما ته

لِىْ نَفْسِىْ ۝۹۶ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِى الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ ۪

زما نفس . موسیٰ او وې نو ځه تا لره به تول ژوند کښې دغه سزا ده چه ته به وائې چه ما لاس مه لګوئ

وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ اِلٰٓى اِلٰهِكَ الَّذِىْ ظَلْتَ

او تا لره په آخرت کښې وعده د عذاب ده چه تا ته به خلاف او نه شي تا سره [illegible] - او اوګوره الٰه خپل ته کوم چه ګرځیدلې

عَلَيْهِ عَاكِفًا ؕ لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ فِى الْيَمِّ نَسْفًا ۝۹۷ اِنَّمَآ

ته په دې باندې په عبادت [illegible] - خامخا به وسیزو مونږ دغه بیا به یې والوزوو په دریاب کښې . یقیناً

اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ۝۹۸ كَذٰلِكَ

ستاسو حقه الٰه الله دې چه نیشته حاجت پوره کوونکې سوا د هغه نه - خاګیر دې هر شي په علم خپل کښې - دغسې

نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا

بیانوو مونږ تا ته هغه واقعات چه تیر شوي دي - او یقیناً ما درکړې تاته د طرف خپل نه

[Side column:]
د غنیمت کیږي مقدار ربع موقع وته عبد الله بن عمر په چه څوک وباړو نو کیږي به نه موقع کړه - نو د موقع نه زیات نه کیږي به صفق [illegible] په که کیږي کښې ثواب کنزل به عت دي په کفارې [illegible] کښې وڅ چه وکړې کیږي عذاب او کناه د غرضه کیږي به نه کم دے رولے چه په کمو لو کښې کناه کنګرې ۱۲

۲ے ما معلوم کړو یو شے چه نورو خلقو ته معلوم نه وه یعني سپے بو په دل ما لره تا بعد از د موسیٰ علیه السلام اوکړه بیا ما هغه پریخو د دغسې ما ته زما زړه صلاح راکړه ۱۲

۳ے نو موسیٰ علیه السلام ورته او وے چه ستا په دنیا کښې عذاب دا دے چه خوشے به او سے نو څوک چه په د سامري قوت تلو نو د به ورته چغه وهله چه په ما لاس مه لګوئ او چا چه به په ده لاس اولګولو ده نو دواړه به ناجوړه کیدل ده ګمان د موسیٰ علیه السلام په خلاف مشهور کولو نو باري تعالیٰ څکه ذلیل او بیوانه ذکړو ۱۲

۴ے یعني د آخرت عذاب نو ور لره مقرر دے خلاف به نه شي کولے ۱۲ ۱۲

۵ے دا د توحید آیت دے یعني د دے مسئلے د پاره سامرے هلاک شوا و کو د دے د وجه نه موږ حدیث مزے کوو ۱۲

۶ے دا د تشبیه د پاره باري تعالیٰ ذکر کوی ۱۲

ذِكْرًا ۝ مَنْ أَعْرَضَ عَنْهُ فَإِنَّهُ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ۝

نصیحت - چاچه مخ واړوي ددې څخه نو یقیناً به پورته کړي هغه په ورځ د قیامت بوج لره -

خٰلِدِينَ فِيهِ ۚ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ۝ يَوْمَ يُنفَخُ فِي

همیشه به وي په هغه کښې - او ناکاره دے دوی لره په ورځ د قیامت بوج - کله چه پوکے اوکړے شي په

الصُّورِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ۝ يَتَخَافَتُونَ بَيْنَهُمْ

شپیلۍ کښې او راجمع به کړو مجرمان په دغه ورځ شنه - پټې پټې خبرې به کوي په خپل مینځ کښې

إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا عَشْرًا ۝ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذْ يَقُولُ أَمْثَلُهُمْ

چه نه یئ تاسو حصار شوي مګر لس ورځې - زه پوهیږم په هغه چه دوی وائي کله چه وائي غوره د دوی په

طَرِيقَةً إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا يَوْمًا ۝ وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ

چلن کښې چه نه یئ حصار شوي تاسو مګر یوه ورځ - او تپوس کوي ستا نه د غرونو په حق کښې نو وایه ورته

يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ۝ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ۝ لَّا تَرٰى فِيهَا

چه وبه الوزوي رب زما دا غرونه خواره شوي - نو کړي به دا غرونو لره میدان صاف - ته به نه وینې په دے کښې

عِوَجًا وَلَآ أَمْتًا ۝ يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُ ۚ وَخَشَعَتِ

کوږوالے او نه غونډې - په هغه ورځ به تابعداري کوي دوی د داعي چه کږه نه ده خبره د هغه او کوزې به شي

الْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ۝ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ

اوازونه رحمان ته نو ته به نه اورې مګر کشار - په هغه ورځ به نفع نه رسوي

الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ۝ يَعْلَمُ

سفارش مګر د هغه چا چه اذن کړے وي رحمان هغه ته او خوښه کړې وي خبره د هغه - پوهیږي

مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ۝ وَعَنَتِ

په هغه څه چه مخکښې د دوی نه دي او په هغه چه روستو د دوی نه دي - او نه به شي چاپیره دوی د الله تعالیٰ لره - او عاجز

ل۱ دا د عذاب اخروي بیان دے ۱۲
ل۲ شنه سا به یعنې د هغوی به غونه به شنه سا به وي وا بدرنګ دے او ک مراد شنے سترګے شي نو د عرب په نزد شنے سترګے بد دے ومنے ځکه د دوی دشمنان رومیان وو او د هغوی سترګے شنے وے دا تحقیق روح المعاني کړے دے ۱۲
ل۳ په قیامت کښې به یو داعي آواز کوي چه را ځئ پیشی د پاره نو خلق به هغه پسے ځي ولے ارمان چه دے خلقو په دنیا کښې د داعي خبره منلے وے ۱۲
ل۴ سفارش به هله منظوریږي چه اذن شوے وي سفارش کوونکي ته او هغه مؤمن وي او چا لره چه سفارش کوي هغه به هم مؤمن وي او علم به هم وي د سفارش کوونکي په هغه چا باندے چه د هغه د پاره سفارش کوي ۱۲

سلہ نہ دَ زیادت نہ بہ یہ وکیږی او نہ دَ کمی نہ بہ نیکو کیږی ۱۲ سلہ اعمال صالحہ هغه قبلیږی چه ورسره ایمان وی ۱۲

الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾ وَمَنْ

به شی مخونه هغه ژوندی الله ته چه تهول عالم سنبالوونکے دے ۔ او برباد شی هغه چه بار ئے کړو ظلم لره ۔ او څوک به

يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾

عمل او کړی د نیک او هغه مؤمن وی ۔ نو هغه به نه ویریږی د بے انصافئ نه او نه د نقصان

وَكَذَٰلِكَ أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا فِيهِ مِنَ الْوَعِيدِ

او دغسے مونږ رالیږلے دے دا قرآن په عربئ او بیان کړی دی مونږ په دے کښے د ویرولو خبرے

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾ فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۗ

امید دے چه دوی ځان او ساتی د شرک نه یا او غورځوی به زړه د دوی کښے سوچ ۔ نو لوئے دے الله چه بادشاه دے

وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِنْ قَبْلِ أَنْ يُقْضَىٰ إِلَيْكَ وَحْيُهُ ۖ وَقُلْ

رشتیا سره ۔ او ته دی مه کوه بیړه د کولو د قرآن کښے مخکښے د هغے نه چه پوره شی تا ته رالیږل د هغه ۔ او او وایه

رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴿١١٤﴾ وَلَقَدْ عَهِدْنَا إِلَىٰ آدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِيَ وَ

اے ربه زیات کړه علم زما ۔ او یقیناً ما تاکید ئی حکم کړے وه آدم ته مخکښے نو هغه ئے هیر شو او

لَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا ﴿١١٥﴾ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا

مانه وه موندلے د ده لره قصد د ګناه ۔ او کله چه ما وویل ملائکو ته چه سجده او کړئ آدم ته نو سجده او کړه دوی

إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا يَا آدَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوٌّ لَكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا

مګر دَ ابلیس هغه منع او کړه سجدے نه ۔ نو ما او وئیل اے آدمه یقیناً دا دشمن ستا دے ۔ او د ښځے ستا نو را دِ دے

يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰ ﴿١١٧﴾ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَ

نه باسی تاسو لره د جنت نه نو په تکلیف کښے به واقع شے ۔ یقیناً تا لره وا ده چه ته به نه اوږے کیږے په هغه کښے او

لَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَأُ فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴿١١٩﴾ فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ

نه به بربنډ کیږے ۔ او دا چه نه به تږے کیږے په هغه کښے او نه به درباندے غرمه لګی ۔ نو خطره او کړه ده ته

سلہ دَ ترغیب دے اتباع دَ قرآن ته یعنی کامل قرآن مو راولیږلو دے په عربئ ژبه او دَ ویرولو خبرے مو پکښے کړی دی چه دا خلق ځان دَ شرک نه بچ کړی یا کم از کم سوچ او کړی ۱۲

سلہ دا دَ ایتونو دَ توحید نه دے ۱۲

سلہ دا ښکاره کول دی دَ نبی علیه الصلوٰة والسلام یعنی دَ موسیٰ علیه السلام پشان په بها ورځ سره دَ باری تعالیٰ حکم اورسوه او ځان پرے پښه پوهه کړه او بیړه زده کولو کښے تا دی مه کوه کوره دَ آدم علیه السلام تا دی شوے دَ ده په هیره سره نو ته احتیاط کوه ۱۲

سلہ یعنی دَ آدم علیه السلام نه خبره هیره شوه نو په هیره څه ګرفت نه وی خوشان دَ انبیاؤ ډیر پورته دے ۱۲

سلہ یعنی دَ ګناه قصد هغه نه وو کړے ۱۲

سلہ یعنی ابلیس علیه اللعنة ستاسو بچو اے دشمن دے دَ ده خبره مه منئ بلکه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خیر خواه وے دَ هغه خبره او منئ ۱۲

سلہ یعنی تا ته به تکلیف او نه رسی ۱۲

۵ د آدم علیه السلام نه غیره هیره شوه. ۲ یعنې ځناوړ شو د مقصود خپل نه چه همیشوالے وو په جنت کښے

الشَّيْطٰنُ قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ﴿١٢٠﴾

شیطان خفه ئې وکړه ای آدمه آیا او خایم تاته او نه د همیشوالي کیدو او د دی بادشاهي چه نه به زړه کیږي

فَاَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ

نو دواړو وخوړه د هغې نه نو ښکاره شوه دوی ته ناکاره ځایونه د دوی او شروع ئې وکړه دوی خپل ځانان په

وَّرَقِ الْجَنَّةِ ۫ وَعَصٰٓى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ﴿١٢١﴾ ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ

پاڼو د جنت سره - او ورسته کړو آدم (ربه خپل) حکم د رب خپل نو ځناوړ شو د خپل مقصود نه چه غوره کړو ده په

فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ﴿١٢٢﴾ قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيْعًاۢ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ

جنت کښې پیا غوره کړو هغه لره رب د هغه نو مهرباني ئې وکړه او کړو ئې لاره ورته - الله او وئیل چه کوز شئ د جنت د تول

عَدُوٌّ ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى ۙ۬ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ

ځینې ستاسو به دښمنو د یو بل وي - نو کله راشي تاسو ته ځما نه لارښوونه - نو چا چه اومنله ځما لارښوونه نو نه به گمراه کیږي

وَلَا يَشْقٰى ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا وَّ

او نه به کړیږي - او چا چه مخ واړوه د یاد د ځما نه نو یقینا هغه لره ژوند دے تنگ او

نَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى وَقَدْ

راپورته به کړو هغه لره په ورځ د قیامت پړوند - او به وائي ای ربه ولې دے راپورته کړم پړوند او زه خو

كُنْتُ بَصِيْرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ

وم لیدونکے - الله به او وائي د غسے راغلي تاته آیتونه ځما نو هیر کړل تا هغې لره - نو د غسے ته نن

تُنْسٰى ﴿١٢٦﴾ وَكَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ اَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنْۢ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ؕ

هیر شوې - او د غسے بدله ورکوو هغه چا ته چه زیاتے کوي او ایمان نه راوړي په آیتونو د رب خپل -

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿١٢٧﴾ اَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ

او خامخا عذاب د آخرت سخت دے او همیشه دے - آیا پس نه ده ښکاره شوې دوی ته چه څومره هلاک کړي مونږ وړاندې د دوی نه

و غوی معنیٰ گمراهي ده د دې
تکه د قرآن نه معلومیږي
چه نبیان معصوم وي. بحر
اسرائیل، روح م.
۳ یعنې رسولان او کتابونه
آسماني.
۴ څوک چه د وحې حقه
اتباع کوي نو په دواړو
جهانو به خوشحاله وي.
۵ وا د عذاب اخروي بیان
دے یعنې چا چه د قرآن نه
مخ واړولو نو په دواړو
جهانو به کړیږي او په
قیامت کښے به ړوند وي
نو دے به او وائي چه الله
ولے دے پړوند پورته کړم
او زه خو په دنیا کښے جوړ
وم نو باري تعالیٰ به ورته
جواب ورکړي چه ته کلمه
جوړ وے ځما دلیلونه
د وحدانیت به تاته راغلل
او تا به نه منل نو د غسے
ما تا لره نن پریخودو او
د غسے څوک چه ظلم کوي
او شرک کوي نو زه به هغه
لره سخت عذاب ورکوم.
۶ دا د عذاب دنیوي
بیان دے چه ډیر خلقو
د الله تعالیٰ حکم اونه منلو
نو باري تعالیٰ هغوی لره
هلاک کړل او د موجودو
کفارو ته د هغوی کنډرې
معلومے دي بیا فکر نه کوي
عبرت صرف عاقلان اخلي
۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

۱ے یعنی د دې العذاب نه اخیره ده او دوی په دنیا کښې د الله تعالیٰ وخت مقرر کړی دے نو دوی ته به عذاب راځي
۲ے د ابو رسول کریم صلی الله علیه وسلم او عمر دا مې ته تسلی ده چه صبر وکړه او د توحید شامت کښې به د الله تعالیٰ
۳ے د توحید بیان له به ذور ورکوي چه مخلوق هم ته توحید په اجمالي بیان کوي

مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي

پیړیو چه دوی ګرځي په کورونو د هغو کښې - یقیناً په دې کښې دلیلونه دي د خاوندانو

النُّهٰى ۝ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى

د عقل - او که نه وې خبره مخکښې شوې د رب ستا نه نو به عذاب لازم وو او وخت مقرر

فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

نو صبر کوه په هغه چه دوی وائي او پاکي بیانوه سره د صفت د رب ستا مخکښې د راختو د نمر

وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ

او مخکښې د پریوتو د هغه نه ، او په حصو د شپې کښې پاکي بیانوه او په طرفونو د ورځې کښې ښايي چه ته

تَرْضٰى ۝ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ

خوشحاله شې - او مه اوږدوه سترګې خپلې هغه شي ته چه فائده ورکړې ده مونږ په هغه سره قسمونو د دوی

زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى

په دول د ژوند د دنیا کښې - چه امتحان او کړو د دوی په هغه کښې او رزق د رب ستا غوره دے او همیشه دے

وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ؕ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ؕ نَحْنُ

او حکم کوه خاندان خپل ته په مانځه سره او ټینګ شه په هغه باندې - نه غواړو مونږ ستا نه رزق - مونږ

نَرْزُقُكَ ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ۝ وَقَالُوْا لَوْلَا يَاْتِيْنَا بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ

رزق درکوو تا ته - او انجام غوره د پرهیزګارۍ دے - او دوی وائي ولې نه راوړي ده مونږ ته یو دلیل د رب خپل نه

اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا فِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ۝ وَلَوْ اَنَّاۤ اَهْلَكْنٰهُمْ

آیا نه دے راغلے دوی ته صاف بیان د هغه چه په کتابونو مخکښو کښې دے - او که هلاک کړي وے مونږ دوی لره

بِعَذَابٍ مِّنْ قَبْلِهٖ لَقَالُوْا رَبَّنَا لَوْلَاۤ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ

په عذاب سره مخکښې د قرآن نه نو دوی به ویلی وو ای رب زمونږ ولې دې را نه لیږلو مونږ ته رسول نو تابعداري به کړې وه

وړاندې تسبیح افراد کا مطلب دی او تسبیح به مونځونو پورې شوي ... قبل طلوع الشمس د سحر مونځ او قبل غروبها د ماسپښین او د مازیګر مونځ ، ومن اناء اللیل د ماښام او ماسخوتن مونځونه ، اطراف النهار د ماسپښین مونځ مراد دے په دې وخت کښې د ورځې دواړه طرفونه سره یو ځای کیږي ۔ ۵ے باري تعالیٰ فرمائي چه تا سره خدای تعالیٰ مهربان دې کیږي چه خلق د باري تعالیٰ طرف ته بلې نو د مخلوقو ښادیانو سره ډیر په تعلق نه لري ، د دنیا امتحان دے او د مونږ نو پاره چه کوم رزق په جنت کښې تیار دے هغه ډیر ښه دے او همیشه دے ۔ ۶ے د صوت د دنیا ورکوه ... لو نو ته په مانځه سره طبیعت پورې اتباع د خوښه باري تعالیٰ فرمائي ستاسو د حق د دوی نه غواړم د رزق ، رزق خو به ژه درکوم مونږ کوم چه د باري تعالیٰ ذمه دے په هغه پسې کار او دوی چه دا نه ۷ے وائي د دوی نه معجزه غواړي چه الله تعالیٰ ولې سوال کوي چه موږ ته دلیل پیش کړه هم دا قرآن خو لوی دلیل دے د قرآن په اعتبار د اصلي مضمون او په اعتبار د ذوق سره په مخکښو کتابونو کښې وه ۔ ۸ے یعنی که قرآن مونږ دې را نه لیږلے او د خلق

مو هلاک کړي وے نو دوی به هم دا اعتراض کولو چه ای الله تا مونږ ته رسول ولې را نه لیږلو چه مونږ د هغه (تابع) کړي وے او س هغوی اعتراض د ختم کولو د پاره مو قرآن نازل کړو او رسول مو راولیږلو ۱۲ اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه

سله نازل شوے وے پس د ابراهیم نه او مکیه د مؤمنون نه. دور آخر مکه مکرمه. په ترتیب قرآنی کښے (٢١) او په ترتیب نزولی کښے (٧٣) وے

آيٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ وَنَخْزٰى ۞ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوْا

ستا د آیتونو تابعداري کړے وے مخکښے د دے نه چه ذلیل شو او رسوا شو. او وایه هر یو انتظار کوونکے دے پس تاسو هم انتظار کوئ.

فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ اَصْحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدٰى ۞

نو تاسو به پوهه شئ چه څوک دي برابر لارے والا او څوک لار موندلے ده. (د ګمراهئ نه)

سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّاثْنَتَا عَشْرَةَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورت انبیاء مکی دے او یو سل دولس پکښے آیتونه دي او اووه رکوع ګانے دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع په نوم د خدائے سره چه بے حده مهربان رحم لرونکے دے.

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ۞

نزدے شوے دے خلقو ته حساب د دوی او دوی په غفلت کښے مخ اړوی (د حق نه)

مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَ

نه راځی دوی ته نصیحت د رب د دوی نوے مګر دوی هغه واوری او

هُمْ يَلْعَبُوْنَ ۞ لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ۗ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ

دوی لوبے کوی. غافل دی زړونه د دوی. او پټه کوی جرګه. کوم چه

ظَلَمُوْا ۖ هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ

ظالمان دي. نه دے دا مګر بشر دے ستاسو په شان. آیا تاسو به سحر ته ورځئ او تاسو خو

تُبْصِرُوْنَ ۞ قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۖ

هوښیار یئ. هغه وئیلی دی چه رب زما پوهیږی په خبره په آسمان او په زمکه کښے.

وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۞ بَلْ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍۭ بَلِ

او هغه اوریدونکے او پوهیدونکے دے. بلکه دوی وائی چه دا ګډ وډ خوبونه دی بلکه دا د

سله نازل شوے دے پس د ابراهیم نه او مکیه ده مؤمنون نه.

٢ سله دا ژوندونه ده د پوهه واله خلق په غفلت کښے دی او چرته ده د مرګ چلیږی ١٢

٣ سله د عیسی علیه السلام نه روستو تقریباً شپږ سوه کاله دے د توحید مسئله چا نده کړے ١٢

٤ سله په اهل حق باندے دفع تکول دا پخوانه دستور دے ١٢ ١٢ ١٢

٥ سله په داعی د حق دا دفع تکه نکی چه هغه دا مسئله کړے ده چه په غیب باندے پوهه صرف الله تعالی دے ١٢

٦ سله سحر نه دے بلکه دا خوبونه دی. بلکه دے شاعر دے د مخکښے پیغمبرانو په شان معجزه دے موږ ته پیش کړی نو باری تعالی جواب فرمائی چه مخکښے پیغمبرانو معجزے پیش کړے نو خلقو خو بیا ایمان رانه وړو نو هغه موږ هلاک کړل دغسے دا کافران هم ایمان نه راوړی ١٢ ١٢ ١٢

(مقصد د سورت) یو موسی علیه السلام نه بلکه تول انبیاؤ ته د توحید مسئله وحی شوے ده آیت ٢٥ ١٢

ـه دا جواب دے د هغه مخکښے اعتراض چه: هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ دے. حاصل د جواب دا دے چه هغه مخکښي نبيان هم سړي وو او خو هغوی امتيازدا وه چه هغوی ته وحی کړے شوه رفا نه. معلومه شوه چه نبيان ټول سړي وو زنانه نه وو ...

افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۚ فَلْيَأْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَآ اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿٥﴾

خپله جوړه کړے يے قرآن لره بلکه دے شاعر دے. نو بيشکه دے راوړي مونږ ته دليل لکه چه ليږلي شوي وو مخکښي نبيان

مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ

ايمان نه دے راوړے مخکښے د دوی نه هيڅ کلي چه هلاک کړي وو مونږ هغه. آيا نو دا به

يُؤْمِنُوْنَ ﴿٦﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ

ايمان راوړي. او نه دي ليږلي مونږ مخکښے ستا نه مګر سړي چه مونږ وحی کوله هغوی ته

فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٧﴾ وَمَا جَعَلْنٰهُمْ

نو تپوس او کړئ د علماؤ نه که تاسو نه پوهيږئ. او نه وو جوړ کړي مونږ دوی لره

جَسَدًا لَّا يَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوْا خٰلِدِيْنَ ﴿٨﴾ ثُمَّ

داسے بدن چه نه خوري خوراک او نه وو دوی هميشه اوسيدونکي. بيا

صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ فَاَنْجَيْنٰهُمْ وَمَنْ نَّشَآءُ وَاَهْلَكْنَا

رښتونے کړه مونږ دوی سره وعده نو مونږ بچ کړل دوی او هغه څوک چه مونږ خوښه شو او هلاک کړل

الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٩﴾ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ كِتٰبًا فِيْهِ ذِكْرُكُمْ ۖ

ظالمان. يقيناً مونږ راليږلے دے تاسو ته کتاب په هغه کښے تاسو ته نصيحت دے.

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٠﴾ وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً

آيا تاسو نه پوهيږئ. او ډير مونږ هلاک کړي دي کلي چه وو ظالمان

وَّاَنْشَاْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ﴿١١﴾ فَلَمَّآ اَحَسُّوْا بَاْسَنَآ اِذَا هُمْ

او مونږ پيدا کړه روستو د هغوی نه قوم بل. نو هر کله چه معلوم کړو هغوی عذاب زمونږ نو ناګهانه دوی

مِّنْهَا يَرْكُضُوْنَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُوْا وَارْجِعُوْٓا اِلٰى مَآ اُتْرِفْتُمْ فِيْهِ

د هغه نه تښتيدل (او ورته ويلے شو چه) مه تښتئ او واپس شئ هغه خوا ته چه تاسو کښے مزے کولے.

معلوم شو تقليد کول په هغه حکم کښے معلوم نه وي ... د نا معلومو احکامو ... معلوم وي ... تول معلوم وي ... په اعتبار د صحت ... زمانه کښے مشکل ... دي بلا تقليده او کل مونږ احاديث په ورته هم معلوم وي او هغه کل آيتونه په ورته هم معلوم وي چه د هغوی احکام راوتلي وي.

ـه دا د دويم اعتراض جواب دے چه دا څنګه پيغمبر دے چه خوراک خوري. حاصل د جواب دا دے چه ټول مخکښي پيغمبران خوراک خوړل.

ـه دا د دريم اعتراض جواب دے چه دے به مړ شي نو مذهب به ختم شي. حاصل د جواب دا دے چه مخکښي پيغمبران هم هميشه نه وو او هغوی سره وعده رښتيا کړه د هغوی مخالفين ... هلاک کړل او پيغمبران ... بچ کړل نو معلومه شوه چه هلاکت د ... او بچ کول د ... اللّٰه دے البته د اسبابو اعتبار ... شي په اعتبار د ... او چه اسباب ختم شي يعنی انسان وفات شي نو د هغه اراده د اسبابو ختم شي.

ـه دا د عذاب د نيوي بيان دے يعنی ظالمان هلاک کړل کله چه ظالمانو عذاب او ليد ... نو هغوی ورته او ويلے شو په طور د ... تاسو خو سرداران يئ ... چه ...

۱ دا دَ وحدانیت اول دلیل دے چه آسمان او زمکه ما بیده کړي دي دَ خپل وحدانیت ښکاره کولو دَ پاره عبث ذوي او که ما ځان مشغولولے نو ما به دَ فیلو ښفا تو کي اې سیر کولو یعنی دا دنیا میدان جنګ دَ توحید او دَ شرک ما پیدا کړے ده نو په دَ لته کښے دَ توحید او دَ شرک مقابله ده نو توحید دَ شرک سر ماتَ کړي. نو حقه فنا شي نولے مشرکانو تاسو غرق شوئ چه دَ دا سے باطل شي موسته کوئ. او دَ فے مقابله کښے دَ توحید او دَ سنت ده ۱۲

۲ دا دَ وحدانیت دویم دلیل دے په دے دلیل کښے دَ لوئے قدرت مظاهره ده چه دَ آسمانونو او دَ زمکے خلق ټول دَ باری تعالیٰ بندګی کوي شپه او ورځ دَ باری تعالیٰ پاکي بیانوي دومره لوئے طاقت والا دے نو دَ هغهٔ نه خپل حاجتونه غواړئ په دے لوئے بادشاه غوک زور آور نیشته ۱۲

۳ دا دریم دلیل دے یعنی په زمکه کښے دَ الله سره مقابل جوړ وي که په زمکه او په آسمان کښے بل اله وے نو دواړه به درهم برهم شوي وے قانون دے چه په یو ملک کښے دَ دوو بادشاهانو اتفاق نهٔ راځي یو به وائي چه زهٔ دا کار کوم بل به وائي چه زهٔ دا نهٔ کوم نو په دے تیل متیال کښے به هرڅهٔ فنا شوي وے نو دا فساد نیشته نو مالک صرف الله تعالیٰ دے نهٔ بل معبود شته او نهٔ په الله غوک زور آور شته دَ الله تعالیٰ نه تپوس نهٔ شي کیدے او دَ کل مخلوق نه تپوس کیدے شي ۱۲ ۱۲ ۱۲

وَمَسٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۳﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴﴾

او کورونو خپلو ته امید دے چه تاسو به تپوس کیدے شئ - او وے ویل افسوس دے زمونږ ظالمان وو -

فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى جَعَلْنٰهُمْ حَصِيْدًا خٰمِدِيْنَ ﴿۱۵﴾

نو همیشه وه دغه فریاد دَ دوي تر دے چه ما کړل دوي لره لو شوي ساړهٔ -

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۱۶﴾ لَوْ اَرَدْنَآ

او ما نهٔ دي پیدا کړي آسمان او زمکه او هغهٔ څه چه په مینځ دَ دواړو کښے دي بے فائدے - که اراده کړے

اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ۖ اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۱۷﴾ بَلْ

چه جوړ به کړم تماشا خو ما به جوړ کړے وے نیل خپلے ذاتي شي نه (صفاتو کالي) که ما دا کولے - بلکه

نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ ۭ وَ

غورځوو حق لره په باطل باندے نو سر مات کړي دَ هغهٔ نو هغه ختم شي - او

لَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ

تاسو لره تباهي ده دَ هغو خبرو نه چه تاسو ئے بیانوئ - او خاص الله لره دي هغه ټول چه په آسمانونو او په زمکه کښے

وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾

دي - او هغه څوک چه په نزد دَ الله دي ځان غټ نهٔ ګڼړي دَ عبادت دَ هغهٔ نه او نهٔ کوي سستي -

يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُوْنَ ﴿۲۰﴾ اَمِ اتَّخَذُوْٓا اٰلِهَةً

پاکي بیانوي دوي شپه او ورځ نهٔ سستي کیږي - آیا جوړ کړي دي دوي خدایان

مِّنَ الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ﴿۲۱﴾ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ

په زمکه کښے چه دوي به خلق راژوندي کړي - (دا سے نه دي) که وے په دواړو کښے خدایان

اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۲۲﴾

سوا دَ الله نو دواړه به وران شوي وے - پاک دے الله چه رب دَ عرش دے دَ هغو خبرو نه چه دوي بیانوي.

له وا معارضه ده چه خپل دلیل پیش کړئ چه بیل څوک شے لائق د عبادت یا په الله تعالیٰ باندے غالب وي [illegible]

لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ۝ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ

پوښتنه نه شي کولے د هغه نه چه الله کوي او د مخلوق نه پوښتنه کیدشي - آیا جوړ کړي دي [illegible]

دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ

الله نه خدایان - او وایه پیش کړئ دلیل خپل - دا خبره د توحید ده د هغو چه [illegible]

وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ

دي او ذکر د هغو چه وو مخکښې زما - بلکه زیات د دوی نه پیژني [illegible]

فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ

نو دوی مخ اړوي د حق نه - او مونږ نه دي لیږلے مخکښې ستا نه هیڅ رسول

اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ۝ وَقَالُوا اتَّخَذَ

مګر ما وحی کوله هغه ته چه بیشکه نشته اله مګر زه یم نو صرف ځما عبادت کوئ - او وائي [illegible]

الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ۝ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ

کړے دے رحمان چا لره ولد پاک دے الله - بلکه دوی بندګان دي معزز - نه مخکښې کیږي د هغه نه

بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ۝ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

په خبره کښے او دوی په حکم د الله عمل کوي - پوهیږي الله په هغه شي چه مخکښې د دوی [illegible]

وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَهُمْ مِّنْ

او په هغه شي چه وروستو د دوی دي او سفارش نشي کولے مګر هغه چا لره چه خوښ کړے وي هغه الله [illegible]

خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ۝ وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ

د هیبت د الله نه ویریږي - او چا چه اووے د دوی نه چه زه اِلٰهُ یم سوی د الله

دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ۝

نو هغه ته به بدله ورکړم د جهنم - د غسې بدله ورکوو ظالمانو ته

مسئله توحید ده ځکه مکرر او د ټولو پیغمبرانو موحدینو وا سبق دے لوالګر خلق نه پوهیږي په دے حق نو ځکه تري مخ اړوي [illegible]

سله وا دلیل نقلي اجمالي د ټولو انبیاؤ نه چه ټولو انبیاؤ ته د توحید مسئله وحی شوے ده وا نو دے اونا اشنا مسئله نه ده

سله وا زور رد ده چه الله تعالیٰ د ځان د پاره ولد یعنی نائب او نازولے مقرر کړے دے هغه په الله تعالیٰ د خلقو کار رونه کوي د دے شپږ جوابونه دي

سله سُبْحٰنَهٗ : اول جواب دے ، لَا يَسْبِقُوْنَهٗ : دویم جواب دے ، يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ : دریم جواب دے ، وَلَا يَشْفَعُوْنَ : څلورم دے ، وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ : پنځم دے ، وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ : شپږم دے د ټولو جوابونو حاصل دا دے چه ملائک په الله تعالیٰ غالب او نازېنیان نه دي

لـہ دا دریم دلیل دے یعنی د اسمانونو نه او په او د زمکے نه فصل مارا ولیستے دے دوه خو محکمے بند وو او هیڅ ژوندے

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا

آیا نه گوری کافران دیته چه آسمانونه او زمکه وو

رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ

بند نو ما بیرته کړل خولاوه - او ما پیدا کړی دے د اوبو نه هر شے ژوندے -

أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ۝٣٠ وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ

آیا ایمان نه راوړی دوی ؟ او ما پیدا کړی دی په زمکه کښے غرونه چه او نه ښوری سره

بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ۝٣١

د دوی نه او ما پیدا کړی دی په زمکه کښه ارتے لارے امید دے چه دوی لار بیا موی (مقصود ته)

وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَحْفُوظًا ۖ وَهُمْ عَنْ آيَاتِهَا

او ما جوړ کړے دے آسمان چت محفوظ - او دوی د دلیلونو د آسمان نه

مُعْرِضُونَ ۝٣٢ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ

مخ اړوی - او الله صفه ذات دے چه صفه پیدا کړی دی شپه او ورځ او نمر

وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ۝٣٣ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِنْ

او سپوږمۍ ؛ ټول په آسمان کښے لامبو وهی - او ما نه دے ورکړے هیڅ بشر له مخوا

قَبْلِكَ الْخُلْدَ ۖ أَفَإِنْ مِتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ ۝٣٤ كُلُّ نَفْسٍ

ستا نه همیشه ژوند - آیا که مړ شوے ته نو دوی همیشه پاتے کیدونکی دی (نه) - هر نفس

ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ۖ وَإِلَيْنَا

څکونکے د مرګ دے - او امتحان کوو مونږ تاسو په تکلیف او په خیر سره د پاره د ازمیښت - او مونږ ته

تُرْجَعُونَ ۝٣٥ وَإِذَا رَآكَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا

به واپس کړے شئ تاسو - او کله چه اوویني تا له کافران نو نه کوی په تا پسے مګر

ما پیدا کړے شه د اوبو نه او هر څه نه ما پیدا کړی دی په زمکه او نه ئی قوت ئی او په زمکه کښے درے ما پیدا کړی دی چه لار په معلومه شی او آسمان ما محفوظ چت کړی دے شپه او ورځ او نمر او سپوږمۍ ما پیدا کړی دی ستاسو په نظر دا سے ښکاری چه دوی په آسمان کښے لامبو وهی یعنی دا ټول کارونه صفه څوک کولے شی چه لوئے قدرت والا وی او لوئے علم والا وی او ما چتونه صفه ذات پوره کولے شی چه د صفه لوئے طاقت او لوئے علم وی نو معلومه شوه چه حاجات پوره کوونکے صرف او صرف الله تعالی دے او د دے باری تعالی نه څوک مقابل او نه پورے څوک زور آور شته نو ځکه حاجات صرف او صرف د الله تعالی نه غواړی نه د کل ما سوی الله نه اولیاء وی او که انبیاء وی او که ملایک وی او که جنات وی دا ټول حاجتونه پوره کوونکی دی

لـہ دا زور نه ده منکرانو ته چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مرګ خوشحال کوی نو دوی خو هم مری ۱۲

ـلـه د دا وَ عذاب اسحق ثبوت بیان دے یعنی تلو ژر دے نه کوی زهٔ دوی ژر حلاکوم ۔ ـسـه د هم زور نه دے یعنی دوی دا
چه قیامت به کله وی ۔ ـلـه باری تعالیٰ هغوی ته جواب کوی او د عذاب ، هغوی بیان ورته کوی یعنی که دے کافرانو

هُزُوًا ۭ اَهٰذَا الَّذِیْ یَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ

توقے (دوی) آیا دا هغه دے چه یادوی خدایان ستاسو (په بدئ) او دوی د ذکر د رحمان نه

هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝٣٦ خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ۭ سَاُورِیْكُمْ اٰیٰتِیْ

انکار کوی ۔ پیدا شوے دے انسان د تادئ نه ۔ بنایم تاسو ته نوخے (د تهدید) خپل

فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ۝٣٧ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ

نو تلوار مه کوئ ۔ او وائی دوی کله به وی دا وعده که یئ تاسو

صٰدِقِیْنَ ۝٣٨ لَوْ یَعْلَمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا حِیْنَ لَا یَكُفُّوْنَ عَنْ

رشتونی ۔ که معلوم کړے وے کافرانو هغه وخت لره چه نهٔ شی منع کولے پکښې د

وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ یُنْصَرُوْنَ ۝٣٩

مخونو خپلو نه اور او نهٔ د شاګانو خپلو نه او نهٔ به دوی سره امداد وکړے شی (نو داغه

بَلْ تَاْتِیْهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ رَدَّهَا وَ

بدئ نهٔ کولے) بلکه رابه شی دوی ته قیامت ناڅاپه ، نو حیران به کړی دوی نو طاقت به نهٔ لری د دا پسے کولو د دے

لَا هُمْ یُنْظَرُوْنَ ۝٤٠ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ

او نهٔ به دوی ته صبر او کړے شی ۔ او یقیناً توقے شوی دی په رسولانو پورے پخوا ستا نه

فَحَاقَ بِالَّذِیْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ یَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٤١

نو راګیر شو په هغوی چه توقے کړے وے د دوی نه هغه عذاب چه دوی پورے توقے کولے ۔

قُلْ مَنْ یَّكْلَؤُكُمْ بِالَّیْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمٰنِ ۭ بَلْ هُمْ

او وایه څوک به حفاظت او کړی ستاسو په شپه او د ورځے د (عذاب د) رحمان نه ۔ بلکه دوی د

عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝٤٢ اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ

ذکر د رب خپل نه مخ اړونکی دی ۔ آیا دوی لره خدایان شته چه منع کړی دوی لره

حقه سخت وخت معلوم کړے وے نو دوی به دا اشتراق نه وے کړی حقه دا ست وخت دے چه عذاب به د دوی په مخ با ندے لویږی او د دوی په شا به څوک امداد نشی کولے ۔ ـلـه د دا وَ حق د تسلی د ده یعنی که د دا کافرانو تا پورے توقے کوی نو دا هیڅ نا آشنا نه دی بلکه مخکښې به نورو رسولانو او ستا رسولانو پورے توقے شوے دی او رسولانو ته به دے کافرانو وئیل چه عذاب راولی صرف دوی سره نه او عذاب به هغوی کافرانو باندے راځی دا پیرے شوی او هغوی تول هلاک شو نو دغه کار به د دے سره هم وی کافرانو سره او شی ۔ ـلـه د دا وَ عذاب وئیلو ی بیان دے یعنی د عذاب نه څوک بچ کولے نیشته ۔ ـلـه د دا ذکر نه دے یعنی د دوی خدایان نیشته چه دوی بچ کړی او د دوی معبودانو خو د ځان سره امداد نشی کولے نو د خپلو عابدانو سره به څنګه امداد او کړی او نهٔ به د دوی نه عابدانو سره څه د خدائ نه امداد او کړے شی ۔

ساتل دے او ژغورل

له کړ مسلمانان په اسلام ټینګ شو نو کافران حیران کله نه شی غالب کید ے ۱۲ ، ۲ه دا کافران پښیمان ځکه نه وی او په صفه شاکړی هم وی نو کونو چه شاکړه نو شکه به خبره واوری ۱۲

۳ه دا د عذاب اخروی بیان دے د ذرے ذرے عمل حساب به کیږی البته رحم د باری تعالی لا تو یرلوئے دے چه سړے به عقل او شرک نه وی او د انسان حقوق پورے هم نه وی نو بیا باری تعالی مهربان دے ۱۲

۴ه دا ویلے نقل دے اول د موسیٰ علیه السلام نه یعنی د موسیٰ علیه ته کتاب ورکړے وه صفه د حق او د باطل فرق کا وه چه حاجت نه په صرف د الله تعالیٰ نه غوا یئ دا مقه خبره ده ئه د بل چا نه ځکه بل څوک متصرف نه دے او نه په الله تعالیٰ بالا څوک غالب شیئ ۱۲

دُوْنِنَا ۭ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ وَلَا هُمْ مِّنَّا

سوا ځان نه - طاقت نه لری حفظ د امداد د خپل او نه به د دوی زمونږ د طرف نه

يُصْحَبُوْنَ ﴿٤٣﴾ بَلْ مَتَّعْنَا هٰٓؤُلَاۗءِ وَاٰبَاۗءَهُمْ حَتّٰى طَالَ عَلَيْهِمُ

ملګرتیا اوشی - بلکه نفع مو ورکړے ده دوی لره او پلار نیکه د دوی لره تر دے چه اوږده شوه په دوی

الْعُمُرُ ۭ اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ۭ

باندے عمرونه - آیا نه ګوری دوی چه زه راځم زمکے ته کمومه دا د اطرافو د دے نه -

اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٤٤﴾ قُلْ اِنَّمَآ اُنْذِرُكُمْ بِالْوَحْيِ ڮ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ

آیا بیا دوی به غالب شی ! - او وایه یقیناً ویرووم تاسو لره په حکم (د وحی) سره او نه آوری کانړه

الدُّعَاۗءَ اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَلَىِٕنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ

آواز کله چه دوی ویرولے شی - او که اورسی دوی ته لږ د

عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ

عذاب د رب ستا نه نو خامخا وائی دوی افسوس یقیناً وو مونږ ظالمان - او ږدو مونږ به

الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْــــًٔا ۭ وَ

تلے د انصاف په ورځ د قیامت نو ظلم به نه شی کولے یو نفس سره د هیڅ شی - او

اِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ۭ وَكَفٰى بِنَا

که وی عمل په قدر د دانے د اوری نو پیش به کړو دا او پوره یم

حٰسِبِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَاۗءً

حسابونکے - او یقیناً ما ورکړے وه موسیٰ او هارون ته کتاب جدا ونکے د حق د باطل او رڼا

وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ

او نصیحت وه د پاره د ویریدونکو - کوم چه ویریږی د رب خپل نه پټے شا او دوی

مِّنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَاهُ

د قیامت نه ویریږي ۔ او دا نصیحت دے برکتي چه مونږ رالیږلے دے نو آیا

أَفَأَنتُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ

آیا بیا تاسو ددے نه منکر یئ ۔ او یقیناً مونږ ورکړے وه ابراهیم ته هغه پوهه (هدایت)

مِن قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ ﴿٥١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا

مخکښې او وو مونږ په هغه پوهه ۔ کله چه اووئیل هغه پلار او قوم خپل ته چه څه

هَٰذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا

دي دا شکلونه کوم چه تاسو ورته ناست یئ ۔ اووئیل هغوی چه

وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ ﴿٥٣﴾ قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ

موندلي دي مونږ پلار نیکه خپل دوی بندګي کوونکي ۔ اووئیل هغه یقیناً یئ تاسو او

وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٥٤﴾ قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ أَمْ أَنتَ

پلار نیکه ستاسو په غلطۍ ښکاره کښې ۔ اووئیل هغوی آیا یې راوړے مونږ ته حقه خبره یا ته

مِنَ اللَّاعِبِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

ټوقې کوے ؟ اووئیل هغه بلکه رب ستاسو رب د آسمانونو او د زمکے دے

الَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ ﴿٥٦﴾ وَتَاللَّهِ

کوم چه پیدا کړي دي هغه دوی لره او زه په دے ګواه یم ۔ او قسم دے

لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ

چه علاج به او کړم د خدایانو ستاسو پس د هغے نه چه واپس شئ شا ته ۔ نو کړل هغه

جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴿٥٨﴾ قَالُوا مَن

ټکړے ټکړے مګر لوئے د دوی اُمید دے چه دوی ته به واپس شي ۔ اووئیل هغوی چا

له دا ترغیب دے اتباع د قرآن ته چه دا قرآن برکتي دے او مونږ لیږلے دے لره ضرور او منئ ۱۲

۲ے دا دویم دلیل نقلي دے د ابراهیم علیه السلام چه ابراهیم علیه السلام خپل پلار او قوم د غیر الله د بلنے نه منع کول (فائده) د ټولو دلیلونو مقصد دا دے چه دوی نبیان دي او معجزات ترے نه ښکاره شوي دي خو حاجتونه ترے نه مه غواړئ حاجتونه پوره کوونکي نه دي او په هر څه عالم او قادر صرف الله تعالیٰ دے نه دوی ۱۲ ۱۲

۳ے دا خبره هغه په زړه کښے او کړه ۱۲

۴ے اصنام جمع د صنم ده او وثن جمع د وثن ده هر هغه شی ته وائي چه د هغه عبادت کیدے شي سوا د باری تعالیٰ نه که کتبه وي او که پیریان وي او که انسان وي او که ملک وي او که کنګلا وي او که اونه د کیکر وي او که زیارت وي ۱۲

۵ے یعني کله چه دا خلق د خپلو خدایانو حال معلوم کړي نو امید دے چه دوی به دین د ابراهیم علیه السلام ته واپس شي ۱۲

ل یعنی یو ځوان دے چه دے خدایانو په شو دے وه او دوه دوه د دے کار به خبرے حقه کولے رو الله د معلومه شو چه ترحیدیز نو د ځکه تو کار دے نه وه چیکوه ٢ یعنی خلقو ته به د هغهٔ حال معلوم شو نو چه کله مولیز د هغه ته تکلیف ورکوو نو خلق به پیا اعتراض نه کوی ١٢

فَعَلَ هٰذَا بِاٰلِهَتِنَآ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٩﴾ قَالُوْا سَمِعْنَا

کړے دے دا کار د خدایانو زمونږ سره یقیناً هغه ظالم دے - اووے هغوی اوریدلے مونږ

فَتًى يَّذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهٗٓ اِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰٓى

ځوان نه چه خبرے د هغوی کولے په دوی پسے ویلے شو هغهٔ ته ابراهیم - اووے هغوی نو راولی هغهٔ لره

اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ ﴿٦١﴾ قَالُوْٓا ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا

مخه د خلقو ته امید دے چه دوی به شاهدان اوکړی - هغوی اووے آیا ته کړے دے دا کار

بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ ۖ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ

د خدایانو زمونږ سره اے ابراهیمه! هغهٔ اووے بلکه کړے دے دا کار - لوئے د دوی چه دا دے نو تپوس اوکړئ د دوی

اِنْ كَانُوْا يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ فَقَالُوْٓا اِنَّكُمْ اَنْتُمُ

که دوی خبرے کوی - نو هغوی سوچ اوکړو په زړه نو خپلو کښے نو اووے هغوی یقیناً تاسو

الظّٰلِمُوْنَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوْا عَلٰى رُءُوْسِهِمْ ۚ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هٰٓؤُلَآءِ

ظالمان یئ - بیائے ځکته کړل سرونه خپل - چه یقیناً تا ته معلومه ده چه دوی

يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٥﴾ قَالَ اَفَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ

خبرے نشی کولے - هغهٔ اووے آیا عبادت کوئ سوا د الله تعالیٰ نه د هغو چه نفع نشی رسولے تاسو ته

شَيْـًٔا وَّلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ

د هغهٔ او نه ضرر رسولے شی تاسو ته - تُف دے په تاسو او د هغو چه تاسو ئے عبادت کوئ سوا د الله نه -

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

آیا نهٔ پوهیږئ تاسو او دے هغوی چه او سیزئ د هغهٔ لره او امداد اوکړئ د خدایانو خپلو که کوئ تاسو

فٰعِلِيْنَ ﴿٦٨﴾ قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿٦٩﴾ وَ

دا کار - او وے مونږ اے اوره شه یخه او د آرام په ابراهیم باندے - او

پیا اعتراض نه کوی ١٢
٣ یعنی که زهٔ دا خبره فرض کړم چه دغټ دا کار کړے دے نو څهٔ نقصان دے او سره د دے چه غټ ئے خپل کشرو د اکثر حسد کوی یعنی دا خبره نه دے چه دروغ شی بلکه صورت د مسئلے دے، د پیته علماء توریه وائی چه ظاهر خبره مراد نه شی بلکه پټه خبره مراد کړی ١٢
٤ یعنی او شرمیدل شو که چه غلطه خبره کوی نو شرمیدلی ١٢
٥ په دلیل کښے خو بیره شو نو د زور نه کار واخلو سعدی فرمائی ے چو حجت نماند جفا جوی را، به پرخاش برهم کشد روی را یعنی چه دلیل د ظالم سره نه وی نو جنگ شروع کړی ١٢
٦ ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ د پاره اورته واچولے شو او هغهٔ ته معلومه وه چه سیزوکے صرف الله تعالیٰ دے نو اور لکه سیزو وکه صرف الله تعالیٰ دے نه چه ورچی - کوم خلق چه انبیاء لره علم غیب کول ثابتوی نو هغوی د پیغمبرانو کمال ختموی چه ابراهیم علیه السلام ته مخکښے معلومه چه دا اور به گلزار کیږی نو بیا اور ته د الله تعالیٰ د پاره

تلل د الله د پاره څهٔ کمال نه وه - بلکه هغهٔ ته دا معلومه وه چه اور دے او څی ورته د الله تعالیٰ د پاره نو کمال دا دے ١٢ (سورت کهف ٣٣) ١٢

ـله يعنې د عراق نه يې بوتلل شام ته چه يکښې برکتونه دينۍ او دنيوي وو ۱۲ ـلله يعنې يعقوب عليه السلام د حضرت سوال نه زياتي انعام وه ۱۲ ـلله دا دريم دليل نقلي دے يعنې لوط عليه السلام لره خو پوهه ما ورکړے وه او وو

أَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ ﴿٧٠﴾ وَنَجَّيْنَاهُ وَلُوطًا

اراده او غوښتل دده د حضرت بد نو کړل ما هغوی لره تاوانيان - او ما بچ کړو حضرت لره او لوط لره

إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ

هغه زمکې ته چه ما په هغې کښې خير پيدا کړے دے د عالم لره - او ما او بخښه حضرت اسحق لره

وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا صَالِحِينَ ﴿٧٢﴾ وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً

او يعقوب په زياته انعام کښې - او ټول ما کړي وو نيکان - او ما کړي وو دوي امامان

يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ

لار به ئې ښوده په حکم زما سره او ما حکم کړے وه دوي ته د کولو د نيکو او د کولو د مونځ

وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ ۖ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَلُوطًا آتَيْنَاهُ حُكْمًا

او د ورکولو د زکوٰة - او وو دوي ځما بندګي کوونکي - او لوط لره ما ورکړے وه حکم

وَعِلْمًا وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ تَعْمَلُ الْخَبَائِثَ ۗ

او پوهه او ما بچ کړو هغه لره د هغه کلي نه چه هغوي کول ګندهٔ کارونه -

إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَاسِقِينَ ﴿٧٤﴾ وَأَدْخَلْنَاهُ فِي رَحْمَتِنَا ۖ إِنَّهُ

يقيناً دوي وو قوم بد بې فرمانه کاره - او ما داخل کړل هغه لره په خپله مهربانۍ کښې يقيناً

مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٧٥﴾ وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ ع ٥

هغه وو په نيکانو کښې - او نوح چه کله دُعا او کړه مخکښې نو ما قبوله کړه د هغه

فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرْنَاهُ مِنَ

نو ما بچ کړو هغه لره او کورنۍ د هغه لره د غم لوئي نه - او ما بچ کړو هغه لره د

الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَاهُمْ

هغه قوم نه چه دروغژن کولې ئې آيتونه ځما - يقيناً هغوي وو قوم بد نو ما غرق کړل هغوي

ظالمانو نه ما بچ کړے وه او رحمت پورے ما کړے وه نو هغه خو محتاج دے ما ته متصرف نه دے او نه غالب دے په ما نو ما چتو نه صرف ځما نه غواړي نه د کل ما سوی الله نه ۱۲

ـلله دا څلورم دليل نقلي دے او کورنۍ د نوح عليه السلام ما ته ژړل او ما هغه بچ کړے وه نو هغه ما ته محتاج دے او کارساز نه دے او په ما غالب نه دے نو ځکه د هغه نه حاجتونه مه غواړئ

ـله مراد طوفان دے او تکذيب او تکليف رسول د مخالفين دي (فائده) په چا چه غم راغي نو هغه محتاج وي او څوک چه محتاج وي نو هغه د بل چا حاجت نه شي پوره کولے نو چه په پيغمبر عليه السلام باندے غم راغي نو نور مخلوق خو د پيغمبرانو نه لاندے دي نو معلومه شوه چه کل مخلوقات محتاج دي خپل مولى ته او غني صرف الله تعالى دے نو حاجت هم صرف الله تعالى پوره کولے شي او مخلوق ته ټول حاجت پوره کوونکے د بلکه محتاج وي او نه څوک په الله تعالى غالب شے دا خبره د قرآن مقصود دے او د کل آسماني کتابونو دعوت دے او هم د انبياء عليهم السلام آواز دے او هم د ا کوله حق دعوت دے ۱۲

لے دلیل نقلی پنځم دے چه داؤد علیه السلام ته او سلیمان علیه السلام ته فهم ما ورکړے وه او کوم داؤد علیه السلام سره
خو ده ما تابع کړی وو او زغره ورته ما خودلے وه یعنی دا امور ان اوزانو شنا کار و نه صرف د باری تعالی دی نو حاجتونه هم د

أَجْمَعِينَ ﴿٧٧﴾ وَدَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِي الْحَرْثِ إِذْ

ټولو لره - او (یاد کړه) داؤد او سلیمان لره کله چه حکم کولو دوی په فصل کښے کله چه

نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ الْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَاهِدِينَ ﴿٧٨﴾

خراب کړو دغه فصل لره بیزو د قوم - او وو مونږ حکم د دوی ته حاضر -

فَفَهَّمْنَاهَا سُلَيْمَانَ وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا وَسَخَّرْنَا مَعَ

نو ما پوهه کړو په دغه فیصله سلیمان لره - او هر یو ته ما ورکړے وه حکم او پوهه - او ما تابع کړو د

دَاوُودَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ وَكُنَّا فَاعِلِينَ ﴿٧٩﴾ وَعَلَّمْنَاهُ

داؤد سره غرونه تسبیح به یې وئیله او مرغانو لره او وو مونږ کوونکی د دغه کار - او ما خودلے وه ده ته

صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِنْ بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنْتُمْ

جوړول د جامو ستاسو چه ځان بچ کړی تاسو لره د جنګ ستاسو نه - نو آیا تاسو شکر کوئ؟

شَاكِرُونَ ﴿٨٠﴾ وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ عَاصِفَةً تَجْرِي بِأَمْرِهِ إِلَى

(یعنی او کړئ) او (تابع کړو) د سلیمان د پاره هوا سخته تلله به په حکم د هغه سره هغه

الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عَالِمِينَ ﴿٨١﴾ وَ

زمکے ته چه ما برکت ورکړے وه هغے ته - او وو مونږ د هر شی علم وے او ما تابع کړی وو د

مِنَ الشَّيَاطِينِ مَنْ يَغُوصُونَ لَهُ وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ

شیطانانو نه هغه چه غوپے به وهلے هغه لره او هغوی کول کار و نه نور

ذَٰلِكَ وَكُنَّا لَهُمْ حَافِظِينَ ﴿٨٢﴾ وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنِّي

- او ما هغوی ساتونکی وو له - او یاد کړه ایوب لره کله چه هغه آواز او کړو رب خپل ته چه

مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنْتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٨٣﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا

ما ته رسیدلے ده تکلیف او ته خو د ټولو نه مهربان زیات یې - نو ما دعا قبوله کړه د هغه نو ما لرے کړه

الله تعالی نه وو لیدلے د قضیے د
داؤد علیه السلام په زمانه
بیزو فصل خراب کړو نو داؤد
علیه السلام او وئیل چه دا بیزے
به د فصل خاوند واخلی او
قیمت د دوا په برابر وه او
سلیمان علیه السلام بل شان
اجتهاد او کړو چه بیزو مالک
به فصل سنبالوی کله چه
خپل حد ته او رسید او نو
خپل مال به واپس کړی د
سلیمان علیه السلام ستن
وه یعنی اعلی قیاس او د داؤد
علیه السلام قیاس وه ١٢
٢؎ دلیل نقلی شپږم چه
د ایوب علیه السلام دعا هم
رب الله قبوله کړے وه
او د هغه تکلیف هم صرف
الله تعالی لرے کړے وه
نو معلومه شوه چه انبیاء
محتاج دی او محتاج حاجت
د بل چا نه شی پوره کولے
او نه محتاج په الله تعالی
باندے غالب کیدلے شی ١٢
٣؎ د ایوب سره حاجت وو
نو دا سے دعا به کوی: رَبِّ اَنِّیْ
مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ
الرّٰحِمِیْنَ: په الضر کښے
په اشاره او کړی خپل
تکلیف ته نو د باری تعالی
د طرفه اعلان کیږی چه هم
تکلیف د انسان د لاس کټه
ده نو دا غریب په درخواست
او کړی چه: اَنْتَ اَرْحَمُ

الرّٰحِمِیْنَ: یعنی الله زه لتا نه د عمل فیصله نه غواړم بلکه رحم غواړم ١٢ ١٢ ٣؎ مظهری ٢٦٠ رغادی
سه بکثرة الاشجار والانهار وهدایات الانبیاء ١٢

لہ وا او وم ویل نقلی دے چہ وا ورتہ وایہ چہ پیغمبران خو ما خپلہ رحمت تہ بوتلی وو دوی صابران او صالحان وو خو ما لا تہ د و ...
د مخلوق تہ حاجت پورہ کوونکی نہ وو او نہ بہ ما زور آور وو ... سے ما: ہم ویل نقلی دے چہ یونس علیہ السلام ...
... در یہ نہ ... کوئی ... وا ورتہ معلوم نہ شوہ چہ ... ورسرہ ... زرتہ خلق ارتا وحی او خفہ ... منسلک ...

مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ وَّاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً

خفگان لیکے چہ بہ هغہ وو او ورہم کرہ هغہ تہ اهل د هغہ او مثل د هغو ورسرہ مہربانی ...

مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ۝ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ

ځما د طرفہ او نصیحت دے بندہ ګانو تہ - او ورہ یاد کړہ اسمٰعیلؑ او ادریس

وَذَا الْكِفْلِ ۭ كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ۝ وَاَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ۭ

او ذو الکفلؑ لرہ - دا ټول صابران وو - او بوتلی ما وو دوی لرہ رحمت خپل تہ

اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ

یقیناً دوی نیکان وو - او ماهی والا لرہ کلہ چہ لاړہ پہ قهر نو خیال ئے شو چہ

اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ

تنګی بہ رانہ ولم پہ هغہ بانګ ئے نو اوازئے اوکړو پہ تیرو کښے چہ نیشتہ لائق د عبادت مګر تہ ئے

سُبْحٰنَكَ ڰ اِنِّىْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّيْنٰهُ

پاک ئے تہ - یقیناً زہ کیم کوونکے د ځان سرہ - نو دعا م قبولہ کړہ د هغہ او بچ م کړو هغہ لرہ

مِنَ الْغَمِّ ۭ وَكَذٰلِكَ نُــْجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَزَكَرِيَّآ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ

د غم نہ - او د غسے بچکوو م مؤمنانو لرہ - او زکریا لرہ کلہ چہ آواز ئے اوکړو رب خپل تہ

رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ۝ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۡ

چہ اے ربہ ما مہ پریږدہ یو ځاے او تہ بہتر وارث ئے - نو دعا م قبولہ کړہ د هغہ

وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى وَاَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ

او ما اوبخښہ هغہ تہ یحییٰ او برابرہ کړہ د هغہ ښځہ - یقیناً دوی تلوار کوونکی وو

فِي الْخَيْرٰتِ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ۭ وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ۝

پہ نیکو کښے او بللو ئے ما لرہ پہ هیلہ او ویرہ - او ما تہ ئے عاجزی کولہ -

... پہ سورت بقرہ ... معلومہ ... وشی علیہ السلام ... رب نہ ... اللہ تعالیٰ ... دعا ... حدیث شریف کښے ... سورہ ... قبولہ شی ... پہ تیارو کښے ... لیرہ کښے پټہ ... مسلم او بیا پہ دیار مسلم بہ پورہ ... پورہ کیسہ (صوفی)
(فائدہ) پہ خلوت کښے پہ لهجہ سرہ ویل ډیر اثر کوی ۱۲ ۱۲

سے وانهم ویل نقلی دے چہ زکریا علیہ السلام د اللہ تعالیٰ نہ ځوئے غوښتہ نو محتاج وو او محتاج تہ چا حاجت نہ شی پورہ کولے او نہ پہ اللہ تعالیٰ غالب کیدے شی ۱۲

ھے دا د ټولو انبیاؤ سرہ تعلق لری چہ دا ټول انبیاء علیہم السلام ځما نہ حاجتونہ غواړی او ځما نہ طمع لری او ځما نہ ویریږی او ما تہ عاجزی کوی نو دوی پیغمبران دی خو رب نہ دی د چا ظهریات نہ شی پورہ کولے دو عیسیٰ اللہ تعالیٰ با ندے غالب نہ دی (فائدہ) مسلمان بہ د باری تعالیٰ نہ طمع کوی او د خپل عمل نہ بہ ویریږی ۱۲
صفت ۱۲

ك واوو الله تعالیٰ د وحدانیت لسم دلیل د مریم نه چه بے د پلار ه بچے ور کولے شی نو دغه بادشاه هرڅه کولے شی او په هرڅهٔ پوهیږی نو حاجتونه صرف د هغهٔ نه غواړی نهٔ د کل ماسوا الله نه ځکه چه هغوی داسے کار ونه نهٔ شی کولے نو قابل نهٔ شو چه څوک د هغوی ځنا یې کوی ۱۲ ۳ واو تولے تذکرے خلاصه ده یعنی دا ټول انبیاء ګان د حاجتونو غواړونکی صرف دا تا سو دین دے او یو دین دے چه صرف ځما بندګی به کوئ نو د بل څه ۱۲ ۳ دا جواب دے د دے سوال چه ټول انبیاء د صرف د یو الله بندګی کوی نو دا خلق ولے بیا د غیر الله نه حاجتونه غواړی او د هغوی نذر او نیاز کوی او د بابا ګانو مزاراتو ته ځی د حاجتونو غوښتو د پاره. حاصل د جواب دادے چه باغیانو خپل اصلی دین خراب کړے دے ۱۲ ۱۲ ۱۲

ک یعنی چه قیامت قائم شی نو بیا به ځما قبضے ته راشی ۱۲ ۵ دا خطاب دے کفار و د مکے ته چه اے کافرو تا سو او تا سو معبودان به د جهنم خشاک یئ همیشه نو ولے د هغوی نه حاجتونه غواړئ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

وَالَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلۡنَٰهَا

او (یاد کړه) هغه زنانه چه پاک کړے کړه خپل ځان خپل نو ما پو کړو په هغه کښے د روح خپل نه او ما کړه هغه او د

وَٱبۡنَهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ۝٩١ إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠

او څوئ د هغے لره نښه (د توحید د الله) د پاره د عالم۔ یقیناً دا دین ستا سو دے دین یو دے۔ او زه

رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ ۝٩٢ وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ كُلٌّ إِلَيۡنَا رَٰجِعُونَ ۝٩٣

رب ستا سو یم نو صرف ځما عبادت کوئ۔ او ټکړے ټکړے کړو دوی دین خپل په مینځ خپل کښے ټول به ما ته راځی۔

فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ

نو چا چه کړے وی نیکی او هغه مؤمن وی نو نشته بے قدری د کوشش د هغهٔ۔

وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ ۝٩٤ وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ۝٩٥

او یقیناً مونږ د هغه لیکو۔ او مقرره ده په هر کلی چه ما هلاک کړے دے هغه چه هغه به واپس نهٔ شی

حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ

تر دے چه کله بیرته کړے شی یاجوج او ماجوج او دوی به د هرے غونډئ نه

يَنسِلُونَ ۝٩٦ وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ ٱلۡحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ

راوځی۔ او نزدے به شی وعده رښتونے نو په دغه وخت به پاتے وی سترګے

ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا بَلۡ كُنَّا

د کافرانو۔ (او وائی به) افسوس یقیناً مونږ وو په غفلت کښے د دے نه بلکه وو مونږ

ظَٰلِمِينَ ۝٩٧ إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ

ظالمان۔ یقیناً تاسو او معبودان ستا سو سوا د الله نه خشاک د جهنم به یئ۔

أَنتُمۡ لَهَا وَٰرِدُونَ ۝٩٨ لَوۡ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةٗ مَّا وَرَدُوهَاۖ وَ

تاسو به هغهٔ ته لاړ شئ۔ که وے دوی خدایان نو نهٔ به ورتلی هغهٔ ته۔ او

كُلٌّ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٩٩﴾ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾

[illegible]

إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾

یقیناً هغه خلق چه مقرر ده د دوی لره زمونږ له خوا [illegible] وعده - دوی به د هغې نه لرې کړے شی.

لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ۖ وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنفُسُهُمْ

نه به آوری [illegible] د هغې - او دوی به په هغه څه کښې وی چه خوا هش ئی نفسونه د دوی

خَالِدُونَ ﴿١٠٢﴾ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ

همیشه به وی - نه به غم ژن کوی دوی لره ویره لویه او مخ ته به راځی د دوی ملائک

هَٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾ يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ

چه دا هغه ورځ ستا سو ده چه ستاسو سره ئے وعده کیدے شو - کله چه راغونډ کړو آسمان

كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ ۚ وَعْدًا

لکه راغونډول د کاغذ خطونو لره - لکه چه اول مو پیدا کړے مخلوق نو دوباره به ئے پیدا کړو - وعده

عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ ﴿١٠٤﴾ وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ

ده په ما باندې - یقیناً زه دا کوونکے یم ، او یقیناً لیکلی دی ما په زبور کښې پس د

الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ فِي

ذکر نه چه یقیناً په زمکه به مالکان شی زما نیک بندګان - یقیناً په دے

هَٰذَا لَبَلَاغًا لِّقَوْمٍ عَابِدِينَ ﴿١٠٦﴾ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً

کښې نصیحت دے عابد قوم ته - او ما لیږلے دے تا لره صرف رحمت د

لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ

عالم د پاره - او وایه چه یقیناً وحی شوے ده ما ته چه الله إله ستاسو یو دے -

[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
نو دا هغه معبودان دی
چه مدعوین [illegible] عبادت
د موت [illegible]
[illegible] نو مجسمے دی
[illegible] د پاره
[illegible]
[illegible] دی چه دوی د ے
تاسو او بس خلاص کړه ۲
ے دا د قیامت ذکر دے
مخلوق لره باری تعالی
ویره وی د قیامت نه ۲
۳ ے دا بشارت دے چه
زمکه د دنیا او د آخرت
به د نیکانو وی نیک خلق
په دنیا کښې هم مزے کوی
او آخرت خو لا پریږده
او بدان په دنیا کښې هم
په تکلیف کښې وی اګر چه
په تخت ناست وی آخرت
خو لا پریږده ۱۲ ۱۲
۴ ے دا ترغیب دے
اتباع د نبی کریم صلی الله
علیه وسلم ته ۱۲
۵ ے د پیغمبر صلی الله
علیه وسلم دعوت
توحید دے ۱۲ ۱۲

لے چہ موږ دوتاسو په دے لم کښے برابر یو ۱۲ سے په قول مخلوق کښے لوئے مخلوق نبی کریم صلے اللہ علیه وسلم دے
او هغه اعلان کوی چه زه په غیب نه پوهیږم نو هغه معبود نه شو ځکه چه معبود هغه وی چه په غیب پوهیږی

فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى

نو آیا تاسو دا منئ ؟ - نو که مخ واړاوه دوی نو ورته اووایه چه خبر مې کړئ تاسو په

سَوَآءٍ ۭ وَاِنْ اَدْرِیْٓ اَقَرِیْبٌ اَمْ بَعِیْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ۝ اِنَّهٗ

برابر - او خبر نه یم چه نزدے دے یا لرے دے هغه څیز چه تاسو سره ئے وعده کیدے شی - یقیناً دے

یَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَیَعْلَمُ مَا تَكْتُمُوْنَ ۝ وَاِنْ

پوهیږی په ښکاره خبره او پوهیږی په هغے چه تاسو ئے پټوئ - او نه یم

اَدْرِیْ لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ اِلٰى حِیْنٍ ۝ قٰلَ

خبر چه دا تاخیر به امتحان وی تاسو لره او فائده به وی تر یو وخته - او وے هغه

رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ۭ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى

اے ربه فیصله اوکړه رښتونے - او رب زمونږ به حده مهربان دے هغه نه امداد غواړو په هغے

مَا تَصِفُوْنَ ۝

چه تاسو ورلره بیا نوئ -

سُوْرَةُ الْحَجِّ مَدَنِیَّةٌ وَّهِیَ ثَمَانٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰیَةً وَّعَشْرُ رُكُوْعَاتٍ

سورت حج مدنی دے په دے کښے ۷۸ اویا اتیا آیتونه او لس رکوع ګانے دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝

شروع په نوم د خدائے سره چه بے حده مهربان رحم ئے ډیر دے (امداد غواړم)

یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَیْءٌ عَظِیْمٌ ۝

اے خلقو! او ویریږئ د رب خپل نه - یقیناً زلزله د قیامت لوئے شے دے -

یَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ وَتَضَعُ

کومه ورځ به اووینئ هغه چه غافله کیږی به هره یوه ورکوونکے د پی خپل نه او پیدا به شی

د سورت په ابتداء کښے هم
ذکر دے اعلان وه چه
قَالَ رَبِّیْ یَعْلَمُ الْقَوْلَ یعنی
په غیب پوهه صرف اللہ تعالیٰ
او هم دغه خبره ئے په آخر د سورت
په آخر کښے بیا اوکړه نو مقصد
د سورت دا شو چه په غیب
صرف باری تعالیٰ پوهیږی
نو صرف باری تعالیٰ معبود شو
نو قول انبیاء د هغوی بندګی
کوی او قول انبیاؤ ته دا
مسئله ورکړے شوے ده ۱۲
سے نازل شوے دے پس
د نور نه او مکے کښے ترما نقول
نه زیات آیتونه د مکے معظمے
په آخری دور کښے باقی سورت
مدینے منورے په اول دور
کښے ۲ سے دا د عذاب
د آخرت بیان دے یعنی ورځ
سخته ورځ ده که پی ورکوونکی
وی نو د هغے نه به هېر بچے
هېر وی او که حامله وی
نو خپل حمل به ئے ارتا اوکړی
وی او خلق به داسے معلومیږی
لکه چه نشه وی دا به ځله
وی چه کله باری تعالیٰ په
قیامت کښے اعلان اوکړی
چه یو کم زر کسه به دوزخ
ته ځی او یو کس به جنت ته
په خلقو به زلزله شی نو اصحابو
پوښتنه اوکړه چه دا یو کس به
څوک وی نو نبی کریم صلے
اللہ علیه وسلم اوفرمائیل
چه مبارک شئ دا یو به تاسو
یئ او د هغه یو کم زر به کافران وی او دا به داسے وی چه تاسو به خلقو کښے کم یئ او څما امید دے چه نیم به تاسو جنتیان یئ
نو اصحابو د خوشحالئ نه اللہ اکبر او وے ۱۲

سنه وا او سورت مقصد دے ته په هکله کښے سورت کښے فرمان وه چه په غیب عالم صرف الله تعالیٰ دے نو صرف هغه مافوق
غوا بری په هغه فوق زور

كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمْ

د هرے حامله نه حمل د هغے (د سبب د قیامت) او ته به وینے خلق په نشه کښے او دا به وی

بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيدٌ ۝٢ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ

په نشه کښے لیکن عذاب د الله تعالیٰ سخت دے - او ځینی د خلقو نه هغه دی چه جګړه کوی

فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيدٍ ۝٣ كُتِبَ عَلَيْهِ

په توحید د الله کښے بے د علم نه او تابعداری کوی د هر شیطان سرکش - لیکلے شوی دی په هغه

اَنَّهُ مَنْ تَوَلَّاهُ فَاَنَّهُ يُضِلُّهُ وَيَهْدِيهِ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيرِ ۝٤

چه چا د هغه دوستی اوکړه نو هغه له به غلطوی او بیائی هغه ته لاره د عذاب د اور -

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ

اے خلقو! که یئ تاسو په شک کښے د دوباره ژوند نه نو شک غلط دے ځکه چه) یقیناً مونږ

مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ

پیدا کړی تاسو له خاورو بیا د څاڅکی نه بیا د وینے نه بیا د غوښے نه چه پوخه

مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِي الْاَرْحَامِ مَا

نقشه د انسان ورکړے شوی وه (یا نه وه ورکړے) او نقشه کښے نه وه چه قدرت مونږ ښکاره کړو تاسو ته او ساتو په رحمونو کښے

نَشَآءُ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْۤا اَشُدَّكُمْ ۚ

څه چه مونږ غواړو تر یوے مقرری مودے بیا او باسو تاسو واړه بیا د دے دپاره چه اورسیږئ طاقت ځوانئ

وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰۤى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا

او ځینی ستاسو هغه دی چه وفات کړے شی او ځینی ستاسو هغه دی چه واپس کړے شی ناکاره عمر ته چه معلوم

يَعْلَمَ مِنْ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا ۚ وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَآ

نه کړی پس د علم نه هیڅ شے - او ته به وینے زمکه خرابه نو کله چه

آورښتے تعول نبیا و علیه السلام هغه ته ژاړی او په دے سورت کښے ووائی دے چه د ښیې نه رحم د هغه کوئ او د هغه د وجه نه شی ته حرام وژل او نور د غیرمه کوئ او د غیره د وجه نه بیوشی ته حرام مه وایئ نو په دے مقصد باندے بیا د الله تعالیٰ دلیل پیش کوی چه انسان خپل پیدا ایښت او ګوره پیدا کښے څومره اوبیا زمکے ته او ګوره چه فصل څومره لوړه ته پوره نو د وینه به ته معلوم کړے چه الله تعالیٰ حق دے او صرف هغه ژوندی کوی او په هر څه قادر دے او دا به درته هم معلوم شی چه قیامت حق دے چه دوباره لوئے کار و نه کولے شی نو مری هم ژوندی کولے شی او حاجتونه هم په ره کولے شی نو رف د الله تعالیٰ نه رو نه کوئ د حاجتونو دپاره او رف د هغه د وجه نه شی ته حرام واښ نو دا د توحید دپاره هم دلیل دے او د قیامت دپاره هم دلیل دے.

له وازور نه وه چه دالله په خلق دی چه جګړه کوی په توحید د الله تعالیٰ کښې او څهٔ دلیل ورسره نیشته او د حق نه تکبر کوی چه نور خلق بد ګمراه شی په دین باندې نو دهٔ له په دواړو جهانو عذاب دے او دا عذاب د دهٔ د لاسونو ګټه ده الله تعالیٰ خو په چا ظلم نه کوی ۲ سے دا هم زورنه دهٔ چه د الله تعالیٰ عبادت کوی خو د دهٔ تسلی نیشته په دین باندې نو دے په غاړه ولاړ دے که خوشحال شی او خوشحال ورته حاصل شی نو په دین باندې ټینګ شی او که تکلیف ورته اورسی نو څپله مخه باندې روان شی نو دا سړے په دواړو جهانو تاوانی دے او دا ښکاره تاوان دے

أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍ

وُرُدم په حق باندې باران نو تازه شی او ښوکه شی او راوبوکوی هر قسم ګیاه

بَهِيجٍ ۝ ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّهُ يُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَأَنَّهُ

تازه - دا ځکه ده چه الله تعالیٰ حق دے او دے ژوندی کوی مړی او دے په

عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۝ وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا

هر شی باندې قادر دے ، او قیامت راتلونکے دے نیشته شک په حقه کښې .

وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَن فِي الْقُبُورِ ۝ وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ

او الله ژوندی کوی هغه څوک چه په قبرونو کښې دی - او ځینې د خلقو نه هغه دی چه جګړه کوی

فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُّنِيرٍ ۝ ثَانِيَ عِطْفِهِ

په توحید د الله کښې بې د علم نه او بې د هدایت نه او بې د صاف کتاب نه - اړوی څنګ خپل

لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۖ لَهُ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ۖ وَنُذِيقُهُ

چه غلط کړی خلق د لارې د الله نه د دهٔ د پاره په دنیا کښې شرموندی او څکوو به

يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَذَابَ الْحَرِيقِ ۝ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ وَ

دهٔ ته په ورځ د قیامت عذاب د سوځولو - دا عذاب ثابت دے په سبب د هغه چه مخکښې کړې دی لاسو

أَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ۝ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَعْبُدُ

ستا او الله نه کوی ظلم په بندګانو باندې - او ځینې د خلقو نه هغه دی چه بندګی کوی

اللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ ۖ فَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ اطْمَأَنَّ بِهِ ۖ وَإِنْ أَصَابَتْهُ

د الله په طرف باندې - نو که اورسی ورته خوشحالی نو قائم شی په دین - او که اورسی دهٔ ته

فِتْنَةٌ انقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ

تکلیف نو واپس شی په مخ خپل باندې - خراب دهٔ د حقهٔ دنیا او اخرت - دا صرف

لـه دوی دَ هغه چا بلنه کوی سِوا دَ الله تعالیٰ نه چه نهٔ ضرر کولے شی او نهٔ نفع بلکه بلنه دَ هغه کومو ضرر لوئے دَے دوی خیال دے چه مونږ ځکه دَ دوی بلنه کوو چه دوی به زمونږ دوستی کوی نو الله تعالیٰ فرمائی چه

ٱلْخُسْرَانُ ٱلْمُبِينُ ﴿١١﴾ يَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ وَمَا

تاوان دے ښکاره - بلی سِوا دَ الله نه هغهٔ چه ضرر ورته نشی رسولے دغه او هغه

لَا يَنفَعُهُۥ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَـٰلُ ٱلْبَعِيدُ ﴿١٢﴾ يَدْعُوا۟ لَمَن ضَرُّهُۥٓ

چه نفع نشی رسولے دغه دے - دا غلطی ده لوئے دَ حق نه - بلی هغه چه ضرر دَ بلنے دَ هغهٔ

أَقْرَبُ مِن نَّفْعِهِۦ ۚ لَبِئْسَ ٱلْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ ٱلْعَشِيرُ ﴿١٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ

نزدے دے دَ نفع دَ هغهٔ نه - ناکاره مدد گار دے او ناکاره دوست دے یقیناً الله

يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن

بوځی هغه کسان چه مؤمنان دی او کوی نیکی باغونو ته چه بهیږی به دَ

تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾ مَن كَانَ يَظُنُّ

لاندے دَ هغو نه ویالے - یقیناً الله کوی هغه کار چه اراده ئے اوکړی - دَ چا چه گمان وی چه

أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى

امداد نهٔ کوی دَ دهٔ سره الله په دنیا او په آخرت کښے (خو دا لے مثال دے) نو اوږده دے کړی رسئ

ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُۥ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾

چت ته بیا دے ئے خفه کړی نو او دے گوری چه ختمولے شی تدبیر دَ دهٔ هغه چه دے قهر وی

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَـٰهُ ءَايَـٰتٍۭ بَيِّنَـٰتٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يُرِيدُ ﴿١٦﴾

او دَغسے مونږ نازل کړے دے قرآن لره صاف آیتونه او الله خونه کوی هغه چا ته چه اراده ئے اوشی -

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلصَّـٰبِـِٔينَ وَٱلنَّصَـٰرَىٰ

یقیناً هغه خلق چه ایمان ئے راوړے دے او هغه چه یهودیان دی او صابیان دی او نصاریٰ دی

وَٱلْمَجُوسَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ

او مجوس دی او مشرکان دی - یقیناً الله به فیصله اوکړی به مینځ دَ دوی

دوستان دی لوئنا کاره دوستان دی چه دَ دوی تعلق سبب دَ تاوان دَ پهٔ دواړه جهانونو کښے ۱۲

ـه دا بشارت دے چه دا یقینی وی چه واقعی دَ نفع لائق یے دَ الله تعالیٰ دَ یک څوک نیښتے او دَ دے ایمان موافق نیک عمل کوی نو باری تعالیٰ به هغو لره جنتونه ورکړی ۱۲ ۱۲

ـه دا زور نه ده چه دَ چا گمان وی چه الله تعالیٰ دَ دهٔ سره امداد نهٔ کوی او دا سرے دَ بل چا نه امداد غواړی نو دَ دے دا مثال دے چه چت ته رسئ وه او دَ ختو امید وی نو چه رسئ غوڅه شوه نو امید دَ ختو هم ختم شو نو دغسے چه څوک دَ الله تعالیٰ نه امداد غواړی نو امید دَ قبلیدو وی ځکه چه الله تعالیٰ قادر او عالم او رحمان او غفور او صبور دے او چه دَ غیر نه غواړی نو گویا هغه رسئ ختمه شوه یعنی امید دَ قبلیدو ونیشتے ۱۲ ۱۲

ـه دا ترغیب دے قرآن ته ۱۲ ـه دا تخویف دے یعنی عمل فیصله به دَ دوی په درمیان کښے الله تعالیٰ په ورځ دَ قیامت او کوم چه گمراهان به وو زخ ته واچوی ۱۲ ۱۲

ﻟﻪ ﺩﻭﺍﮌﻩ ﷲ ﺗﻌﺎﻟﯽ ﺩ ﻭﺣﺪﺍﻧﻴﺖ ﺑﻴﺎﻥ ﺛﺒﻮﺕ ﺩﮮ ﭼﻪ ﺩ ﺁﺳﻤﺎﻧﻮﻧﻮ ﺍﻭ ﺩ ﺯﻣﮑﮯ ﺧﻠﻖ ﺩ ﺑﺎﺭﻱ ﺗﻌﺎﻟﯽ ﺗﺎﺑﻊ ﺩﻱ ﻧﻮ ﺍﻧﺴﺎﻥ ﺗﻪ ﻭﻟﮯ ﻧﻪ ﻳﻮ ﮐﻴﮋﻱ

ﻟﻪ ﻭﺍﮐﻪ ﺁﺧﺮﺕ ﺩ ﻋﺬﺍﺏ ﺑﻴﺎﻥ ﺩﮮ ﭼﻪ ﺩﻭﻩ ﮈﻟﮯ ﺩﻱ ﻳﻮﻩ ﮔﺮﻭﻩ ﺧﺪﺍﺋﮯ ﺗﻌﺎﻟﯽ ﺩ ﺗﻮﺣﻴﺪ ﺑﻴﺎﻥ ﮐﻮﻱ ﺍﻭ ﺑﻠﻪ ﺩ ﺗﻮﺣﻴﺪ ﻧﻪ ﺧﻼﻑ ﮐﻮﻱ ﻧﻮ ﺩﻭﻱ ﺑﻪ ﺩﻭﺯﺥ ﮐﻴﮋﮮ ﺑﻪ ﻋﺬﺍﺏ ﻭﻱ

ﺳﻠﻪ ﺩﺍ ﺑﺸﺎﺭﺕ ﺩﮮ ﻣﻮﺣﺪﻳﻨﻮ ﻟﺮﻩ ﭼﻪ ﺩﻭﻱ ﺑﻪ ﺟﻨﺖ ﮐﺸﮯ ﻣﺰﮮ ﮐﻮﻱ ﻳﻌﻨﯽ ﺩ ﺗﻮﺣﻴﺪ ﻣﺴﺌﻠﻪ ﺩﻳﺮﻩ ﺯﺑﺮﺩﺳﺘﻪ ﻣﺴﺌﻠﻪ ﺩﻩ ﭼﻪ ﻧﻪ ﻣﻨﻮﻧﮑﻮ ﻟﺮﻩ ﺩﺍ ﺳﺨﺖ ﻋﺬﺍﺑ ﺩﮮ ﺍﻭ ﻣﻨﻮﻧﮑﻮ ﻟﺮﻩ ﺩﺍ ﺩﻳﺮ ﺛﻮﺍﺏ ﺩﮮ

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿١٧﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ

ﭘﻪ ﻭﺭځ ﺩ ﻗﻴﺎﻣﺖ - ﻳﻘﻴﻨﺎً ﷲ ﺗﻌﺎﻟﯽ ﻫﺮ ﺷﻲ ﺗﻪ ﺣﺎﺿﺮ ﺩﮮ - ﺁﻳﺎ ﻧﻪ ﮔﻮﺭﮮ ﭼﻪ

اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ وَالشَّمْسُ

ﷲ ﻟﺮﻩ ﺳﺠﺪﻩ ﮐﻮﻱ ﻫﻐﻪ ټﻮﻝ ﭼﻪ ﭘﻪ ﺁﺳﻤﺎﻧﻮﻧﻮ ﮐﺸﮯ ﺩﻱ ﺍﻭ ﻫﻐﻪ ﭼﻪ ﭘﻪ ﺯﻣﮑﻪ ﮐﺸﮯ ﺩﻱ ﺍﻭ ﻧﻤﺮ

وَالْقَمَرُ وَالنُّجُوْمُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ وَكَثِيْرٌ

ﺍﻭ ﺳﭙﻮږﻣۍ ﺍﻭ ﺳﺘﻮﺭﻱ ﺍﻭ ﻏﺮﻭﻧﻪ ﺍﻭ ﻭﻧﮯ ﺍﻭ ﺯﻧﺪﻩ ﺳﺮ ﺍﻭ ﮈﻳﺮ

مِّنَ النَّاسِ ؕ وَكَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ؕ وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ

ﺧﻠﻖ - ﺍﻭ ﭘﻪ ﮈﻳﺮﻭ ﻻﺯﻡ ﺷﻮﮮ ﺩﮮ ﻋﺬﺍﺏ - ﺍﻭ ﺩ ﭼﺎ ﭼﻪ ﺑﮯ ﻋﺰﺗﻲ ﺍﻭﮐړﻱ ﷲ

فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿١٨﴾ هٰذٰنِ خَصْمٰنِ

ﻧﻮ ﻧﺸﺘﮯ ﻫﻐﻮ ﻟﺮﻩ ﻋﺰﺕ ﻭﺭﮐﻮﻭﻧﮑﮯ - ﻳﻘﻴﻨﺎً ﷲ ﮐﻮﻱ ﻫﻐﻪ ﮐﺎﺭ ﭼﻪ ﺧﻮښ ﺋﮯ ﺷﻲ - ﺩﺍ ﺩﻭﺍړﻩ ﻓﻴﺼﻠﻪ ﻣﺎﺭﺩﻱ

اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ ؗ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ

ﺟﮕړﻩ ﮐﻮﻱ ﭘﻪ ﺗﻮﺣﻴﺪ ﺩ ﺭﺏ ﺧﭙﻞ ﮐﺸﮯ - ﻧﻮ ﮐﻮﻡ ﭼﻪ ﮐﺎﻓﺮﺩﻱ ﻧﻮ ﺟﻮړ ﺑﻪ ﺷﻲ ﻫﻐﻮ ﻟﺮﻩ ﺟﺎﻣﮯ ﺩ

نَارٍ ؕ يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِيْمُ ﴿١٩﴾ يُصْهَرُ بِهٖ مَا فِيْ

ﺍﻭﺭﻩ - ﺁﻭ ﻭﻟﮯ ﺑﻪ ﺷﻲ ﭘﻪ ﺳﺮﻭﻧﻮ ﺩ ﺩﻭﻱ ﺑﺎﻧﺪﮮ ﮔﺮﻡ ﺍﻭﺑﻪ - ﻭﻳﻠﯽ ﺑﻪ ﺷﻲ ﭘﻪ ﻫﻐﮯ ﺳﺮﻩ ﻫﻐﻪ ﭼﻪ

بُطُوْنِهِمْ وَالْجُلُوْدُ ﴿٢٠﴾ ؕ وَلَهُمْ مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيْدٍ ﴿٢١﴾ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا

ﭘﻪ ﮔﻴډﻭ ﺩ ﺩﻭﻱ ﮐﺸﮯ ﺩﻱ ﺍﻭ ﭘﻮﺳﺘﻮﻧﻪ - ﺍﻭ ﺩﻭﻱ ﻟﺮﻩ ﺑﻪ ټﮑﻮﻧﻪ ﻭﻱ ﺩ ﺍﻭﺳﭙﻨﮯ - ﻫﺮ ﮐﻠﻪ ﭼﻪ ﺍﺭﺍﺩﻩ ﺍﻭﮐړﻱ

اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ اُعِيْدُوْا فِيْهَا ۗ وَذُوْقُوْا عَذَابَ

ﭼﻪ ﺍﻭﻭځﻲ ﺩ ﻫﻐﻪ ﻧﻪ ﺩ ﻏﻢ ﺩ ﻭﺟﻪ ﻧﻪ ﻧﻮ ﻭﺍﭘﺲ ﺑﻪ ﮐړﮮ ﺷﻲ ﭘﻪ ﻫﻐﮯ ﮐﺸﮯ ﺍﻭ ﺣﺎﺻﻞ ﺑﻪ ﮐړﻱ ﻋﺬﺍﺏ

الْحَرِيْقِ ﴿٢٢﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

ﺩ ﺳﻮﻟﻮ - ﻳﻘﻴﻨﺎً ﷲ ﺑﻪ ﻭﺭﻭﻟﻲ ﻫﻐﻮ ﻟﺮﻩ ﭼﻪ ﻣﻮﻣﻨﺎﻥ ﺩﻱ ﺍﻭ ﮐﻮﻱ ﻧﻴﮑﻲ

ے والو ے انعام د جنت وو ... چه مومنو ته په دنیا کښې هدایت شوے وه مزیدارے خبرے ته چه هغه
باری تعالی ته ورسیږی ولاړ وه یعنی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ۱۲ ... د صالح خبرے بیان دے ۱۲ ... د

جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ یُحَلَّوْنَ فِیْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ

باغونو ته چه بهیږی لاندې د هغوی ولې ور به کړې شي هغوی ته په جنت کښې بنګړی

ذَهَبٍ وَّ لُؤْلُؤًا ؕ وَ لِبَاسُهُمْ فِیْهَا حَرِیْرٌ ۝ وَ هُدُوْۤا اِلَی الطَّیِّبِ

د سرو زرو او ملغلرے - او جامه به د دوی په جنت کښې د ورېښمو وی - هدایت شوے وه دوی ته پاکې

مِنَ الْقَوْلِ ۚۖ وَ هُدُوْۤا اِلٰی صِرَاطِ الْحَمِیْدِ ۝ اِنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا

پاکې خبرې - او هدایت شوی وه دوی ته په طرف د لارې د الله - یقینا هغه خلق چه کافران دی

وَ یَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِیْ جَعَلْنٰهُ

او منع کوی خلق د لارې د الله نه او د جمات د عزت نه کوم چه مونږ جوړ کړې دے

لِلنَّاسِ سَوَآءَ ِۨالْعَاكِفُ فِیْهِ وَ الْبَادِ ؕ وَ مَنْ یُّرِدْ فِیْهِ بِاِلْحَادٍۭ

خلقو لره برابر دی اوسیدونکی په هغه کښې او مسافر - او چا چه اراده وکړه په هغه کښې غلطی

بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ اَلِیْمٍ ۝ وَ اِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِیْمَ مَكَانَ

په ظلم سره نو ور به څکوو مونږ هغه ته عذاب دردناک - او کله چه او ښودلو مونږ ابراهیم ته ځائے د

الْبَیْتِ اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِیْ شَیْـًٔا وَّ طَهِّرْ بَیْتِیَ لِلطَّآىِٕفِیْنَ وَ

بیت الله چه مه شریکوه ما سره هیڅ شے او پاک کړه کور زما طواف کوونکو او

الْقَآىِٕمِیْنَ وَ الرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ۝ وَ اَذِّنْ فِی النَّاسِ بِالْحَجِّ یَاْتُوْكَ

ولاړو او رکوع سجده کوونکو لره - او اعلان او کړه خلقو ته د حج د پاره چه راشی تا ته

رِجَالًا وَّ عَلٰی كُلِّ ضَامِرٍ یَّاْتِیْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِیْقٍ ۝

پیاده او په هر خوار اوښ چه راځی د هرې لرې لارې نه -

لِّیَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ وَ یَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِیْۤ اَیَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ

چه حاضر شی خپلو فائدو ته او یاد کړی نوم د الله تعالی په ورځو معلومو کښې

عذاب او اجر بیان دے
چه څوک کفر کوی او نور خلق
د خدائے تعالی د کور نه
منع کوی او هغه خوک تولو
مسلمانو د پاره دے او
په دغه کور کښې ظلم کوی نو
هغوی له سخت عذاب دے
یعنی صرف د الله تعالی
د کور طواف کوئ او د هغه
نذر پیدا کړئ یعنی په
عبادت کښې د باری تعالی سره
څوک شریک نه کړئ نو
طواف به صرف د الله تعالی
د کور وی نه د بل ځائے
یعنی د قبر یا مزار طواف
او نه کوئ که بل ځائے د
طواف وے نو بیا به ولے خلق
مکے معظمے ته تلل او که بل
ځائے به هم داسے د ګناه
نهیلید وے نو بیا خلق ولے
عرفات ته ځی - او که بل څوک
وے نو بیا هغه د مکے معظمے
حرم ته څه ضرورت دے،
امام صاحب دومره احتیاط
کوی وائی چه حرم کښې
منع ورته ... د حرم د
مکے مکرمے نه دے - او
په مزار د نبی کریم صلی الله
علیه وسلم کښې به سترګے
لاس وغیره د پاره نه وړئ
او نه به لاس په قبر لګوئ
بلکه لاس به نه وړئ د
او دغه او وروسته وائی چه
زیارت شی په ... ورباندې
نبی کریم صلی الله علیه وسلم او ... د زیارت د الله تعالی کښې ۱۲ شه په حج کښې دنیوی او اخروی نفعے دی ۱۲ ۱۲ ۱۲
شه جه ورځے د قربانئ مراد دی لسمه یولسمه دولسمه ۱۲

لہ مطلق نذر مراد دے نہ مقید ۱۲ ۲ یعنی اللہ تعالیٰ چہ کوم شے حرام کړي دي د حقہ خیال ساتل یعنی د بیت اللہ شریف
پہ طرق خدائے تعالیٰ حرامہ کړې دہ نو تاسو د بیت اللہ شریف د حرمت خیال ساتئ ۱۲ ۳ یعنی کوم شے چہ اللہ تعالیٰ

عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا

پہ حقہ شی چہ ورکړي دي دوي لرہ اللہ چہ بې ژبے څاروي دي - نو خورئ د حقہ نہ او خورئ ورکړئ پہ

الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ۝٢٨ ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ

بدحال فقیر باندے - بیا دې لرې کړي خیرې خپلے او پورہ دې کړي نذرونہ خپل

وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ۝٢٩ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ

او طواف دې او کړي د کور پخوانی - دا وا ورئ - او چا چہ تعظیم او کړو د عزتونو د اللہ

فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۗ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا يُتْلٰى

نو دا غوره دہ دۀ لرہ پہ نزد د رب د دۀ - او حلال دي ستاسو د پارہ څاروي مګر حقہ چہ لوستے کیږي

عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ

پہ تاسو باندے نو ځان بچ کړئ د ګندګئ نہ چہ هغہ معبودان دي او ځان بچ کړئ د خبرے د

الزُّوْرِ ۝٣٠ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ۗ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ

دروغو نہ - پاک شئ د اللہ د پارہ مہ شریکوئ د اللہ سرہ (هیڅ شے) او چا چہ شریک جوړ کړو د اللہ سرہ

فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ

(هغہ شے) نو ګویا راتاؤ شو د آسمان نہ نو او تختوي هغہ لرہ مرغانو یا والوزاوہ هغہ لرہ هوا

مَكَانٍ سَحِيْقٍ ۝٣١ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ

ځائے لرے تہ - دا وا ورئ - او چا چہ عزت او کړو د اللہ د دین د څیزونو نو دا کار د

تَقْوَى الْقُلُوْبِ ۝٣٢ لَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ

زړونو تقوٰی دہ - تاسو لرہ پہ هغو کښې نفعے دي تر نیټے مقررے پورے - بیا

مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ۝٣٣ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا

ځائے د حلالے د دغو څاروو نزدې بیت اللہ تہ دے - او د هر امت د پارہ مقرر کړي دي قربانی چہ یاد کړي

حلال کړي دي حقہ پہ ځان مہ حراموئ البتہ کوم شے چہ خدائے تعالیٰ حرام کړي دي نو حقہ حرام او ګنړئ ۱۲
۴ اوثان د وثن جمع دہ لکہ اصنام د صنم جمع دہ ویلے کیږي هغہ معبودو تہ چہ سوا د اللہ تعالیٰ نہ وي ۱۲
۵ د غیر اللہ نذر کول چہ دے پہ نا ذرتہ نقع رسوي دروغ شرتہ خبرہ دہ ۱۲
۶ دا د حنفاء تفصیل دے ۱۲
۷ یعنی دا ئے هلاک شو چہ مارغانو وخوړو یا هوا والوزاوہ لرے مکان تہ ۱۲
۸ یعنی اللہ تعالیٰ چہ څہ تہ عزت ورکړے دی د حقہ شی عزت کول تقوٰی دہ ۱۲
۹ یعنی د کوم څاروي چہ تاسو د هدی ارادہ او کړو نو د ارادے نہ مخکښې ترے فائدہ اخستے شئ او کہ هدی پہ جوړہ شوہ نو بیا ترینہ فائدہ اخستے شئ د پیئو یا د سورلئ پہ وخت د ضرورت کښې خو د حقے پہ بدلہ ورکوئ غریبانو تہ بیا چہ حرم تہ اورسي حلتہ بہ ئے حلالوئ ۱۲

ع ٤ ٨ ١١

سلے وا نتیجه دا چه صرف د الله تعالیٰ محرمات په حرام گنڑئ او صرف د هغه نذر به کوئ نه د بل وا خلکو چه د الله ټوله ... وکړئ کو موخکلو چه د اسے پلی او مثلی نو هغوته ... ورکړه ... کوم اونی یا د تکی یا مینه چه د بیت الله و الله حرم ... به نه وی داد خدائے تعالیٰ د عزت علامه ... او بنان په ولاړے حلالے کیږی ... قانع صابر چه سوال نه کوی

اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۭ فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ

نوم د الله په هغه شی چه ورکړے دے دوی ته الله چیلے ژبانی څاروی دی - نو الله ستاسو یو

وَّاحِدٌ فَلَهٗٓ اَسْلِمُوْا ۭ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ۙ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ

دے نو صرف د هغه تابع شئ - او مبارکی ورکړه عاجزی کوونکو ته - هغه کسان چه کله یاد شی الله

وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَآ اَصَابَهُمْ وَالْمُقِيْمِي

نو ویریږی زړونه د دوی او صبر کوی په هغه شی چه اورسی دوی ته ، او کوی

الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝ وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ

مونځ ، او څینی د هغه مال چه مونږ ورکړے خیرات کوی - د بیت الله هدی مونږ مقرر کړی دی ستاسو دپاره

مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ڰ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ

د پاره د اعلامے د دین د خدائے دی ستاسو دپاره په دغه کښے خیر دے نو یاد وئ نوم د الله په دوی باندے چه په قطار

فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ

ولاړ وی ، نو کله چه اولگی اړخونه د هغوی نو خورئ د هغو او خورویئ په صابر او بے قراره باندے -

كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا

دغسے مونږ تابع کړی دی تاسو له اُمید دے چه تاسو احسان اومنئ - هیڅ کله نه رسی الله ته غوښے د هغو

وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ۭ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ

او نه وینے د هغو لیکن رسی الله ته تقویٰ ستاسو ، دغسے تابع کړی دی هغه ستاسو

لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ۭ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ

چه لوئی بیان کړئ د الله په هغه طریقه چه خودلے دے تاسو ته - او زیرے ورکړه نیکانو ته - یقیناً الله تعالیٰ

يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ۝

دفع کوی د مؤمنانو نه د تکالیف د کافرانو - یقیناً الله محبت نه کوی د هر خیانت کوونکی ناشکره سره -

لوی واتیجه دا چه صرف د الله تعالیٰ ... مُعتر چه په ژبه نه خوځوئ نه والی نو مخے ته راځی نو ځان ته ... کوی د احتیاج د وجه نه سلے یعنی د الله تعالیٰ په دربار کښے په احسان په کار دے ۱۲ کله دین هغه دے چه د هغه ثبوت وی د باری تعالیٰ نه او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم خبره خو په حقیقت کښے خبره د الله تعالیٰ ده مثلاً د عرفه په ورځ خلق بل مقام ته جمع کیږی او د خدائے لوئی بیانوی او دُعا غواړی دا کار غلط دے ځکه چه الله تعالیٰ دا خبره نه ده خودلے یا په بله ورځ خلق عرفات ته جمع کیږی او صلاة دُعا غواړی او د الله تعالیٰ لوئی بیانوی نو دا کار هم دین نه دے بلکه بدعت دے یعنی د کتاب او دین جوړ دل په دعایت کښے د بدعاتو خاتمه او محوه فتنه الحسنات ۱۲ عه د دین ثبوت په عقل نه دے بلکه نقل ته ضرورت دے مثلاً د اختر د مونځ دپاره آذان او اقامت نیشته ځکه چه نقل ئے نه دے راغلی په جمعه ورو ستو سنتو نه دُعا نیشته ځکه چه د دے نقل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه نه دے راغلی او سره د دینه چه تمام رَبُّکُم الْاَعْلٰی ... لکه ، عام دلیل شته خو چه دے ... تر څو چه عمل شروع کړی نو دوی ته ... عام دلیل نبی کریم صلی الله علیه وسلم پښته بوځینه او وهغه په عمل نه دے کړے نو که ... نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه وچت بشکاره با - نعوذ بالله منه - په دین کښے پیدا احتیاط دے ۱۲

۵ ۱۲

دویم باب

سله د اعلان د جهاد دے یعنی چه څوک د اهل کفره مسلمانانو سره جهاد او کړی الله تعالیٰ به فتح ورکړی ١٢
ته واد د جهاد په تور سره د سبب بیان دے یعنی اذن ځکه او شو چه مسلمانان مظلومان دی او د حقوق ماګان دوه چه الله تعالیٰ تهٔ یو والیٰ ثبوت اخوښتاه نهٔ دے ١٢ سله واد د جهاد د مشروعیت وجه دهٔ که جهاد د نه وی نو دین به مخالفینو ورانه کړے وے ١٢ سله واعلان دے چه څوک د الله د دین امداد کوی نو الله تعالیٰ د هغهٔ سره هم امداد کوی سله واد مجاهدینو د امداد وجه ده چه د وی د دین قائم کوی نو ځکه د دوی سره الله امداد کوی سله واد تسلی ده نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته چه د کافرانو تا له دروغژن ویل نا شنا خبره نهٔ ده ځکه چه کافرانو پیغمبرانو له دروغژن ویلی دی ١٢ سله واد عذاب د ټګو بیان دے چه هغوی کافرانو ته ما صبر او کړو بیا مې ختم کړل نو په دغه شکل به دا کافران ختم شی چه ستا تکذیب کوی ډیر کلی چه ظلم یې کولو نو ما هلاک کړل د دغه کلو چتونه راتاو شو او د وا پرے دیوالونه او نور زیات او دغسې ډیر د کوهی خلق ځکه چه د دغه کوهی به خوا کښې آباد وو هغه خلق ما هلاک کړل او دغه کوهی شړ دے او ډیرے محلے بنګلے وے چه اوس شړے دی د دوی په زمکه کښې نهٔ ګرځی چه د تباه قوم حال

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ

اذن اوشو جنګ ته هغو کسانو ته چه جنګ ورسره کیږی کافران (مسلمانانو سره) جنګ کوی ځکه چه ظلم پرې شوے دے او یقیناً الله په مدد د

لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا

هغوی قادر دے ٣٩ - کوم چه وېستلے شوی دی د کورونو نو خپلو نه په ناحقه مګر هغوی وائی چه

رَبُّنَا اللَّهُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ

رب زمونږ الله دے - او که نه وے د فع کول د الله خلقو له ځینو له په ځینو سره نو ورانے شوے وے

صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ

صومعې او د یهودو عبادت خانې او مسجدے او جماتونه یاد یږی په هغوی کښې نوم د الله ډیر -

وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ الَّذِينَ

او یقیناً امداد به اوکړی الله د هغه چا سره چه امداد د کوی د الله - یقیناً الله طاقت والا دے زبردست - هغه خلق

إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا

که طاقت ورکړو دوی له په زمکه کښې نو کوی به مونځ او ورکوی به زکوٰة او حکم به کوی

بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿٤١﴾ وَإِن

په نیکو سره او منع کوی به خلق د بدو نه - او د الله اختیار دے آخر د ټولو کارونو - او که

يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾ وَ

دروغژن کوی تا له (نو پروا نشته) دروغژن کړی وو پخوا د دوی قوم د نوح او عادیانو او ثمودیانو - او

قَوْمُ إِبْرَاهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾ وَأَصْحَابُ مَدْيَنَ ۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ

قوم د ابراهیم او قوم د لوط - او خلقو د مدین (رسولانو له) او دروغژن شوے وو موسیٰ

فَأَمْلَيْتُ لِلْكَافِرِينَ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾ فَكَأَيِّن

نو ما صبر او کړو کافرانو ته بیا او نیول هغوی له نو څنګه وه عذاب زما - نو ډیر د

او وینی چه پوهه شی لیکن د دوی زړونه پانده دی نو واقعات وینی او عبرت ترے نه اخلی - یا الله مونږ د خپل عذاب نه بچ کړے په خپل رحم او کرم سره آمین ١٢

له واز ورته وه محافظونو ته چه دوی ستاسو عذاب غواړی چه مونږ نه منو ته عذاب را وله - د دوی د پاره عذاب مقرر دے او الله تعالیٰ د عذاب د وخت نه خلاف نه کوی او دوه مره لوئے قدرت والا دے چه د زرو کلو کار په

مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا

کلو لره ما هلاک کړی دی ځکه چه دوی ظالمان وو نو دغه کلی ارتاو دی په چتونو خپلو

وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَّقَصْرٍ مَّشِيْدٍ ﴿٤٥﴾ اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

او ډیر کوهی شړ او ډیر محلے ما هلاک کړی دی - نو آیا نه ګرځی دوی په زمکه کښې

فَتَكُوْنَ لَهُمْ قُلُوْبٌ يَّعْقِلُوْنَ بِهَآ اَوْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ۚ

چه شی دوی لره زړونه چه پوهه شی پرے او یا غوږونه چه واوری پرے

فَاِنَّهَا لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ وَلٰكِنْ تَعْمَى الْقُلُوْبُ الَّتِيْ فِي

یقینا نه دی ړندے سترګے لیکن ړاندہ دی هغه زړونه چه په

الصُّدُوْرِ ﴿٤٦﴾ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ وَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ ۚ

سینو کښې دی - او زر غواړی ستانه عذاب لره او هیڅ کله خلاف نه کوی الله د وعدے خپلے نه

وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ﴿٤٧﴾ وَكَاَيِّنْ

او یقینا یو ورځ په نزد د رب ستا په شان د زرو کلو ده د هغے نه چه تاسو ئے شمارئ - او ډیر د

مِّنْ قَرْيَةٍ اَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذْتُهَا ۚ وَاِلَيَّ

کلو ته ما صبر کړے دے او دوی ظالمان وو بیا ما ونیول - او ما ته

الْمَصِيْرُ ﴿٤٨﴾ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَآ اَنَا لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤٩﴾

واپسی ده - او وایه چه اے خلقو یقینا زه ستاسو د پاره ویروونکے یم ښکاره -

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ

نو هغه خلق چه مؤمنان دی او کوی نیکی د هغو د پاره بخنه ده او رزق دے

كَرِيْمٌ ﴿٥٠﴾ وَالَّذِيْنَ سَعَوْا فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

د عزت - او هغه خلق چه کوشش کوی د ختم په ایتونو زمونږ کښې خیال لری چه مونږ به عاجز کړو دا دوی

یو ورځ ئے ختم کولے شی واهم مرقع مثال دے چه یو لوئے طاقت والا دے عذاب ورکولے شی هغو له عذاب د پاره وخت مقرر دے ١٢

٢ واد عذاب د نیولو بیان دے چه ډیر کلی وو ظالمان او ما هغو ته صبر کولو بیا م ونیول او هلاک م کړل د تیرے په هر زمانه کښې به الله تعالیٰ ظالمان ختمول ١٢ ١٢

٣ وا ترغیب د اتباع ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم او وضاحت د توحید دے چه محمد خو صرف نذیر یم ما خبره او منئ او عذاب راوستل خو صرف باره تعالیٰ کے ١٢

٤ وا بشارت دے د مؤمنانو د پاره چه د مؤمنانو گناه معاف او هغو له د عزت رزق دے ١٢ ١٢ ١٢

٥ واد عذاب اخروی بیان دے چه کوم خلق کوشش کوی چه خما دلائل د وحدانیت خلقو ته غلط ښکاره کړی او دا خیال هم کوی چه مونږ به د خدائے د عذاب نه بچ شو نو دا خیال د دوی غلط دے بلکه دوی دوزخیان دی ١٢ ١٢ ١٢ ١٢

ع ١٢

ل دا په دا ایتونو کښې د فساد خوړونو تفصیل دے یعنی یو پیغمبر به کوم خدائے کتاب او لوستو نو شیطان به د هغهٔ متعلق د خلقو په زړونو کښې شک

الْجَحِيمِ ۝ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّا

دوزخیان دی - او مونږ دے نه مخکښې هیڅ نه دے استولے یو رسول او نه نبی مګر کله

إِذَا تَمَنَّىٰ أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ فَيَنسَخُ اللَّهُ مَا يُلْقِي

چه هغهٔ به او لوستو (کتاب) نو او به غورزاوهٔ (شک) شیطان په حق د لوستو د هغهٔ کښې (په زړونو د خلقو کښې) نو ورکی

الشَّيْطَانُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللَّهُ آيَاتِهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝ لِّيَجْعَلَ

به کړو الله هغه شک چه غورزولے به وهٔ شیطان بیا به محکم کړل الله ایتونه خپل - او الله علم والا حکمت والا دے - چه او ګرځوی الله

مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ فِتْنَةً لِّلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْقَاسِيَةِ

هغه شک چه غورځولے د شیطان ګمراهی هغو لره چه په زړونو د هغو کښې مرض دے او سخت زړونو

قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَفِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ ۝ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ

خلقو لپاره - او یقیناً ظالمان په خلاف لرے کښې دی (د حق نه) او چه پوهه شی هغوی چه

أُوتُوا الْعِلْمَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا بِهِ فَتُخْبِتَ لَهُ

ورکړے شوے ورته علم چه دغه کتاب حق دے د رب ستا نه نو یقین چه او کړی په هغهٔ نو عاجزی شی

قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَهَادِ الَّذِينَ آمَنُوا إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ۝

د زړونه د دوی - او یقیناً الله خونه کوی مؤمنانو ته په طرف د لارے برابر سے -

وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ

او همیشه به کافران وی په شک کښې د قرآن نه تر دے چه راشی دوی ته قیامت

بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ۝ الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ

ناڅاپه یا راشی دوی ته عذاب د ورځے شدید دے - بادشاهی په دغه ورځ صرف الله لره دے

يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ۚ فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فِي جَنَّاتِ

حکم کوی به مینځ د دوی کښې - نو کوم چه مؤمنان دی او کوی نیکی په باغونو د

د خلقو په زړونو کښې شک واچاوه نو الله تعالیٰ به تفصیل او کړو او د هغه شک به ئے ختم کړو مثلاً چه دا حکم او شو چه: وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا: نو شیطان خلقو ته وسوسه واچوله چه ژوندی دی نو حاجات ترے نه غواړئ نو باری تعالیٰ محکم ایت نازل کړو چه: اَللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ: یعنی حاجت روا صرف الله تعالیٰ دے او د شهداء ژوند خو د برزخ دے: عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ: دلته یو غلط قصه مشهوره ده ۱۲

۲ دا د شیطان د شک فائده ده ۱۲

۳ دا د فَيَنسَخُ اللَّهُ فائده ده ۱۲

۴ دا د عذاب اخروی بیان دے ۱۲

۵ دا بشارت اخروی دے چه د چا یقین برابر وی او نیک عمل کوی د دغه یقین په روښنئ کښې نو هغهٔ لره به الله تعالیٰ جنت ورکړی یعنی کل حرج به د هغهٔ معاف شی ۱۲

او جوړ کړيدی په مينځ د دوی کښې پرده او مانع مضبوط ـ او الله هغه دی چه پيدا کړی دی

الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُونَ

د اوبو نه بشر نو کړی دی لره نسب او سخر کښی ـ او د رب ستا قدرت والا ـ او بندګی کوی دوی

مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۗ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِ

سوا د الله نه د هغو چه نفع نه شی رسولی دوی ته او نه ضرر رسولی دوی ته او دی کافر د رب خپل نه

ظَهِيرًا ﴿٥٥﴾ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٥٦﴾ قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ

شا کوونکی ـ او نه دی ليګلی تا لره زيرې ورکوونکی او ويرونکی ـ او وايه نه غواړم ستاسو نه په تبليغ

سله واتسل ... دا حق ته چه توحید مسئله صاف بیانوه او د مخلوقونو ... او د خان حقه ... او سپاره چه ...
او هغه پاک بیانوه د مخلوقونو حو ... الله ته معلوم دی حقه ... او کړه ... آسمانونه او زمکه هغه چه

مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَنْ شَآءَ أَنْ يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِ سَبِيلًا ﴿٥٧﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى

ته مزد ورکړه مګر څوک چه غواړي چه روان شي طرف د رب ته په لاره (د اطاعت) او توکل او سپاره حقه

الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِ ۚ وَكَفَىٰ بِهِ بِذُنُوبِ عِبَادِهِ

ژوندي ته چه نه مري او پاکي بیانوه د صفتونو د حقه - او بس دی هغه په ګناهونو د بندګانو خپلو

خَبِيرًا ﴿٥٨﴾ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ

خبردار - هغه ذات دی چه پیدا کړي دي آسمانونه او زمکه او هغه چه په مینځ د دوی کښی دي په شپږو ورځو

ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ۚ الرَّحْمَٰنُ فَاسْأَلْ بِهِ خَبِيرًا ﴿٥٩﴾ وَإِذَا قِيلَ

بیا قائم شو په عرش باندې - هغه ډیر مهربان دی نو تپوس او کړه په حق د ده کښی د خبردار - او کله چه او ویلی

لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمَٰنِ قَالُوا وَمَا الرَّحْمَٰنُ أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَ

شي دوی ته چه سجده او کړئ رحمان ته - نو وائي دوی چه څه دی رحمن - آیا سجده او کړو هغه ته چه ته ئي وائي او

زَادَهُمْ نُفُورًا ﴿٦٠﴾ تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ

زیاتوي دوی ته د دوی نفرت - برکات والا دی هغه ذات چه پیدا کړي ئي دي په آسمان کښی برجونه او پیدا کړي ئي په هغه

فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا مُنِيرًا ﴿٦١﴾ وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً

کښی ډیوه او سپوږمۍ رڼا کوونکی - الله هغه ذات دی چه پیدا کړي ئي دي شپه او ورځ یو بل پسې راتلونکي

لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا ﴿٦٢﴾ وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ

د هغه چا دپاره چه غواړي چه سوچ او کړي یا اراده او کړي د شکر - او بندګان د الله هغه دي چه

يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا

ځي په زمکه په آرام او کله چه خبرې کوي د دوی سره ناپوهه نو وائي ورته

سَلَامًا ﴿٦٣﴾ وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا ﴿٦٤﴾ وَالَّذِينَ

صاحب سلام - او هغوی چه شپه تیروي د رب خپل دپاره په سجده او په ولاړه - او هغوی دي چه

کړي دي خو برکات ورکوونکی هم هغه الله تعالی دی ... او ... د الله تعالی ... نو او ... نو تپوس د خبردار او کړه چه خود باري تعالی دی ... د ... چه د توحید دعوت د دوی نفرت زیاتوي ... وا د سورت مقصد دریم عمل ذکر کړي ... دا دلیل عقلي دی یو قسم په ستوري او سپوږمۍ د هغه دي نو برکات هم د هغه دي (فائده) د برجونو نه مراد ستوري دي دا ترجمه د ... ظهور ته وائي ۱۲ ۱۲ ... دا دویم دلیل عقلي دی چه ورځ او شپه د هغه دی شپه یو قسم برکت دی او ورځ بل قسم دی (فائده) کله چه نه د شپه وظیفه پاتی شي نو هغه دې د ورځې پوره کړي ۱۲ ... خکه چه په دنیا کښی الله تعالی برکات ورکوي خو دے دنیې په آخرت کښی هم برکات ورکوي خو په آخرت کښی برکات د هغه خاص دي په اتو قسمو بندګانو پورې ۱۲ ۱۲ ... دا قسم اول دے ۱۲ ... دا دویم دے ۱۲ ... دا دریم قسم دے

عه یعنی تکبر نه کوي او د جاهلانو سره جګړه نه کوي ۱۲ عسه تمامه شپه عبادت کوي او ...
د خدای تعالی د بندګانو خاصیت دے چه هم عبادت کوي او هم ویریږي ۱۲

يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ

وائي اے ربه اوګرځوه زمونږ نه عذاب د جهنم - يقيناً عذاب د جهنم دے

غَرَامًا ﴿٦٥﴾ إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٦٦﴾ وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا

هميشه - دا جهنم دے ناکاره ځائے د قرار او د پاتے کيدو - او هغوي چه کله خرچ کوي

لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ وَالَّذِينَ

نو زياتے نه کوي او کمے نه کوي او وي خرچ په مينځ کښے برابر - او هغوي چه

لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ

نه بلي د الله سره خدائے بل لره او نه وژني هغه نفس چه حرام کړے دے

اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُضَاعَفْ

الله مګر په حقه سره او زنا نه کوي - او چا چه اوکړو دا کار نو ملاو به شي ګناه سره - زيات به شي

لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَنْ تَابَ

هغه لره عذاب په ورځ د قيامت او هميشه به وي په هغه کښے ذليل - مګر هغه چا چه توبه ئے اوويسته

وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ

او ايمان ئے راوړو او عمل ئے اوکړو ښه نو دغه خلق به بدل کړي الله بديانو د هغوي په نيکو سره -

وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٧٠﴾ وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ

او دے الله بخښونکے مهربان - او چا چه توبه اوويسته او نيک عمل ئے اوکړو نو يقيناً راګرځي

إِلَى اللَّهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾ وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ

طرف د الله ته په ښه طريقه سره - او هغوي چه نه حاضريږي دروغو ته او کله چه تيريږي په لغوه نو

مَرُّوا كِرَامًا ﴿٧٢﴾ وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا

تيريږي په شرافت سره - او هغوي چه کله ورته يادونه اوکړے شي د آيتونو د رب د هغوي نو نه پريوزي په هغه باندے

لـه دا اتم قسم دے، ٣ــه کال د متقيانو مشرى ده د فاسقانو مشرى نه ده کال دوه د مرتبانو الی د وشقستی شلو ردی
۵ د مولاه موافق شخه زه او لا دنا بعد ارض نيکان او نا بعد اره وستان زمی روزګار په وطن کښه ۱۰ او د دغه د الی ملایه د پید قسمتی وی ۱۲

صُمًّا وَّعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا

راننده او کانړو - او هغوی دی چه وائی اے ربه او بخه مونږ ته د بيبيا نو زمونږ نه

وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا ﴿٧٤﴾ اُولٰٓئِكَ

او د اولاد زمونږ نه یخوالے د سترګو او ګرځوه مونږه متقیانو لره پیشوایان - دوی ته به

يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوْا وَيُلَقَّوْنَ فِيْهَا تَحِيَّةً وَّسَلٰمًا ﴿٧٥﴾

ورکړے شی بالا خانے ځکه چه دوی محنت کړے وه او استقبال به اوشی د دوی په جنت کښے په دعا او سلام

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿٧٦﴾ قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ

همیشه به وی په کښے - ښه ځائے د آرام او د اوسیدو دے (دا جنت) او وایه څه پرواه لری ستاسو

رَبِّيْ لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ۚ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا ﴿٧٧﴾

رب زما که نه وی بلنه ستاسو - نو تاسو دروغ ګڼړلی دی حق لره هم رو بلی نو شی به عذاب لازم (تاسو سره)

سُوْرَةُ الشُّعَرَآءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَتَانِ وَّسَبْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَّاَحَدَ عَشَرَ رُكُوْعًا

شروع کوم په نوم د الله سره چه ډیر مهربان او رحم کوونکے دے (اسماء د شوا ولی) رکوعے ئے (۱۱) ایتونه ئے ۲۲۷

طٰسٓمّٓ ﴿١﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿٢﴾ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا

(الله پوهیږی) - دا آیتونه د صاف کتاب دی - امید دے چه ته ځان هلاکوے چه

يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٣﴾ اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ

دوی ایمان نه راوړی - که ارمان شی ګمونږ او به لیږو به دوی د آسمانه نښه نو شی به

اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ﴿٤﴾ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ

څټونه د دوی هغې ته ټیټ - او نه راځی دوی ته یاد د رحمان

مُحْدَثٍ اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ مُعْرِضِيْنَ ﴿٥﴾ فَقَدْ كَذَّبُوْا فَسَيَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا

نوے مګر دوی د هغه نه مخ اړوی - نو دروغ ګڼړی دوی یاد د الله لره نو راشی دوی ته حقیقت

٢ــه دا د دنیا د عذاب بیان دے یعنی که تاسو خپل حاجتونه د الله تعالی نه غواړئ او برکاتو والا ئے ګڼړئ نو صفه ستاسو په غند غه کوی خو تاسو په عمل دلیلے د صفه خبرے دروغ ګڼړئ او د غیر الله نه برکات والا وایئ نو عذاب به ضرور راځی ۱۲
٣ــه نازل شویدے پس د واقعه او قبل د نمل - دور متوسط مکه مکرمه - د دے سورت اصل مقصد دا دے چه کوموکو مو خلقو الله تعالی ته برکات والا نه دے وئیلے او د غیر الله نه ئے حاجتونه غوختلی دی هغوی په دنیا کښے هلاک شویدی قوم د موسی علیه السلام د ابراهیم علیه السلام د نوح علیه السلام د هود علیه السلام د صالح علیه السلام د لوط علیه السلام او قوم د شعیب علیه السلام دا اووه قومونه هلاک شویدی په دنیا کښے ځکه چه دوی شرک کولو او د غیر الله نه دوی برکات غوښتل نو وغیبے چه څوک شرک کوی نو هغوی به هلاکیږی نو دا سورت د عذاب دنیوی د پاره دے ۱۲
۵ــه دا تمهید دے د ترغیب د پاره چه د الله تعالی کتاب دے نو تاسو دے او منئ ۱۲

٦ــه دا تسلی ده نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته معلومه شوه چه دا ای به په اشاعت د توحید کښے ډیر کوشش کوی ۱۲
٧ــه دا د عذاب دنیوی بیان دے ۱۲

له واوریدل عقلي دي چه کیا کافر ته تعالی دوي ته ... ^۲ د توحید د اثبات د پاره د ... او دلیل دي خو د زیات خلق نه منی او ... د خلق د شرک د وجه نه حقه ... لیکن د زوال

مَا كَانُوا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الْاَرْضِ كَمْ اَنْۢبَتْنَا

د هغه شي چه دوي به ورپورې ټوکې کولې - آیا نه ګوري دوي زمکې ته چه څومره ما زرغون کړي دي

فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۚ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

په دې کښې د هر قسم ښه ګیاه - یه دې کښې دلیل دی - او نه دي د هغوي زیات

مُّؤْمِنِيْنَ ۝ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝ وَاِذْ نَادٰى رَبُّكَ

مؤمنان - او رب ستا زبردست هم دې رحمت والا دې - او کله چه آواز اوکړو رب ستا

مُوْسٰٓى اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ اَلَا يَتَّقُوْنَ ۝

موسٰی ته چه لاړ شه قوم ظالم ته - قوم د فرعون ته - آیا دوي نه یریږي

قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ۝ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ وَلَا

هغه اووې اې ربه زه یریږم چه دوي به ما دروغژن کړي - او تنګیږي زړه زما او نه

يَنْطَلِقُ لِسَانِيْ فَاَرْسِلْ اِلٰى هٰرُوْنَ ۝ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْۢبٌ فَاَخَافُ

چلیږي ژبه زما مرا لیږه وحي هارون ته - او د دوي په ما باندي د قتل تور دې زه یریږم چه

اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ۝ قَالَ كَلَّا ۚ فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَآ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ۝

دوي به ما قتل کړي - الله اووې داسې نه شي کیدې نو لاړ شئ دواړه د دلیلونو زمونږ سره زه ستاسو سره آورم -

فَاْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اَنْ اَرْسِلْ

نو لاړ شئ فرعون ته نو ورته وایئ مونږ رسولان د رب د عالم یو - چه را او لیږه

مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝ قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا وَلِيْدًا وَّلَبِثْتَ

زمونږ سره بني اسرائیل - فرعون ووې آیا نه وې پاللي مونږ تا وه ولنه بچې او تیر کړې دي تا

فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ ۝ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِيْ فَعَلْتَ وَ

ولنه د عمر ستا نه ډیر کلونه - او کړې دي تا هغه کار چه تا کړې دې او

له واوریدل عقلي دي چه کیا ... و دلیل دي خو د زیات خلق نه عذاب نه د الله تعالی رحم مانع دې ۱۲

^۳ د اوریدل نقلي دي د موسٰی علیه السلام نه چه هغه د اسئله د توحید رسولي د فرعون ته او په دې روستو تپولو دلیلو کښې د عذاب دنیوي هم بیان دې ۱۲

^۴ د اخوف د ظاهري اسبابو دې دیته خوف طبعي وائي ۱۲

^۵ یعني ستاسو سره به د الله تعالی ولائکه د وحدانیت وي نو فرښتو ته ضرورت نشته ولا ... د وحدانیت د باري تعالی بیا نوه او الله تعالی ستا ملګری دې د وفا ... شوک چه د الله تعالی دلیلو سره د وحدانیت بیانوي نو خدای تعالی د هغه ملګرتیا کوي او د هغه امداد کوي ۱۲

^۶ فرعون ولاړ چه ما درسره ډومره ښه ګړي وو او ته او س مې مقابله کوې او مرګ دې هم کړې وه نو څنګه ته رسول یې ۱۲

ع ۵

ك يعني هغه بل ته غلطي شوې وه چا غوټه مړګ اراده نه وه کړې ۱۲ ك يعني ته چه کوم نعمت د پرورښ په ما زما کوې خو دا نعمت څنګه وه چه ځما قوم دې غلامان کړي او دو ځو حقوق ځما پرورښ ته د زګار نه د حقوق ځو ځما خدمت چنګه کولے شو د پرورش ۱۲ ۱۲

انتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾ قَالَ فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٢٠﴾

ته ناشکره يې - موسیٰ او وې کړے وم دا دغه کار په هغه وخت او زه په هغه وخت کې ناخبره وم

فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِيْ

بیا په سوک مړ شو (نو زه وتښتېدم) ستاسو ځکه چه او ويرېدم ستاسو نو او بخښلو ماته رب ځما حکم او کړو يې ما له

مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢١﴾ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِيْٓ

د رسولانو نه - او دغه نعمت چه ته يې زما په سر احسان کوې وه چه غلامان کړي دې بني اسرائيل

اِسْرَآءِيْلَ ﴿٢٢﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

(قوم ته) او وې فرعون او څه دے رب د عالم ؟ - موسیٰ او وې هغه رب د اسمانونو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿٢٤﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗٓ

او د زمکې دے او د هغو چه په مينځ د دواړو کښې دي - که تاسو يقين کوئ - او وې فرعون خپلو چاپېره خلقو

اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآىِٕكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٢٦﴾ قَالَ

ته آيا نه اورئ تاسو - او وې موسیٰ هغه رب ستاسو دے او رب د پلار نيکه مخکنو ستاسو دے - او وې فرعون

اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ لَمَجْنُوْنٌ ﴿٢٧﴾ قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ

چه يقيناً دا رسول ستاسو چه تاسو ته رالېږلے شوې ليونے دے - او وې موسیٰ هغه رب د مشرق

وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٢٨﴾ قَالَ لَىِٕنِ اتَّخَذْتَ

او مغرب او د هغه څه چه په مينځ د دواړو کښې دي که تاسو پوهيږئ - او وې فرعون که تاسو جوړ کړو

اِلٰهًا غَيْرِيْ لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ﴿٢٩﴾ قَالَ اَوَلَوْ جِئْتُكَ

خدائے په غير ځما نه بيا نو زه به کړم تا له قيد - او وې موسیٰ اګر چه زه پېش کړم تا ته

بِشَيْءٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٠﴾ قَالَ فَاْتِ بِهٖٓ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٣١﴾

دليل ښکاره او وې فرعون نو پېش کړه هغه که يې ته د رښتو نے -

کولے شو د پرورش ۱۲ ۱۲
ك يعني د رب العٰلمين څه معنیٰ ده د فرعون مقصد داوه چه موسیٰ عليه السلام قوم ته پې کوي چه بيا قوم په فرعون څه اعتراض او نه کړي

ك چه فرعون موسیٰ عليه السلام ته څه تکليف رسول غوښتل

ك موسیٰ عليه السلام فرعون ته د الله تعالیٰ د خدائي دليل پېش کړو چه رب هغه ذات دے چه د آسمانونو او د زمکو او د هغو څيزونو چه په مينځ د دواړو کښې دي پرورش کوي (فائده) رب وئيلے کيږي پالونکي ته يعني ضروريات پوره کونکے دے د الله تعالیٰ نه بل څوک نيشته - ولې حق دے او هغه عزت حق دے په دې جهان کښې بل رب نه دے او د غسې انبياء عليهم السلام رب نه دي ۱۲ ۱۲

ك چه دے خو ځما نه سوا بل چا ته خدائے وائي ۱۲

ك موسیٰ عليه السلام د فرعون خبرو ته خيال نه ساتلو برابر و ليلو نه بيا خوي دا د داعي کار دے چه دعوت ته په زور ورکوي د خلقو د بد ووئيلو په خيال نه ساتي ۱۲

له معلومه شوه چې په همورزَ ولوه همسا کښې موسیٰ علیه السلام ته نسبت او نو ځکه چې د هغه اراده وه د دغو ډو لو ډو مار جوړیده جو پرشوے ونه نه خدایه یې پرکار اوے دَ موسیٰ علیه السلام نه نو هغه او ه شو هغه چې معجزه او کرامت په اختیار دَ مخلوق په اختیار کښې نه وي۔

فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾ وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا

نو هغه او غورزوله همسا خپله نو په هغه ساعت شو هغه ښامار ښکاره ۔ او هغه راوویستو لاس خپل نو په

هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ

ناخاپه سپین وه کتونکو ته ۔ او وې فرعون خپل چاپیره مشرانو ته یقیناً دغه ساحر دے

عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِ فَمَاذَا

پوهه ۔ غواړي چې اوباسي تاسو دَ زمکې ستاسو نه په سحر خپل سره ۔ نو څه مکم

تَأْمُرُونَ ﴿٣٥﴾ قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ﴿٣٦﴾

کوئ تاسو؟ ۔ هغوی اووې چې وخت ورکړه دَ ده او ورور دَ ده ته او ولیږه ښارونو ته نوکران ۔

يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٣٨﴾

چې راولي تا ته هر ساحر پوهه ۔ نو جمع کړے شو ساحران وخت دَ ورځې معلومې ته ۔

وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ

او ووئیلے شو خلقو ته تاسو جمع شوی یئ؟ امید دے چې مونږ روان شو ساحرانو پسې

إِن كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ

که دوی غالب شي ۔ نو هر کله چې راغلل ساحران نو دوی او وې فرعون ته

أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ

آیا مونږ لره مزدوري شته که مونږ غالب شو؟ او وے فرعون آو ۔ او تاسو به په

إِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ أَلْقُوا مَا أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾

هغه وخت کښې ملګري شئ ۔ او وے دوی ته موسیٰ او غورزوئ هغه شے چې تاسو غورزوونکي يئ

فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ

نو او غورزول دوی رسۍ خپلې او همساګانې خپلې او دوی اووې چې په عزت دَ فرعون سره مونږ به د

له ۲ اول دا خبره فرعون کړیده بیا مشرانو دَ هغه تائید پیش کړے دے نو دَ سورت اعراف په آیت ۱۰۹ کښې دَ مشرانو قول پیش شوے دے ۱۲

۳ یعني دے ملک قبضه کوي او کرسۍ غواړي دین دَ ده غرض نه دے ۱۲

۴ دَ دینداراو دونیادار دا فرق دے چې دیندار کار کوي صرف دَ الله تعالیٰ دَ پاره او دونیادار دَ دُنیا دَ پاره ۱۲

۵ یعني مزدوري خو لا څه کوے تاسو به څما دَ دسترخوان ملګري شئ

۶ دا حکم دَ تحقیر دَ پاره دے یعني څه چې کوئ او کړئ ۱۲

۷ یعني دَ فرعون عزت او حیثیت به زمونږ ملګری کوي نو مونږ دَ په تاسو غالب شو ځکه زمونږ سره د غه روحانیت دَ فرعون ملګرے دے ۱۲

دَ طٰهٰ آیت ۶۵ نه معلومیږي چې وخت دَ مقابلې ورځ دَ اختیار و بیا دَ طرفه وخت مقرر شوے وه ۱۲

سه به هر وخت په دا عیانو دَ حق تهمتونه مخالفین لګوي

عسه ما نا ول لیږه وه بیا تره نه روستو مقابله جوړ شو نو دا آیت دَ قصص کا آیت ۳۵ نه مخالف نه شو ۔ لله به فرعون رعب راغلے دے دَ موسیٰ علیه السلام نه نو ځکه یې دَ مشورے له تعبیر کړیده چې په امر سره امر هم مشر کښتر ته کوي دَ موسیٰ علیه السلام سره دَ سیلے نه ګوډ لاک دَ وحدانیت دَ مولا او ورسره

لـه د موسیٰ علیه السلام عصا چه یو د وراو کړه نو د حقو ... باطل شو نو هم ... او موسیٰ د ساحرانو یا ... او
رسیٰ جنګاړه شوے ... ۱۲ ... ساحرانو ته معلومه شوه چه ... دا معجزه ده ... اسباب د حقو ته
معلوم نه شو نو په حقو د
ایمان ئې راوړو او سجدے

الْغٰلِبُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَاَلْقٰى مُوْسٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿۴۵﴾

غالب یو - نو واچوله موسیٰ عصا خپله نو ناڅاپه دغه ... هغه څه چه ... ساحرانو جوړ کړي وو

فَاُلْقِىَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿۴۶﴾ قَالُوْۤا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۷﴾ رَبِّ

نو وغورزولے شو ساحران سجده کوونکي - او وې ویل هغوی چه ایمان راوړو مونږ په رب د عالمونو - چه رب دَ

مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۴۸﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ

موسیٰ او هارون دے - او وې ویل فرعون آیا ایمان راوړو تاسو موسیٰ له مخکښ د حکم زما نه تاسو ته یقیناً دے

لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِىْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۬ ۚ لَاُقَطِّعَنَّ

هغه استاذ ستاسو دے چه زده کړے ده تاسو ته سحر - نو تاسو به پوهه شئ - چه ضرور به پرې کړم

اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۹﴾

لاسونه ستاسو او خپے ستاسو د اړخ بدل نه او په سولئ به کړم زه تاسو لره ټول -

قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۫ اِنَّاۤ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا

او وې ویل هغوی پرواه نشته - مونږ د رب خپل ته واپس شو - مونږ طمع کوو چه او به بښی مونږ ته

رَبُّنَا خَطٰيٰنَاۤ اَنْ كُنَّاۤ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۱﴾ وَاَوْحَيْنَاۤ اِلٰى مُوْسٰۤى

رب زمونږ خطاګانې زمونږ ځکه چه شو مونږ ... اول مؤمنان - او وحی حکم را ولیږه موسیٰ ته

اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِىْۤ اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۵۲﴾ فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى الْمَدَآئِنِ

چه بوځه بندګان زما د شپے تاسو پسے به خلق راوځی - نو او ولیږل فرعون په ښارونو کښې

حٰشِرِيْنَ ﴿۵۳﴾ اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَاِنَّهُمْ لَنَا

نوکران - چه یقیناً دا خلق ټولے دے لږ - او یقیناً دوی مونږ لره

لَغَآئِظُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ

قهرَوی - او مونږه ټول کُدو ویده ویریږو - نو راو ویستل ما دوی لره د باغونو نه

تدارک او شو ۳ ... یعنی فرعون هم ځان ته رب وائی دے رب نه دے بلکه رب رب د موسیٰ او هارون علیهما السلام دے ۳

... یعنی تاسو تیز ... اونه کړو او تاسو که دا خبره او منله نو معلومه شوه چه دے ستاسو استاذ دے په سحر کښې او تاسو دا ته شاګردان یئ او زه به ستاسو سره پوهه شم ستاسو لاسونه او خپے به پرې کړم د اړخ بدل نه او تاسو به زه په سولئ کړم ټول ،

د فرعون هغوی لره ویرول ... ساحرانو او وے پرواه نشته مونږ به خپل مولا ته واپس شو او مونږ د خپل مولا نه طمع ده چه هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی ځکه چه په دې موقع مونږ د ټولو نه اول ایمان راوړو (دا ئې د خپل عمل وسیله کول دی معلومه)

... یعنی په تاسو پسے به فرعونیان درځی ۱۲ ... چه په بنی اسرائیلو پسے لاړ شئ ۱۲ ... دا بنی اسرائیل لږ خلق دی او مونږه هسے کدو ویده ویریږو د دوعا په وسیله دی او مونږ خوسرلئ یو ۱۲ ... الله تعالیٰ فرمائی چه دا کار ده چه ما د فرعونیانو نه د دا ځایونو نه راوویستل او هغه عاجزانو ته هم دا حکومت ورکړو و نو عزت درکو ورکړے او عزت اخستو نکے صرف الله تعالیٰ دے نه بل څوک ۱۲

ﻟﻪ دَ غر په څېر څپې دوې جوړې شوې تهاو رسیدل ۱۲ ﺳٓﻪ دا عظیم توکل وے دَ موسیٰ علیه السلام ۱۲ ﺳٓﻪ نو موسیٰ علیه السلام

وَّعُيُونٍ ﴿٥٨﴾ وَّكُنُوزٍ وَّمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٩﴾ كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَاهَا بَنِي

او چینو نه - دَ خزانو او دَ ځایونو دَ عزت نه - دغسے او شو - او په میراث سره ما ورکړل دا

إِسْرَائِيلَ ﴿٦٠﴾ فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦١﴾ فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ

ځایونه بنی اسرائیلو ته - نو ورپسے شو په وخت دَ نمر راختو - نو هر کله چه اولیدل دواړو ډلو یو بل نو

أَصْحَابُ مُوسَىٰ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿٦٢﴾ قَالَ كَلَّا ۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي

او وې ملګرو دَ موسیٰ چه مونږ خو را ونیولے شو - او وې موسیٰ داسے نه ده - یقیناً ما سره زما رب دے

سَيَهْدِينِ ﴿٦٣﴾ فَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ

ما ته به لار اوښائی - نو ما حکم اوکړو موسیٰ ته چه او وهه په همسا خپله سره دا دریاب -

فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ ﴿٦٤﴾ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ

نو شو هر حصه دَ دریاب پشان دَ لوئے غر - او ما او رسول دَ غه ځائے ته

الْآخَرِينَ ﴿٦٥﴾ وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُ أَجْمَعِينَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ

ورستنی خلق - او ما بچ کړو موسیٰ او هغه څوک چه دَ ده سره وو ټول - بیا مې

أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ ﴿٦٧﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم

غرق کړل نور خلق - یقیناً په دے کښے دلیل دے - او نه دی زیات دَ دوی

مُّؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٦٩﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ

مؤمنان - او یقیناً رب ستا زبردست دے او مهربان دے - او اورولو لره دوی ته قصه

إِبْرَاهِيمَ ﴿٧٠﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا نَعْبُدُ

دَ ابراهیمؑ - کله چه هغهٔ او وې پلار او قوم خپل ته چه څهٔ محتاجی کوئ تاسو او وې هغوی محتاجی کوو

أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ ﴿٧٢﴾ قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ

دَ اصنامو نو تل لره دَ هغوی خنګ کښے ناست یو - او وې هغهٔ آیا اورې ستاسو نه کله چه

دریاب ته چیلې همسا او واهه په وے وخلو کښے دَ موسیٰ علیه السلام صرف اراده وه دریاب په چه اکیلے وُ دَ دریاب کښے نه دَ موسیٰ علیه السلام اراده وه او نه کار وه ۱۲

ﺳٓﻪ بچ کول او نیکی او غرقول کول صرف باری تعالیٰ دے معلوم شوه چه اولیاء او انبیاء نه دَ خپلو دوستانو امداد کولے شي او نه خپل دښمنان هلاک کولے شي دَ دوی کار دا دے چه کله دَ خدائے تعالیٰ قهر راشي نو دوی لره الله تعالیٰ بچ کوی ۱۲ ۱۲

ﻩ په دے قصه کښے دَ الله تعالیٰ دَ وحدانیت صفات دلیل دے چه هر څهٔ صرف الله تعالیٰ کوی څوک هلاکوی او چالره بچ کوی نو معلوم شوه چه برکات ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے او څوک چه دا مسئله منی نو هغوی لره الله تعالیٰ بچ کوی او مخالفینو لره هلاک کوی ۱۲

ﺳٓﻪ دا دلیل نقلی دے دویم دَ ابراهیم علیه السلام نه چه دا مسئله دَ توحید ده مسئله نه ده ابراهیم علیه السلام چه تاسو منئ حقهٔ دا مسئله قوم ته کړے ده چه دا غیر الله دَ نفع رسولے شي او نه ضرر نو معلوم شوه چه برکات ورکوونکے دَ الله تعالیٰ نه بل څوک نیشته ۱۲

ع ۴

تَدْعُونَ ﴿٧٢﴾ أَوْ يَنفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا

بلل تاسو هغو لره - يا نفع رسوى تاسو ته يا ضرر رسوى؟ وائى دوى بلكه موندلى دى موږ پلاران خپل

كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٧٤﴾ قَالَ أَفَرَأَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنتُمْ وَ

خپل چه دغسې كار يې كولو - ابراهيم اووې آيا وينئ تاسو هغو لره چه بندګى ئې كوئ - تاسو او

آبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ ﴿٧٦﴾ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿٧٧﴾

پلاران ستاسو پخوانى - چه يقيناً دوى دشمنان زما دى بې د رب العلمين نه -

الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ ﴿٧٩﴾

كوم چه پيدا كړى ئې زه مالره نو هغه به ښوونه كوى ما ته - او كوم چه هغو خوراك راكوى ما ته او اوبه راكوى ما ته -

وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾ وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ ﴿٨١﴾

او كله چه زه ناجوړ شم نو هغه شفا راكوى ما ته - او هغه ذات چه مړ كوى مالره بيا به م ژوندى كوى -

وَالَّذِي أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبْ لِي

او هغه ذات چه زه طمع كوم چه بخنه به اوكړى ما ته د ګناهو ځما په ورځ د انصاف - اے ربه او بخښه ماته

حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴿٨٣﴾ وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي

پوهه او يو ځائ كړه ما د نيكانو سره - او مقرر كړه مالره ويښا ښه په روستنو

الْآخِرِينَ ﴿٨٤﴾ وَاجْعَلْنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ ﴿٨٥﴾ وَاغْفِرْ لِأَبِي

خلقو كښې - او كړه ما د وارثانو د جنت د نعمت نه - او اوبخښه ځما پلار

إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا

يقيناً دے لارخطا كړے وه - او مه شرموه ما كله چه راپورته كړے شى خلق - كله چه نفع

يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأُزْلِفَتِ

نه شى رسولے مال او نه ځامن - مګر هغه چه راشى د الله خوا ته جوړ زړه (د شرك نه) او نزدے به شى

ك يعنى دا زموږ د پخوانو رواج دے ١٢

ك يعنى خپل حاجاتو حسم د الله تعالى د اوصم د نور و نه غواړى او زه دا هسے تمام ځان ځپل حاجتونه صرف د الله تعالى نه غواړم (فائده) د ابراهيم عليه السلام قوم مشركان وو هغوى الله تعالى منلو خو د هغه سره ئې نور معبودان په حاجتونو كښې شريكول ١٢

ك دا هغوى ته ابراهيم عليه السلام عقلى دليلونه پيش كوى چه خوراك او څښاك او شفا او مرګ او ژوند صرف د بارى تعالى په قبضه كښې دى نو نور حاجتونه او بركتونه د هغه دى ١٢

ك كوم كار چه د پيغمبر سره مناسب دے دا ګرچه باخوعا ١٢

ك كمال په علم او په عمل كښې ١٢

ك نيك نامى مالره اوكړه چه خلق ځما تابعدارى كوى په دين كښې رضا الله داسى په دا سې دعا كوى: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ لِّيْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلَيَّ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ لِيْ لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِيْنَ ١٢

لہ یعنی تاسو پہ دنیا کښې د څه معبودانو عبادت کولو او د هغو معبودانو نه تاسو او بس څه شو ؟ ١٢ ٣ٖ دا یو پوره ولیل دے د الله تعالیٰ د وحدانیت بیا صم زیات خلق ایمان نه راوړی الله تعالیٰ زبردست طاقت والا دے فی الحال عذاب را وستے شي خو رحیم

الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴿٩١﴾ وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَمَا

جنت ویریدونکو ته او ښکاره به شي دوزخ بے لارے خلقو ته - او او به ویلے شي دوی ته چرته دی هغه

كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٩٢﴾ مِن دُونِ اللَّهِ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ أَوْ يَنتَصِرُونَ ﴿٩٣﴾

چه تاسو به عبادت کوله - سوا د الله نه - آیا امداد کولے شي ستاسو یا بدلا اخستے شي د ځان د پاره

فَكُبْكِبُوا فِيهَا هُمْ وَالْغَاوُونَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُوا

نسکور به او نورځولے شي دوی په دوزخ کښې او نور بے لارے خلق - او لښکرے د ابلیس ټولے - او به وائی دوی

وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ

او دوی به په جهنم کښې جګړه کوی - قسم دے چه مونږ وو په غلطئ ښکاره کښې - کله چه

نُسَوِّيكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا

برابر کړل مونږ تاسو له رب د عالمونو سره - او ضرور غلط کړه وو مونږ لره بے لارے گمراهانو - نو نیشته مونږ لره

مِن شَافِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ

سفارش کوونکے - او نه خالص دوستان - نو که وے مونږ لره واپسی نو مونږ به شو د

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم

مؤمنانو - یقیناً په دے کښې دلیل دے - او نه دی زیات د دوی

مُّؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ

مؤمنان - او یقیناً رب ستا زبردست دے او مهربان دے - دروغژن کړل قوم د نوح

الْمُرْسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي لَكُمْ

پیغمبرانو لره - کله چه اووئے دوی ته د دوی رور نوح چه ولے نه ویریږئ - څه ستاسو د پاره

رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ

استاذی کوم اعتباری - نو او ویریږئ د الله نه او خبره او منئ زما - او نه غواړم ستاسو په دے تبلیغ څه

لما العزة ف الی العذاب ١٢ ٣ٖ ١٠ مرو دلیل نقل د نوح علیه السلام د ذات د عمل او د نیوی بیان هم د چه نوح علیه السلام هم مسئله قوم ته پیش کړے وو چه د الله تعالیٰ نه او ویریږئ او د هغه د عبادات خو ارهغو قوم انکار او کړو نو الله تعالیٰ دوی لره هلاک کړل نو د قصے الله تعالیٰ مشرکان هلاک کوی تر یا روستو بلا په آخرت کښې او الله تعالیٰ د نوح علیه السلام منکر په کشتئ کښې غرق کړل نو د قصے په الله تعالیٰ مونږ تا کوی د عذاب نه په دے بیان کښې اهمیت د توحید د مسئلے دے چه واضح لوی مسئله ده چه نه منونکی د الله تعالیٰ هلاک کړل او منونکی نے بچ شو په دے کښې تسلی ده نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته او هم اتی ته د دوی دینی ٤ٖ کله نکر زندگی چه په هر کار کښې به سر شه دی د الله نه ویریږئ او مرځ هغه به متصرف کښئ او طرز زندگی دا ده چه په هر کار کښې به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم تابعداری کوی ١٢ ۵ٖ دا رفع د مانع د اتباع ده یعنی ولے تا خبره نه منئ زه خو ستاسو د ځان د پاره څه نه غواړم او دا بله خبره ده چه حقوق د مال غواړم د فقراؤ د پاره یا ترغیب ورکووم د انفاق ١٢

ـه غریبانو ستا خبره منلے وه په سبو چه هغوی ریاکاره وو نوح علیه السلام او وئے چه د دوی باطن ما ته نه دے معلوم او ښکاره

أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾

مزدوری - نه دے زما مزدوری مگر په رب د عالمونو دے - نو اوویریږئ د الله نه او زما خبره اومنئ.

قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْأَرْذَلُونَ ﴿١١١﴾ قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا

اووئے هغوی آیا او منو ستا او تابع شوی ستا رذیلان دی - نوح او وئے نیشته علم زما په هغے چه

كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١١٢﴾ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي ۖ لَوْ تَشْعُرُونَ ﴿١١٣﴾ وَ

دوی هغه کوی - نه دے حساب د دوی مگر په رب زما دے آرمان که تاسو پوهیدے! - او

مَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿١١٥﴾ قَالُوا لَئِن

زه نه شړم مؤمنان - نه یم زه مگر ښکاره ویروونکے یم - هغوی اووے که

لَمْ تَنْتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي

بس نه کړې ته اے نوحه نو شے به ته سنګسار - اووئے هغه اے ربه یقیناً زما قوم

كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَنْ مَعِيَ مِنَ

دروغژن کړم ما لره - نو او کړه په مینځ زما او د دوی کښې فیصله او بچ کړه ما لره او هغو لره چه زما سره

الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنْجَيْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ

مؤمنان دی - نو مونږ بچ کړو هغه او هغوی چه د ده سره وو په جهاز ډک کښې - بیا مو

أَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ

غرق کړل روستو نور ورلره - یقیناً په دے کښې دلیل دے او نه دی زیات د دوی نه

مُؤْمِنِينَ ﴿١٢١﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾ كَذَّبَتْ عَادٌ

مؤمنان - او یقیناً رب ستا هغه زبردست او مهربان دے - دروغژن کړل عادیانو

الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ إِنِّي لَكُمْ

پیغمبرانو لره - کله چه اووے ورته رور د دوی هود آیا نه ویریږئ - زه ستاسو د پاره

مؤمنان دی نو خه دوی خلکو او شړم زه علیم غیب والا نه یم چه د دوی باطن او پیژنم زه خو نذیر یم

ـه معلومه شوه چه بچ کول صرف د باری تعالیٰ دے او جهاز خو صرف ظاهری سبب وه او شرعی اسباب استعمالول جائز دی خو په اسبابو کښے تاثیر نیشته مثلاً د دوی خوړل جائز دی خو مړه کول صرف د الله تعالیٰ دے ۱۲

ـه معلومه شوه چه غرق کول هم صرف د باری تعالیٰ دے نو اسباب د کوونکی د دوستانو سره او مرستی د دشمنانو سره او صرف الله تعالیٰ دے د اسبابو ظاهرو په اعتبار سره نسبت د هلاک او د امداد غیره په اعتبار د کسب سره کیدی او پس د وفات نه خو اسباب ختم شو نو بیا نسبت د هلاک او امداد اولیاء ته شرک دے ۱۲

ـه دا غلو رم دلیل نقلی دے د هود علیه السلام نه او په دے دلیل کښے د عذاب دنیوی هم بیان دے ۱۲

ـه یعنی غلط خبره نه کوم او پیسے هم درنه نه غواړم نو ولے زما خبره نه منئ

سه په فائده به مناره جوړوئ چه وابه ځئ او لاس نشته پاتی شی (نا فائده) عبث هغه کار دے چه پکښے صحیح فائده نه وی
او عبث کار په ماغه کښے اتفاقی حرام دے او بهره ماغه نه مکروه دے ۱۲ ~~سه~~ باری تعالیٰ د نعمت بیان پخپله اوکړو

رَسُولٌ اَمِیْنٌ ﴿١٢٥﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ ﴿١٢٦﴾ وَمَآ اَسْـَٔلُکُمْ عَلَیْهِ مِنْ

امانت دار معتبر یم - نو ووېرېږئ د الله نه او زما خبره اومنئ - او نه غواړم ستاسو نه په دے تبلیغ

اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلٰی رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿١٢٧﴾ اَتَبْنُوْنَ بِکُلِّ رِیْعٍ

مزدوری ، نه ده زما مزدوری په رب د عالم ده - آیا جوړوئ په هر وچت ځائے

اٰیَةً تَعْبَثُوْنَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ لَعَلَّکُمْ تَخْلُدُوْنَ ﴿١٢٩﴾ وَاِذَا

نښه چه بے فائده کار کوئ - او جوړوئ خانسته آبادی چه تاسو به همیشه یئ - او کله چه

بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِیْنَ ﴿١٣٠﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ ﴿١٣١﴾ وَاتَّقُوا

حمله کوئ نو حمله کوئ په ظلم سره - نو ووېرېږئ د الله نه او زما خبره اومنئ - او او ووېرېږئ

الَّذِیْٓ اَمَدَّکُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٣٢﴾ اَمَدَّکُمْ بِاَنْعَامٍ وَّبَنِیْنَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنّٰتٍ

د هغه الله نه چه امداد ئے کړیدے ستاسو د هغه نعمتونو سره چه تاسو ئے معلوم وئ - هغه امداد کړیدے ستاسو په څارو

وَّعُیُوْنٍ ﴿١٣٤﴾ اِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْکُمْ عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ﴿١٣٥﴾ قَالُوْا سَوَآءٌ

او ځامنو او باغونو او چینو - زه وېرېږم په تاسو د عذاب د لوئے ورځے نه - هغوی اووے برابره ده

عَلَیْنَآ اَوَعَظْتَ اَمْ لَمْ تَکُنْ مِّنَ الْوٰعِظِیْنَ ﴿١٣٦﴾ اِنْ هٰذَآ اِلَّا خُلُقُ

په مونږ که وعظ کوے ته یا نه کیږے نصیحت کوونکے - نه دی دا مګر خبرے عادت

الْاَوَّلِیْنَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِیْنَ ﴿١٣٨﴾ فَکَذَّبُوْهُ فَاَهْلَکْنٰهُمْ ۭ اِنَّ فِیْ

د پخوانو دے - او نه یو مونږ په عذاب شوی - نو دروغژن کړو دوی هغه نو مونږ هلاک کړل هغوی - یقیناً په

ذٰلِکَ لَاٰیَةً ۭ وَمَا کَانَ اَکْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿١٣٩﴾ وَاِنَّ رَبَّکَ لَهُوَ الْعَزِیْزُ

دغه کښے دلیل دے - او نه دی زیات د دوی نه مومنان - او یقیناً ستا رب زبردست او

الرَّحِیْمُ ﴿١٤٠﴾ کَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِیْنَ ﴿١٤١﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ

مهربان دے - دروغژن کړل ثمودیانو پیغمبران نو لره - کله چه اووے دوی ته رور د دوی صالح

شکه چه هغوی به وے چه
مونږ همیشه نعمت ند دے
معلوم - چه د دوه مهربان
ستاسو سره هغه لوے
الله کړے ده نو ولے د
هغه د احسان نه انکار کوئ
~~سه~~ دا د پیغمبر علیه السلام
دعوت دے چه هغه
ویریږی چه هغوی به
دوزخ ته لاړ شی نو دا د
زړه دعوت دے او که زړه
دعوت زړه ته رسی خو
چه سړے ضدی نه وی
او تش د خولے دعوت نو په
ته رسی د زړه د دعوت
مثال داسے دے لکه چه د
یو سړی بچے د بلا په سر
ناست وی نو د غه پلار
ویریږی او آواز ورکوی
چه بچیه د بلا نه لرے شه
~~سه~~ یعنی حسب شان هغه
کړه د دوی مونږ ستا خبره
نه منو دا ستاسو نیکانو
دستور دے ۱۲ ۱۲
~~سه~~ نو د پیغمبر انو دروغژن
کول غلط نا اشنا شے نه دے
او خلک چه خلاف کوی د
حق نه نو هغوی لره خدائے
تعالیٰ هلاک کوی دا هم
نا اشنا خبره نه ده ۱۲
~~سه~~ دا پنځم دلیل نقلی دے
د صالح علیه السلام د چه دا
مسئله د توحید نو ے نه ده
صالح علیه السلام هم قبل

قوم ته دا مسئله کړے وه چه د الله نه او وېرېږئ او ما چه تاسو نه ښه د هغه نه غواړئ برکات ورکوی که مرفی هلاک دے او په دے کښے دوی
عذاب هم بیان دے چه د صالح علیه السلام قوم د مخالفت په وجه هلاک شوے دے نو د غسے نور مخالفین به هم هلاک شی ۱۲

له فساد قران شرک او بدعت او قانون د غیر الله ته وائی نو اصلاح توحید او سنت او قانون د الله تعالی دے ۲
کله چه دا یې د حق تهمتونه

أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَ

آیا نه ویریږئ - یقیناً زه تاسو ته استازے یم معتبر - نو د الله نه او ویریږئ او ځما خبره او منئ - او

مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٤٥﴾

نه غواړم ستاسو نه په دې څه مزدوري - ځما مزدوري یواځے په رب د عالم دے -

أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَاهُنَا آمِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ

آیا پریښے به شئ تاسو دلته په آرام - په باغونو او په چینو - او په فصلونو

وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا فَارِهِينَ ﴿١٤٩﴾

او په کجورو کښے چه وږی د هغو تازه دی - او تاسو په غرونو کښے کورونه په استادئ سره -

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ الَّذِينَ

نو او ویریږئ د الله نه او ځما خبره او منئ - او مه منئ حکم د ظالمانو - کوم چه

يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ

وراني کوی په زمکه کښے او روغوالے نه کوی - او وے ویل هغوی یقیناً ته

الْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا فَأْتِ بِآيَةٍ إِنْ كُنْتَ مِنَ

ساحر یې - ته هم یو سړے یې زمونږ په شان - نو پیش کړه دلیل که یې ته

الصَّادِقِينَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هَٰذِهِ نَاقَةٌ لَهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَعْلُومٍ ﴿١٥٥﴾

رشتونے - او وے ویل هغه دا اوښه ده دے لره واره د اوبو او تاسو لره واره د اوبو د ورځے مقرره

وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوهَا

او مه رسوئ دې ته تکلیف نو او به نیسی تاسو لره عذاب د ورځے لوئے - نو زخمی کړه دوی هغه

فَأَصْبَحُوا نَادِمِينَ ﴿١٥٧﴾ فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَ

لره نو شو پښیمانه - نو او نیوه دوی لره عذاب - یقیناً په دې کښے دلیل دے - او

۳ لیډ ول ده چه انو مشرکانو د ستو د ے نو د توحید د مسئلے سره الزامونه او ګنګ وامی ته لازم دی نو چاته په تکلیف او رسی د توحید په بیان کښے د اسلام د سعادت ده نو د لیدو سره د ے شکر او باسی ۱۲
کله چه هغوا و وے چه کومے لره یوه اوښه را و باسه او چه هغه بلاربه وی او لنګه شی نو هغے کا الله تعالی او کړ دا او هغه اوښه چه یره فتنه وه نو قوم وار کښے دوه د او بو سکلو د خاروو د پاره د غرا و سره او کړ د غه اوښه پئ به تپول ښار ته پوره کیدل نو دغو کم بختانو د غه اوښه زخمی کړه نو عذاب پرے راغے ۱۲
عه دا د عذاب منشاء وه چه دوی د الله تعالی په پیغمبر پورے ټوقے او کړے لکه د ابوجهل د عذاب منشاء ټوقے وے په نبی کریم صلی الله علیه وسلم پورے او د ابوسفیان رضی الله تعالی عنه د ایمان منشاء رسیبه دا وه چه هغه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم بے ادبی نه کوله - (رفائد ۵) د عذاب په شروع کښے دوی او وے چه صالح علیه السلام محمد شو چه د کفار نه

ځکښے کړو نو دوی هلاک شو او د یونس علیه السلام قوم تو به کار شو نو هغوی ځکه بچ شو ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

ك ۱ ٔ: اشپږم دلیل نقل وه د لوط علیه السلام ته او کړنیوی عذاب بیان پکښې شوې یعنې دا د توحید مسئله لوط علیه السلام هم بیان کړې ده چه صرف د خپل مالک نه ویریږئ او د هغه د احکامو اتباع کوئ او اطاعت د رسول هم ... او د ژوند طریقو ... کوئ نو ... ژوندګی به ستاسو د توحید او د

مَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِينَ ﴿١٥٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾ كَذَّبَتْ

نه وو زیات د دوی نه مؤمنان - او یقیناً ستا رب زبردست او مهربان دے - دروغجن کړل

قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾

قوم د لوط پیغمبران لوره - کله چه او وے دوی ته ورور د دوی لوط آیا نه ویریږئ -

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ

زه تاسو ته استازے یم امانت دار - نو او ویریږئ د الله نه او زما خبره اومنئ - او نه غواړم ستاسو نه

عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٤﴾ أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ

په دې مزدوری - نه دے زما مزدوری صرف په رب د عالم د ده - آیا راځئ تاسو نارینو د

مِنَ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَلْ أَنْتُمْ

عالم نه - او پریږدئ هغه چه پیدا کړی دی تاسو لره رب ستاسو بی بیانې ستاسو - بلکه تاسو

قَوْمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾ قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا لُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾

ظالم قوم یئ - هغوی اووے که منع نه شوې اے لوط نو ته به او وویستلے شې -

قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُمْ مِنَ الْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾ رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٩﴾

هغه اووے زه ستاسو د عمل بد ګڼونکے یم - اے ربه بچ کړه ما او خاندان زما د عذاب د عمل د دوی نه

فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿١٧٠﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ ﴿١٧١﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا

نو بچ مو کړو هغه او اهل د هغه ټول - مګر یوه بوډۍ چه شوه په پاتے کیدو نکو (د عذاب) کښې - بیا مو هلاک

الْآخَرِينَ ﴿١٧٢﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ ﴿١٧٣﴾

کړل نور - او وما اووروله په دوی باندے باران - نو ناکاره دے باران د وډرولو شوو -

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ

یقیناً په دې کښے دلیل دے - او نه دی زیات د دوی مؤمنان - او یقیناً رب ستا

او طریقه د ژوندګی به ستاسو د اتباع د پیغمبر وی او زه هم ستاسو نه د مزدوری طمع نه غواړم او بل تاسو خپل خواهش په صحیح طریقه د خپلو ښځو نه پوره کوئ غلط کار مه کوئ نو هغوی په ځائے د منلو په لوط علیه السلام باندے د ډباؤ د کړو نو الله تعالیٰ د هغه قوم هلاک کړې وو او د لوط علیه السلام خاندان الله تعالیٰ بچ کړو او ښځه ئې منافقه وه نو هغه الله تعالیٰ هلاک کړه نو معلومه شوه چه وسیله اتباع د ذوات فاضله وه په نفس نسب او تعلق باندے کار نه کیږي نو په دغه شکل چه څوک د الله تعالیٰ نه خلاف کوي نو هغه به هلاک کیږي او څوک چه د الله تعالیٰ حکم مني هغه به بچ کیږي نو صاف معلومه شوه چه بچ کوونکے او امداد کوونکے د دوستانو سره او هلاک کوونکے د دشمنانو صرف الله تعالیٰ دے انبیاء او اولیاء ملائک او جنات نه دی ۲ ٔ یعنی ناروا عمل په تا کښې کوئ ۳ ٔ یعنی وطن زموږ نه به تا به تګ او باسو ۴ ٔ د ده د وه چینګړی ... لوټونه د ... و ... رسیدا و زغورلا ۵ ٔ د کاڼو باران ... الله تعالیٰ اوورولو ۶ ٔ دا پوره دلیل دے د الله تعالیٰ د وحدانیت چه ټول څوک هغه کوی نو هغه کوی څوک څان نه شی بچ کولے او نه چا لره هلاکولے شي نو متصرف او برکت والا صرف الله تعالیٰ دے

ك وئيل نقلى اوقوم د شعيب عليه السلام نه سره د عذاب دنيوى نه يعنى د توحيد مسئله شعيب عليه السلام بيان کړه ورو
پس مرسته د الله تعالى نه او وير يږئ د غير الله نه حاجات مه غواړئ او څوا خبره او منئ او اوکئ او تله پوره ورکوئ چه د خلقو

ع ٩
١٢

لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٧٥﴾ كَذَّبَ أَصْحَابُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧٦﴾ إِذْ قَالَ

زبردست دے او رحم والا دے - دروغژن کړل د ځنګل خلقو پيغمبرانو لره - کله چه اووے

لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٧٨﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ

هغوی ته شعيب آيا تاسو نه ويريږئ - زه تاسو ته استازے امانت دار يم - نو او ويريږئ د الله نه

وَأَطِيعُونِ ﴿١٧٩﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ

او خبره زما او منئ - او نه غواړم ستاسو نه په تبليغ مزدوري - ځکه مزدوري زما په

رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٨٠﴾ أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ ﴿١٨١﴾ وَزِنُوا

رب د عالم ده - پوره ورکوئ پيمانه او مه کيږئ کم ورکونکي - او تول کوئ

بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ﴿١٨٢﴾ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا

په تله برابر - او کم مه ورکوئ خلقو ته څيزونه د دوی او مه کيږئ

فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿١٨٣﴾ وَاتَّقُوا الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٨٤﴾

په زمکه کښے وران کوونکی - او او ويريږئ د هغه چه پيدا کړی ئے تاسو او مخکنی مخلوق -

قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾ وَمَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَإِنْ

اووے هغوی چه يقيناً په تا سحر شوے دے - او صرف ته يو سړے ئے زمونږ په شان او ځکه مونږ

نَظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿١٨٦﴾ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِنَ السَّمَاءِ إِنْ

ګمان کوو په تا د دروغژن - نو راتا وکړه په مونږ ټوټے د آسمان نه که

كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿١٨٧﴾ قَالَ رَبِّي أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوهُ

ته رشتونے ئے - هغه اووے ځما رب پوهيږي په عمل ستاسو - نو دروغژن کړو دوی هغه

فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾

نو اونيول دوی عذاب د ورځے د سورى - يقيناً دا عذاب د لوئے ورځے وو -

څيزونه کم مه ورکوئ او فساد په زمکه کښے مه کوئ فساد قرآن شرک او بدعت او قانون د غير الله ته وائی او اصلاح توحيد او سنت او قانون د الله ته وائی نو قوم ورته اووئے چه پتا جادو شوے دے او دروغ وائے مونږ ته ټوټے د آسمان نه راوله راته وکړه هغه اووے چه عمل ستاسو خدائے تعالى ته معلوم دے د عذاب فيصله د هغه سره ده نو په هغوی داسے عذاب راغے چه ګرمي ډيره زياته شوه نو دوی په وخت ورځې روان شو نو په عذاب کښے هلاک شو وفيه الله تعالى خالقين هلاکوی په دے قصه کښے د الله تعالى د وحدانيت پوره دليل دے چه عذاب ورکوونکے صرف الله تعالى دے د هغوی معبودان خپل عابدان نه شی بچ کولے بچ کوونکے صرف الله تعالى دے نو حاجتونه پوره کوونکے او برکت والا صرف الله تعالى دے ١٢
سلا شعيب عليه السلام ايکے او مدين دواړو ته وليږلے شو وه مدين مرکزی ښار وه او ايکه ئے متعلقات وو ١٢
سلا د شعيب عليه السلام قوم تاجران وو په تول او پيمانه کښے به ئے نقصان کولو او شرک به ئے هم کولو نو شعيب عليه السلام د دے دښمن کول د توحيد او اصلاح د معاشره دعوت ئے ورکولو سکه يعنى زه عذاب نه شم درکولے خدائے ته ستاسو عمل معلوم دے عذاب به هغه درکوی ١٢ ١٢

لہ دا قرآن صفت دے چہ دا ډیر عظمت لرونکے دے او په صحیفو کښې د مخکینو خلقو ذکر شوی دے او هغه مضمون موجود دے
لے امتی وه ملائکه جبرئیل علیه السلام دے وصف ئې عربی دے او دا مسئله په کښې دوه تعریفات او جرګه څه حرف الله لره وی
لې امتی وی ملائکه جبرئیل علیه السلام وو

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٩٠﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ

یقیناً په دے کښې دلیل دے۔ او نه وو زیات د دوی مومنان۔ او یقیناً رب ستا

لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾ وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ

زبردست او مهربان دے۔ او دا قرآن رالیږل شوی د رب العلمین دے۔ راوړے دے دا لره

الرُّوحُ الْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ

امین روح ملائک (جبرئیل امین) ستا زړه ته چه شے ته د یرو ونکو۔ په ژبه

عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾ أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ آيَةً

صافه عربي۔ او دا قرآن په مخکینو کتابونو کښې لیک دے۔ او آیا نشته دوی لره دلیل دا

أَن يَعْلَمَهُ عُلَمَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ نَزَّلْنَاهُ عَلَىٰ بَعْضِ

چه پیژني دے قرآن لره علماء د بني اسرائیلو۔ او که مونږ رالیږلے وے دا قرآن په بعضې

الْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُ عَلَيْهِم مَّا كَانُوا بِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ كَذَٰلِكَ سَلَكْنَاهُ

عجمیانو باندے۔ نو لوستلے به ئې هغه دوی ته نو دوی به یاندرا وړے په دے قرآن۔ دغسې داخلوو مونږ

فِي قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ حَتَّىٰ يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾

په زړونو د مجرمانو کښې۔ ایمان نه راوړي په دے ترڅو چه او وینی عذاب دردناک۔

فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُوا هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾

نو رابه شي دوی ته عذاب ناڅاپه او دوی به خبر نه وی۔ نو وابه وائی دوی آیا مونږ ته انتظار کیدے شي

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾ أَفَرَأَيْتَ إِن مَّتَّعْنَاهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَاءَهُم

آیا عذاب زمونږ زر غواړی! - آیا فکر دے ستا وی چه که فائده ورکړو دوی لره څو کالو بیا راشی دوی ته

مَّا كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾ مَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَا أَهْلَكْنَا

هغه عذاب چه د دوی سره ئې وعده وه - منع به نه کړی د دوی نه عذاب هغه شے چه دوی به فائده اخیسته او هلاک

لہ دا قرآن صفت دے چه دا نازل شوی دے په صحیفو کښې مخکینو حقیقت دے او دا مضمون موجود دے
لے امتی وی ملائکه جبرئیل علیه السلام دے
وله ئې نه منی او په مجبور هم
نازل شوی دے چه مونږ پوهیږو د دوی
د تکبر کولے او دا قرآن به ئې
کمال سره د دوی پیژندلو نیکو
ایمان نه راوړی نو چه عذاب
راشی بیا به وهی لیکن وخت
منل به ئې کاره وی وي
لہ دا که ان مه کوه چه دا
قرآن نبی کریم صلے الله علیه
وسلم د ځان جوړ کړے دے
او دا ګمان هم مه کوه چه
جبرئیل به په کښې څه غلط
کړے وی هغه خو امین دے
او دا ګمان هم مه کوه چه نبی
کریم صلے الله علیه وسلم
به پرے نه پوهیږی دا
خو نبی کریم صلے الله علیه و
دوی ته په صافه عربی ژبه راغلے
وے او دا ګمان هم مه کوه چه
د قرآن مسئله نوے ده
بلکه دا مسئله په مخکینو
کتابونو کښې هم وه او علماء
د بنی اسرائیلو ورله پیژنی
دا پوره دلیل دے چه قرآن
د حقیقت خو دا خلق پرے
ایمان نه راوړی ترڅو چه
عذاب راشی خو بیا به
وخت ایمان منظور نه وی
او که عذاب څه زمانه پس
راشی بیا هم د دوی اسباب
وعیش د دوی نه شی بچ کولے
لہ دا زورنده ده چه
دوی وائی مونږ ته نه منو
عذاب را ولی نو الله تعالی
فرمائی اے احمقانو څه عذاب غواړئ څه عذاب څه آسان شے دے که څه موده زمانه د دوی ته صبر او کرم اخر به عذاب
راشی بیا به د دوی لره د دوی اسباب د عیش د عذاب نه بچ نه کړی ۔۔

ے دا او اول اعتراض جواب دے سوال دا چه وو ته شیطان راځی جواب دا چه نه دے وو شیطان سره د قرآن مناسب نو دے دے

د آدمیانو د قرآن نه لرے کړے شوے دے ۱۲ ۔ نګه دا امر دے چه هر کله تصرف وانامر دا تعالٰی دے او د الذین لره حقه

مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا لَهَا مُنْذِرُوْنَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرٰى ۛ وَمَا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٢٠٩﴾ وَمَا

هلاک کړے مونږ هیڅ کلے مګر حقو لره ویروونکی وو ۔ د پاره د نصیحت ۔ او نه یو مونږ ظالمان ۔ او نه دی

تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿٢١١﴾ اِنَّهُمْ

راوړے دا قرآن دلته شیطانانو ۔ او نه دے مناسب حقو لره او نه د حقو ته شته ۔ یقیناً دوی

عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُوْلُوْنَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَكُوْنَ

د آوریدو د قرآن نه لرے کړے شوی دی ۔ نو مه بله د الله سره بل اِله نو شے به

مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ﴿٢١٣﴾ وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴿٢١٤﴾ وَاخْفِضْ

په عذاب ۔ او ویروه قبیله نژدے خپله ۔ او ښکته کړه

جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٢١٥﴾ فَاِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ

لاس خپل په حقو باندې چه ستا تابعداری کوی د مؤمنانو نه ۔ او که دوی خلاف کوی ستا نو او وایه

اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٢١٦﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿٢١٧﴾ الَّذِيْ

چه زه بیزار یم د هغے نه چه تاسو هغه کوئ ۔ او تکیه او سپاره زبردست مهربان خدائے ته ۔ کوم چه

يَرٰىكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ ﴿٢١٩﴾ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٢٢٠﴾

وینی تا کله چه پاڅې ته ۔ او ستا راتلل ستا په مونځ ګذارو کښې ۔ یقیناً الله هر شے اوریدونکی او پوهیدونکی دے ۔

هَلْ اُنَبِّئُكُمْ عَلٰى مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيٰطِيْنُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلٰى كُلِّ اَفَّاكٍ

آیا خبر کړم تاسو په هغه چا چه راځی حقو ته شیطانان ۔ راځی هر دروغژن او

اَثِيْمٍ ﴿٢٢٢﴾ يُّلْقُوْنَ السَّمْعَ وَاَكْثَرُهُمْ كٰذِبُوْنَ ﴿٢٢٣﴾ وَالشُّعَرَاۤءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ﴿٢٢٤﴾

ګناهګار ته ۔ راوړی غوږ ورته او ویلے خبرے او زیات د دوی دروغژن دی ۔ او د شاعرانو تابعداری کوی ګمراهان

اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ فِيْ كُلِّ وَادٍ يَّهِيْمُوْنَ ﴿٢٢٥﴾ وَاَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ ﴿٢٢٦﴾

آیا نه وینې ته دوی چه په هر خیال میدان کښې سرګردان دی ۔ او دوی وائی هغه خبره چه هغه نه کوی ۔

هلاک کړل او قرآن حقه
رالیګلے دے او دا د توحید
مسئله د شیطانانو وو
نو صرف الله تعالٰی لره بله او
خپلے قبیلے ته هم دا مسئله
کوه او د تابعدارانو لحاظ
کوه او د الذین نو پروا مه
ستا او د حقو نه جدا شه
او حقان خدائے تعالٰی ته
او سپاره حقه ته ستا
حالات معلوم دی کله چه ته
د مونځ ګذار و اندازه اخلے
شیطانان دروغژنو خلقو ته
راځی او اکثر دروغ ورته
راوړی ۱۲
ستا د اسلوک دے د اتباع
سره ۱۲ ۔ نګه د اسلوک نو
د انبیاؤ سره ۔ شته دا
تسلی وه دا چې ته ۱۲
نګه ۔ شعر یو کلام دے چه
ښکلے بنه وی او څه ښکلے
بد وی نو نه هر شعر غلط
دے او نه هر شعر صحیح ګڼ
نګه دا د دوهم اعتراض جواب
دے سوال چه دے شاعر
دے پیغمبر نه دے جواب
د شاعرانو تابعداران خو
ګمراهان وی او غلط خیال
خبرے کوی بے عمله او دا
پیغمبر خو دا سے نه دے د ده
تابعداران خو صحیح خلق دی
او دے خو صحیح خبرے
کوی نه خیال غلط خبرے ۱۲

۱۲ ۱۲ ۱۲

له واو صحيح شعراء مال دے. ۳ په دا نازل شو يعنے دا سورت پس د شعراء نه او قبل د قصص نه د ورمتوسط مکه مکرمه. اصلي مقصد د سورت نمل دا دے چه تصرف والا او برکت والا صرف الله تعالیٰ دے

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ

مگر هغه چه ایمان ئے راوړے دے او کوی نیکی او یادوی الله ډیر. او بدل اخلی پس د

بَعْدِ مَا ظُلِمُوا ۗ وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾

حق نه چه ظلم شوی په هغوی او معلوم به کړی ظالمان چه کوم طرف ته به دوی واپس شی.

سُورَةُ النَّمْلِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَلَاثٌ وَتِسْعُونَ آيَةً وَسَبْعُ رُكُوعَاتٍ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

آیتونه ۹۳	شروع په نوم د الله سره چه بے حده مهربان او رحم کوونکے دے (امداد غوا ړم)	رکوع ۷

طس ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْقُرْآنِ وَكِتَابٍ مُبِينٍ ﴿١﴾ هُدًى وَبُشْرَىٰ

طس. دا آیتونه د قرآن او د ښکاره کتاب دی. - خوښه ده او مبارکی ده

لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ

مؤمنانو ته. - کوم چه سم کوی مونځ او ورکوی برخه د خدائے پاک او دوی

بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٣﴾ إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ

په آخرت باندے یقین کوی. - یقینا کوم خلق چه ایمان نه راوړی په آخرت ما ښائسته کړی دی دوی ته

أَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُونَ ﴿٤﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَهُمْ سُوءُ الْعَذَابِ وَهُمْ

بد عمل د دوی نو دوی بے عقله دی. - د دوی د پاره بد عذاب دے او دوی

فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ﴿٥﴾ وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِنْ لَدُنْ

په آخرت کښے تاوانیان دی. - او تا ته ازده کولے کیږی قرآن د طرف نه د

حَكِيمٍ عَلِيمٍ ﴿٦﴾ إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِ إِنِّي آنَسْتُ نَارًا سَآتِيكُمْ

حکمت والا او پوهه ذات نه. - کله چه او وئیل موسیٰ خپل ټبر ته چه زه وینم اور - را به وړم تاسو ته

مِنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ آتِيكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٧﴾

د هغه نه خبر یا به راوړم تاسو ته لمبه بلَه شوے چه تاسو گرم شئ -

مکه چه د لوئے علم والا او د لوئے قدرت والا صرف الله دے نه غیر، نه نکوی موسیٰ علیه السلام ته چه نور د ونه او ویلی زعلیه السلام ته هغه معلوم نه شو او لوط علیه السلام او صالح علیه السلام ځان د عذاب نه نه شو بچ کولے او هغه مخالف هغوی نه شو هلاکولے او خوبیوه نو نه دی. په ترتیب قرآن کښے (۲۷) او په نزول کښے (۴۸) دے ۱۲
قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطٰنًا فَلَا

او وے زهٔ به مضبوط کړم مټ ستا په ورور ستا سره او ورکړو به تاسو لره غلبه نو نه به

يَصِلُوْنَ اِلَيْكُمَا بِاٰيٰتِنَآ اَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغٰلِبُوْنَ ۝٣٥

رسیږی تاسو ته - حُکه د دلیلونو زمونږ - تاسو او ستاسو تابعداران به غالب یئ -

فَلَمَّا جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ

نو هر کله چه راوړل هغوئ ته موسیٰ صاف دلیلونه زمونږ نو او وئے ویل چه نه دے دا مګر سحر دے

مُّفْتَرًى وَّمَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ۝٣٦ وَقَالَ

جوړ کړے شوے او مونږ نه دے اورېدلے دا خبره د پلار نیکه چه مخکښ تېر شوی دی - او اُو وے

مُوْسٰى رَبِّيْٓ اَعْلَمُ بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى مِنْ عِنْدِهٖ وَمَنْ

موسیٰ چه رب زما ښه پوهیږی په هغه چا چه هغهٔ راوړې هدایت د رب خپل نه او په هغه چا چه

تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۝٣٧ وَقَالَ

شی هغهٔ لره کامیابی د آخرت - یقیناً نهٔ کامیابیږی ظالمان - او او وے

فِرْعَوْنُ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ فَاَوْقِدْ لِيْ

فرعون اے مشرانو ما ته معلوم نه دے ستاسو د پاره اِلٰه سوا زما نه نو اور بل کړه اے

يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَطَّلِعُ اِلٰٓى

هامانه په خاوره (د خټو د پاره) نو جوړه کړه زما د پاره منار - اُمید دے چه او ګورم د

اِلٰهِ مُوْسٰى ۙ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٣٨ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ

موسیٰ اِلٰه ته - او زهٔ خو یقیناً ګمان کوم د دروغژنو - کبر او کړو هغهٔ او

وَجُنُوْدُهٗ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اِلَيْنَا

لښکرو د هغهٔ په زمکه کښې په ناحقه او خیال وو د دوئ چه دوئ به ما ته

ل: حفظ به هم پیغمبر کړم تو ستا تائید به کوی ۱۲ ل۲: یعنی ستاسو غلبه په وسلو سره به نه وی بلکه ستاسو سره به زما د وحدانیت دلیلونه وی او د دے په سبب به ووی تاسو ته ضرر نه شی رسیدلے. حدیث شریف دے چه د چا حفاظت او امداد چه باری تعالیٰ لازم وے یعنی هغه څوک چه د الله تعالیٰ د دین خدمت کوی نو الله تعالیٰ حفظ لره د دشمنانو نه بچ کوی ۱۲

ل۳: چه دا نوے مسئله ده دا پخوانی اعتراض دے چه په دا عیانو د توحید باندے

ل۴: عاقبت څوا آخرت ویلے کیږی او څو په قرآن کښې تر دے نه مینه انجام مراد دے

ل۵: عام قانون دے چه ظالم کامیاب نه وی ۱۲

ل۶: واحسیں د فرعون دعویٰ ده ۱۲ ل۷: څوک چه تکبر کوی نو قیامت به نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی څوک چه تکبر کوی هغه لره شکست کوی (لکه ابلیس) او څوک چه تواضع کوی نو خدائے تعالیٰ هغهٔ لره پورته کوی (لکه آدم علیه السلام) ۱۲

لَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٣٩﴾ فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ ۚ فَانْظُرْ

واپس نه کړے شي - نو ما ونيوه دے او لښکرے دده نو ما او غورزول دوی لره په درياب کښے نو او ګوره

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى

چه څنګه شو آخره ظالمانو - او ما کړي وو دوی لره مشران دوی بلل خلق اور

النَّارِ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿٤١﴾ وَاَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ

ته - او په ورځ د قيامت به د دوی سره امداد اونه کړے شي - او ما وليږله په دوی پسے په دے

الدُّنْيَا لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ﴿٤٢﴾

دنيا کښے لعنت - او په ورځ د قيامت به دوی بد موره کړے شي -

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ

او بے شکه ما ورکړے وه موسیٰ ته کتاب پس د هغې نه چه ما هلاک کړے بيړۍ

الْاُوْلٰى بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٣﴾

مخکنۍ د پاره د بوهه کولو د خلقو او هدايت او مهرباني اميد دے چه دوی سوچ او کړي

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ

او نه وے ته په طرف د مغرب کله چه ما ورکړو موسیٰ ته حکم

وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ

او نه وے ته د حاضرو نه - ليکن ما پيدا کړے بيړۍ نو اوږد شو

عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوْا

دوی عمر - او نه وے ته مقيم د مدين په خلقو کښے چه لوستل دے

عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ

دوی ته آيتونه زمونږ ليکن مونږ ليږونکے د رسولانو او نه وے په طرف د

ـله په بحر قلزم کښے ما هغوی لره غرق کړل د هغے په هغه زمانه کښے متکبرو حد کړے ـله په دنيا کښے ما دوی لره مشری ورکړے وه نو بکار وه چه دوی خلق هدايت ته بللی وے خو څنګه نعمت ورکولو نه ئے صرف حق دے خو دوی خلق کفر ته او بلل او د کفر انجام خو اور دے نو دوی په حقيقت کښے داعيان د اور وو نو په دوی پسے په دنيا په جهان کښے لعنت شروع شو او څوک چه د دين دعوى کړي نو په دواړه جهانه په حقه د الله تعالیٰ رحمتونه ورپيږی ۱۲ ـله دا جمله معترضه ده د پاره د صداقت د نبی کريم صلی الله عليه وسلم چه کله ما موسیٰ عليه السلام ته پيغمبري ورکوله نو ته ورته حاضر نه وے او په مدين ښار کښے نه وے او کله چه ما په طور کښے د موسیٰ عليه السلام سره خبرے کولے نو ته خو حاضر نه وے او دغه خبرے کوے معلومه شوه چه ته صادق نبی ئے تا ته وحی کيږی ۱۲ ـله علوم د نبوت ختم شو نو څنګه ما تا لره را اوليږه ۱۲ ۱۲

له د عیسیٰ علیه السلام نه روستو بل پیغمبر نه دے راغلے تر نبی کریم صلی الله علیه وسلم پورې ۱۲

الطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا وَلَٰكِن رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا

طور کښې کله چې مونږ آواز او کړو (موسیٰ ته) لیکن (ته مونږ رسول کړې) د پاره د رحمت د رب ستا چې او ویرې ورکړې هغه قوم ته

مَّا أَتَاهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾

چې نه دې راغلي دوی ته ویرې ورکوونکې څوک له تا نه مخکښې (زمانه کښې) امید دے چې دوی سوچ او کړي۔

وَلَوْلَا أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا

او که نه وے دا خبره چې اورسي دوی ته تکلیف په سبب د هغې چې مخکښې لیږلي دي لاسونو د دوی نو وائي

رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ وَنَكُونَ مِنَ

اے ربه زمونږ ولې دې رانه لیږلو مونږ ته رسول چې تابعداري مونږ د آیتونو ستا او شو د مومنانو نه

الْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا لَوْلَا

مومنانو نه۔ نو هر کله چې راغی دوی ته حق زمونږ د طرفه نو اووې دوی چې ولې نه شي

أُوتِيَ مِثْلَ مَا أُوتِيَ مُوسَىٰ ۚ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا بِمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ

ملاو شوے ده ته کتاب لکه چې ملاو شوے وو موسیٰ ته۔ آیا انکار نه دے کړے دوی د هغې نه چې ورکړے شوے وو

مِن قَبْلُ ۖ قَالُوا سِحْرَانِ تَظَاهَرَا وَقَالُوا إِنَّا بِكُلٍّ

مخکښې نه؟ اووې دوی دا دواړه سحر دي چې موافق شوی دي۔ او اووې دوی چې مونږ د ټولو نه

كَافِرُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ فَأْتُوا بِكِتَابٍ مِّنْ عِندِ اللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَا

انکار کوو۔ او وایه (او پیغمبره) نو کتاب د الله نه چې هغه ښه وي د دے دواړو نه

أَتَّبِعْهُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٤٩﴾ فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ

چې زه هغه او منم که یئ تاسو رښتوني۔ نو که دوی او نه منله ستا نو پوهه شه چې دوی

أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ

تابعداري کوي د خواهشاتو خپلو۔ او څوک دے ډیر غلط د هغه چا نه چې تابعداري کوي د خواهش خپل

۲ یعنی که د دوی دا خبره نه وے نو مونږ تاله نه وے رالیږلے او بې له رسول لیږلو نه عذاب هم ظلم نه وے مالک خپل مملوک کښې هر قسم تصرف کولے شي لیکن مونږ تاله رسول کړو چې د دوی عذر ختم شي ۱۲ ۳ والله تعالیٰ

د کلام نه معلومیږي چې دا خبره کوي چې مسلمانان په مکه کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته قرآن په یو ځل ولې نه راځي نو معلومیږي چې دوی ته ګمان جوړ وو چې لیږي۔ موسیٰ علیه السلام ته هم تورات په یو ځل را غلے وه نو الله تعالیٰ جواب کوي چې دوی خو کتاب د موسیٰ علیه السلام هم نه مني په صفت کښې د مسئله د توحید د هغه نو دوی وائي چې دا دواړه سحر دے او مونږ د دواړو نه منو۔ نو ته ورته او وایه چې تاسو بل کتاب په دے پیش کړئ نو زه به هغه او منم نو دوی ستا خبره نه شي منلې نو ته پوهه شه چې دوی د خپل خواهش تابعداري او څوک چې د خواهش تابع وي نو هغه غټ ګمراه دے او دا ظالمان ته الله تعالیٰ خونه ښکاره کوي ۱۲

هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ

هدايت د الله نه - بے شکه الله نه خوروي هيڅ ظالم قوم ته - او يقين

وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٥١﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ

پيا پيا مارا ولېږله دوى ته خپله خبره اميد دے چه دوى فکر وکړى - هغه کسان چه ما ورکړے ده هغوى ته

الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْٓا

کتاب مخکښې د دے قرآن نه دوى په دے قرآن منى - او کله چه اولوستلے شى دوى ته دا قرآن نو وائى چه

اٰمَنَّا بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ﴿٥٣﴾

مونږ ايمان راوړے په ده چه ده حق دے زمونږ د رب نه يقيناً مونږه وو مخکښې د ده نه تابعداران -

اُولٰۗىِٕكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ

دوى ته به ملاو شى ثواب د دوى دوه چنده ځکه چه دوى قائم وو په حق او دوى لرې کوى نيکئ په جواب

السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿٥٤﴾ وَاِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ اَعْرَضُوْا

د بدئ کښے او بعضې د هغه مال نه چه ما ورکړے دے دوى ته خيرات کوى - او کله چه واورى بے فائده خبره نو مخ واړوى

عَنْهُ وَقَالُوْا لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۡ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۡ

د هغې نه او وائى چه مونږ دپاره دى عمل زمونږه او تاسو دپاره دى عمل ستاسو - سلام دے په تاسو باندے

لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ﴿٥٥﴾ اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ

نه غواړو مونږ نا پوهه خلق - بے شکه ته نه شے سمولے هغه څوک چه ستا خوښ وى ليکن

اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَقَالُوْٓا

الله سموى هغه څوک چه هغه خوښه شى او هغه ښه پيژنى لار موندونکى - او وائى دوى که

اِنْ نَّتَّبِعِ الْهُدٰى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ اَرْضِنَا ۭ اَوَلَمْ نُمَكِّنْ

روان شو په لار دے ستا سره نو او به تختولے شو د زمکے خپلے نه - آيا مانه دے ورکړے

له دا ترغيب دے منکرانو ته
٢ـه دا دليل نقلى دے حقيت د
کتابونو د منکرانو چه صحيح
اهل کتاب دا قرآن منى او
هغوى اقرار کوى چه دا قرآن
حق دے نو معلومه شوه چه دا قرآن
او خپل کتاب دوى دواړه
او منل نو دوى له دوه چنده
ثواب دے ١٢ ١٢
٣ـه يعنى زمونږ د عملونو
فيصله به زمونږ سره کيږى
او ستاسو د عملونو فيصله
به ستاسو سره کيږى دا
معنى نه ده چه د دوى سره
جهاد مه کوه نو دا آيت
منسوخ نه دے ١٢
٤ـه يعنى نه ده د دے
بنده اراده او کسب کولے
شى او بل سمول دى دا
صرف د الله تعالىٰ کار دے ١٢
٥ـه دا د نبى کريم صلى الله
عليه وسلم د پاره تسلى
ده ١٢
٦ـه دا د مخالفينو د پاره
شکوه ده چه ايمان ځکه
نه راوړو چه مونږ د
کافرانو نه ويريږو ١٢
٧ـه دا هغوى ته جواب دے
چه ما تاسو سره دا مهربانى
کړيده چه د امن او د
عزت په ځائے کښے ما تاسو
له آباد کړى دى نو تاسو
د کافرانو نه هم بچ کولے
شم ١٢

لَهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَىٰ إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا

دوی لره د عزت ځائی د امن چه راوړلے کیږی هغې ته میوی د هر شی د پاره د رزق ځما د طرف نه

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝ وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ بَطِرَتْ

او لیکن زیات د دوی نه نه پوهیږی - او ډیر مو هلاک کړی دی کلی چه تکبر هغوی کړے

مَعِيشَتَهَا ۖ فَتِلْكَ مَسَاكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَن مِّن بَعْدِهِمْ إِلَّا

په ژوند خپل کښے - نو دغه کورونه د دوی دی چه نه دی آباد شوی روستو د دوی نه مګر

قَلِيلًا ۖ وَكُنَّا نَحْنُ الْوَارِثِينَ ۝ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَىٰ

لږ - او یو مونږ وارث - او نه دے ستا رب چه هلاک کړی کلی

حَتَّىٰ يَبْعَثَ فِي أُمِّهَا رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا

ترڅو چه را اولیږی په مرکز کښے رسول لره چه لولی هغوی ته آیتونه ځما - او نه یو

مُهْلِكِي الْقُرَىٰ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَالِمُونَ ۝ وَمَا أُوتِيتُم مِّن

هلاکوونکی د کلو مګر چه اهل د هغو ظالم وی - او هغه چه درکړے شوے تاسو ته

شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا ۚ وَمَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ

څه شے - نو سامان د ژوند لنډ دے او ښائست د هغې دے - او هغه چه د الله سره دی غوره

وَأَبْقَىٰ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝ أَفَمَن وَعَدْنَاهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ

او همیشه پاتے کیدونکے دی - آیا نه پوهیږئ تاسو - آیا هغه چا سره چه او کړو مونږ وعده ښه او دے ورسره

لَاقِيهِ كَمَن مَّتَّعْنَاهُ مَتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

یو ځائے کیدونکے دے نو د هغه چا په شان دے چه ما ورکړے دے هغه لره سامان د ژوند لنډ - بیا به هغه په ورځ د قیامت

مِنَ الْمُحْضَرِينَ ۝ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ

د حاضر کړے شوو نه وی (جهنم ته) او کله چه آواز او کړی هغوی ته نو او به وائی چه چرته دی شریکان ځما کوم

ع ۹

ـ۱ـ دا وعده به و نه وی شی ۲ ـ۲ـ ځکه کساف کښے وهمه کوی ۱۲ ـ۳ـ ځکه د مرکز د مسلے نظر پښه کیږی ۱۲ ـ۴ـ شرک و بدعت د ظلم وائی (فائده) رسم و اوجاجو کار ته چه هغه په ځان لازم کړی او هغه ته د هغه کار په کولو شرم ښکاری لکه د واده رسمونه وغیره ۱۲ ـ۵ـ بیان د حقارت د دنیا یعنی ایمان زوری د دنیا د وجه نه ایمان صدیریږی دنیا څه شے نه دے آخرت ثواب ښه شے دے ۱۲ ـ۶ـ دا د موحد او مشرک مقابله ده چه دواړه برابر نه دی ۱۲ ـ۷ـ دا د عذاب لفروی بیان دے ۱۲

له وا زیرے دے مسلمانانو لره ۱۲ ته د الله تعالی حسب وتمیل د پیرتا کید دے ۱۲ ته یعنی کامیابو خلقو به

الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۶۲﴾ قَالَ الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا

چه تاسو به هغو خیال کاوه (چه معبودان دی) او به وائی هغوی چه لازم شو په هغو باندی حکم د عذاب اے

هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَغْوَيْنَا ۚ اَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ ۫

ربه زمونږ دغه دا هغه خلق دی چه مونږ دوئ لره غلط کړی وو - مونږ دوی غلط کړی وو لکه چه مونږ غلط وو - مونږ

مَا كَانُوْٓا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَقِيْلَ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ

خپل بیزاری تا ته ښکاره کړو چه دوی زمونږ بندگی نه وه کړے - او او به ویلے شی چه طلب کړئ شریکان خپل نو دوی به هغو

فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَرَاَوُا الْعَذَابَ ۚ لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ ﴿۶۴﴾

ته آواز او کړی نو جواب به ورنه کړی هغو لره او هغوی به عذاب او وینی - (او به وائی) که چرته مونږ په لاره موندلے وے

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶۵﴾ فَعَمِيَتْ

او کله چه آواز او کړی دوی ته نو الله به او وائی چه تاسو جواب ورکړو تاسو پیغمبرانو ته - نو ختم به شی

عَلَيْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۶۶﴾ فَاَمَّا مَنْ تَابَ

د دوی خبرے په هغه ورځ نو دوی به یو بل نه تپوس هم نشی کولے - نو چا چه توبه او ویسته

وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُفْلِحِيْنَ ﴿۶۷﴾

او ایمان ئے راوړو او نیک عمل ئے اوکړو نو امید دے چه شی به د کامیابو نه

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ۗ سُبْحٰنَ

او رب ستا پیدا کوی هغه چه د هغه خوښه شی او غوره ئے کړی - نشته په لاس د دوی کښے غوره کول - پاک دے

اللّٰهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ

الله او لوئے دے د هغو نه چه دوی ئے د الله سره شریکوی - او ستا رب پوهیږی په هغه چه پټوی سینے د دوی

وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۗ لَهُ الْحَمْدُ فِى الْاُوْلٰى

او په هغه چه ښکاره کوی ئے دوی - او هغه الله دے نشته بل اله سوا د هغه - خاص هغه لره صفتونه دی په دنیا

له وا زیرے دے مسلمانانو لره چه لرګیښے په عذاب وی او فلاح د دارین مراد ده ۱۲

ته د مخلوق اختیار مستقل نه دے او اختیار د الله تعالی اختیار ورکړے دے او خالق نه دے او سره د اختیار نه ځان عاجز ګڼل دا غیر او اختیار محمود دے: وَرَبُّكَ يَخْلُقُ: نه اول دلیل دے د الله تعالی د وحدانیت په دے چه دے دلیل کښے د الله تعالی د لوئے قدرت مظاهره ده چه د هر شی پیدا کوونکے او پسند کوونکے صرف الله تعالی دے ۱۲

ته دا دوئم دلیل دے په دے دلیل کښے د لوئے علم د الله تعالی اعلان دے چه په هر شی بلکه د زړه په راز الله تعالی عالم دے

ته وا نتیجه دا ده چه هر کار ساز د هر شی صرف خدائے تعالی دے او چه په هر شی علم پوهیږی الله تعالی دے نو معبود هم سوا د هغه نه څوک نشته ځکه چه محتاجی هغه جاته کیدے شی چه هغه په حاجت پوهیږی او حاجت پوره کولے شی او دا صفت صرف د الله تعالی دے ۱۲

له داورم ولیل دی یعنی دا وینا معلومه ده چه دغو رالو دستو تکي به د الله تعالیٰ نه بل څوک نیشته ۱۲ ۳ د شپے
اوو ورځ کیوو غالته لیدلی ۱۲ ۴ د اخلو درم ولیل دی یعنی دا وینا معلومه ده چه سپه رالو دستو تکے سوا د الله تعالیٰ نه

وَالْاٰخِرَةِ ۘ وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٧٠﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ

او په اخرت کښې او صرف هغه لره حکم دے او صرف هغه ته به تاسو واپس شئ - او وایه ما ته خبر ورکړئ

جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ

که الله په تاسو باندے شپه همیشه تر قیامته پورے - نو څوک دے

اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ؕ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ﴿٧١﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ

چه رڼا کوونکے سوا د الله نه چه راولي به تاسو ته - آیا نه اورئ تاسو ؟ - او وایه ما ته خبر ورکړئ

اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ

که کړي الله په تاسو باندے ورځ همیشه تر قیامته پورے نو څوک دے

اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٧٢﴾

معبود سوا د الله نه چه راولي تاسو ته شپه چه آرام اوکړئ په هغې کښې - آیا نه وینئ تاسو ؟

وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ

او د رحمت خپل نه هغه جوړه کړے ده تاسو د پاره شپه او ورځ چه آرام اوکړئ په شپه کښې

وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ

او طلب کړئ رزق په ورځ کښې فضل د الله او امید دے چه تاسو احسان اومنئ - او کله چه آواز اوکړي هغوی ته

فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَنَزَعْنَا

نو او به وائي چه چرته دي هغه شریکان زما چه تاسو په هغوی باندے گمان کولو (د حاجت پوره کولو) او جدا به کړو

مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا فَقُلْنَا هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ فَعَلِمُوْٓا اَنَّ الْحَقَّ

د هرې ولي نه حال خودونکي لره نو او به وایو چه راوړئ دلیل خپل نو پوهه به شي چه حق

لِلّٰهِ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٧٥﴾ اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ

الله لره دے او ورک به شي د دوي نه هغه دروغ چه دوي جوړول - بے شکه قارون وه د

بل څوک نیشته ۱۲ ۳ د ورځ لیدلو د کیږي ۱۲ ۵ د انعام دلیل دے د الله تعالیٰ د وحدانیت چه شپه د آرام د پاره او ورځ د کسب د پاره صرف الله تعالیٰ پیدا کړي ده دا کار څوک بل نه شي کولے نو معبود صرف الله تعالیٰ دے او برکت ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے ۱۲ ۶ دا د عذاب د آخرت بیان دے چه څوک د بل چا نه حاجت غواړي او د هغه نه برکت گنړي نو د هغوی نه به په قیامت کښې دا دروغ ورک شي بیا به ورته جیلئه دلیل نه وي نو ووئ دے او س په دنیا کښې د دے شرک نه بس کړئ ۱۲ ۷ دا د عذاب دنیوي بیان دے او د حقارت د دُنیا بیان دے چه قارون د ومره مالدار وه نو هغه چه د دین نه خلاف اوکړو نو هلاک شو (قصه) قارون د موسیٰ د تره ځوئے وه او موسیٰ د عمران ځوئے د تره د قاهث وه په مصر کښې فرعون قارون لره د ټولو بنی اسرائیلو خپل ممبر جوړ کړے وه نو ده ډیر مال جمع کړے وه نو هر کله چه فرعون غرق شو

نو قارون په چندو مال باندے فخر کاوه نو ده یوے زنانه لره د سرو زرو تالے ورکړل چه په موسیٰ علیه السلام باندے تهمت اولگوه نو موسیٰ علیه السلام دے لره قسم ورکړو چه ته دا تهمت په ما باندے رشتیا وائې (بقیه په ۵٦٨)

ع ۷ ۱۰

(پاڅه د سجدې نه) نو هغوئ اقرار اوکړو چه ما ته د اضبره قارون کړې ده نو موسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ ته په سجده شو
نو الله تعالیٰ ورته اووې چه ستا اختیار دے نو موسیٰ علیه السلام
چه الله کړ زه ستا پیغمبر یم نو ځما د پاره او قهر ...

قَوْمِ مُوسٰى فَبَغٰى عَلَيْهِمْ ۖ وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَآ اِنَّ

قوم د موسیٰ نه نو هغه ظلم اوکړو په هغوی باندې . او مونږ ورکړې وو ده ته د خزانو نه دومره چه

مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ اُولِى الْقُوَّةِ ۤ اِذْ قَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ

د هغو کُنجیانو (د پیټولو) نه ستړې کیده جماعت چاق - کله چه اووې ده ته قوم د ده

لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ ۝ وَابْتَغِ فِيْمَآ اٰتٰىكَ

چه تکبر مه کوه یقیناً الله نه خوښوی تکبر کوونکې - او لټوه په هغه مال سره چه درکړې دے

اللّٰهُ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَاَحْسِنْ

الله ورسته کور او مه هیروه ته حصه خپله د دنیا نه او ښه کوه

كَمَآ اَحْسَنَ اللّٰهُ اِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِى الْاَرْضِ ۭ اِنَّ

لکه چه ښه کړې دی تا سره الله - او مه کوه فساد په زمکه کښې - یقیناً

اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ۝ قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ

الله نه خوښوی فساد کوونکي - هغه اووې یقیناً راکړې شوې دے ما ته مال په هنر ځما

عِنْدِيْ ۭ اَوَلَمْ يَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهٖ مِنَ

سره - آیا دے نه دے پوهه چه یقیناً الله هلاک کړې دی پخوا د ده نه پیړۍ

الْقُرُوْنِ مَنْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَّاَكْثَرُ جَمْعًا ۭ وَلَا يُسْـَٔلُ

کوم چه زیاتې وے د ده نه په طاقت کښې او زیاتې وے د ده نه په جمع کولو د مال کښې - او تپوس به

عَنْ ذُنُوْبِهِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۝ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ فِىْ زِيْنَتِهٖ ۭ

نه شی کولې د گناهونو د هغوی مجرمانو نه - نو راووتو د قوم مخ ته په ښکلې جوړ کښې -

قَالَ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ

او وې هغو خلقو چه هغوی غوښته ژوندون د دنیا آرمان دے مونږ له په شان د هغه سامان

زمکې ته حکم اوکړو چه دا نیولې کړه نو قارون او دے چه ته ځما د مال په طمع کښې نو موسیٰ علیه السلام دے چه مال د ده په سر جمع کړه رد دے گڼي ۱؎ نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي چه بنده وائي ځما مال دے او د ده مال هغه دے چه ده اوخوړو او واغوستو او د الله تعالیٰ په لاره کښې ئے خرچ کړو دا د ده نصیب وه د دنیا نه باقي مال د وارث دے ۱۲

۲؎ قارون اووے دا مال خو ما گټلې دے او ځما هنر دے الله تعالیٰ فرمائي دے غلط شو ده خپل دولت خپل تجارت او گټلو دا سے نه وه گڼلې د ده نه ډیر جماعتونه وو چه هغوی ډیر چاق وو او د هغوی مال هم ډیر زیات وو لیکن هغوی چه خلاف اوکړو نو هغو له الله تعالیٰ هلاک کړل مال څوک د الله تعالیٰ د عذاب نه نه شي بچ کولے نو هغې به دے هم هلاک شي ۱۲ ۱۲ ۱۲

۳؎ په عبارت کښې تقدیم او تاخیر دے یعنی: لَا یُسْئَلُ الْمُجْرِمُوْنَ عَنْ ذُنُوْبِهِمْ

۴؎ یعنی د قارون دنیا ته پیسې غیبې ل ۱۲

سله یعنی په دنیا پسی مئینه [illegible] دا خلک [illegible]

أُوتِيَ قَارُونُ إِنَّهُ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾ وَقَالَ الَّذِينَ

ورکړی شوی دی قارون ته، به شکله چه دی لوئ نصیب والا دی۔ او وویل هغو چه

أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ

ورکړی شوی وو دوی ته علم، افسوس دی په تاسو، ثواب د الله غوره دی د هغه چا دپاره چه ایمان راوړی او وکړی

صَالِحًا وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ ﴿٨٠﴾ فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ

نیک عمل، او نه ورکول کیږی دا خبره مګر صبر کونکو ته۔ نو ښخ کړو موږ هغه او کور د هغه

الْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُ مِن دُونِ اللَّهِ

په زمکه کښی، نو نه وه د هغه لره جماعت چه د هغه امداد ئی کړی وی سوا د الله نه

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾ وَأَصْبَحَ الَّذِينَ تَمَنَّوْا مَكَانَهُ

او نه وه دی د بدلی اخستونکو نه۔ او سحر کښی هغو خلقو چه خوښوله مرتبه د هغه

بِالْأَمْسِ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ

پرون، هغوی اووی حیرانی ده چه الله زیاتوی رزق د هغه چا دپاره چه خوښه ئی وی

مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَوْلَا أَن مَّنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا

د بندګانو خپلو نه او کموی۔ که احسان نه وی کړی الله په موږ نو هغه به موږ لره ښخ کړی وو

وَيْكَأَنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ ﴿٨٢﴾ تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا

وائی حیرانی ده چه نه کامیابیږی کافران۔ دغه د روستنی کور مونږ ورکوو

لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ

هغو لره چه نه غواړی لوئی خپله په زمکه کښی او نه فساد۔ او کامیابی

لِلْمُتَّقِينَ ﴿٨٣﴾ مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِّنْهَا وَمَن جَاءَ

ویریدونکو لره ده۔ چا چه راوړه نیکی لره نو هغه لره غوره ثواب ددی نه۔ او چا چه راوړه

[illegible] خلق [illegible] ۱۲

سله کوم خلق چه قارون ته [illegible] ۱۲

سله دا په قصه د موسیٰ علیه السلام [illegible] د موسیٰ علیه السلام په قصه کښی [illegible] نبی کریم صلی الله علیه وسلم [illegible] ۱۲

سله [illegible] بنی اسرائیلو لره الله تعالیٰ کامیابی ورکړی [illegible] ۱۲

سله [illegible] یعنی نیکی د خدائے دربار ته [illegible] ۱۲

سله [illegible] یعنی نقصان د بدئ [illegible] معاف کیږی ۱۲

[illegible]

بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ إِلَّا مَا كَانُوا

[illegible]

يَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَىٰ

[illegible]

مَعَادٍ ۚ قُل رَّبِّي أَعْلَمُ مَن جَاءَ بِالْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِي

[illegible]

ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾ وَمَا كُنتَ تَرْجُو أَن يُلْقَىٰ إِلَيْكَ الْكِتَابُ

[illegible]

إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَافِرِينَ ﴿٨٦﴾

[illegible]

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ آيَاتِ اللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ ۖ وَادْعُ

[illegible]

إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ

[illegible]

إِلَٰهًا آخَرَ ۘ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ ۚ

[illegible]

لَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾

[illegible]

سُورَةُ الْعَنْكَبُوتِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ تِسْعٌ وَسِتُّونَ آيَةً وَسَبْعُ رُكُوعَاتٍ

[illegible]

[illegible]

لہ واضحہ اول اعلان دے چہ پہ قش آمنا کار نہ کیږی بلکہ تکلیف بہ کوږے مسئلے چہ اشاعت کښے تیروے۔ دوهم
خاتمہ دہ د سورت اول حصہ

الٓمّٓ ۝١ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ

الف لام میم۔ آیا ګمان کوی خلق چہ دوی بہ پریخودے شی (صرف) پہ دې خبرہ چہ دوی وائی مونږ ایمان راوړے دے

لَا يُفْتَنُوْنَ ۝٢ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ

او دوی بہ اونہ کړے شی امتحان۔ او یقینًا مونږ امتحان کړے وو پہ هغوی چہ مخکښے تیر شوی وو۔ نو خامخا بہ معلوم کړی اللہ

اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ۝٣ اَمْ حَسِبَ

هغه څوک چہ رښتونی دی پہ دعوه د ایمان کښې او خامخا بہ معلوم کړی دروغژن۔ آیا ګمان کوی

الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ۭ سَاۗءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۝٤

هغوی چہ کوی ناروا چہ دوی بہ تښتی د عذاب زمونږ۔ غلط حکم کوی دوی۔

مَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَاۗءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ لَاٰتٍ ۭ وَهُوَ

څوک چہ امید کوی د ملاقات د اللہ نو یقینًا د (ملاقات) اللہ راتلونکی دے۔ او صرف اللہ

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٥ وَمَنْ جٰهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ

آوری او پہ هر څہ پوهه دے۔ او څوک چہ محنت کوی نو محنت کوی د ځان د فائدے د پارہ۔

اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝٦ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

بے شکہ اللہ غنی دے د عالم نہ - او کوم خلق چہ یقین کوی او نیکی

الصّٰلِحٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَحْسَنَ

کوی نو ضرور بہ معاف کړو مونږ د هغوی ګناهونہ د دوی او بدلہ بہ ورکړو مونږ د هغوی د ښائسته

الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٧ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ

عمل د دوی۔ او ما تاکید او نصیحت کړے دے انسان تہ پہ حق د مور و پلار د دوی کښې د

حُسْنًا ۭ وَاِنْ جٰهَدٰكَ لِتُشْرِكَ بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ

ښہ سلوک۔ او کہ دوی کوشش کوی پہ تا چہ تہ شریک جوړ کړے ما سرہ هغه چہ نشتے تا لہ پہ هغه علم

۲ ـــہ واضحہ دوهم اعلان دے چہ مخالفین د اللہ تعالیٰ د ګرفت نہ نہ شی بچ کیدے ۳ ـــہ دا او اول اعلان سره تعلق لری چہ محنت بہ تیروئی د دین پہ خدمت کښې فائده د ده او د ملاقات د اللہ تعالیٰ وخت راروان دے هغه بہ تاسو لره بدله ورکوی او څوک چہ یقین کوی د اللہ تعالیٰ پہ وحدانیت او نیکی کوی او محنت کوی نو باری تعالیٰ بہ هغوی تہ ګناهونہ معاف کړی او د هغوی د ښائسته عمل بدلہ بہ ورکړی اللہ تعالیٰ قدردان دے د مجاهدینو عمل تہ هغه ښائسته اوے چہ دوی هر عمل ښائسته دے ځکه چہ دوی د توحید د اشاعت مجاهد دی ۱۲ ـــہ دا بیان د اهمیت د توحید دے چہ دومره لوئے مسئلہ ده د که مور او پلار دے وئیلہ خلاف کا د دے نو بیا هم د هغوی خبره مہ منہ اګرچہ اللہ تعالیٰ د هغوی د حکم منلو تاکید وئیلی دے۔

فَلَا تُطِعْهُمَا إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ⑧

نو مه منه د دوی - ما ته واپس ستاسو دے نو خبر به کړم تاسو په عمل ستاسو .

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصَّالِحِينَ ⑨

او هغه کسان چه صحیح یقین وی او نیکی کوی نو ضرور به دوی شمار کړم په نیکانو کښې .

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ فَإِذَا أُوذِيَ فِي اللَّهِ جَعَلَ

او ځینې د خلقو نه هغه دی چه وائی مونږ یقین کړے دے په الله تعالیٰ نو کله چه اوکړے وشی په لاره د الله کښې

فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللَّهِ وَلَئِنْ جَاءَ نَصْرٌ مِنْ رَبِّكَ

نو ګرځوی تکلیف د خلقو پشان د عذاب د الله - او که راشی امداد د رب ستا نو

لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ أَوَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ

ضرور وائی چه مونږ یو ستاسو سره - آیا نه دے الله ښه پوهه په هغه شی چه په سینو د

الْعَالَمِينَ ⑩ وَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنَافِقِينَ ⑪

عالم کښې دے - او ضرور به ښکاره کړی الله مومنانو له (خلقو) او ښکاره به کړی منافقان .

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ

او وائی کافران مومنانو ته چه تګ په لاره زمونږ کړئ او مونږ به پورته کړو

خَطَايَاكُمْ وَمَا هُمْ بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُمْ مِنْ شَيْءٍ إِنَّهُمْ

ګناهونه ستاسو - او نه دی دوی پورته کوونکی د ګناهونو د دوی نه هیڅ شے - یقیناً دوی

لَكَاذِبُونَ ⑫ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَعَ أَثْقَالِهِمْ وَ

دروغ وائی - او پورته به کړی بوجونه (ګناهونه) خپل او نور بوجونه سره د بوجونو د دوی نه - او

لَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ⑬ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا

تپوس به اوکړے شی د دوی نه په ورځ د قیامت د دروغو د دوی نه - او یقیناً ما لیږلے وه نوح

له زرعه دپه عربو کښې لوئې عدد و ګڼل شوې نو مقصود دا دے چه صرف پنځوس کاله د زرو نه کم وو دومره دېر محنت هغه
او کړو - او قوم هغه ته ضرر او رسوله - نو الله تعالیٰ هغوی لره غرق کړل او نوح علیه السلام ئې بچ کړو - ۲ دا او دویم قصه ده

إِلَىٰ قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ

خپل قوم ته نو حصار شو په دوی کښې زر کاله بې د پنځوسو کلونو نه - نو اونیول دوی لره

الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٤﴾ فَأَنجَيْنَاهُ وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ وَ

طوفان او دوی ظالمان وو - نو ما بچ کړو هغه لره او جهاز والو لره - او

جَعَلْنَاهَا آيَةً لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٥﴾ وَإِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا

ما کړو هغه لره نښه د ټول عالم - او ما لیږلے وو ابراهیم لره کله چه هغه او وئیل خپل قوم ته عبادت کوئ

اللَّهَ وَاتَّقُوهُ ۖ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ

د خدای او د هغه نه او ویریږئ - دا خبره تاسو لره غوره ده که تاسو پوهیږئ - یقیناً بندګي کوئ تاسو

مِن دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ

سوا د الله نه د وثانو او جوړوئ دروغ - بې شکه هغه خلق چه تاسو ئې بندګي کوئ

مِن دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِندَ اللَّهِ الرِّزْقَ

سوا د الله نه دوی مالکان نه دي تاسو لره د رزق نو طلب کړئ د الله نه رزق لره

وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ ۖ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تُكَذِّبُوا فَقَدْ

او بندګي کوئ خاص د الله او د هغه احسان منئ - د هغه طرف ته تاسو واپس شئ - او که تاسو دروغژن کوئ (رسول)

كَذَّبَ أُمَمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ۖ وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿١٨﴾

نو یقیناً دروغژن کړي وو امتونو د مخه نه - او نیشته په رسول باندې مګر رسول د حق ښکاره

أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللَّهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى

آیا دوی نه وینې چه څنګه اول پیدا کوي الله خلقو لره بیا ئې دوباره پیدا کوي - بې شکه دا کار د الله

اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾ قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ

ته آسان دے - او وایه چه لاړ شئ په زمکه کښې نو وګورئ چه څنګه اول پیدا کړي هغه خلق

د اول د علان سره تعلق لري او ذکر د ابراهیم علیه السلام شو سره تکلیف تیر کړے وه نو تاسو به هم تکلیف تیر وئ صرف په امتا وئیلو کار نکوئ ۳ اوثان جمع د وثن ده او وثن او صنم بوشے دے معنی دا ده هر معبود سوا د الله نه خو بیا که هغه د اولیا او که کتلکا وي او که قبر وي او که بت وي او که ابو کښې د بت ذکر په طور د مثال دے او بت هم د بنده غذا جسم ده د دے کفارو خیال دا و چه کله دوی د دے بتانو تعظیم کوي نو د غه نیک خلق خوشحال کیږي او د دوی سفارش به کوي الله تعالیٰ ته عبد المطلب به چه کله دعا کوله نو هغه به او دریده په خپلو د هبل بت کښې او هغه به سوال د الله تعالیٰ نه کولو کا فران الله تعالیٰ منو هغه لوئے باد شاه هم ګنړلو کا فران وائي چه الله تعالیٰ کا رونه اولیا و ته سپارلي دي نو دوی هغه کا رونه کوي د الله تعالیٰ سره کوي لکه په دنیا کښې چه باد شاه بعضې کا رونه خپلو ماتحتو حواله کړي او ددې بیان خو بالکل الله تعالیٰ نه منل او مسلمانانو وائي چه تصرف کوونکے د بارئ تعالیٰ نه بل هیڅوک نیشته ۱۲

سک تو حید بیا نوي چه تاسو د چا محتاجي کوئ نو هغه خو عاجزان دي او باد شاه صرف الله تعالیٰ دے نو صرف د هغه نه رزق
او غواړئ او صرف د هغه محتاجي کوئ او د هغه احسان منئ ۱۲

ثُمَّ اللّٰهُ يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ۚ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۰﴾

بیا به الله پورته کړي خلق روسته - یقیناً الله په هر څه باندے قادر دے -

يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاِلَيْهِ تُقْلَبُوْنَ ﴿۲۱﴾

عذاب ورکوي هغه چاته چه د هغه رضا شي او رحم کوي په هغه چا چه د هغه خوښه شي - او هم هغه ته به تاسو بېرته

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ۫ وَمَا لَكُمْ

بېولے شئ - او نه یئ تاسو عاجز کوونکي (الله لره) په زمکه او نه په آسمان کښے - او نیشته تاسو لره

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۲۲﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ

سوا د الله نه څوک دوست او نه مدد ګار - او کوم خلق چه انکار کوي د دلائلو د

اللّٰهِ وَلِقَآئِهٖٓ اُولٰٓئِكَ يَئِسُوْا مِنْ رَّحْمَتِيْ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ

الله نه او د ملاقات د هغه نه دوي نا امیده دي د رحمت زما نه - او دوي لره سخت

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۳﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ

عذاب دے - نو نه وه جواب د قوم د هغه مګر دا وے هغوي چه او وژنئ هغه لره

اَوْ حَرِّقُوْهُ فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

یا او سېزئ هغه لره نو بچ کړو هغه لره الله د اور نه بے شکه په دې کښے دلیلونه دي د قوم

يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ

مؤمن د پاره - او وئیل هغه او بے شکه جوړ کړي دي تاسو سوا د الله نه اوثان د پاره د دوستۍ

بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ

په مینځ ځپل کښے په ژوند دنیا کښے - بیا به ورځ د قیامت به انکار کوي ځینے ستاسو د

بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۡ وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا

نورو نه او لعنت به وائي ځینے ستاسو په نورو - او ځائے ستاسو اور دے او نیشته

اسلام د قوم د ابراهیم علیه السلام په تقریر وو د توحید او دې قوم جواب کوي چه او نه ګڼل ... په وړاندې د ... کړي شي الله تعالیٰ هغه لره بچ ... د معلومه شوه چه ... او ... ابراهیم علیه السلام ... په سلسله د ... هم ... ابراهیم علیه السلام ... چه تاسو د شرک ... په قیامت کښے به ... په یو بل لعنت وائي.

لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٥﴾ فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٌ ۘ وَقَالَ إِنِّى مُهَاجِرٌ

تاسو لره هيڅ امداديان - نو ايمان راوړو په ده حضرت سره لوط - او حضرت ابراهيم اووې چه زه كوم هجرت

إِلَىٰ رَبِّىٓ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَ

زیاره رب خپل - یقیناً حضرت زبردست او حکمت والا دے - او ما و باخښه حضرت ته اسحاق او

يَعْقُوبَ وَجَعَلْنَا فِى ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلْكِتَٰبَ وَءَاتَيْنَٰهُ

یعقوب او ما مقرر کړه په اولاد د حضرت کښې پیغمبري او کتاب او ما ورکړو حضرت ته

أَجْرَهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾

ثواب د حضرت په دنيا کښې - او بې شکه دے به په اخرت کښې د نیکانو نه وی -

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا

او را ولیږه ما لوط لره چه حضرت او وئیل قوم ته یقیناً تاسو کوئ د بے حیائۍ کار - نه دے

سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ

مخکښې شوی تاسو نه هیڅوک په دې کار د عالم نه - آیا تاسو زغلئ په

ٱلرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِى نَادِيكُمُ

سړو پسې او شوکوئ لار - او کوئ په مجلس خپل کښې

ٱلْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتِنَا

ناروا - نو نه وه جواب د قوم د ده مګر او وے دوی چه راوړه مونږ ته

بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ

عذاب د خدائے که ته ئے رشتو نے - حضرت او وئیل اے ربه زما

ٱنصُرْنِى عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٣٠﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ

امداد او کړه زما سره په فسادي قوم باندې - او هر کله چه راوړو زما قاصدانو

له نو لوط علیه السلام میدان ته را او وتلو او د ابراهیم علیه السلام تعاون حضرت شروع کړو چه زه ستا سره

د الله تعالیٰ په لاره کښې هم

او الله تعالیٰ زبردست او

حکمت والا دے او د دا سے

لوئے بادشاه په لاره کښې

تکلیف کامیابی ده. مونږ چه

ابراهیم علیه السلام د الله

تعالیٰ په لاره کښې کور پریښو

نو الله تعالیٰ ورلره اسحاق

علیه السلام ورکړو او

نمسے یعقوب علیه السلام

ئے ورلره ورکړو او پیغمبري

الله تعالیٰ د حضرت په اولاد

کښې مقرر کړه او دواړو

جهانو کامیابي ورلره الله

تعالیٰ ورکړه دغسے چه څوک

د الله تعالیٰ د جهان مني نو

الله تعالیٰ د حضرت سره په

دواړو جهانو ښه کوي ۱۲

۲ آمن به: په حضرت ئے یقین

او کړو: آمن له: د حضرت

ملګرے شو ۱۲ ۱۲

۳ دا دریم قصه ده د

اول امتان متعلق چه او کړو

لوط علیه السلام ده سره

کړا او کړو نو خرچی ولاړې

په امتانو شیلو کار نه کیږي

محنت ضروري دے ۱۲

۴ هر ناروا کوئ او په

واکرے کوئ رفائده ناروا

کول یو ګناه ده او

په واکرے کول د حضرت

بله ګناه ده ۱۲

إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوٓا۟ إِنَّا مُهْلِكُوٓا۟ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ

ابراهیم ته زیری ۔ (دهغه) اووی دوی موږ ۔ هلاکوونکی اهل د دی کلی

إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا۟ ظَٰلِمِينَ ۝ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا۟

یقیناً اهل د دی کلی ظالمان دی ۔ هغه اووی یقیناً په دغی کښی لوط دی ۔ هغوی اووی

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ

موږ ښه پوهیږو هغو لره چه په دغه کښی دی ۔ خامخا به کوو خلاص هغه لره او اهل د هغه مګر ښځه لره د هغه

كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ۝ وَلَمَّآ أَن جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِىٓءَ

وه د هغه پاتی کیدونکو (په عذاب کښی) او هرکله چه راغلل استاذی زموږ لوط ته نو خفه شو د دوی

بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالُوا۟ لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ۖ

نه او تنګ شو د دوی د وجه نه سینه د هغه او هغوی اووی چه مه ویریږه او مه غم ژن کیږه

إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ۝

موږ به خلاصوونکی یو تا لره او خپلوانو ستا لره بی د ښځی ستا نه دا هغه د پاتی کیدونکو نه په عذاب کښی

إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهْلِ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ

بیشکه موږ رالیږونکی یو په خلقو د دی کلی باندی عذاب د آسمان نه

بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ۝ وَلَقَد تَّرَكْنَا مِنْهَآ ءَايَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ

ځکه چه دوی نافرمانی کوله ۔ او یقیناً پریخودو موږ د دی کلی نه نښه ښکاره د قوم

يَعْقِلُونَ ۝ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟

پوهی د پاره ۔ او ما لیږلی دی مدین ته ورور د دوی شعیب نو هغه اووی ای قومه بندګی کوی

ٱللَّهَ وَٱرْجُوا۟ ٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ۝

د الله او ویریږئ د ورځی اخرت نه او مه ګرځئ په زمکه کښی روانی کوونکی ۔

لـه معلومه شوه چه ابراهیم علیه السلام د دومره لوی پیغمبر وه نو هم د هغه قوم ته شو کولی نو معلومه شوه چه تصرفات والا باوشاه صرف او صرف الله تعالیٰ دی او مخلوق تول عاجز دی ۱۲ ـ لـه ملائکو اووی چه موږ ته الله تعالیٰ حکم کړی دی د هغه د بچاو نو معلومه شوه چه ابراهیم د هغه بچاو نه شو کولی نو نجات ورکوونکی او هلاکوونکی صرف الله تعالیٰ دی د پیغمبرانو کمال دا دی چه الله تعالیٰ دوی لره هم کوي د عذاب نه نو اولیاو ته واویلی چه د دښمنانو حامی او د دوستانو مدد کوونکی دی د قرآن شرا سر خلاف عقیده وه ۱۲ ۱۲ ۱۲

لـه معلومه شوه چه د الله تعالیٰ د دوستانو سره تعلق د نسب یا د رشتی کمال نه دی او په دی رشتی سره نجات نه دی بلکه کمال د الله تعالیٰ د دوستانو اتباع ده ابوطالب د نبی کریم صلی الله علیه وسلم تره و بچ نه شو د جهنم نه ځکه چه هغه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم منکر وه ۱۲ ۱۲

لـه علامی د ورانو کورونو لـه عاقلان پوهیږی چه دوی چه څوک نافرمانی کوي نو د هغوی انجام څه کیږی ۱۲ لـه وا باقی قصی د دوی اعلان سره تعلق لري باندی چه د الله تعالیٰ د عذاب نه نشی بچ کیدی شه او کوم چه عاصیان شو دیان قارون فرعون هامان د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ نه شو ۱۲

لے شیطان دوئیته بد عمل په صورت د عبادت کښے ښکاره کړے وه د بد عمل نه خو خلق تو به او باسی نو صفه معا فیګی
نو شیطان بعض داچال جوړ کړو چه بد عتی تو به او نه باسی نو ځکه بدعت د هر ګناه نه عتی ګناه دے ځکه چه بد عتی

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ۝

نو دوی دروغجن کړو هغه لره نو ونیول دوی لره زلزلے نو شول په کورونو خپلو کښے نسکور پراته

وَعَادًا وَثَمُودَا وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَاكِنِهِمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ

او هلاک کړل ما عادیان او ثمودیان او ښکاره شویدے تاسو ته حال د کورونو د دوی نه ښائسته کړل او هغه

الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ ۝

کړی وو دوی ته شیطان عملونه د دوی نو صفه منع کړل دوی د دوی لاری نه او هغوی وو هوښیار

وَقَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَلَقَدْ جَاءَهُم مُّوسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ

او هلاک کړو قارون او فرعون او هامان او بے شکه راورے وو دوی ته موسیٰ ګو دلیلونه

فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانُوا سَابِقِينَ ۝ فَكُلًّا أَخَذْنَا

نو دوی تکبر او کړو په زمکه کښے او نه وو دوی تر یخه کیدونکی - نو ټول ما او نیول په ګناه

بِذَنبِهِ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ

خپل د هغوی - نو څوک چه دی قوم لوط م را او لیږله کا نړی - او څوک لره او نیول دوی

أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم

سخت عذاب - او څوک م ننوت کړل (قارون) په زمکه کښے - او څوک م

مَّنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ

غرق کړل (فرعونیان) او ظلم نه دے کړے په هغوی باندے الله لیکن هغوی په ځانو نو باندے

يَظْلِمُونَ ۝ مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ

ظلم کولو - مثال د هغو چه جوړ کړی هغو سوا د الله نه مدد ګار ان په شان د

الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ

جولاګی - جوړ کړے وی هغه کور لره - او بے شکه کمزورے د کورونو نه خامخا کور د

بدعت ته ګناه نه وائی ورته ثواب وائی تو به ترینه ځکه او نه باسی (فائده) بدعت والی نو سے شبهه ته په ځینې کنهګار او رسم والی غیر لازم شی ته په ځان باندے هغه لازم کړی ۱۲

۲ د موسیٰ علیه السلام ورته صاف صاف دلیلونه پیشی کړل خو ښکار وغوږونو په دوی حق لره منل وکه لیکن دوی ځان غټ او ګڼلو نو د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ نه شو نو د غیر مخالفین د الله تعالیٰ د عذاب نه ناجی نه شی کیدے - ترو بے غولئی ۱۲

حاصل د سورت دا شو چه په امتحان ویلو کار نه کیږی بلکه محنت ته ضرورت دے تکه د ځے پیغمبرانو چه محنت کړے دے او د ځے مخالفینو تاسو د الله د عذاب نه شی بچ کیدے ځکه چه هغوی هم بچ نه شو ۱۲

۳ دا هغوی د سورت او اصل مقصد د سورت دے چه محنت د دے مسئلے د پاره نزول مناسب دی او ځواځے په منلو کار نه کیږی ځکه د مسئله دا ده چه حاجات پوره کوونکے او برکات ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے ځکه دے مرګ ورکولے شی او په مرګ یو دے او د لیږوا الله بلکه او د

۵ څراد ذ حاجات خو بیتل دا سے په نه کړے دی لکه د جولاګی جالہ چه کمزورے او بے کاره وی ۱۲ عنه ابن کریم صلی الله علیه وسلم او
چه غار ثور کښے د ابوبکر غار ته تنګ شو نو جولاګی جالہ را غلل او د غار په خوله کښے د جالہ جوړه کړه نو تاسو جولاګه وژنی ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

لے واے وانو مثلونه ده توحید د اثبات د پاره الله تعالی بیان کړی دی خو عاقلان پرې پوهیږي غافلانه جاهلان ۱۲ سے لے مقصد تلاوت
سورت د دلیل عقلیه (۳) د دلیل عقلی (۲) دلیل نقلی (۳) دلیل وحی (۱) عقلیه (۴۳) (۴۳) (۶۱) - (۶۳) (۲) ۶۳ وحی ۵۰

الْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُونَ مِن

جوړ کړے - که دوی پوهیدے - یقیناً الله پوهیږی په هغه چه دوی ورته دا وائی

دُونِهِ مِن شَيْءٍ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٤٢﴾ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ

سوا د الله نه څه شے - او الله زبردست او حکمت والا دے - او دغه مثلونه دی

نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۖ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ ﴿٤٣﴾ خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ

بیانوو مونږ د پاره د خلقو او نه پوهیږي په دے خو مګر پوهه خلق - پیدا کړی دی الله آسمانونه

وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٤﴾

او زمکه د حق د پاره - یقیناً په دے کښې دلیل دے د پاره د مؤمنانو -

اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ ۖ إِنَّ الصَّلَاةَ

ولوله کوم چه را لیږلی شوی دے تا ته کتاب نه او اوکړه مونځ - بے شکه مونځ

تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ ۗ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ

منع کوی د بے حیائی او د ناروا نه - بے شکه یاد د الله لوئے دے - او الله پوهیږی

مَا تَصْنَعُونَ ﴿٤٥﴾ وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ

په هغه چه تاسو کوئی - او جګړه مه کوئ د اهل کتاب سره مګر په هغه طرز چه

أَحْسَنُ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ ۖ وَقُولُوا آمَنَّا بِالَّذِي أُنزِلَ

ښه وی - مګر جګړه کوئ د ظالمانو سره د دوی نه او وائی چه مونږ ایمان راوړے په هغه چه را لیږلے

إِلَيْنَا وَأُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿٤٦﴾

شوے مونږ ته او را لیږلے شوے تاسو ته او الله زمونږ او الله ستاسو یو دے او مونږ د هغه تابعدار یو -

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ ۚ فَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ

او دغسے مونږ را لیږلے تا ته کتاب - نو کوم خلقو ته چه مونږ ورکړے دے کتاب

نقلی (۲) ۵ سے و اؤ توحید د ثبوت د پاره دوه دلیل عقلی دی چه د خپل عقل نه کار واخلی چه آسمانونه او زمکه خو صرف الله تعالی پیدا کړی دی د اثبات د توحید د پاره او د مؤمنانو د پاره دا پوره ثبوت دے نو هغو شوه چه برکات ورکوونکے او حاجات پوره کوونکے هم صرف الله تعالی دے نو څوک شکه چه بل چا خو آسمانونه او زمکه نه دی پیدا کړی ۱۲ سے لکه څنګه چه نقلی او عقلی د خدائے تعالی د وحدانیت ثبوت ورکے نو د نبی دا قرآن د الله تعالی د وحدانیت نقلی دلیل دے نو ته اے پیغمبره دا قرآن لوله او دا لوستل د سائته آثر کړه خلق متاثر شو کوم چه دا مسئله صفه بیانوو د دینه شرعو پرے نو ته ورته او دا په چه زړه مجبوره ماته فرمان کے د بیان او شر خوبه جوړ په حسب فو توحید د ظاهر چه په بدر او احد کښے جنګ او شو او که حمله راوښی چه پیغ او شر پلے شی ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۵ سے مونځ کوه په ما غه سره په طبیعت کښے اصلاح راځی په نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه به کله تکلیف راغے نو بلال ته به ئے وفرمائیل

چه ماته آرام راوړ سوا او د مونځ تیارے اوکړه ۱۲ سے لا صحیح مونځ منع کوی د ناروا و نه ۱۲ سے ے دا طریقه د تبلیغ ده چه په ښه طریقه سره بیان کوه او د ظالمانو سره لږه سختی پکار ده ۱۲

يُؤْمِنُونَ بِهِ ۖ وَمِنْ هَٰؤُلَاءِ مَنْ يُؤْمِنُ بِهِ ۚ وَمَا يَجْحَدُ
هغوی هغه لره منی - او ځینی د دوی نه هغه دی چه منی هغه - او انکار د ایتونو
بِآيَاتِنَا إِلَّا الْكَافِرُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا كُنْتَ تَتْلُو مِنْ قَبْلِهِ مِنْ
زمونږ نه کوی مګر کافران - او ته نه لوستلو مخوا د دهٔ نه هیڅ
كِتَابٍ وَلَا تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ ۖ إِذًا لَارْتَابَ الْمُبْطِلُونَ ﴿٤٨﴾ بَلْ
کتاب او نه دی لیکلو هغه په ښی لاس سره خپل په دغه وخت به شک کولو دروغژن - بلکه
هُوَ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ فِي صُدُورِ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ ۚ وَمَا يَجْحَدُ
دا ایتونه دی صاف په سینو د اهل علمو کښی - او انکار د
بِآيَاتِنَا إِلَّا الظَّالِمُونَ ﴿٤٩﴾ وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَاتٌ مِنْ
ایتونو زمونږ نه کوی مګر ظالمان - او وائی دوی ولی نه دی رالیږلی شوی په ده باندی ایتونه د
رَبِّهِ ۖ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِنْدَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٥٠﴾
رب د ده نه - او وایه یقینا ایتونه د الله سره دی - او بې شکه زه ویرونکی ښکاره یم -
أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ
آیا نه ده بس کړی دوی لره دا چه مونږ نازل کړی دی تا ته کتاب چه لوستلی کیږی په دوی - یقینا
فِي ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ قُلْ كَفَىٰ بِاللَّهِ
په دی کښی مهربانی او نصیحت دی د هغه قوم د پاره چه یقین کوی - او وایه چه بس دی الله
بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا ۖ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ
په مینځ زما او ستاسو کښی شاهد - پوهیږی په هغه چه په اسمانونو او په زمکه کښی دی
وَالَّذِينَ آمَنُوا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوا بِاللَّهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٥٢﴾
او کوم خلق چه ایمان راوړی په باطل او منکر شو د الله نه دوی برباد دی -

ف۱ دا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د صداقت اعلان دے چه ترا اوسه دے کتاب نه وه لوستلے او س دا سے صاف بیان کوے دا غیبی وحی ده ۱۲

ف۲ دا د کفارو غیبونو ګله ده چه دوی وائی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دے معجزه ملاؤ شی کومه چه دوی غواړی ۱۲

ف۳ دا جواب دے چه معجزه خو سره نیشته قرآن خو کمه معجزه ده او الله تعالیٰ خو د پیغمبر ګواه دے هغه ته هرڅه معلوم دی نو رڅه کوے ۱۲

ع ۵۵۵

۱؎ دا د عذاب د دنیا بیان دے دوی عذاب غواړی خو د عذاب د پاره وخت مقرر دے نو کله چه نیټه راشی نو عذاب به ناڅاپه راشی ۱۲ ۲؎ دا د عذاب د آخرت بیان دے دوی عذاب غواړی او دوی ته دوی خبر چه جهنم به کافران راګیر کړی

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ ۚ وَلَوْلَآ أَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ

او زر غواړی له تا نه عذاب - او که نه وے نیټه مقرره د عذاب نو راغلے به وے دوی ته

الْعَذَابُ ۚ وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٣﴾ يَسْتَعْجِلُونَكَ

عذاب - او رابه شی دوی ته ناڅاپه او دوی به خبر نه وی - زر غواړی له تا نه

بِالْعَذَابِ ۚ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكٰفِرِينَ ﴿٥٤﴾ يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ

عذاب - او جهنم ګیر ولے دے کافران نو لسره - کله چه پټ به کړی دوی لره

الْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا

عذاب د پاسه د دوی نه او د لاندے د خپو د دوی نه او به وائی الله چه څکئ

مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٥﴾ يٰعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوٓا إِنَّ أَرْضِي

خوند د هغه چه تاسو کاوه - اے زما هغه بندګانو! کوم چه یقین کړے دے یقیناً زمکه زما

وٰسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۟

ارته ده نو صرف زما بندګی کوئ - هر نفس څکونکے د مرګ دے -

ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

بیا به ما ته واپس کړے شئ - او کوم خلق چه یقین کوی او نیکی کوی نو

لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ

ځائے به ورکړو دوی لره د جنت د بالاخانے چه بهیږی به د لاندے د هغو نه ویالے

خٰلِدِينَ فِيهَا ۚ نِعْمَ أَجْرُ الْعٰمِلِينَ ﴿٥٨﴾ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلٰى

همیشه به وی دوی په هغے کښے - ښه ده ثواب د محنت کوونکو (دوی) کوم چه محنت کوی او

رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ۗ

رب ځپل ته ځان سپاری - او ډیر ژوندی ساه لری چه نه شی پورته کولے رزق ځپل -

لاندے او باالله به چه دوی عذاب راشی دا د دوی د عمل به زره ۱۲
۳؎ دا ترغیب د هجرت ته یعنی که قرآن تاسو د الله تعالیٰ د عبادت نه منع کوی نو دا وطن پریږدئ بل ځائے ته لاړ شئ هلته د الله تعالیٰ عبادت کوئ ۱۲
۴؎ دا تسلی ده مهاجر ته یعنی که ستا خطره وی چه مونږ به شم نو څکه هجرت نه کوے نو کوم مرګ به تا پریږدی چه د الله تعالیٰ په لاره کښے مړ شے ۱۲
۵؎ دا هم تسلی ده مهاجر ته چه تا لره به باری تعالیٰ د هجرت په مقابله کښے به آخرت کښے بالاخانے ورکړی عنه د حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه اول هجرت حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه کړے وو حبشے ته نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه عثمانؓ اول سړے دے چه هجرت ئے اوکړو وسره د ښځے کړے نه پس د لوط علیه السلام نه په ازالة الخفاء کښے شاه صاحب دا خبره نقل کړے ده ۱۲
۶؎ دا هم مهاجر ته تسلی ده چه د رزق تصور مه کوه ګنړ ژوندی ساه لری الله تعالیٰ رزق ورکوی نو تا لره به هم ورکړی ۱۲

لہ دا د توحید د ثبوت د پاره دریم دلیل دے عقلی چہ د مشرکانو عرب پہ دے قائل دی چہ د آسمانونو او زمکے خالق او د نمر او سپوږمۍ چلوونکے صرف باری تعالیٰ دے نو دوی بیا دوی ولے د غیر نه حاجات غواړی ۱۲ ٣ٕ دا د توحید د ثبوت د پاره

اَللّٰهُ يَرْزُقُهَا وَاِيَّاكُمْ ۖ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٦٠﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ

الله ورلره رزق ورکوی او تاسو لره او صرف الله هر څه اوریدونکے هر څه پوهه دے ۔ او که سوال وکړے ته د دوی نه

مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

چہ چا پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه او په کار ځغلولی دی نمر او سپوږمۍ

لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٦١﴾ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ

نو دوی به وائی چہ الله (دا کار کړی دی) نو چرته دوی واپس کیږی ۔ الله زیاتوی رزق هغه چا لره چہ

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ۚ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٦٢﴾

وغواړی هغه د خپلو بندګانو نه او کمی هغه لره ۔ یقیناً الله په هر شی باندے پوهه دے ۔

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ

او که پوښتنه اوکړے د دوی نه چہ څوک دے چا د آسمان نه باران نازل کړو او تازه کوی په هغه سره زمکه

مِنْۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

پس د مړه کیدو نه نو دوی به وائی چہ الله ۔ او وایه ټول صفتونه صرف الله لره دی ۔ بلکه زیاتره د دوی

لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٦٣﴾ وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ۚ وَ

نه پوهیږی ۔ او نه دے دا ژوند د دنیا مګر زړه خوشحالول او لوبے دی ۔ او

اِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٤﴾ فَاِذَا

روستنے کور چہ دے صرف هغه ژوند دے ۔ آرمان که دوی پوهیدے ۔ نو کله چہ

رَكِبُوْا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰهُمْ

سواره شی په جهاز کښے نو سوال کوی د الله نه صافوی د الله د پاره اعتقاد ۔ نو هر کله چہ بچ کړی

اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ۚ وَلِيَتَمَتَّعُوْا ۚ

دوی وچے ته په دغه وخت کښے دوی شرک کوی ۔ چہ بے قدری اوکړی د هغه نعمت چہ مونږ دوی لره ورکړے او فائده

ٔ٢ دلیل دے دریم چہ رزق زیاتوونکے او کموونکے صرف الله تعالیٰ دے ۱۲ ۱۲

نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٧﴾

هیچا تہ هغه ثوابونہ چہ پټ تیار شوی دی دوی لرہ د سترگو یخوالے - جزا دہ د عمل د دوی -

اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ؕ لَا يَسْتَوٗنَ ﴿١٨﴾ اَمَّا الَّذِيْنَ

آیا هغه څوک چہ وی مؤمن پشان د فاسق دے؟ نہ دی برابر دوی - (شکہ) کوم چہ مؤمنان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ۫ نُزُلًۢا بِمَا كَانُوْا

دی او کوی نیکی نو هغوی لرہ باغونہ د آرام دی - دا میلمستیا دے د

يَعْمَلُوْنَ ﴿١٩﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فَسَقُوْا فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ

عمل د دوی - او کوم چہ نا فرمان دی نو ځائے د هغو اور دے - هر کلہ چہ ارادہ اوکړی چہ

صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی چہ تہجد کوی دا د صالحانو طریقہ دہ او پہ دہ سرہ نزدے والے راځی اللہ تعالیٰ تہ او گناهونہ پرے معاف کیږی او منع کوی انسان د گناه نہ او نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی دعا قبلیږی پہ نیمہ شپہ کښے او د روستو د فرض مونځ نہ - نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی چہ اللہ تعالیٰ راځی هره شپہ آسمان د دنیا تہ کلہ چہ پاتے شی دریمہ حصہ د شپے نو فرمائی څوک شتہ چہ غواړی چہ ورکړی م ورلرہ څوک معافی غواړی چہ هغه ته اوبخښم بیا فرمائی چہ څوک بہ قرض ورکړی هغه چا تہ چہ نہ غریب دے او نہ ظالم دے ١٢
٣ـہ دا د مؤمنانو او نہ مؤمنانو مقابلہ دہ ١٢
٤ـہ دا زیرے دے او د مؤمنانو حال دے چہ دوی لرہ جنت دے ١٢
٥ـہ دا د عذاب بیان دے او د نہ مؤمنانو د حال بیان دے چہ دوی دوزخیان دی ١٢

السجدة

وقف غفران

له وازو رته وه چه لوئی ظالم دے هغه څوک چه د الله تعالی په دلائلو ورته وعظ اوکړے شی او دے ترینه مخ اړوی د واسے مجرمانو نه الله تعالی بدلا خلی. ۳ے وادلیل نقلی دے یعنی ما موسی علیه السلام ته کتاب ورکړے وه په هغې

يَخْرُجُوا مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّذِي

راوځی د هغې نه نو واپس به شی په هغه کښې او وبه ویلے شی دوی ته اوڅکئ عذاب د اور کوم چه

كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ

تاسو نه منلو - او او به څکوو مونږ دوی ته لږ عذاب سوا د

الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ

لوئی عذاب نه چه دوی واپس شی (د ګناه نه) او څوک دے ډیر ظالم د هغه چا نه چه پوهه کړے شی په آیتونو

رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا ۚ إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ

د رب د هغه بیا اړوی د هغو نه - بے شکه مونږ د دا سے مجرمانو نه بدله اخلو - او یقینًا ما

آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ فَلَا تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَائِهِ ۖ وَجَعَلْنَاهُ

ورکړے وه موسی ته کتاب نو مه کیږه په شک کښې د ملاویدو د هغې نه او ما ګرځولے وه

هُدًى لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا

هغه ښودنه د پاره د بنی اسرائیلو - او مقرر کړل ما د دوی نه مشران هغوی به په حکم زما

لَمَّا صَبَرُوا ۖ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ

هر کله چه دوی صبر اوکړو - او زما په دلیلونو باندے دوی یقین کولو - یقینًا رب ستا به فیصله اوکړی په مینځ د دوی کښې

يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ

په ورځ د قیامت په هغې کښې چه دوی په کښې اختلاف کولو - آیا نه ده ښکاره شوے دوی ته چه څومره

أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ ۚ إِنَّ

هلاک کړی مونږ مخکښې د دوی نه پیړئ چه دوی ګرځی په کورونو د هغوی کښې - یقینًا

فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ ۖ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى

په دے کښې دلیلونه دی - آیا دوی نه آوری - آیا دوی نه ګوری چه مونږ بوځو اوبه زمکے

کښې هم دغه مسئله ده چه تصرفًا تو والاصرف الله تعالی دے او په هغه څوک غالب نیشته بعضو بنی اسرائیلو په هغه ایمان راوړو او هغو ځان اوکړو ولو نو الله تعالی هغو له مشری ورکړه او هغوی د الله تعالی حکم بیا مخلوق ته رسولو فائده څوک چه د الله تعالی حکم حق او ومنی کوی او توحید منی نو الله تعالی هغه مشر کوی او معلوم شو چه د مشرئ وارث ده د خدا ئے تعالی حکم رسول او معلوم شو چه مشری ملاویږی په محنت باندے. ۳ے وا مسئله د توحید خو بالکل صاف ده او خلق پکښې اختلاف کوی نو الله تعالی به د دے عملی فیصله په آخرت کښې اوکړی چه مخالفین به د وزخ ته ورځی نو دا د عذاب د آخرت بیان دے ۱۲. ۴ے وا د عذاب د دنیا بیان دے چه مخالفین الله تعالی په دنیا کښې هلاک کړی دی او دوی د هغوی په کنډوالو کښې ګرځی ۱۲ ۵ے وا د ثبوت د قیامت دلیل دے چه خشکه مړه زمکه الله تعالی تازه کوی دغسے به مړی خدائے تعالی بیا ژوندی کړی ۱۲

ع ۱۱ ۱۵

... وار وته ده چه په دنیا کښې د منلو اعتراض کوی چه د قیامت فیصله به کله وی ۱۲ ... وار ته جواب ورکړے چه په قیامت به د کافرانو ایمان نفع او نه رسوی ته د دوی نه دا وایه چه د دوی د اعتراضونو پروا مه ساته. فائده، مشرکان هم دا یا ئی دعوه داری نه کوی صفو دعوه قطلو ده ۱۲ ... نازل شوے ده بعد العراف وقبل الممتحنة، مات نزول ... په ترتیب د

الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا تَاْكُلُ مِنْهُ اَنْعَامُهُمْ وَاَنْفُسُهُمْ ؕ

... ته نو را او باسو په هغې سره فصل چه خوری ئې هغه نه څاروی د هغوی او دوی پخپله هم

اَفَلَا یُبْصِرُوْنَ ﴿۲۷﴾ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰی هٰذَا الْفَتْحُ اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۲۸﴾

آیا نه وینی دوی - او وائی دوی چه کله به وی دا فیصله که تاسو رښتونی یئ!

قُلْ یَوْمَ الْفَتْحِ لَا یَنْفَعُ الَّذِیْنَ کَفَرُوْۤا اِیْمَانُهُمْ وَلَا هُمْ یُنْظَرُوْنَ ﴿۲۹﴾

او وایه چه په ورځ د فیصلے به نفع او نه رسوی کافرانو ته ایمان د دوی او نه به دوی ته مهلت ورکړے شی

فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ ﴿۳۰﴾

نو مخ وارړوه د دوی نه او انتظار کوه یقیناً دوی انتظار کوی -

سُوْرَةُ الْاَحْزَابِ مَدَنِیَّةٌ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — ثَلٰثٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰیَةً وَّتِسْعُ رُکُوْعَاتٍ

(آیتونه ۷۳)	شروع په نوم د الله سره چه بے حده مهربان رحم کوونکے دے (واحد او غوا ...)	رکوع گانے ۹

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْکٰفِرِیْنَ وَالْمُنٰفِقِیْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اے نبی او وېرېږه د الله نه او مه منه خبره د کافرانو او د منافقانو - بے شکه الله دے

کَانَ عَلِیْمًا حَکِیْمًا ﴿۱﴾ وَّاتَّبِعْ مَا یُوْحٰۤی اِلَیْکَ مِنْ رَّبِّکَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

پوهه او حکمت والا - او تابعداری کوه د هغه شی چه وحی کیږی تا ته د رب ستا نه - یقیناً الله

کَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرًا ﴿۲﴾ وَّتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ ؕ وَکَفٰی بِاللّٰهِ وَکِیْلًا ﴿۳﴾

دے په کارونو ستاسو باندې خبردار - او توکل او سپاره الله ته - او پوره دے الله کارجوړوونکے

مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَیْنِ فِیْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَکُمُ

نه دی ایښی الله هیڅ سړی له دوه زړونه په سینه د هغه کښې - او نه دی کړی الله هغه بیبیانے ستاسو

الّٰٓـِٔیْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِکُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ اَدْعِیَآءَکُمْ اَبْنَآءَکُمْ ؕ

چه تاسو هغوی ته مور وایئ میندے ستاسو - او نه دی کړی هغه چا لره چه تاسو ورته زامن وایئ ...

قرآن ۳۳ او نزول ۹۰ دے. د دے سورت غټ مقصد دا دے چه په الله څوک غالب نیشته که څوک چا ته په الله غالب وائی نو دا باطل دے دا لکه څوک چه قبلے ښځے ته مور او وائی نو هغه خو مور کیږی نه یا پرده جنک ته څوک او وائی نو هغه خو ځوئے کیږی نه نو د دے غټ مسئلے د دے سورت (۱) نفی د شفیع قهری (۲) رفعیه مثبتی (۳) رفعیه صفت منها ۱ بعدا ۱۲ ... د کافرانو جرګه را غله نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته چه زمونږ د معبودانو سفارش او منه چه دوی په الله تعالی زمونږ کارونه کوی نو رضیل تبلیغ کوه نو دا حکم راغے چه د دوی خبره مه منه بلکه د الله تعالی د حکم تابع شه او الله تعالی ته ځان اوسپاره او صاف وایه چه بغیر د الله تعالی نه تصرفاتو والا نیشته بل څوک او نه په الله تعالی څوک غالب شته ۱۲ ... دا علت دے د دے چه متصرف صرف الله تعالی دے بل څوک نیشته ... ونه نو بیا څو دوه زړه نه یکار دی چه په یو زړه کښې معبود عبادت وغواړی په بل سره د بل ۱۲ ... د انظیر دے لکه چه ښځه ... په مور نه جوړیږی ... دا دویم نظیر دے چه پردی

سره مور نه جوړیږی نو دغسے غیر الله ته په متصرف وئیلو سره هغه متصرف نه شی جوړیدے ۱۲ ...
هلک ته د ځوئی په وئیلو سره هغه نه ځوئے کیږی نو دغسے غیر الله ته په معبود وئیلو سره نه معبود کیږی او نه په الله غالب کیږی

لـه زید بن حارثه په جاهلیت کښې چا غلام کړو ... نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ورکړی شو او ده آزاد کړو او خپل ځوی ئې کړو ...

ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِأَفْوَاهِكُمْ ۖ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ ﴿٤﴾

دا خبره ستاسو ده په خولو ستاسو، او الله وائي حق او هغه ښائي لار سمه

ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ ۚ فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ

بللئ دوی پلارانو د دوی ته دا خبره زیاته د انصاف ده په نزد د الله - نو که معلوم نه وي تاسو ته پلاران د دوی

فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا

نو ورونه ستاسو دي په دین کښې، او ملګري ستاسو دي - او نشته په تاسو ګناه په هغه خبره کښې

أَخْطَأْتُمْ بِهِ وَلَٰكِنْ مَا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٥﴾

خطا شئ لیکن په هغه څه کښې ګناه ده چه قصد ئې کړي زړونو ستاسو - او دی الله بخونکی مهربان

النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ ۖ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ ۗ وَ

نبی نزدې دی مؤمنانو ته د نفسونو د دوی نه او بیبیانې د ده میندې د دوی دي - او

أُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ مِنَ

خپلوان ځینې د دوی نزدې دي ځینو ته په کتاب د الله کښې د

الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ إِلَّا أَنْ تَفْعَلُوا إِلَىٰ أَوْلِيَائِكُمْ مَعْرُوفًا ۚ كَانَ

مؤمنانو نه او د مهاجرینو نه - مګر که کوئ تاسو دوستانو خپلو سره ښه - دے

ذٰلِكَ فِي الْكِتَابِ مَسْطُورًا ﴿٦﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَ

دا حکم په کتاب کښې لیکلی شوی - او کله چه مونږ واخسته د نبیانو نه وعده د دوی او

مِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ۖ وَأَخَذْنَا

ستانه او د نوح نه او د ابراهیم نه او د موسیٰ نه او د عیسیٰ ځوی د مریم نه او مونږ واخسته

مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا ﴿٧﴾ لِيَسْأَلَ الصَّادِقِينَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَأَعَدَّ

د دوی نه وعده محکمه - چه سوال اوکړي د صادقانو نه د صدق د هغوی او تیار کړې ئې

مقتبي ؤ نومونږ کښې ... او بلد ارسم وو چه ... په تصور یا خوراوو که نو هغه به پوره ... همیشه نو الله تعالیٰ دا دواړه رسمونه بد دي سورت کښې رفع کړل ... زید به پار کښې حکم راغی چه ادعوهم لآبائهم ... نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم زید ته اووې چه ... زه نه یم ... د ده نسبت کیږي ... شکه الله تعالیٰ د ده نوم په قرآن کښې ذکر کړی وو چه ... په دے قصه کښې ... نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ختم شو ... ۳ ... اول خطاب دے مؤمنانو ته چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا رسول د دوی ... ستاسو خیر خواه دے او د ده بیبیانې د مسلمانانو میندې دي. خو په میراث کښې نه میراث خو خپلوانو دے البته که خپلو دوستانو سره څه ښه کوئ په صیرات نه نو ښه ده دا لیکلی شوے فیصله ده ... چه میراث په ... نبیانو وی ... دوستانو ... ۳ ... اول حصه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته چه ما د نبیانو نه وعده اخستے وه چه دوی به د الله تعالیٰ حکم رسوی او د دوی وعده وه په الله تعالیٰ تپوس کوی او کہ چا د نبیانو خبره اونه منله نو الله تعالیٰ د هغوی د پاره جهنم تیار کړے دے ربا الله مونږ د جهنم نه او ساتے آمین ! -

[illegible]

لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

[illegible]

عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ؕ

[illegible]

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ۝ اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ

[illegible]

اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَاِذْ زَاغَتِ الْاَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ وَ

[illegible]

تَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ۝ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا

[illegible]

شَدِيْدًا ۝ وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

[illegible]

مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اِلَّا غُرُوْرًا ۝ وَاِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ

[illegible]

يٰۤاَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ مِّنْهُمُ

[illegible]

النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ۛؕ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۚۛ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ

[illegible]

اِلَّا فِرَارًا ۝ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا

[illegible]

[illegible]

الْفِتْنَةَ لَآتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا بِهَا إِلَّا يَسِيرًا ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ كَانُوا

(ومنا) نو قبلوه دوی شرک نو دوی به او کړی وا وحصار به نه ځنډ شی په دغه فتنه کښې مګر لږ - او بیشکه دوی

عَاهَدُوا اللَّهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَارَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ اللَّهِ

وعده کړی وه د الله سره پخوا چه دوی به نه شا کوی (دښمن ته) او دی وعده د الله به

مَسْئُولًا ﴿١٥﴾ قُلْ لَنْ يَنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ إِنْ فَرَرْتُمْ مِنَ الْمَوْتِ أَوِ

پوښتنه کیږی - او وایه هیڅ کله نفع نه رسوی تاسو ته تښته که او تښتیدئ د مرګ نه یا د

الْقَتْلِ وَإِذًا لَا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٦﴾ قُلْ مَنْ ذَا الَّذِي يَعْصِمُكُمْ

قتل نه او په دغه وخت به بیا نه موځئ مګر لږ فائده - او وایه چه څوک دی چه بچ کړی تاسو د

مِنَ اللَّهِ إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۚ وَ

الله (د عذاب) نه که اراده او کړی ستاسو د بدئ یا اراده او کړی ستاسو د مهربانئ (نو څوک به

لَا يَجِدُونَ لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧﴾ قَدْ

منع کړی) او بیا به نه مومی دوی د ځان د پاره سوا د الله نه حمایتی او نه مدد ګار - بیشکه

يَعْلَمُ اللَّهُ الْمُعَوِّقِينَ مِنْكُمْ وَالْقَائِلِينَ لِإِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ

معلوم دی الله ته منع کوونکی ستاسو نه او وئیلونکی دې نورو خپلو ته چه را شئ مونږ

إِلَيْنَا ۖ وَلَا يَأْتُونَ الْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾ أَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖ فَإِذَا

ته - او دوی نه ځی جنګ ته مګر لږ (د ریا د پاره) بخیلان دی ستاسو په امداد - نو کله چه

جَاءَ الْخَوْفُ رَأَيْتَهُمْ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ كَالَّذِي

راشی ویره نو ته به او وینې دوی له چه ګوری به تا ته ګرځی به سترګې د دوی پشان د هغه چا چه

يُغْشَىٰ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَإِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوكُمْ بِأَلْسِنَةٍ

بے هوشی راغلے وی په هغه د مرګ - نو کله چه لاړه شی ویره نو وهی تاسو په ژبو

ئے واو منافقانو د ډېر ولۍ بیان دے چه کله فوجونه راشي نو دوی به بانډو وته ځي او تپوس به کوي چه په بنار کښې څهٔ اوشو ۱۲ سلک داد

حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ۚ أُولَٰئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا فَأَحْبَطَ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ ۚ

په تېرے ژبو او بخیلان دي په خیر ـ دوی نه دي مؤمنان نو برباد کړي دي الله عملونه د دوی

وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا ﴿١٩﴾ يَحْسَبُونَ الْأَحْزَابَ لَمْ

او دے دا کار په الله باندے آسان ـ گمان کوي دوی په فوجونو چه نه دي

يَذْهَبُوا ۖ وَإِن يَأْتِ الْأَحْزَابُ يَوَدُّوا لَوْ أَنَّهُم بَادُونَ فِي

تلي ـ او که راشي فوجونه خوابه غواړي دوی چه لا به شي دوی بانډو

الْأَعْرَابِ يَسْأَلُونَ عَنْ أَنبَائِكُمْ ۖ وَلَوْ كَانُوا فِيكُم مَّا قَاتَلُوا

ته تپوس به کوي د خبرونو ستاسو نه ـ او که وي دوی په تاسو کښې نو جنگ به نه وو کړي

إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢٠﴾ لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن

مگر لږ ـ بې شکه دهٔ تاسو لره په رسول د الله کښې تابعداري ښهٔ د هغه چا د

كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ وَلَمَّا رَأَى

یاره چه ویره وي د الله نه او د ورځے د قیامت نه او یاد وي الله ډېر ـ او هر کله چه اولیدل

الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَ

مؤمنانو فوجونه دوی اوویل دا هغه شے دے چه وعده کړي وه مونږ سره الله او د هغه رسول او

صَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾ مِّنَ

رښتیا وئیلي دي الله او رسول د هغه او زیات نه کړو د هغوی یقین او منل ـ د

الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن

مؤمنانو نه سړي دي چه رښتونے کړه هغه وعده چه کړے وه د الله سره ـ نو ځینې د دوی نه هغه دي

قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾ لِّيَجْزِيَ

چه پوره کړه خپله بیړه او ځینې هغه دي چه په انتظار دي ـ او بدل ئے نه کړه یو ذره هم ـ چه بدله ورکړي

منافقانو په مقابله کښې د مخلصانو بیان دے چه هغوی د فوجونو نه ویریږي د هغوی په مولا باندے بروسه ده ۱۲ ۳ سلک انس بن نضر چه په بدر کښې نهٔ وه شریک شوے د عارضې د وجه نه نو په اُحد کښې شهید شو د ډېرو زخمونو نه ئے پیژندے کیده ۱۲ سلک یعنی بعض خو شهید ان شو او بعض په انتظار د شهادت کښې دي د حضرت طلحه رضي الله عنه په حق کښې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دا هغه څوک دے چه دهٔ خپله بیړه ختم کړے ده نو دهٔ ته په ژوند کښې زیرے د شهادت ملاو شو ده په اُحد کښې په بچ لاس سره تورے چلولے او په کینږ لاس ئے د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه غشي بچ کول نو دهٔ نه لاس ئے شل شوے وو

ع ۱۹

لے په جنګ احزاب کښې الله تعالیٰ [illegible] ... سوره معاهده [illegible] ... وسلم

اللّٰهُ الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ

الله رښتونو ته د رښتیا د دوی او عذاب ورکړي منافقانو ته [illegible]

اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۚ وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

یا مهرباني اوکړي په هغوی باندې - بیشکه الله دی بخونکے مهربان - او واپس کړل الله کافران

كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ۭ وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ۭ

په غصه خپله کښې [illegible] خیر - او بس شو الله [illegible] مومنانو

وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ۚ وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ

او دے الله طاقت والا زبردست - او را کوز یې کړل [illegible]

الْكِتٰبِ مِنْ صَيَاصِيْهِمْ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيْقًا

کتابونه د قلعو نه [illegible] او واچوله [illegible] زړونو د دوی کښې هیبت [illegible]

تَقْتُلُوْنَ وَتَاْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ۚ وَاَوْرَثَكُمْ اَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَ

تاسو قتلولئ او بعضي قیدي کوئ - او وارث یې کړئ تاسو د زمکې د دوی او د کلي د دوی او

اَمْوَالَهُمْ وَاَرْضًا لَّمْ تَطَــُٔوْهَا ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا

مالونو د دوی او د هغې زمکې چې تاسو پرې قدم نه وو ایښے - او دے الله په هر شي باندې قدرت والا -

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا

اے نبي او وایه ښځو بیبیانو خپلو ته که تاسو غواړئ ژوند د دنیا او د دې ښکلا

فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ۝ وَاِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ

نو راشئ چې سامان درکړم تاسو ته او رخصت کړم تاسو په ښه طریقه - او که تاسو غواړئ

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا

الله او رسول د هغه او کور د آخرت نو یقیناً الله تیار کړي دي د پاره نیکو ښځو ستاسو نه ثواب

وسلم په دوی پسې ورغلو دوی قلعه بند شو نو په دوی الله تعالیٰ رعب واچولو نو دوی د فیصلې د سعد صحابي د فیصلې مطابق د دوی مشران قتل شو او ښځې او واړه ګان قیدیان شو او د مالونو د دوی غنیمت شو سعد [illegible] د دوی [illegible] مشر وو په جاهلیت کښې نو دوی د هغه په فیصله عمل کړے وو نو هغه د فیصله اوکړه او نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا هم هغه فیصله اوکړه [illegible] او دوی هغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم [illegible] او نفقه [illegible] او شو او [illegible] را غلے او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته [illegible] مطهرات نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه عیش د فراخۍ درخواسته اوکړه او واوجماع [illegible] شو مخو دې په اتفاق سره دوی چه زموږ الله تعالیٰ او د هغه رسول او آخرت پکار دی.

لے دا اول خطاب دے ازواجو مطهراتو ته یعنی که چیرې سرے تېروي او کړي ستاسو نه چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم

عَظِيمًا ۝ يٰنِسَاۤءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّأْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

لوئے۔ اے بیبیانو د نبي چا چه او کړه ستاسو نه بے حیائي ښکاره

يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرًا ۝

زیاتي به شي هغې لره عذاب دوچنده۔ او دے دا کار په الله باندې اسان۔

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَاۤ

او چا چه تابعداري او کړه ستاسو نه د الله او هغه د رسول او نیکي ئے او کړه نو ورکړو به مونږ

اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا ۝ يٰنِسَاۤءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ

د ثواب هغې دوچنده او ما تیار کړي دي هغې لره رزق د عزت۔ اے بیبیانو د نبي! نه یئ تاسو

كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَاۤءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ

پشان د یو بل ښځو که تاسو ویرېږئ نو نرمي مه کوئ په خبره کښې نو طمع به

الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝ وَقَرْنَ فِيْ

او کړي هغه څوک چه زړه د هغه کښے مرض دے او وایئ خبره ښه۔ او قرار او کړئ په

بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى وَاَقِمْنَ

کورونو خپلو کښے او مه ښکاره کیږئ پشان د ښکاره کیدو د جاهلیت اول او کوئ

الصَّلٰوةَ وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ اِنَّمَا يُرِيْدُ

مونځ او ورکوئ زکوٰة او حکم منئ د الله او د رسول د هغه۔ بے شکه غواړي

اللّٰهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ اَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ

الله چه ختم کړي ستاسو گندگي اے اهل بیتو او پاک کړي تاسو په

تَطْهِيرًا ۝ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ

کامل طریقه سره۔ او یاد کړئ هغه چه لوستلے کیږي په کورونو ستاسو کښے چه ایتونه د الله دي او هم حکمت

تخیل متبنیٰ د ښځې سره ولے نکاح او کړه نو ځکه تاسو او وایئ چه هغه د خپل مرض خاوند دے نو دا خبره ستاسو د پاره فاحشه ده او سبب د عذاب د او کړ تاسو ورته او وایئ چه دے ما سوره دے د هغه ته الله تعالیٰ د طرف نه نو دا ستاسو فرمانبرداري ده او ثواب دے او رزق کریم دے ۱۲

۳ے دا دویم خطاب دے ازواجو مطهراتو ته یعني که څوک په نبي کریم صلی الله علیه وسلم اعتراض کوي چه د خپل متبنیٰ د ښځې سره نکاح او کړو نو په دے خبره کښے نرمي مه کوئ چه دے د خپل مرض خاوند دے نو منافقان به طمع او کړي چه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په کور کښے اختلاف دے نو دا خو سبب د کمي د دعوت دے بلکه صاف وایئ چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم چه څه کوي نو په حکم د الله تعالیٰ سره کوي او بیا په کورونو کښے پټه ستر او سئ او د جاهلیت پشان په بازار کښے گرځئ او اطاعت د الله او د رسول کوئ نو الله تعالیٰ به ستاسو کښے حسن خلق او قرآن او حدیث لوړ کړي ۱۲

له د او ریم خطاب دے مؤمنانو ته چه کله نبی کریم صلی الله علیه وسلم زینب د زید نه په نکاح کښې واخسته نو اعتراض شروع کړلو منافقانو
او بعضو لره ډیر ګران معلوم شو. الله تعالیٰ بیان وفرمایلو چه د ښځو او سړو دواړو لپاره اجر دے که ایمان او طاعت لري
په درمیان کښې د مسلمانانو

إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿٣٤﴾ إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ

بې شکه الله دے باریک بین خبردار - بې شکه مسلمانان او مسلمانانې

وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ

او مؤمنان او مؤمنانې او تابعداران او تابعدارانې او صادقان

وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ

او صادقانې او صابران او صابرانې او ویریدونکي او ویریدونکې

وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ

او خیرات کوونکي او خیرات کوونکې او روژه داران او روژه دارانې او ساتونکي

فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ

د عورتونو خپلو او ساتونکې خپلو - او یادوونکي د الله لره ډیر او یادوونکې تیار کړي دي

اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٣٥﴾ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا

الله دوی لره مغفرت او ثواب لوی - او نه دے حق هیڅ مؤمن سړي او نه

مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ

مؤمنې ښځې لره چه کله فیصله اوکړي الله او د هغه رسول د یو کار چه وي دوی لره اختیار د هغه

مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا

کار د دوی کښې - او څوک چه خلاف اوکړي د الله او د رسول د هغه نو بې شکه هغه غلط شو

مُبِينًا ﴿٣٦﴾ وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ

ښکاره - او کله چه تا اوویل هغه ته چه مهربانی کړې وه الله په هغه او مهربانی کړې وه تا په هغه

أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ

چه حصار کړه ځان سره ښځه خپله او اوویریږه د الله نه او پټوله تا په زړه کښې خپله هغه چه الله

واضحه وي چه نکاح د مسلمانانو
په مینځ کښې چه کیدې شي نه
یا د کیدې په لوی زړه کښې
چه ویره نه وي نو د شه
زړه یې پاک یا د شي نو
و ما پکار وه چه اے الله
ثواب زړه لپاره ستا د ویره
پیدا کړي شي. اے شکه د
زینب بنت امیمه بنت عبد
المطلب د نکاح اراده وه نبی
کریم صلی الله علیه وسلم د
زید سره او هم او په دې
خو واخل شي وه نو د
خاندان یې وے پاتې نه
وه نو د حکم راغے نو دوی
تسلیم اوکړه او نکاح وشوه
لیکن د نکاح نه پس دواړو
تعلق سم نه شو زید نبی
کریم صلی الله علیه وسلم
ته شکایت اوکړو او خپل
د صبر تلقین او په هغه
به بیا رپورټ کولو او نبی
کریم صلی الله علیه وسلم
خیال وه که زید طلاق ورکړي
بیا د هغه خاندان یې
هم خفه وو او بیا په هغه
شي نو نه کښې د ټول عوام
او به تکلیف د خلقو
والي چه هغه نه تا تابعي
دے واقعه او د الله تعالیٰ
د جاهلیت رسم ختم شي چه هغه
ښځه وه - انعم الله علیه
په اسلام سره - انعمت علیه

په آزادۍ سره - وتخشی الناس - چه خلق به خبرې کوي - حضرت عائشه صدیقه فرمائي چه که نبی کریم صلی الله علیه وسلم
د قرآن نه څه پټولے نو دا آیت به ئې پټ کړے وے ۱۲

له د ادرېم خطاب دے نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چې په حلال کار کښې په تاسو حرج نشته د اچخو انبیاء قانون الهي دے

۲ له د اخطاب دے ځلورم نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چې ورته ځما سره پلار شوے یم کوم محمد نه د ځوانه مرګه د نوه حضرت زید پلار نه شو نو د هغه د ګو هغه چې د ځان نه ورګکاره شوه نو په نبي کریم صلی الله علیه وسلم حلال د ده ۳ له د اخطاب دے پنځم مؤمنانو ته چې اے مؤمنانو تاسو چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په حق کښې څه بدګمانی کړې نو د ځینو د معاونینو د پاره د الله تعالیٰ پاکی بیان کړئ هر وخت ترڅو نه شي د چا ګناه او شي او د توحید مسئله بیانوئ نو الله تعالیٰ ورته معافي کوي په نیکو سره بدي معافي کیږي او د توحید د بیان نه بله غټه نیکي نشته او الله تعالیٰ به په تاسو باندې مهربان او کړي او رنړا ته به تاسو را او باسي او الله تعالیٰ به تاسو ته سلام کوي په قیامت کښې : الظلمت : شرک بدعت او رسمونه دي النور : توحید او سنت دے : ملائکته : د رملائکو د رحمت دعا د مؤمنانو لره ده

مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ ۖ فَلَمَّا قَضٰى

ښکاره کوونکی او ته ویرېږې د خلقو نه ۔ او الله ښه لایق دے چې ته ترې او ویرېږې ۔ نو کله چې پوره کړه

زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ

زید د ښځې نه حاجت نو مونږ نکاح د کړه ښځه تا ته چې نه شي په مومنانو باندې تنګي

فِيْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ۗ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ

په حق د ښځو د متبنیٰ ګانو خپلو کښې هر کله چې پوره کړي د دوی نه حاجت ۔ او حکم د الله په

مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾ مَا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ۭ

ځای کول دي ۔ نشته په نبي باندې هېڅ ګناه په هغه څیز کښې چې مقرر کړې دی الله ده لره ۔

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۭ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا

دا قانون د الله دی په هغو کښې چې تېر شوي دي مخکښې ۔ او دے حکم د الله په اندازه سره

مَّقْدُوْرَا ﴿۳۸﴾ الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ وَلَا يَخْشَوْنَ

مقرر ۔ کوم چې رسوي پیغامونه د الله او ویرېږي د هغه نه او نه ویرېږي د

اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ﴿۳۹﴾ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ

هیچا نه په غیر د الله نه ۔ او پوره دے الله حساب کوونکی ۔ نه دے محمد پلار د یو کس د

رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ

نارینو ستاسو لیکن رسول د الله دے او مهر د نبیانو دے ۔ او دے الله په هر شي

شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿۴۱﴾ وَّ

باندې پوهه ۔ اے مؤمنانو ! یاد کړئ الله ښه زیات ۔ او

٥ع٢

سَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۴۲﴾ هُوَ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ

پاکي بیانوئ د هغه صبا او بېګاه ۔ الله هغه دے چې رحمت کوي په تاسو باندې او ملائکې د هغه

له وا څلورم خطاب دے نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم ته چه تا ته رسول جوړ کړے دے نو مسئله د توحید صاف بیانوه او منو نکو ته ئے مبارکی ورکړه او نه منونکی او ویروه ۱۲ سے دا خطاب دے مؤمنانو ته چه کله تاسو نکاح او کړه او بیا مو ښځه طلاق کړه

لِيُخْرِجَكُم مِّنَ الظُّلُمَٰتِ إِلَى النُّورِ ۚ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴿٤٣﴾

چه او باسی تاسو د تیرونه رڼا ته - او دے اللہ په مؤمنانو باندے مهربانه -

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُۥ سَلَٰمٌ ۚ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا ﴿٤٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا

دعا د دوی کله چه ملاقات کوی د هغه سره سلام به وی - او تیار کړے ئے هغه دوی له ثواب د عزت - اے

النَّبِيُّ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ شَٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٤٥﴾ وَدَاعِيًا إِلَى

نبی! مونږ لیږلے دے تا له حق ښودونکے او زیرے ورکوونکے او ډیروونکے - او بلونکے اللہ

اللَّهِ بِإِذْنِهِۦ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ﴿٤٦﴾ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ

ته په حکم د هغه سره او څراغ رڼا کوونکے - او زیرے ورکړه مؤمنانو ته چه دوی له د اللہ

اللَّهِ فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ الْكَٰفِرِينَ وَالْمُنَٰفِقِينَ وَدَعْ

د طرفه مهربانی ده ډیره - او مه خبره کوه کافرانو او منافقانو او پریږده سلته

أَذَىٰهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٤٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ

د ځنګولو د هغوی او ګمان او سپاره اللہ ته او بس دے اللہ ذمه وار - اے مؤمنانو!

ءَامَنُوٓا۟ إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن

کله چه تاسو نکاح اوکړئ د مؤمنو ښځو سره بیا طلاق ورکړئ دوی ته مخکښې د دے نه چه یو ځائے

تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ۖ فَمَتِّعُوهُنَّ

کیده و نه د هغوی سره نو نشته تاسو له په هغو باندے عدت چه شمارئ تاسو هغه - نو سامان ورکړه دوی

وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا النَّبِىُّ إِنَّآ أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَٰجَكَ

او ازاد ئے کړئ هغه په ښه سلوک سره - اے نبی! مونږ حلال کړے دی تا له هغه ښځے ستا

الَّٰتِىٓ ءَاتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ اللَّهُ عَلَيْكَ

چه ته ورکړے هغو ته مهرونه د دوی او کومے وینزے چه ستا ملکیت وی کومے چه اللہ ستا لاس ته راوستی دی

مبارکی ورکړه او نه منونکی او ویروه ۱۲ هیڅوک د جماع نه نو په هغو عدت جامه به ورکوئ او که مهر مقرر کړے وه نو نیم مهر به ورکوئ د دغه طلاق هم قبل الدخول وی ۱۲ سے دا خطاب د نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم ته پنځم نمبر چه دا څلور قسمه ښځے تا له حلالے دی (۱) التی اتیت اجورهن (۲) وما ملکت (۳) او بنات عمک (۴) امراۃ (۵) (فائده) د نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم جسمانی طاقت د څلویښتو سړیو په مقدار وه او روحانی قوت د دنیا د سلو سړو طاقت لری سره د دینه ئے نکاحونه کړی دی د خدیجے سره د هغې په وخت چه د څلویښتو کلو نو وه او دوه څله کلونه شوی وه او نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم د پنځه ویشتو کلو نو وه او هر نکاح د دوی د وجه د مجبوری شوی وه او د هرے قبیلے سره سبب د تعلق وه چه وا سبب د نشر د اسلام وے او بله کثرت د ازواجو د نشر د علم وے کوم چه متعلق د ازواجو سره (ازواج د نبی کریم صلی اللہ علیه وسلم) (۱) خدیجه رض (۲) عائشه رض (۳) حفصه رض (۴) سوده رض (۵) ام سلمه رض (۶) زینب رض (۷) ام حبیبه رض (۸) جویریه رض (۹) صفیه رض (۱۰) میمونه رض (۱۱) زینب بنت خزیمه (۱۲) اسماء بنت نعمان د ښه شرافت د صحبت نه مخکښے شوے ده نو پنځے (۱۳) ماریه ده .

(۲) ریحانه رض (۳) شعبه نه (لونړۍ) (۱) ام کلثوم رض (۲) رقیه رض (۳) زینب رض (۴) فاطمه رض (ځامن) (۱) عبد اللہ رض طیب (۲) ابراهیم رض طاهر رض ابراهیم د ماریه دے نور ټول او لاد د خدیجے دے ۱۲ وکیله یعنی بلا مهره نکاح تا له شکه دے چه تکلیف نشوی ۱۲

وَبَنٰتِ عَمِّكَ وَبَنٰتِ عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ خَالِكَ وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ

او لونړه د تره ستا او لونړه د ترورانو ستا - او لونړه د ماما ستا او لونړه د ترورانو د موره طرف) ستا

الّٰتِيْ هَاجَرْنَ مَعَكَ ۡ وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ

کوم چه هجرت ئې کړے دے تا سره - او ښځه مؤمنه که ورکړي ځان خپل نبي عليه السلام ته.

اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ۗ خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ

که اراده وکړي نبي چه نکاح ئې وکړي د هغې سره - (دا نکاح بلا مهره) يوازې ستا د پاره حکم دے نه د مؤمنانو د.

قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيْٓ اَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ

بے شکه معلوم دي مونږ ته هغه څه چه مونږ فرض کړيدي په دوئ باندې په حق د بيبيانو د دوئ کښې او د مال د لاس د دوئ

لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ تُرْجِيْ

چه نه شي په تا باندې تنګي - او دے الله بخښونکے مهربان - وروسته کوے ته د

مَنْ تَشَاۗءُ مِنْهُنَّ وَتُــْٔوِيْٓ اِلَيْكَ مَنْ تَشَاۗءُ ۭ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ

هغه چه ستا رضا شي د دوئ نه او يو ځائ کوے ځان ته هغه چه ستا رضا شي - او هغه څوک چه ته ئې غواړے

مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ۭ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ تَقَرَّ اَعْيُنُهُنَّ

د هغو چه تا جدا کړي وي - نو نشته په تا ګناه - دا نږدے ده دې ته چه يخې شي سترګې د دوئ

وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

او خفه نه شي او راضي شي ټولې په هغه چه ته ئې ورکوے دوئ ته - او الله پوهيږي په

مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَلِيْمًا ۝ لَا يَحِلُّ لَكَ

هغه څه چه په زړونو ستا کښې دي - او دے الله پوهه او صابر - نه دي حلالې تا لره [illegible]

النِّسَاۗءُ مِنْۢ بَعْدُ وَلَآ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ وَّلَوْ

ښځې سوا د دې اقسامو (مذکورو) نه او نه دا چه او کړے په بدل د دوئ کښې ښځې اګر که

سلہ يعني په تا واګلازم نه دي چه د بيبيانو ستا نه هجرت وکړي او دا وار په تلاش کښې نه وي او علم حاصلول په فراغت سره (رفائده) نسب د پلار د نبي کريم صلى الله عليه وسلم محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم بن مناف قريشي دے - د مور نسب محمد بن آمنه بنت وهب بن نجار - په تمامه دنيا کښې واحد څوک ليشتي لکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم د خولې او د کمال او د صفات او د نسب د وجه نه حسن د يوسف د وړ کا په دنګ کښې د يد کم وے په اللهم صل وسلم دائما ابدا د على حبيبک خير الخلق کلهم ۔

سلہ يعني د دو نه د نورو نه علاوه تا لره ښځې نه دي حلالې البته کوم چه ستا وينځې وي نو خير دے ۔

ئے واخطاب وے مؤمنانو ته او وم چه د [illegible] شرم پابند نه کوی چه منافقانو تهمت د نبی کوله ۔ ته یعنی دغی

أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ
خو ئے درکوی تا حسن د دوی مگر هغو چه ستا مالک شی ۔ او دے الله په هر شی

كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيبًا ۞ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ
باندے حفاظت کوونکے ۔ اے مؤمنانو مه ننوځئ کورونو د

النَّبِيِّ إِلَّا أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَٰكِنْ
نبی ته مگر چه اذن او کړے شی تاسو ته دپاره د ډوډئ هم چه انتظار به نه کوئ پخیدو د هغې ۔ ولکن

إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ
کله چه تاسو اوبللے شئ نو ننوځئ کله چه طعام و خورئ نو خور ورشئ او مه کینئ دپاره د

لِحَدِيثٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ ۖ وَاللَّهُ
خبرو ۔ دا تکلیف رسوی نبی ته نو شرمیږی هغه ستاسو نه ۔ او الله

لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ ۚ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن
شرم نه کوی د بیان د حق نه ۔ او کله چه غواړئ د هغوی نه سامان نو غواړئ ئې د

وَرَاءِ حِجَابٍ ۚ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ۚ وَمَا كَانَ لَكُمْ
روستو د پردے نه ۔ دا خبره پاکه ده دپاره د زړونو ستاسو او د زړونو د دوی ۔ او نه ده روا تاسو ته

أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَدًا ۚ
چه خفه کوئ رسول د الله او نه به په نکاح اخلئ بیبیانے د هغه روستو د هغه نه هیڅ کله

إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمًا ۞ إِن تُبْدُوا شَيْئًا أَوْ تُخْفُوهُ
بے شکه دا کار دے په نزد د الله لوئے ۔ که ښکاره کوئ یو شے یا ئے پټوئ ئې

فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ۞ لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِي آبَائِهِنَّ
نو بے شکه الله دے په هر شی باندے پوهه ۔ نیشته گناه په دوی د پلرونو د دوی کښی (یعنی) پلرونو خپلو

ئے واخطاب وے مؤمنانو ته
مه ځئ چه حلته پخیدو د
طعام د انتظار کوئ ١٣
ته یعنی کله چه طعام وخورئ
نو بیا حلته د خبرو د پاره
مه کینئ په دے نبی کریم صلی
الله علیه وسلم تکلیف و-
(قصه) کله چه د زینب
ولیمه ختمه شوه نو بعضے
کسان حلته ناست وو خبرے
ئے کولے او نبی کریم صلی الله
علیه وسلم په دے خفه
ؤ خو حضور د حیاء نه
څه نه وے نو دا آیت
رالغے ٣ ته د دے نه
روستو ستر شروع شو
ئے د ا ستر فضیلت د
چه په ستر کښے زړونه د
وی ځکه غلط نظر او نشه
لیدی او غلط نظر د بد فعل
تخم دے او په حفاظت د
نظر کښے د زړه آرام دے
او بل په خبره او په ټولو کښے
حکم د قرب په اکېږي عام د حفاظ
د نظر سره او بل دا حکم
راغے چه تاسو به د نبی کریم
صلی الله علیه وسلم د
بیبیانو سره د هغه د وفا
نه پس نکاح نه کوئ ۔
(فائده) دا مسئله د بل
سره هم نقها د نکاح جنه
لا گنی په دے سره
سره سپیره کیږی ١٤

ع ٤

نه دی خطاب دی ... مؤمنانو ته چه ... نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ... غلط رسوونه ... الله تعالی چه په پیغمبر رحمت کوی او ملائک ورته دعا کوی ... حدیث شریف

وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ

او ځامنو ... او ورونو د خپلو ته او د وریرونو خپلو ته او خورزیونو

أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ ۗ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَ ۚ

خپلو ته او ښځو خپلو ته (یعنی مسلمانو) او وینځو خپلو ته - او او ویریږئ د الله نه

إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدًا ۝ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ

بیشکه الله دی هر شی ته حاضر ناظر - بیشکه الله او ملائک د هغه

يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟

درود وائی په نبی باندې - اې مؤمنانو! دعا کوئ د ده او کوئ ورته

تَسْلِيمًا ۝ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ فِى

ښه سلام - یقیناً هغه خلق چه تکلیف رسوی الله او رسول د هغه ته لعنت د الله دی په هغو په

ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا ۝ وَٱلَّذِينَ

دنیا او په آخرت کښې او تیار کړی دی الله دوی لره عذاب د ذلت - او هغه خلق چه

يُؤْذُونَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ بِغَيْرِ مَا ٱكْتَسَبُوا۟ فَقَدِ ٱحْتَمَلُوا۟

تکلیف رسوی مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته بی د ګناه نه پورته کړی دوی پیټی د

بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ۝ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ

دروغو او د ګناه ښکاره - اې نبی! او وایه بی‌بیانو خپلو ته او لوڼو خپلو ته

وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ

او ښځو د مؤمنانو ته چه راویروی دی لږ څه په ځانونو خپلو باندې څادرې خپلې دا خبره

أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝

نزدې ده چه او پیژندل شی نو دوی به تکلیف نه کړی شی - او دی الله بخونکی او مهربان نه -

وی چه دیو قول شوی که په نبی کریم صلی الله علیه وسلم درود وائی نو الله تعالی په هغه باندې ... دعا ... تبلیغ ... حاجت ... دی ... نبی کریم صلی الله علیه وسلم درود ... سلام ... الله تعالی د ذلت عذاب تیار کړی دی ... لعنت ... رحمت ... مؤمنانو ... نبی کریم صلی الله علیه وسلم ... غلط رسوونه ... منافقانو ... حاضر ناظر ... الله تعالی ... حاضر ناظر ... شرک ... غیب ... عالم

ركوع ۷

الله تعالی ... خطاب ... نبی کریم صلی الله علیه وسلم ... مسلمانانو آزادو ... ستر کول ... منافقانو ... (پاره ۲ په ص ۹۱۳)

(رپاتے د صا۱۳ ته) نو که حقه به خفه شوه نو وه به او و ے چه ما نو په تا د خپلو ډیتځ گمان کړے وه نو که بیا هم د و ي د بس کو

لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْمُرْجِفُوْنَ

که منع نهٔ شو منافقان او هغه کسان چه په زړونو کښے یې مرض دے او غلطي خبرې خورونکي

فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ فِيْهَآ اِلَّا

په مدینه کښے نو ضرور به اولګوو مونږ تا لره په دوی پسے بیا به پاتے نه شي ستا په ګاونډ کښے په مدینه کښے مګر

قَلِيْلًا ۝ مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ۝

لږ زمانه - ملعون به وي - چرته چه پیدا شي نیول به شي او قتل به کړے شي په کامله طریقه

سُنَّةَ اللّٰهِ فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ

دا قانون د الله تعالی دے په هغو کښے چه تیر شوي دي مخکښے - او ته به بیا نه مومے قانون د الله لره

تَبْدِيْلًا ۝ يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۚ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ

بدلول - تپوس کوي ستا نه خلق د قیامت - او وایه چه بے شکه علم د هغه د

اللّٰهِ ۚ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا ۝ اِنَّ اللّٰهَ

الله سره دے - او ته څهٔ خبر ئے چه امید دے چه دغه وخت وي نزدے - یقیناً الله

لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ وَاَعَدَّ لَهُمْ سَعِيْرًا ۝ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۚ

لعنت کړے دے په کافرانو او هغوئ لره تیار کړے دے اور - همیشه همیشه به وي په هغے کښے -

لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ فِي

بیا به نه مومي (د ځان د پاره) حمایتي او مدد ګار - کله چه نسکور شي مخونه د دوي په

النَّارِ يَقُوْلُوْنَ يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ۝ وَقَالُوْا

اور کښے ، نو دوي به وائي ارمان مونږ حکم منلے وے د الله او مونږ حکم منلے وے د رسول - او دوي به

رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ۝ رَبَّنَآ

اووائي ربه زمونږه مونږ خبره منلے وه د مشرانو خپلو او د غټانو خپلو نو هغوی زمونږ نه خطا کړه لار - اے ربه زمونږه

او غلطي خبرے هم خورَوي د مسلمانانو د هغه کولو د پاره نو ضرور به تا لره په دوي باندے مسلط کړو چه د قتل کړه یاڅئ او ښاره بیا به خو لږه زمانه دلته پاتے وي خو ملعون به وي ۱۳ رد دے تخو) سلے د او عذاب د اخرت بیان دے یعني منی نهٔ او هسے تپوس کوي د قیامت نو د قیامت وخت معین خو الله ته معلوم دے ته څهٔ خبر ئے - د قیامت تپوس والے کوي دوي لره خو سخت عذاب تیار دے په قیامت کښے او ختمیږي به نهٔ او نه به د دوي حمایت څوک امدادي وي او نسکور به دوزخ ته ورواچولے شي او بیا به ارمان کوي چه مونږ د توحید او رسالت منلے وے او مونږ د مشرکانو او بدعتیانو نه وے او مونږ د مشرکو او بدعتیانو اتباع نه وے کړے او بیا به الله تعالی ته سوال کوي چه اے الله زمونږ دے مشرانو لره دوچند عذاب ورکړه او هم پرې لعنتونه پراوکړه ځکه چه مونږ دوي ګمراه کړي یو - نو اوس ورته الله تعالی دغه وخت یادوي چه راشئ مسلمانانو نن شئ او شرک او بدعتونو نه پرهیز د کړي ۱۳

لے دا ئې هم خطاب دے مؤمنانو ته چه په نبي كريم صلى الله عليه وسلم تهمت مه لګوئ چه څه رنګه چې ورانه وو ټوله منګه صادق ا ود ايمي
چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم رسول ورانوی شو چه د مؤمنانو ځيږ شوه وه دے بنی اسرائیلو پشان مه کیږئ چه هغوي په موسیٰ

عليه السلام تهمت اولګولو چه په ده بدګي دي نو هغه ئې خفګه زموږ سره نزل شي نو الله تعالیٰ د ده تهمت ختم کړو دا سے چه موسیٰ عليه السلام په پټ ځائے کښے غسل کولو سره د ننګ نه او نورو خلقو به غسل کاوه د ننګ سره نو په ډاګه نو د موسیٰ عليه السلام کپړے کښے او تښتولے او د دوی د هغه بدن اولیدلو چه بدګي پرے نه وه دوی د موسیٰ عليه السلام عورت نه وه لیدلے بلکه هغه د ننګ سره وه ۲ ـ دا لے هم خطاب دے مؤمنانو ته چه صحیح خبره کوئ نو باری تعالیٰ به ستاسو کارونه برابر کړی او ګناهونه به ستاسو معاف کړی دا الله تعالیٰ او د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په حکم منلو کښے کامیابی ده کوم دواړه جهانو چه سره شرک او بدعت چه ږدی ۳ ـ دا زورونه چه آسمانونو او زمکه او غرونو چه د هغه کار د پاره پیدا دی نو دوی د هغه کار کوی او په هغه کار کښے خیانت نه کوی او د خیانت نه ویرېږی خو انسان پخپله نه کښے خیانت او کړو انسان پیدا شوے وه د عبادت د پاره او د هغه کار د سرته اونه رساوه

ع ٥

أَنَّهُمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا ﴿٦٨﴾ يَا أَيُّهَا

ورکړه دوی ته دوچند عذاب او اوکړه په دوی لعنت ډیر ـ اے

الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ اللَّهُ مِمَّا

مؤمنانو! مه کیږئ په شان د هغو چه تکلیف ئې رسولے وه موسیٰ ته نو پاک کړو هغه له الله

قَالُوا ۚ وَكَانَ عِندَ اللَّهِ وَجِيهًا ﴿٦٩﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا

د تهمت نه چه وئیلے ئے او وه هغه په نزد د الله عزتمن ـ اے مؤمنانو! او وېرېږئ د

اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ

الله نه او وایئ خبره برابره ـ نو برابر به کړی کارونه ستاسو او بخښه به اوکړی تاسو له

ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾

ګناهونو ستاسو ـ او چا چه حکم اومنلو د الله او د رسول د هغه نو هغه بیامونده بریالو لوئے ـ

إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ

مونږ وړاندے کړه امانت آسمانونو او زمکے او غرونو ته نو دوی انکار اوکړو

أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ ۖ إِنَّهُ كَانَ

د خیانت د هغه نه او او وېرېدل د هغه نه او خیانت پکښے اوکړو انسان ـ یقیناً دے وه

ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ

ډیر ظالم او جاهل ـ (انجام دا شو) چه عذاب به ورکړی الله منافقانو سړو او منافقانو ښځو

وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ وَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۗ

او مشرکانو سړو او مشرکانو ښځو ته او مهربانی به اوکړی الله په مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو باندے

وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٣﴾

او دے الله بخښونکے او مهربان ـ

ع ٥ ٩

وما خلقت الجن والانس الا ليعبدون (زاريات ٥٦) ـ په خلقو د زمکه او آسمانونو ئے قالتا اتینا طائعین (حم السجدة ١١) وحمل الامانت ... ٤ ـ رفا کدی منافقو خیانت ... ماعا دا نه ... ٥ ـ او کړه د مشرکانو په نوم ... د منافق او مشرک د پاره عذاب دے او د مسلمانانو ...

۱ نازل شوې ده بعد لقمان و قبل زمر. ورو اول یا دورمتوسط ابتداء. حصه رابعه د قرآن چه نوم د شفیع قهری
اکثر تا حوامیم. رفعة شهاتو

سُوْرَةُ سَبَإٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اَرْبَعٌ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورت سبا په مکه کښې نازل شوې دې او کښې څلور پنځوس ایتونه او شپږ رکوع گانې دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم د الله سره چه بې حده مهربان او رحم کوونکې دې شروع کوم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَلَهُ

ټول صفتونه مرف خاص الله لره دي چه خاص هغه لره دي ټول هغه چه په اسمانونو کښې دي او هغه ټول چه په زمکه کښې دي

الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ۭ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ① يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي

او خاص هغه لره دي ټول صفتونه په اخرت کښې او هغه حکمت والا خبردار دې. پوهیږي په هغه شي چه ننوځي په

الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاۗءِ وَمَا يَعْرُجُ

زمکه کښې او هغه چه اوځي د زمکې نه او هغه چه راکوزیږي د آسمان نه او هغه چه خیژي

فِيْهَا ۭ وَهُوَ الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ② وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هغه ته او هغه رحم والا بخونکې دې. او وائي هغه کسان چه

لَا تَاْتِيْنَا السَّاعَةُ ۭ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ الْغَيْبِ ۚ

رابه نه شي مونږ ته قیامت. او وایه چه اوخامخا دې قسم دې په رب خپل چه خامخا راتلونکې دې تاسو ته. چه پوهه

لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَ

په هر غیب. نه غائب کیږي د هغه نه مقدار د دره په آسمانونو کښې او نه په زمکه کښې او نه

لَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ③ لِّيَجْزِيَ

وړوکې د دې نه او نه لوې. مګر دا ټول په کتاب ښکاره کښې دي. چه بدله ورکړي

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ

هغو ته چه ایمان ئې راوړې دې او کوي نیکي. دغه خلقو لره بخنه ده او رزق دې

چه وارد ییږي په تقي د شفیع قهري في البرکة یاندې لویء مقصد د سورت: چه داؤد علیه السلام او سلیمان علیه السلام او جنات او ملائک متصرف او حاجت روا نه دي او خیر ورکوونکي هم نه دي خیر ورکوونکې صرف الله دې چه په هرڅه پوهه او په هرڅه قدرت والا دې ۱۲ واحد یل څوک نیشته ۱۲
۲ دا اول دلیل عقلي دې په توحید باندې چه ټول صفتونه صرف الله لره دي ۱۲ دا د سورت مقصد ثابت شو
۳ دې لا دا الا ورلره دلیل دې چه د آسمانونو ټول خیز ونه او د زمکې ټول خیز ونه صرف د صفة دي او په اخرت کښې هم ټول تصرفات خاص د الله تعالیٰ دي او د آسمان او د زمکې هم ټول خیز ونه صرف الله تعالیٰ ته معلوم دي نو په هرڅه قادر او په هرڅه پوهه دې نو دې خیر رسانده نه بل څوک ۱۲ ۱۲
۳ دا زور نه ده ۱۲
۴ دا جواب دې او دویم دلیل عقلي دې چه په هرڅه صرف باري تعالیٰ پوهه دې ۱۲ ۱۲
۵ دا زیرې دې ۱۲

نه وا او عذاب د اخرت بیان وشه چه کوم خلق ځان د الله تعالیٰ نه پټ ګڼي غلط خبرې شائع کوي چه خلق د توحید نه
واړوي د دوي د پاره سخت عذاب دے دوي ځان نه شي بچ کولے ... ګمراه د دلیل نقل کړي چه علماء په حقیقت د قرآن او

كَرِيمٌ ﴿٤﴾ وَالَّذِينَ سَعَوْ فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

عزت دے - او کوم خلق چه کوشش کوي په رد باطلولو د آیتونو زمونږ کښے د دے خیال لره چه عاجز به شي زمونږ - دوي لره

مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴿٥﴾ وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ الَّذِي أُنزِلَ

عذاب دے د ډیر بلا سختے نه - او ګنړي صفوي چه ورکړے شوے دے ورته علم چه کوم شے چه را لیږلے شوے دے

إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ وَيَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴿٦﴾

تاته د رب ستا نه حق دے - او ښوونه کوي لارے د زبردست صفتونو والا ته -

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا

او وائي کافران آیا او ښایم تاسو ته یو سړے چه خبروي تاسو چه کله

مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿٧﴾ أَفْتَرَىٰ عَلَى

ذرے ذرے شوئ د ډیر ذره ذره نو تاسو به بیا پیدا شئ نوي - یا ده جوړ کړے دے په

اللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِ جِنَّةٌ ۗ بَلِ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ فِي

الله دروغ یا دے لیونے دے - بلکه صفوي چه ایمان نه راوړي په آخرت په

الْعَذَابِ وَالضَّلَالِ الْبَعِيدِ ﴿٨﴾ أَفَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ

عذاب او په ډیره لرے غلطئ کښے دي - آیا نه ګوري صفوي ته چه مخکښے د دوي نه دي

وَمَا خَلْفَهُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۚ إِن نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ

او صفوي ته چه روستو د دوي نه دي چه آسمان او زمکه ده - که رضا شو مونږ نو ښخ به کړو دوي په

الْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَاءِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

زمکه کښے یا به را تاوے کړو په دوي باندے ټکړے د آسمان نه بے شکه په دے کښے

لَآيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ مِنَّا فَضْلًا ۖ

دلیل دے هر بنده لره چه واپس کیږي د رحمت او یقیناً ما ورکړے وه داؤد ته د خپل طرف نه شرافت -

حدیث په صفوي اوچه به د الله هدایت دے ... ګمراه په دے کښے د علماؤ صفت دے قرآن په خبره په صحیح کښے خو چه ضد پکښے نه وي او چه سړه د علم ذخان حاصل کړي نو الایمان ... زور نه ده محالفین ته چه دوي داسے خبرے نشر کوي چه په صفو سره په دا حق باندے به نامه لګوي چه خلق پرے ګډوډ شي دا ځکه چه مونږ تاسو دا سے سړے او ښایو چه صفه وائي چه کله تاسو ذرے ذرے شئ نو بیا به ژوندي کیږئ یا دے دا غلطه خبره قصداً کوي یا دے لیونے دے نو الله تعالیٰ جواب ورکوي چه نه لیونے دے نه دروغژن دے بلکه خلق چه اخرت نه مني نو صفوي په دنیا کښے په دے غلطئ کښے پراته دي چه قسم قسم خبرے په دا مي پسے کوي خو په اخرت کښے به کوم دے غلطو خبرو عذاب ورته ملاؤ شي - ۵ دا د عذاب د نیوي بیان دے چه دومره لوئے قدرت والا دے او دوي ترے نه خلاف کوي نو که د الله تعالیٰ رضا شي نو په زمکه کښے به دوي ښخ کړي یا به پرے اسمان راتاؤ کړي اثابت والا بنده په خبره پوهیږي - ۶ دا د اقلے شبهے جواب دے

داؤد علیه السلام بے شکه پیغمبر وه او معجزے ئے لاس پنکاره کړے شوے نو متعرف نه وه شرافت صفه لره ما ورکړے وه غرونه او مارغه
صفه تابع کړي وو چه د ده د تسبیح ویلو سره به صفو هم تسبیح ویله او اوسپنه ما نرمه کړے وه ۱۲

له داؤد د دغه اعتراض جواب دے چه ... شکه سلیمان علیه السلام لوئے باچا وه ... [illegible]
هوا ورلره ماتابعه کړے وه ... [illegible]

يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَ ۚ وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ ﴿۱۰﴾ اَنِ اعْمَلْ

اے غرونو ... تسبیح ... [illegible]

سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ؕ اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

چه جوړ کړه زغرے او اندازه ... او کوئ ښه کار ... [illegible]

بَصِيْرٌ ﴿۱۱﴾ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ

وینم - او ماتابع کړے وه سلیمان ته هوا ... [illegible]

وَاَسَلْنَا لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ ؕ وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ

او ... ورله ... چینه ... [illegible]

بِاِذْنِ رَبِّهٖ ؕ وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ

... [illegible]

السَّعِيْرِ ﴿۱۲﴾ يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ وَجِفَانٍ

اور - جوړ ول به ... [illegible]

كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ؕ اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا ؕ وَقَلِيْلٌ مِّنْ

... مضبوط - کوئ اے خاندانه د داؤد شکر ... او کم دی ... [illegible]

عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ﴿۱۳﴾ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلٰى

بندګانو شکر ګذار - نو هر کله چه ... [illegible]

مَوْتِهٖٓ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ

مرګ د هغه مګر ... [illegible]

الْجِنُّ اَنْ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوْا فِي الْعَذَابِ

پیریانو ... غیب ... [illegible]

دومره مسافت هغه قطع کولو لکه د دوؤ میاشتو مقدار یعنی تیز تللو د معجزه وه د هغه ۱۲ سه داؤد ... شوے جواب دے چه جنات به غیب ... وو ... د سلیمان علیه السلام د مرګ نه خبر نه شو نو هغوی به څنګه حاجت پوره کړی ... الله غالب شی (قصه) سلیمان علیه السلام بیت المقدس جوړ ولو په پیریانو هر کله په هغه ... معلومه شوه چه د مرګ وخت ... راغے نو ... کوره کښے په ... او د دے به یو میاشتو په ... ولاړ وه نو هغه وفات شو او ... تکیه ... ولاړ وه نو هغه ... زوندے ګڼل او د تعمیر کار ... کولو نو ... د هغه ... نوار ... شو نو پیریانو ته معلومه شوه چه دوی ... غیب نه ... (فائده) ... معلومه شوه چه سلیمان پس د وفات ... شو ... د ... شو د فع کولے نو هغه به ... (فائده) ... ورسره ... به ... دفع کړی نو کل اولیاء او انبیاء هم د غیب ... دی د قرآن په مقابله کښے هر کتاب او هر خبره ... نو ... غیب ثابتوی یا نفع یا ضرر نو قرآن د هغه رد کوی ۱۲

له واو عذاب دنيوي بيان چه قوم سبا الله تعالى هلاك كړو په سبب د نافرماني نو د قصے نوره هم دى ۱۲ ع قصه

الْمُهِينِ ۝١٤ لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ ۖ جَنَّتَانِ عَن

ذلت كښے ۔ يقينا وه د قوم د سبا د پاره په كور نو د دوى كښے نښانه چه دوه باغونه وو يو ښي

يَمِينٍ وَشِمَالٍ ۖ كُلُوا مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ ۚ بَلْدَةٌ

طرفته او بل كينړ طرفته ۔ خورئ رزق د رب خپل او قدر كوئ د هغه ۔ ښكلے دے

فَاخْتُلِفَ فِيهِ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ لَقُضِيَ

نو اختلاف اوشو په هغه کښې ۔ او که نه وے خبره چه مخکښې شوې ده د رب ستا (د تاخیر د عذاب کښې) نو فیصله

بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ مِنْهُ مُرِيبٍ ﴿٤٥﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا

به شوې وه په مینځ د دوی کښې ۔ او دوی په شک کښې دی د دې کتاب نه چه بې قراره کوونکے دے ۔ چا چه اوکړه نیکی نو

فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا ۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ ﴿٤٦﴾

د ځان د پاره ده ۔ او چا چه اوکړه بدی نو تاوان د هغه دے ۔ او نه دے رب ستا ظلم کوونکے په بندګانو باندے

إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ ثَمَرَاتٍ مِنْ أَكْمَامِهَا وَ

هغه ته حواله دے علم د قیامت ۔ او نه راوځی څه میوے د غوټو د خپلو نه او

مَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَائِي

بار نه اخلی یوه ماده او نه ئے زیږوی مګر په علم د هغه سره ۔ او کله چه آواز اوشی دوی ته چیرته دی

قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا مِنْ شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَدْعُونَ

شریکان زما نو وائی بخدائے چه مونږه خبر درکوو تا چه نشته زمونږ نه یو اقرار کوونکے په دې خبره ۔ او ورک به شی د دوی نه هغه چه دوی

مِنْ قَبْلُ ۖ وَظَنُّوا مَا لَهُمْ مِنْ مَحِيصٍ ﴿٤٨﴾ لَا يَسْأَمُ الْإِنْسَانُ مِنْ دُعَاءِ

بلل پخوا او دوی به ګمان اوکړی چه نشته دوی لره هیڅ بچاؤ ۔ نه ستړے کیږی انسان د غوختلو د

ستا خبره نه منو که مونږه په باطل وے نو بیا ولے نه هلاک کیږو نو الله جواب ورکوی چه د عذاب د پاره وخت مقرر دے ورنه اوس به دوی هلاک شوی وے دوی اعتراضونه څکه کوی چه دوی لا په شک کښې دی د دے کتاب نه نو بے قراری د بے دینئ اضطراب دے او دینئ تسلی ده ۱۲ ستے دا د یو قانون بیان دے چه که نیکی څوک کوی نو فائده د هغه ده او که غلطی کوی نو تاوان د هغه دے د الله تعالی د چا په کفر او ایمان څه کار نشته او که الله تعالی د چا په کفر کښې تاوان او په ایمان کښې فائده نشته د انسان خپله فائده او تاوان دے الله به هر یو ته پوره پوره بدله ورکړی په چا ظلم نه کوی ۱۲ ستے دا اخلورم دلیل عقلی دے په دے کښې د الله د لوئی علم ځکه وے او په وړوکو دلیلو نو کښې د قدرت مظاهر وه حاجتونه هغه څوک پوره کولے شی چه قدرت او علم والا وی نو لوئے علم او لوئے قدرت د الله دے نو حاجات پوره کوونکے هم دے نه کل ماسوی الله هیڅ د ا د عذاب د آخرت بیان دے ۱۲ ستے انکار به اوکړی چه مونږ مشرک نه وو کړے وایه دوی دروغ او وائی او د دروغ معبودان به بیا د دوی پکار رانه شی او

دوی به معلومه کړی چه اوس بچاؤ نشته د عذاب نه ۱۲ ستے دا ازورنه ده چه دا انسان د تکلیف په وخت نا امیده شی د فهلو جبوری
خو د آرام په وخت ورته چیغا او باسی او که الله ورسره مهربانی اوکړی نو بیا په فخر سره وائی چه دا خوشحالی کمال زما دے او په آخرت کښې څه حساب نشته

۱ دا دَ عذاب دَ اٰخرت بیان دے ۱۲ ۲ دا ذورنه دہ چہ دَ خوشحالۍ پہ وخت ترینه الله تعالیٰ هیر وي او دَ تکلیف پہ وخت بیا سوالونه کوي او پکار دا وه چہ پہ هر وخت دِ دَ الله تعالیٰ نہ حاجتونه غوښتلي ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي چہ کوم څوک غواړي چہ پہ سختۍ کښې ئې سوال قبول شي نو پہ آرام کښې دِ ډیر دعا کوي ځکه باري تعالیٰ نه حاجتونه غواړي ۱۲

الْخَیْرِ ۫ وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَیَـُٔوْسٌ قَنُوْطٌ ﴿۴۹﴾ وَلَىِٕنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا

خیر نه ۔ او کہ تکلیف ورته اورسي نو نا امیده شي چہ یو۔ او کہ او رسوو ورته مهرباني خپله

مِنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَیَقُوْلَنَّ هٰذَا لِیْ ۙ وَمَاۤ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآىِٕمَةً ۙ

پس دَ تکلیف نه چہ رسیدلی دے ورته نو وائي دا لائق وه او خہ گمان نه کوم چہ قیامت به شي

وَّلَىِٕنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّیْۤ اِنَّ لِیْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِیْنَ

او کہ زۀ واپس کړے شم خپل رب ته نو یقیناً ما لره دَ هغهٔ سره خوشحالي ده ۔ نو زۀ به خبر کړم

كَفَرُوْا بِمَا عَمِلُوْا ۫ وَلَنُذِیْقَنَّهُمْ مِّنْ عَذَابٍ غَلِیْظٍ ﴿۵۰﴾ وَاِذَاۤ اَنْعَمْنَا

کافران پہ کار دَ هغو او زۀ به ورکړم هغوی ته سخت عذاب ۔ او کله چہ مهرباني اوکړو

عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ

پہ انسان باندے نو دے مخ واړوي او کږه کړي ځان خپل او کله چہ اورسي ورته تکلیف نو کوي ډیره

عَرِیْضٍ ﴿۵۱﴾ قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهٖ مَنْ

دعا ۔ او وایه آیا وینئ تاسو کہ وي دا قرآن دَ طرف دَ الله نه بیا انکار کوئ تاسو دَ دۀ نه نو څوک

اَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِیْ شِقَاقٍۭ بَعِیْدٍ ﴿۵۲﴾ سَنُرِیْهِمْ اٰیٰتِنَا فِی الْاٰفَاقِ وَ

ډیر گمراه دے دَ هغه نه چہ هغهٔ پہ ډیر خلاف کښې دے زۀ به (ښکاره) علامې دوی ته دلیلونه خپل پہ اطرافو کښې

فِیْۤ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰى یَتَبَیَّنَ لَهُمْ اَنَّهُ الْحَقُّ ؕ اَوَلَمْ یَكْفِ بِرَبِّكَ

او پہ نفسونو دَ دوی کښې تر څو چہ ښکاره شي دوی ته چہ دا توحید حق دے آیا نه پوره کیږي توحید دَ رب

اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ شَهِیْدٌ ﴿۵۳﴾ اَلَاۤ اِنَّهُمْ فِیْ مِرْیَةٍ مِّنْ لِّقَآءِ

ستا کښې دا چہ الله هر شي ته حاضر ناظر دے ۔ خبردار یقیناً دوی پہ شک کښې دي دَ ملاقات دَ

رَبِّهِمْ ؕ اَلَاۤ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَیْءٍ مُّحِیْطٌ ﴿۵۴﴾

رب خپل نه ۔ خبردار الله هر شي لره گیر وونکے دے ۔

۳ دا آیت دَ ټولو زورغ سره تعلق لري چہ قرآن دَ الله تعالیٰ دَ طرفه دے او دوی ترینه انکار کوي او قسم قسم ناروا کوي نو یقیناً دوی غټ گمراه او پہ خلاف کښې دي دَ حق نه ۱۲ ۴ دا دَ عذاب دَ دنیا بیان دے چہ پہ دوی تکلیف راولم هم دَ قحط او هم دَ مرضونو نو او دَ مرګونو نو چہ دوی ته پته اولګي چہ پیغمبر دَ الله نه څوک متصرف نیشته ورنه نو دَ دوینه بہ عفو دَ تکلیف لرے کړے وے ۵ دا پنځم دلیل عقلي دے دَ الله تعالیٰ دَ وحدانیت یعني دَ دلیلونه خو ډیر دے خو دا یو دلیل پوره دے دوی لره پہ توحید دَ باري تعالیٰ کښې چہ الله تعالیٰ هر شي ته حاضر او ناظر دے او دا سے بل څوک نیشته نو حاجات پوره کوونکے هم صرف الله تعالیٰ دے نه بل څوک ۱۲ ۶ دا دَ عذاب دَ دنیا بیان دے چہ دا خلق خو شک کوي پہ قیامت کښې نو ځکه شرک کوي خو دوی به دَ الله تعالیٰ نه چرته نه شي پہ دنیا کښې به رسوا شي ۱۲

ع ۱

دا نازله شوې ده په پسه د حٰمٓ السجدة نه او قبل د زخرف نه ده د ورآخر - په ترتیب قرآن کښې (٤٢) او په نزول کښې (٦٢) ده - مقصد
د سورت: ما الذین ... اعتراض او کړو چه: فاعبدوا الله مخلصین الآیة: بانه عجه په مکښې کت جوړ کړې دی چه غیر الله نه حاجتونه

غواړی او نذر لے کوی نو الله تعالیٰ جواب کوی چه: شرع لکم من الدین ما وصّٰی به نوحا (آیت ١٣): یعنی ټولو انبیاؤ د توحید وحی شوی ده دے خلاف د باغیانو تحریک دے او تمهید دے چه تاته کوم مسئله د توحید وحی کیږی په دے سورت کښې دا نوے مسئله نه ده بلکه په مخکښې سورتونو او مخکښې کتابونو کښې الله وحی کړے ده چه زبردست دے نو ما نه القدره عذاب ور کولے شی او د هغه حکم د راز نه خالی نه دے کذلک: حکه الله تعالیٰ او فرمائیل چه عبارت هغه شوے دا: یوحی: د استمرار د پاره دے یعنی د توحید د مخکښې نه شروع دے ١٢ کښې د الله تعالیٰ د صفاتو نه اهمیت د مسئلے معلومیږی چه د دومره لوئے پاچا دے هغه دا رو ستو حکم رالیګلے دے نو دے ضرور اومنئ ورنه هغه بیا چوس کولے شی ١٢ کښې دا زور نه دے سره د عذاب د بیان نه چه د دی الله په نخو دو او نورو خلقو ته خپل کار چه په دونکی دائی نو ته د دوی د هدایت ذمه وار نه ئے مانته د دی معلوم دی زه به د دوی غورہ عذاب کوم ١٢ کښې د کمکه د پاره د بیان د کمال دے چه

سُوْرَةُ الشُّوْرٰى مَكِّيَّةٌ ... بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ... وَخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ

(رکوع نمبر ١) شروع په نوم د الله سره چه ډیر مهربان رحم کوونکے دے (امداد غواړم) (رکوعات ٥)

حٰمٓ ۚ(١) عٓسٓقٓ (٢) كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۙ

واغے وحی کوی تاته او هغو ته چه مخکښې وو ستا نه.

اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (٣) لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَهُوَ

الله چه زبردست او حکمت والا دے - خاص هغهٔ لره دی هغه ټول څیزونه چه په آسمانونو کښې دی او هغه چه په زمکه

الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ (٤) تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰۗىِٕكَةُ

کښې دی او هغه اوچت او لوئے دے - قریب ده چه آسمانونه څیرې شی د پاسه نه او ملائک

يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ ۭ اَلَآ اِنَّ

پاکی بیانوی سره د صفتونو د رب خپل نه او بخښنه غواړی د هغه چا د پاره چه په زمکه کښې دی - خبر شه

اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ (٥) وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَاۗءَ اللّٰهُ

چه یقینا الله بخښونکے مهربان دے - او هغه خلق چه جوړ کړی دی سوا د هغهٔ نه ځانله کارجوړوونکی

حَفِيْظٌ عَلَيْهِمْ ڮ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ (٦) وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ

الله ته معلوم دی هغوی - او نه ئے ته په هغو باندې ذمه وار - او داغسے مونږ رالیګلے ده

اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنْذِرَ يَوْمَ

تاته قرآن په عربی ژبه چه ته او ویروے د مکے خلقو لره او هغه چا لره چه چاپیره د دې دی - او چه

الْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۭ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ فِي السَّعِيْرِ (٧) وَلَوْ

او ویروے خلق د ورځے د جمع کیدو نه چه شک پکښې نشته یوه ډله به جنت کښې وی او بله به دوزخ کښې وی - او

شَاۗءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَاۗءُ فِيْ

که رضا وے د الله نو کړی به ئے وو دوی یو جماعت لیکن داخلوی الله هغه چا لره چه رضا لری په خپل

دا قرآن ما په صافه عربی ژبه رالیګلے دے چه د مکے معظمے او چاپیره خلق پرے او ویروے د قیامت نه او دا سے ورځ ده چه نیکان به په جنت کښې او بدان به په دوزخ کښې وی او الله تعالیٰ جبرًا هم خلق مسلمانولے شی خو جبرًا ایمان منظور نه دے ١٢ ١٢ ١٢

سلہ واپہ زور نہ دہ چہ لوئے قدرت والا باچا دوی پر یو دوی او غیر اللہ تہ خپل کار جوړوونکی وائی او کہ ستاسو اختلاف راشی نو د هغے حکم پہ هم باری تعالیٰ کوی نو اللہ تعالیٰ حکم کوی یدے چہ سوا د اللہ نہ بل حاجات پوره کوونکی نیشتہ دہ مکران

رَحْمَتِهٖ ؕ وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝۸ اَمِ اتَّخَذُوْا

رحمت - او ظالمانو لره نیشتہ هوک کارساز او نہ مدد گار - آیا جوړ کړی دی دوی

مِنْ دُوْنِهٖۤ اَوْلِيَآءَ ۚ فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى ۡ وَهُوَ عَلٰى

سوا د اللہ نہ کارجوړ دونکی - نو صرف اللہ کارجوړ دونکی دے او هغہ ژوندی کوی مړی او هغہ پہ

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۹ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗۤ اِلَى

هر شی باندے قدرت والا دے - او پہ کومہ خبره کښے چہ ستاسو اختلاف راشی هغے چہ دے نو حکم د هغے

اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖۗ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ۝۱۰ فَاطِرُ

حوالہ دے صرف اللہ تہ - دا اللہ دے چہ زما رب دے ما هغہ تہ سپارلے دے او خاص هغہ تہ رجوع وا پس شم - پیدا کوونکے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّمِنَ

د آسمانونو او د زمکے دے - او پیدا کړی یدی هغہ ستاسو لره ستاسو د جنس نہ جوړے او د

الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا ۚ يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ ؕ لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ ۚ وَهُوَ

څارو نہ جوړے - خوروی تاسو پہ هغہ پیدا کولو سره - نیشتہ پشان د هغہ هیڅ شے - او اللہ

السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝۱۱ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَبْسُطُ

هر څہ آوری وینی - خاص هغہ لره دی کنجیانے د آسمانونو او د زمکے - زیاتوی

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝۱۲ شَرَعَ لَكُمْ

رزق د هغہ چا چہ رضا شی او کموی - یقینا اللہ پہ هر څہ پوهه دے - مقرر کړیے هغہ تاسو لره

مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْۤ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْكَ وَمَا

هغہ دین چہ وصیت کړے یدے پہ هغہ سره نوح تہ او هغہ چہ ما رالیږلے دے تا تہ او هغہ چہ

وَصَّيْنَا بِهٖۤ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰۤى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَ

ما وصیت کړیدے پہ هغہ سره ابراهیم تہ او موسیٰ تہ او عیسیٰ تہ چہ برابر کړئ دین لره او

محمد اللہ دے دوی تہ ما دغان سپارلے دے او دوی تہ هغا واپس دوم ۱۲ سلہ انسان لره ولی او مدد گار رب د اللہ نہ بل هوک نیشتہ او د اللہ تعالیٰ ولی شتے چہ ایمان والا او هغان پہ کوونکے دی د پہ دعا کوو اور سوماتو نہ

اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝ سورة یونس ع ۲ : وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ : سورة بقرة ع ۱۳ ۱۲

سلہ هغہ تہ ما ځان سپارلے دے چہ هغہ د ومره لوئے متصرف دے ۱۲ ۱۲ ۱۲

سلہ دا د سورت مقصد دے چہ د ومره لوئے باچا دے نو هغہ تاسو لره هغہ دین مقرر کړے دے چہ د هغہ دین تہ لوا انبیا د تہ لیږلے شوے دے چہ هم دین کوئ شرک مہ کوئ دا مسئلہ پہ مشرکانو ضرور ګرانہ دہ اللہ تعالیٰ د دے مسئلے تہ خپل بندے ورکه چہ دوی ضد کوی او اللہ تعالیٰ د دے مسئلے لره هغہ هوک را ولی چہ هغہ ضد نہ کوی ۱۲

ع ۲

له اول اعتراض چه تولو انبیاؤ ته دا توحید وحی شوی دے نو په کتابونو کښے خلاف ولی دے؟ جواب: خلاف د ضد د وجې نه شوے دے خلاف چا کړے دے ضدیانو او کله چه خلاف کړی دے پس د علم نه؛ د هغو خلاف کله چه کړی دے

لَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ۚ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ اللَّهُ يَجْتَبِي

چه الیٔ مه کوئ په دین کښے - قیل دی په مشرکانو هغه مسئله چه ته بلې ورلو هغې ته - الله راکاږي

إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾ وَمَا تَفَرَّقُوا إِلَّا

ځانته هغه څوک چه د هغه رضا شي او راښئي ځانته هغه څوک چه رجوع کوي - او جدا الیٔ چه کړے دے نو بس

مِن بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ

د هغوي وروستو چه راغلے دے دوي ته علم د ضد د وجې نه - او که نه وے حکم مخکښے شوے

مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّ الَّذِينَ أُورِثُوا

د رب ستا نه تر نیټې مقررې پورے نو فیصله به شوې وے په دوي کښے - او یقیناً هغه خلق چه ورکړے

الْكِتَابَ مِن بَعْدِهِمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١٤﴾ فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ ۖ

شو ورته کتاب په میراث روستو د دوي نه په شک کښے دي د دغه توحید نه بے آرامه - نو د توحید خلق بله

وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ ۖ وَقُلْ آمَنتُ بِمَا أَنزَلَ

او ټینګ اوسه لکه چه تا ته حکم شوے - او مه ځه په خواهشاتو د دوي پسې - او ووایه چه زه یقین کوم په هغه

اللَّهُ مِن كِتَابٍ ۖ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ ۖ اللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَا

څه چه نازل کړے الله هر کتاب په جمله - او ما ته حکم شوے چه انصاف وکړم په مینځ ستاسو کښے - الله رب زمونږ دے

أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ ۖ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ۖ اللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۖ

او رب ستاسو دے مونږ له زمونږ عملونه او تاسو له ستاسو عملونه نیشته جګړه په مینځ زمونږ او ستاسو کښے - الله

وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿١٥﴾ وَالَّذِينَ يُحَاجُّونَ فِي اللَّهِ مِن بَعْدِ مَا

به جمع کړي مونږ ټول او الله ته واپس ده - او کوم خلق چه جګړه کوي په توحید د الله کښې پس د حق منلو نه

اسْتُجِيبَ لَهُ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ

منلے شوے نو دلیل د دوي باطل دے په نزد د رب د دوي او په دوي باندے غضب دے

له اول اعتراض چه د تولو انبیاؤ ته د وحی شوے دے (رفاالله م) اختلاف چه د دوي د دلیل نه وی دا جائز دے او تفرقه چه د وجه د ضد نه وی دا غلط دی او اختلاف څکه جائز دے چه اذن د مشورے دے و شاورهم فی الامر؛ آل عمران آیت ۱۵۹ ۱۲

له دوم اعتراض چه مخالفین خدائے تعالیٰ ولے هلاک کوی؟ جواب: د هلاک د دوی د پاره وخت مقرر دے ۱۲

له یعنی باغیان مړه شو او روستو خلق په شک کښې پاتے شو ۱۲

له هر کله چه توحید تولو انبیاؤ ته وحی شوے او خلاف کوونکی ضدیان دی نو ته دے توحید ته خلق بله او نخپله هم منه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وائی او نورو خلقو ته اوکړی ۱۲

له نه تاسو زمونږ د عملو نو ذمه وار یئ او نه مونږ ستاسو د عملو نو ذمه وار یو ۱۲

له الله تعالیٰ زمونږ او ستاسو رب دے نو رے جګړے زمونږ او ستاسو ختم دی ۱۲

له دریم اعتراض چه باغیان خو لا پل نیکن روستو خلقو ته خو هغه کتاب پاتے شو نو دوی د معذور دی؟ جواب: د دوي [illegible] عذر نیشته ځکه چه د توحید غټو غټو خلقو منلے دے، و بل الله تعالیٰ ته زلیخلے د هغوي کتب بونه په دغه ځه قرآن ورته ولیګلے دی ۱۲

له دا اول علت دے چه عذر د دوي نه دے منظور ۱۲

سلہ وادوهم علت دے ۱۲ سلہ داؤعذاب دآخرت بیان دے ۱۲ سلہ دازیرے دے ۱۲ سلہ حاصل دا چہ لیږلی بادشاه توحید
تولو انبیاؤ ته رالیږلے دے او اختلاف پکښے ضدیانو کړید ے نو دے توحید ته خلق بلہ او کوم خلق چه د ضدیانو کتاب جوړه پیش کړی

وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿١٦﴾ اللَّهُ الَّذِي أَنزَلَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ وَالْمِيزَانَ

او دوی لره سخت عذاب دے - الله هغه دے چه رالیږلے ئے هغه کتاب د حق د پاره او تله -

وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ ﴿١٧﴾ يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ

او څه خبر ئے ته چه قیامت به نژدے وی - او زر غواړی قیامت لره هغوی چه

لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ

ایمان نه راوړی په هغهٔ باندے - او کوم چه مؤمنان دی نو ویریږی د قیامت نه او پوهیږی چه

أَنَّهَا الْحَقُّ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾

قیامت حق دے - خبر شئ چه کوم خلق جګړه کوی د قیامت په رانګو کښے په شک بے شک په غلطۍ کښے دی لرے د حق نه

اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ ﴿١٩﴾

الله مهربان دے په بندګانو خپلو باندے رزق ورکوی هغه چا ته چه رضا ئے شی - او الله طاقت والا زبردست دے -

مَن كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ وَمَن كَانَ

هغه څوک چه اراده کوی د فصل د آخرت نو زیاتوو به کړو هغهٔ لره فصل د هغهٔ - او هغه څوک چه

يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِن نَّصِيبٍ ﴿٢٠﴾

غواړی فصل د دنیا نو وربه کړو هغه لره د دنیا نه - او نیشته هغهٔ لره په آخرت کښے هیڅ حِصّه -

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ

آیا دوی لره شریکان دی چه هغو جوړ کړی دی دوی لره هغه دین چه اذن نه دے کړے په هغهٔ سره الله -

وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ

او که نه وے خبره د فیصلے نو فیصله به شوی وے په مینځ د دوی کښے - او یقیناً ظالمانو لره

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢١﴾ تَرَى الظَّالِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُوا وَهُوَ

دردناک عذاب دے - ته به وینے ظالمانو لره چه ویریږی به د کسب خپل نه او د جزاء د کسب

نو د هغوی دلیل باطل دے
ځکه چه توحید غیر مخلوق نے
وی او بل الله تعالیٰ قرآن
رالیږلے دے نو نور کتابونه
به هله منظور وی چه د
دهٔ سره برابر وی ۱۲ سلہ
سلہ ترازو سره وزن معلوم
معلومیږی شو نے توحید
تولو انبیاؤ ته وحی شوے
دے چه په غیب پوهه
او هرڅه کوونکے الله تعالیٰ
دے د هغهٔ نه ماسوا څوک نه
غواړی ژر دوی داد دا چه
د دے مسئلے نه خلق فریاد
کړی ئے د خند د وجه نه وس
الله تعالیٰ د دے د وارد تعلق
بحث کوی دا ایت د آخر لے
خبرے سره لیری چه الله
مهربان او رزق رسان
دے نو د هغهٔ نه حاجات
غواړی ۱۲ سلہ داترغیب
دے نیک عمل ته او ترهیب
دے د دنیا نه چه د توحید
د تا سو د دنیا اړ وی صرف
دنیا چه غواړی نو هغهٔ
لره آخرت نه وی ۱۲ ۱۲
سلہ دا د دویمے دعوے سره
لګی یعنی تولو انبیاؤ ته
خو توحید وحی شوید ے
د دهٔ نه خلاف د باغیانو
کار دے د الله تعالیٰ دین
نه دے ۱۲ سلہ دا د عذاب
د دنیا بیان دے ۱۲
سلہ دا د عذاب د آخرت
بیان دے ۱۲

لے دا زیرے دے مؤمنانو ته چه څوک توحید مني او د توحید په روښنائي کښے نیک عمل کوي نو هغوی له باغونه وي او چه
څه غواړي نو هغه به ورته ملاویږي دا جنت لوئے فضل دے په جنت سره. الله تعالیٰ نیکو بندګانو ته زیرے ورکوي عذاب ...

وَاقِعٌ بِهِمْ ۗ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فِي رَوْضَاتِ

راشي دي په هغوی. او مؤمنان چه کوي نیکي په باغونو د جنت

الْجَنَّاتِ ۖ لَهُم مَّا يَشَاءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٢٢﴾

کښے به وي. د دوی د پاره هغه شے دے چه دوی غواړي په نزد د رب د دوی دا لوئے فضل دے.

ذَٰلِكَ الَّذِي يُبَشِّرُ اللَّهُ عِبَادَهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ۗ

دا هغه ثواب دے چه په ده سره مبارکي ورکوي الله هغه بندګانو خپلو ته چه ایمان راوړي او کوي نیکي.

قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ ۗ وَمَن يَقْتَرِفْ

او وایه چه نه غواړم ستاسو نه د توحید مزدوري لیکن ما ته د دوستۍ په قرابت کښے. او چا چه او کړه

حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾ أَمْ

نیکي نو زیات به ورکړو هغه ته په هغې کښے ثواب. یقیناً الله بخونکے او قدردان دے. آیا

يَقُولُونَ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۖ فَإِن يَشَإِ اللَّهُ يَخْتِمْ عَلَىٰ

وائي دوی چه ده جوړ کړي دي په الله باندے دروغ؟ نو که رضا شي د الله نو مهر به او لګوي په

قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ

زړه ستا باندے. او ورانوي الله دروغ او محکم کوي رشتیا د لره په حکم خپل. یقیناً الله پوهه دے

بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٢٤﴾ وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَ

د زړونو په خبرو باندے. او هغه الله دے چه قبلوي توبه د بندګانو خپلو نه او

يَعْفُو عَنِ السَّيِّئَاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٢٥﴾ وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ

علوه کوي ګناهونه او پوهیږي په کارونو ستاسو باندے. او دعا قبلوي د

آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِ ۚ وَالْكَافِرُونَ

مؤمنانو چه کوي نیکي. او ور زیات ثواب ورکوي هغوی ته د فضل خپل نه. او کافرانو

ثواب او نه د عذاب او نه بیانول
بیان د احیت د توحید دے
چه دا مسئله ورته مسئله نه
د دے نه منونکي په دواړو
جهانو نه په عذاب کښے دی او
منونکي د دے په دواړو جهانو
په خوشحالۍ کښے دي منونکي
د توحید په دنیا کښے هم په
اطمینان کښے ځکه چه دوی
ته معلومه ده چه څه کوي
نو صرف الله تعالیٰ کوي. او
نه منونکي په دنیا کښے هم
په اضطراب کښے دي ځکه
چه دوی د مخلوق نه په ویره
دي نو د دوزخ د دوی کاردنیا
نه شروع دے ۱۲ ۱۲
۲ دا ترغیب دے اتباع ته
چه زه خو په تبلیغ باندے
مزدوري نه غواړم نو بیا ولے
څما خبره نه منئ البته کړئ
نسب د وجه نه ما سره جنګ
کوئ نو هغه پله خبره ده
۳ دا زور نه ده ۱۲
۴ دا د اولے دعوے سره
تلي چه حاجات کا الله نه
غواړئ ځکه چه هغه دا سے
مهربان دے چه توبه قبلوي
او ګناهونه معاف کوي او
خبردار دے ۱۲ ۱۲
۵ دا زیرے دے ۱۲
۶ دا د عذاب د آخرت
بیان دے ۱۲

له اعتراض چه الله تعالیٰ دومره مهربان دے نو مونږ ته رزق دے زیات کړی. جواب: که رزق ډیر شی نو بیا به ګمراه شی دا که رزق هم د مولٰی مهربانی ده ۱۲ سکے واو اول وموے سره تعلق لري چه حاجات صرف د

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا

د پاره سخت عذاب دے - او که زیات کړی الله رزق د ټولو بندګانو نو زیاتے به کوی

فِي الْأَرْضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرٌ

دوی په زمکه کښے لیکن رالیږی ئې په اندازے سره هغه چه رضا شی د هغه یقیناً الله په بندګانو خپلو خبردار

بَصِيرٌ ﴿٢٧﴾ وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِن بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنشُرُ

لیدونکے دے - او الله هغه ذات دے چه رالیږی باران پس د هغې نه چه دوی نا امیده شی او خوروی

رَحْمَتَهُ ۚ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٨﴾ وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ

رحمت خپل او هغه کارجوړونکے قصفا تو مالک دے - او ځینے د دلائلو د هغه نه پیدا کول د آسمانونو

وَالْأَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا مِن دَابَّةٍ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ

او د زمکے دی او هغه شے دے چه خور کړی ئې په دواړو کښے ځناور نه سرچه وی او دا الله په جمع کولو د دوی

إِذَا يَشَاءُ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾ وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ

کله چه اوغواړی قدرت والا دے - او هغه چه اورسی تاسو ته تکلیف نو په سبب د ګټے د لاسونو

أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ ﴿٣٠﴾ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ ۖ

ستاسو دے او عفوه کوی هغه ډیرګناهونه - او نه یئ تاسو عاجز کونکی د الله په زمکه کښے -

وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٣١﴾ وَمِنْ آيَاتِهِ

او نیشته تاسو لره سوا د الله نه هیڅ کارجوړونکے او مدد ګار - او ځینے د دلائلو د هغه نه

الْجَوَارِ فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ ﴿٣٢﴾ إِن يَشَأْ يُسْكِنِ الرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ

جهازونه دی په دریاب کښے پشان د غرونو - که رضا شی د هغه نو ده به کړی هوا لاړه نو شی به جهازونه

رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٣٣﴾

ولاړ په شا د دریاب - یقیناً په دے کښے دلیلونه دی د هر صابر او احسان منونکی د پاره -

الله تعالیٰ نه غواړئ یو خوداد ټولو انبیاؤ مسئله ده او بل هغه دومره مهربان دے چه باران په داسے وخت کښے ورَوی چه خلق نا امیده شوی وی د باران نه خو ته خپل حاجتونه د مولانه غواړه چه باران ورَولے شی نو ستا حاجتونه هم پوره کولے شی (رفاتدم) د چا چه څه ضرورت وی او دا ایت هم په دیر واقع شو الله تعالیٰ حاجات پوره کوونکے دے او د ټیلو طرف ئے داده چه په مضمون او په عاجزئ سره واقی که ژړا نه ورځی نو صورت د ژړا دے جوړ کړی خو په خلوت کښے او د ټیلو په وخت کښے دے خپل مقصود په زړه کښے یاد ساتی خو چه مقصود د شرک نه خلاف نه وی ۱۲ سکه چه آسمانونه او زمکه او ژوندے سر پیدا کړی شی او بیا خلق د دوباره جمع کولے شی نو ستا حاجتونه هم پوره کولے شی نو د هغه نه حاجتونه غواړه ځی سکه واو عذاب د دنیایان دے چه مصیبت د خپل لاس ګټه ده یعنی اکثر سبب د مصیبت ګناه دے او مصیبت ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے

وَمَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ (التغابن ١١) رفاتدم) هر مصیبت په وخت بر سره واقع چه اے الله دا تکلیف تا راکړے او ګناه زما هم غواړے الله ته غفور دے ما سره قانون ستا کوه ما سره رحم او کړه ۱۲ شه یعنی که تاسو د الله تعالیٰ فرمان نه منئ نو جهازونه

ك تکلیف ملکه رالول چه مخالفینو ته پته او لگی چه دوی له ځائے د تېښتې نشته دوی حیح د الله تعالیٰ د وحدانیت په دلائلو کښے جګړے کوی او غیر الله له امداد او تصرف ثابتوی ۱۲ ؎ دا ترهیب دے د دنیا نه چه راشه په دنیا فخر و رمه کوه

اَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا وَيَعْفُ عَنْ كَثِيرٍ ﴿٣٤﴾ وَيَعْلَمَ الَّذِينَ

او یا به هلاک کړی هغو له په سبب د کسب د دوی او معاف کوی ډیرو گناهونه - او چه معلوم کړی هغه کسان چه جګړه

يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِنَا مَا لَهُمْ مِنْ مَحِيصٍ ﴿٣٥﴾ فَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ

کوی په ایتونو زمونږ کښے - چه نشته دوی له ځائے د بچاؤ - نو هغه چه درکړے شوے دے تاسو ته

شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَى لِلَّذِينَ

څیز نو هغه سامان د ژوند لنډی دے - او هغه شے چه الله سره دے غوره دے او همیشه پاتے کیدونکے دے

آمَنُوا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾ وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ

د پاره د مومنانو او چه خپل رب ته ځان سپاری - او د پاره د هغو چه ځان بچ کوی د لوئیو

الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَالَّذِينَ

گناهونو نه او د بے حیائی نه او کله چه غصه ورشی نو دوی بخښنه کوی - او د پاره د هغو خلقو

اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ

چه فرمان منی د رب خپل او کوی مونځ او کار د دوی جرګه دی په مینځ د دوی کښے

وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ

او هغے د هغو مال نه چه ما ورکړے دے خیرات کوی - او د پاره د هغو چه کله او رسی هغوی ته ظلم نو

هُمْ يَنْتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾ وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا فَمَنْ عَفَا

دوی صرف بدله اخلی - او بدله د بدئ بدی ده په شان د هغے - نو چا چه عفوه او کړه

وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَلَمَنِ

او نیکی ئے او کړه نو ثواب د هغه په الله دے - یقیناً الله مینه نه کوی د ظالمانو سره - او چا چه بدله

انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِ فَأُولَئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِنْ سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا

واخسته پس د ظلم د په هغه باندے نو په دوی باندے نیشته څه الزام - یقیناً

د دنیا لږ سامان دے متاع وئیلے کیږی هغه شی ته چه فائده ترے اخستلے شی او بیا ورک شی او فنا شی ۱۲ ۱۲
؎ دا ترغیب دے نیکو اعمالو ته ۱۲ ؎ دا د عذاب نه د بچ کیدو طریقے دی چه په الله باندے یقین او کړی چه هر څه کولے شی او په هر څه پوره دے او حاجتونه پوره کولے شی
؎ دا دویم طریقه ده یعنی ظلم مه کوئ ۱۲
؎ یعنی ایمان راوړی ځئ او ظلم مه کوئ او احسان کوئ نو الله تعالیٰ به ستاسو عذاب ختم کړی ۱۲ ۱۲
؎ یعنی احسان کوئ ۱۲
؎ یعنی ظلم نه کوئ ۱۲
؎ نو که چا د بدل چا ته زوان او کړو نو صبر بهتر دے او که د خیر کولے نشو داسے به وائی چه یا الله د دغه سړی هرومره تا وان او کړه چه څومره هغه ځما تاوان کړے دے او یا به او وائی چرا مے منتقمه. او اکثر به خیر و لره نه کوئ لهونه به په بحالت کښے او واز کوی چه فلانکی ته خیر دے او کړی په هغه خدائے د سر او مال او دین نه خلاص کړی دا هم ظلم دے ۱۲

السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ يَظْلِمُوْنَ النَّاسَ وَيَبْغُوْنَ فِي الْاَرْضِ

الزام په هغو دے چه ظلم کوی په خلقو باندے او فساد کوی په زمکه کښے

بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ

ناحقه - دغه دی دپاره عذاب دردناک دے - او چا چه صبر اوکړو او بخنه ئے اوکړه

اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿٤٣﴾ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ

بے شکه دا کار د مقصودی کارونو نه دے - او چا لره چه ګمراه کړی الله نو نیشته هغهٔ لره

مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ

هیڅ کارجوړونکے سوا د الله نه - او ته به وینے ظالمانو لره هر کله چه دوی اووینی عذاب چه

يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿٤٤﴾ وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا

وائی به آیا شته واپسئ ته څهٔ لار؟ او ته به وینے دوی لره چه پیش کیږی به اور ته

خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ وَقَالَ الَّذِيْنَ

عاجز به وی د ذلت نه ګوری به په پټ نظر سره - او وائی به

اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ

مؤمنان چه یقیناً برباد هغه دی چه نقصان ئے رسولے دے ځان ته او خپل خاندان ته په ورځ

الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ ﴿٤٥﴾ وَمَا كَانَ لَهُمْ

د قیامت - خبردار چه یقیناً ظالمان به همیشه عذاب کښے وی - او نیشته دوی لره

مِّنْ اَوْلِيَآءَ يَنْصُرُوْنَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ

هیڅ امداد کوونکی چه امداد اوکړی د دوی سره سوا د الله نه - او چا لره چه ګمراه کړی الله

فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ﴿٤٦﴾ اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ

نو نیشته هغهٔ لره هیڅ لار د بچاؤ - او منئ حکم د رب خپل مخکښے د هغے نه چه راشی

یقین دا هغو کارونو نه دی

۱ دا د عذاب د آخرت بیان دے ۱۲

۲ دوی به اور ته مخامخ کیږی او اور د جهنم خو شعور والا دے ۱۲

له وړاندې نه ده ... ته د خوشحالئ په وخت تکبر کوی او د سختئ په وخت کې ناشکری ... وړ ... حاجتونه ... ځکه چه ... معلومه ... څه ... سره تعلق لری ... قسم ... ورته اوشی په دغه وخت نبی علیه الصلوٰة والسلام ته خو ... قسم سخت ... صرف آواز ... چه موسیٰ علیه

یَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ۚ مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ

هغه ورځ چه نشته واپسی هغې لره د الله نه - نه به وی تاسو لره څه ځای د پناه په هغه ورځ او نه به وی تاسو لره

مِّنْ نَّكِيْرٍ ﴿٤٧﴾ فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ اِنْ

انکار (د خپل گناه نه) نو که مخ واړوی نو مونږ نه یئ لیږلی تا لره په دوی باندې ذمه دار - په تا صرف

عَلَيْكَ اِلَّا الْبَلٰغُ ۗ وَاِنَّآ اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ

رسول ل دی - او دا چه اوڅکوو انسان ته د خپل طرف نه مهربانی نو خوشحالیږی په هغې

وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ كَفُوْرٌ

او که اورسی دوی ته تکلیف ځکه چه مخکښې دوی گناه کړی دی نو یقیناً انسان ناشکره دے -

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ

صرف الله لره ده بادشاهی د آسمانونو او د زمکې - پیدا کوی هغه چه رضا ئے شی - بخی هغه چا ته چه رضا ئے شی

اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ﴿٤٩﴾ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ

زنانه او بخی هغه چا ته چه رضا ئے شی نارینه - یا ورکوی دوی لره جوړې نارینه او زنانه -

وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ۚ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿٥٠﴾ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ

او جوړوی هغه چا لره چه رضا ئے شی شنډ - یقیناً الله پوه دے قدرت والا دے - نیشته طاقت د یو بشر

اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا

چه خبرې ورسره اوکړی الله مگر په وحی سره یا د روستو د پردې نه یا رالیږی رسول نو

فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ مَا يَشَآءُ ۚ اِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿٥١﴾ وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ

وحی اوکړی په حکم د الله سره هغه چه رضا ئے شی د الله - یقیناً الله لوئے حکمت والا دے او دغسې مونږ رالیږلی دی

اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا ۚ مَا كُنْتَ تَدْرِيْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ

ملائک تا ته په حکم خپل سره - تا ته نه وه معلومه چه څه دے کتاب او نه تا ته ایمان معلوم وه

السلام چه په طور کښې - ورته چه ملائک را شی یا په شکل د انسان یا په شکل د انسان یا معلوم وی یا نا اشنا نو دا قسمه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته شوی دی نو د دینه به غلط فهمیانو تحریک وی نو د اولیا علم شو - او د شرع تکلم : سره هم تعلق لری چه د پیغمبرانو ... پشان تا ته وحی شوې ده ... یعنی په دغه دریو طریقو سره تا ته وحی شوې ده دلیل وحی دے ... د ایمان تفصیلی احکام تا ته معلوم نه وو ... (رضوی) ...

نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه د پیغمبرئ نه مخکښې نه یې کولو عبادت د غیر الله نه ... نه خوری ... ابوطالب شام ته ... راهب ... زر وه ... تفصیلی احکام نه وو ... خو د ومره را ته معلومه ده چه دین د الله په دنیا کښې توحید ... معلومه ده چه محمد قوم مشرک وو او تاسو هم مشرکانو ... کښې ... لات منات نوم ...

خو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ... پیغمبری نه شرک ... گناه ... د خوښ ... اصلاح کیده ... شی ۱۲ ۱۲ ۱۲

وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ؕ وَاِنَّكَ

لَتَهْدِيْۤ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍۙ۝۵۲ صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِيْرُ الْاُمُوْرُ۝۵۳

سُوْرَةُ الزُّخْرُفِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حٰمٓ۝۱ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ۝۲ اِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ

تَعْقِلُوْنَ۝۳ وَاِنَّهٗ فِيْۤ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ۝۴ اَفَنَضْرِبُ

عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ۝۵ وَكَمْ اَرْسَلْنَا

مِنْ نَّبِيٍّ فِي الْاَوَّلِيْنَ۝۶ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ

يَسْتَهْزِءُوْنَ۝۷ فَاَهْلَكْنَاۤ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ۝۸

ــه واویل عقلی دے اول چه دوی هم دا منی چه خالق دَ اسمانونو او دَ زمکے صرف الله تعالیٰ دے نو ما جتونه پوره کوونکے هم صرف الله تعالیٰ دے ۱۲ کله دا الله تعالیٰ خپل صفات بیانوی دا دَ هغوی خبرے تتمه ده چه دا صفات هم دوی منی ۱۲ ــه دلائل ثبات

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ

او که ته پوښتنه اوکړے دَ دوئ نه چه چا پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه نو دوی به اووائی چه پیدا کړی دی

الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ﴿٩﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَجَعَلَ لَكُمْ

لوئ زبردست پوهه باد شاه - هغه چه جوړه کړیده تاسو لره زمکه فرش او جوړے کړیده تاسو لره

فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٠﴾ وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً

په دے کښے لارے چه تاسو لار معلومه کړئ (منزل مقصود ته) او هغه چه راوروی دَ بره نه باران

بِقَدَرٍ فَأَنشَرْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١١﴾ وَالَّذِي

په اندازه سره - نو تازه کوو مونږ په دے سره کلے ښار - دَغسے به تاسو راویستلے شئ - او هغه چه هغه

خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا

پیدا کړیدی جوړے ټولے او جوړے کړیدے هغه تاسو لره دَ جهازا و دَ څاروونه هغه شے چه

تَرْكَبُونَ ﴿١٢﴾ لِتَسْتَوُوا عَلَىٰ ظُهُورِهِ ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا

تاسو پرے سوریږئ چه برابر شئ په شاګانو دَ هغه بیا تاسو یاد کړئ نعمت دَ رب خپل کله چه

اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا

تاسو برابر شئ په هغو - او تاسو او وایئ چه پاک دَے هغه ذات چه تابع کړے ئے دَ مونږ لره دا او نه وو مونږ

كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ﴿١٣﴾ وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿١٤﴾ وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ

دا لره قابو کوونکی - او مونږ به خپل رب ته واپس کیږو - او جوړه دی الله لره دَ هغه دَ

عِبَادِهِ جُزْءًا ۚ إِنَّ الْإِنسَانَ لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ أَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ

بندګانو نه اولاد - یقیناً انسان ناشکره دے ښکاره - آیا جوړه کړی دَ هغه شی نه چه الله پیدا

بَنَاتٍ وَأَصْفَاكُم بِالْبَنِينَ ﴿١٦﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ

کړیدی جینکئ او غوره کړی تاسو لره په ورکولو دَ ځامنو سره - او کله چه خبر شی یو دَ دوی په هغه چه جوړه

دَ قیامت دَ پاره جمله معترضه ده ۱۲ ــه دا الله تعالیٰ خپله مهربانی او لوئے قدرت بیانوی چه حاجات دَ دے لوئے مهربانی او دَ دے لوئے قدرت والا نه غواړئ ۱۲ ــه کله چه څوک په سورلئ باندے سورشی نو دا دُعا به وائی: سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ: بیا به درے ځله او وائی: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ: بیا درے ځله: اَللّٰهُ أَكْبَرُ بیا به او وائی: سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ: کله چه بنده بخښنه غواړی نو الله تعالیٰ ډیر خوشحال شی دَ دُعا مطلب دا دے چه اے الله دا سورلئ تا زمونږ تابع کړیده تصرفات ټول ستا دی او لوئی باد شاه ته ئے نو ما ته معافی اوکړه نو دا توسل دے په صفاتو دَ الله تعالیٰ او خپل عجز سره ۱۲ ــه دا زور نه ده چه دوی ملائکو ته نازولی او په الله تعالیٰ غالب والی دَ چا ډیره بے قدری ده دَ الله تعالیٰ چه الله تعالیٰ دَ ځان دَ پاره لونړه او تاسو لره ځلمان درکوی او جینکئ خو دوئ ته بدے ښکاری چه یو سړے خبر شی چه ستا لور شوہ پیده نو درے خفه شی

او جینکئ خو بے عقله دی دَ هغوی دَ کالو تصور دی نو دا بے عقله الله تعالیٰ دَ ځان دَ پاره غوره کوی دا خبره غلطه ده ۱۲

ع ۵
۲

سلہ آیا کافر کیږي او هغه زنانه چه کم عقله دي نو هغو لره به الله تعالی بانده غالب او نازبین ګڼړي ۱۲ سلہ ملائک هغوي تعالی بندګان دي ښځې نه دي نو دوي ورته ښځه ولي الله تعالی بدوه دی خبرہ تپوس اوکړي ۱۲ سلہ دوي

لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ۝ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا

حقه د رحمان دپاره مثل نو شي مخ د هغه تور او هغه د غم نه ډک وي - آیا هغه څوک چه پرورش

فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِيْنٍ ۝ وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ

کیږي شي د ځان په ګانو کښې او هغه په جګړه کښې خبره صافه نه شي کولی - او جوړ وي هغه ملائک

الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا ۗ اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ۗ سَتُكْتَبُ

چه بندګان د الله دي ښځې - آیا حاضر شوي وو دوی پیدائش د هغوی - او به لیکلی شي

شَهَادَتُهُمْ وَيُسْئَلُوْنَ ۝ وَقَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ۗ

شاهدي د دوی او د هغوی به تپوس اوکړې شي - او وائي دوی که د رضا وې د رحمان نو مونږ به عبادت نه وې کړی د

مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۗ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ۝ اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا

کړې د دوی - نیشته دوی له دې په وجه علم - بلکه نیشته هغوی مګر اټکل کوی - آیا ورکړې مونږ دوی ته کتاب

مِّنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ۝ بَلْ قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا

پخوا د قرآن نه نو دوی په هغه سره دلیل نیسي؟ بلکه دوی وائي چه مونږ موندلي دي پلارنیکه خپل

عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ ۝ وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ

په یوه دین باندې او مونږ په هغو پسې روان یو - او دغسې مونږ نه دي لیږلي پخوا

قَبْلِكَ فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا وَجَدْنَآ

ستا نه په هیڅ کلي کښې ویرونکی مګر اووې عیش ناکو هغې کلي یقیناً مونږ موندلي دي

اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ۝ قٰلَ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ

پلارنیکه خپل په یوه لاره او مونږ په هغو پسې روان یو - او وئیل هغه اوکه راوړم تاسو ته

بِاَهْدٰى مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ۗ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ

ډیر بهتر دین د هغه نه چه موندلي مو تاسو پرې پلارنیکه خپل؟ او دوی وائي بیشکه مونږ په هغه چه تاسو پرې لیږلي شوي یئ

بله غلطي دوی چه دوی دعوا د ځان څوک عبادت غیر الله د الله تعالی خوښه دي ۱۲ سلہ دوي چه وا خبره کوي نو ما دوي لره حکم کښې د قرآن نه بل کتاب نه دے ورکړے چه کوم نه دے دوي هغه په دلیل کښې پیش کوي ۱۲ سلہ بلکه د دوي دلیل دا دے چه دا زمونږ د پلار نیکه طریقه ده دے ته وئیلې کیږي تقلید مذموم او تقلید محمود سره د دلیله وي لکه دا څلور مذهبه د اهل سنت والجماعت پنځه فرقې دي یوه غیر مقلد او څلور مقلدین (۱) احناف (۲) شوافع (۳) حنابله (۴) او مالکیان - (فائده) غیر مقلد تقلید کوي خو غیر شخصي او مقلد بیا تقلید شخصي کوي او مطلق تقلید لازم دے: فَاسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ (نحل ۴۳) د یو مذهب نه بل مذهب ته اوښتل دا سوی وه چه زړه د دغه مالږ شه نو هم نو ځکه د دواړو مذهب پر پیدوم د یو مسلمان دا حق نیشته چه د بل مذهب سړي ته خپل مذهب ته بلل ځکه چه مذهب قبول حق دی اګر چه حق به مرضه د خلاف کښې یو دے ۱۲

لیدو عذاب دوی دنیا بیان دے ١٢ ٣ دا دلیل نقلی دے د ابراهیم علیه السلام نه چه د توحید مسئله نو دے نزده ډیر ګڼلے دا
ابراهیم علیه السلام بیان کړے ده او د حضرت پیغمبر دے مکے مخلے کا قرآن هم منی ١٢ ٣ شک پاتے نه شو په توحید کښے بلکه

دوی د توحید نه منکر انکار کوی چه الله تعالی دوی لره او د دوی پلار نیکه لره دنیوی ساز و سامان ورکړے دے نو دوی د هغه نعمت قدر او نه کړو بلکه خلاف شروع کړو د تردے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم راغے نو پکار وه چه دوی د خلاف نه بس کړی وے نو دوی خلاف شروع کړو او داوئے ویل چه دا سحر دے او مونږ داوینه منو ١٢ ٤ دا زور نه وه چه دوی وائی چه دا قرآن یو لوئے سړی د مکے مکرمه یا د طائف ولے نه ملاویږی په مکه کښے ولید بن مغیره او په طائف کښے عروه بن مسعود وه دے ته قرآن نه ورکوی عزت لوئے شے بکاریده نو الله تعالی جواب ورکوی چه دوی څوک دی او نبوت تقسیموی ما خو د هغه ذلیل شی چه دنیا ده تقسیم دوی ته نه دے حواله کړے او مونږ ما په منو دپا کړے دی رحمت د الله خو ډیر لوئے شے دے د ده تقسیم کله هغوی ته حواله کیږي ٥ رفاهیت صاف معلوم شو چه په اسلام کښے مساوات په مال او جاه کښے نیشته البته مساوات په احکامو د شریعت کښے شته ١٢ ٥ بیا د حقل

كَفِرُونَ ﴿٢٤﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٢٥﴾

د هغه څیز او د کوم سره چه تاسو رالیږلې شوی یئ انکار کوو - نو مونږ بدله واخستله د دوی نه نو اوګوره چه څنګه شو آخره د دروغژنو کوونکو -

وَإِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢٦﴾ اِلَّا

او کله چه اوویل ابراهیم خپل پلار ته او قوم خپل ته چه زه جدا یم د هغو نه چه تاسو ئے عبادت کوئ - مګر هغه

الَّذِيْ فَطَرَنِيْ فَاِنَّهٗ سَيَهْدِيْنِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِيْ

ذات چه هغه پیدا کړے یم ما لره یقیناً هغه به ما ته لار ښوونه کوی - او هغه کړے دے توحید لره خبره پاتے په

عَقِبِهٖ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٢٨﴾ بَلْ مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى

اولاد د هغه کښے چه دوی هغه ته واپس شی - بلکه ما فائده ورکړه دوی ته او پلار نیکه د دوی ته تردے چه

جَآءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوْا هٰذَا

راغے دوی ته حق دین او رسول بیان کوونکے - او هر کله چه راغے دوی ته حق دین نو اوئے ویل دوی چه دا

سِحْرٌ وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ

جادو دے او مونږ د دے نه انکار کوو - او اوویل دوی ولے نه شو رانازل دا قرآن یو لوئے سړی باندے

مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴿٣١﴾ اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا

د دواړو کلو نه - آیا دوی تقسیموی مهربانی د رب ستا - مونږ تقسیم کړیدے

بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ

په مینځ د دوی کښے معیشت د دوی په ژوند دنیا کښے او مونږ اوچت کړیدی ځینے د دوی په ځینو نورو باندے

دَرَجٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا ۗ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا

په درجو کښے چه جوړ کړی ځینے د دوی ځینو نورو لره تابعدار - او مهربانی د رب ستا غوره ده د هغه څه

يَجْمَعُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ

نه چه دوی جمع کوی - او که نه وے دا خبره چه شی به خلق یو جماعت نو مونږ به کړے وے هغو لره چه

ته متاع د دنیا وطن د دنیا د و مرتبه قدر لري هم په نزد د الله تعالی چه که دا خطره نه وے چه خلق به کافر شی نو مونږ به کافرانو ته د سرو زرو چتونه او
سیړۍ ورکړے وے - نبی علیه السلام فرمائی چه که د دنیا قدر د الله سره د ماشي د وزر هومره وے نو کافر ته به ئے یو ګوټ اوبه هم نه ورکړے ١٢

سه دا زور ته وه چه څوک د الله تعالیٰ نه خلاف کوي نو شیطان په هغه باندې مسلط شي نو د سے د حق نه منع کوي او د دا
خیال وي چه زه په سمه لاره یم نو د سے کنا ه نه ویریږي نه او توبه نه او باسي ځکه د سے خو دا کار د ثواب ګڼړي نو چه کله مړ شي

يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ﴿٣٣﴾

انکار کوي د مهربان باچا نه د پاره د کورونو د دوئ چتونه د سپینو زرو او د اند زینې چه دوئ پرے ختلي -

وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَابًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُونَ ﴿٣٤﴾ وَزُخْرُفًا ۚ وَإِن كُلُّ

او د پاره د کورونو د دوي دروازې او تختونه چه دوي پرې تکیه لګوي - او د سرو زرو - او دا ټول خو نه

ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْآخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾

دي بلکه سامان د ژوند دنیا دے - او اخرت په نزد د رب ستا د پاره د متقیانو دے -

وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾

او هغه څوک چه ړوند شي د یاد د مهربان باچا نه نو مقرر به کړو په هغه شیطان نو هغه به ورځ ملګرے

وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾

او دا شیطانان منع کوي دوي د لارے نه او دوي ګمان کوي چه موږ په سمه لار یو -

حَتَّىٰ إِذَا جَاءَنَا قَالَ يَا لَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ

تر دے چه کله راشي ما ته نو وبه وائي ارمان ځما او ستا په مینځ کښے مسافت د مشرق او مغرب وے نو بد ملګرے

الْقَرِينُ ﴿٣٨﴾ وَلَن يَنفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ

ملګرے ئے - او هیڅ کله نفع نه درسوي تاسو ته نن ځکه چه تاسو ظلم کړے وو او اخیره چه تاسو په عذاب کښے

مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ أَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَن كَانَ

شریک یئ - آیا نو ته اورولے شے حق کڼړو ته یا لارښوونه کولے شے ړندو ته او هغه چا ته چه هغه وي

فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٤٠﴾ فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ ﴿٤١﴾ أَوْ

په ګمراهئ ښکاره کښے - نو که بوځو مونږ تا لره نو یقیناً د دوي نه بدله اخلو - یا

نُرِيَنَّكَ الَّذِي وَعَدْنَاهُمْ فَإِنَّا عَلَيْهِم مُّقْتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾ فَاسْتَمْسِكْ

او ښایو تا له هغه عذاب چه د دوي سره مونږ وعده کړے ده نو یقیناً زه په دوي باندې طاقت والا یم - نو مضبوط اونیسه

نو بیا به ارمان کوي ۱۲
ؔکه دا د عذاب او د اخرت
بیان دے په اخرت کښے به
کافر ارمان کوي چه دنیا کښے
او د شیطان په مینځ کښے
ډیر مسافت وے په دنیا
کښے چه مصیبت عام شي نو
اسان شي لیکن په قیامت
کښے دا خبره نشته ۱۲
ؔکه دا زورنه ده چه کافران
پښان کړے دا او کفر ودي
نو د دوینه طمع د ایمان
مه کوه په دوي ټه قهر مه
لګیږه ۱۲ ؔکه دا د
عذاب او اخرت بیان دے
یعنې تا لره وفات کړم پخوا
د عذاب ورکولو د دوي نه نو
ضرور به د دوینه بدله
واخلم ستا نه روستو یا
به ستا په ژوند کښے به
دوي عذاب ورکوم نو ستا
زړه به یخ شي ۱۲ ؔکه دا
دلیل وحي دے یعنې په
قرآن باندې عمل کوه
د کافرانو د خلاف نه
چرے په شک کښے نه شے
واقعي ستا لاره حقه ده
دا الله تعالیٰ نور دلیل د روئ
او دا د توحید مسئله
لکه چه ته دا واخله دغسې
دوي هم دا وئیل پخوا
لوچه د هغې تفصیل او شو
نو دوي خلاف شروع
کې ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

له دا دليل نقلي اجمالي دے يعنې د رسولانو په حق کښې تلاش او کړه چه تيرو پيغمبرانو د شرک رد کړے دے دا نو ثے مسئله نه دے ۱۲

بِالَّذِيٓ أُوحِيَ إِلَيۡكَۖ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤٣﴾ وَإِنَّهُۥ لَذِكۡرٞ لَّكَ

هغه چه تا ته دالېګلے شوے دے. يقيناً ته په لاره برابره باندے يې- او دا قرآن ياد ګيرنه ستا

وَلِقَوۡمِكَۖ وَسَوۡفَ تُسۡـَٔلُونَ ﴿٤٤﴾ وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ

او د قوم ستا- او تپوس به او شي ستاسو- او تپوس او کړه د هغه چا نه چه مالېګلي دي پخوا ستا نه

مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ ﴿٤٥﴾ وَلَقَدۡ

په خپلو رسولانو کې- چه آيا ما مقرر کړي دي سوا د رحمان نه الهه چه د هغو عبادت کيدلے شي؟ او يقيناً

أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ

مالېګلے وه موسیٰ سره د دلائلو خپلو فرعون او خپلو د هغه ته نو او وئيل موسیٰ چه زه رسول د رب

ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٦﴾ فَلَمَّا جَآءَهُم بِـَٔايَٰتِنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا يَضۡحَكُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا

العالمين يم. نو کله چه راغے هغو ته سره د دلائلو خپلو نو هغوي په هغه دلائلو پورې خندل- او نه به

نُرِيهِم مِّنۡ ءَايَةٍ إِلَّا هِيَ أَكۡبَرُ مِنۡ أُخۡتِهَاۖ وَأَخَذۡنَٰهُم بِٱلۡعَذَابِ

او خودله دوئ ته يوه نخښه نو هغه لويه وه د بلې نه- او او نيول مادوئ لره په عذاب

لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿٤٨﴾ وَقَالُواْ يَـٰٓأَيُّهَ ٱلسَّاحِرُ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ

اميد و چه دوئ واپس شي رجوع کړي او دوئ او وئيل اے ساحره سوال او کړه موږ لره د رب خپل نه په هغه

إِنَّنَا لَمُهۡتَدُونَ ﴿٤٩﴾ فَلَمَّا كَشَفۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِذَا هُمۡ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾

سوال طريقه چه هغه کړے دے الله تا ته- يقيناً موږ به هدايت موندونکي يو- نو کله چه مالرې کړو د دوئ نه عذاب نو دوئ وعده ماتول

وَنَادَىٰ فِرۡعَوۡنُ فِي قَوۡمِهِۦ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَلَيۡسَ لِي مُلۡكُ مِصۡرَ وَ

او آواز او کړو فرعون په خپل قوم کښې هغه او وئيل اے قومه آيا نه ده ما په لاس کښې حکومت د مصر او

هَٰذِهِ ٱلۡأَنۡهَٰرُ تَجۡرِي مِن تَحۡتِيٓۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ﴿٥١﴾ أَمۡ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡ

دا ويالې چه بهيږي لاندے د محل زما نه- آيا تاسو نه وينئ- بلکه زه غوره يم د هغه نه

ك دا دليل نقلي تفصيلي دے د موسیٰ عليه السلام نه ۱۲

ک په ځائے د شلو دوئ خندا شروع کړه ۱۲

ک يعني مونږه ايمان راوړو خو ته الله تعالیٰ ته سوال او کړه چه دا عذاب زمونږ نه واپس شي او سوال چه کوے نو په هغه مونږ مرے طريقے سره او کړه چه کوم الله تعالیٰ تا ته خودلے ده نو چه کله به ما عذاب لرے کړو نو دوئ به د وعده د ايمان ماته کړه. د دے تفصيل په سورت اعراف آيت ۱۳۳ کښې تير شوے دے ۱۲

۵ دا فرعون قوم ځانته مائل کوي چه خپل صفت کوي او د موسیٰ عليه السلام بدي بيانوي (ربط د صنايع نه) الله تعالیٰ فرمان ذمه نوره دا کولے شم چه تاسو هلاک کړم او تاسو په ځائے ملائک مقرر کړم د خلافت د پاره لکه انسان چه په ځائے د پيريانو خليفه شوے دے ۱۲

۹ يعني د عيسیٰ عليه السلام بے د پلاره پيدا کيدل د قيامت دليل دے چه څنګه بے پلاره بچه پيدا کولے شي نو مخلوق هم دوباره پيدا کولے شي ۱۲

له یعني فصیح نه دے. ته یعني مالدار هم نه دے په دغه زمانه کښې دستور وو چه مشرانو به سره زر او بنګړي په لاس کول نو ته صاحب مخلوق ۶ ... ځکه یعني دوی خپل قوم ...

هٰذَا الَّذِيْ هُوَ مَهِيْنٌ ۙ وَّلَا يَكَادُ يُبِيْنُ ۝ فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ

کوم چه بے عزته دے - او صاف بیان نه شي کولے - نو ولے نه شي ملاو ده ته بنګړي د

مِّنْ ذَهَبٍ اَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ ۝ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ

د سرو زرو یا چه راشي د ده سره ملائک تړلي په قطار سره - نو بے عقله کړو ده قوم خپل

فَاَطَاعُوْهُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝ فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا

نو حکم ومنلو د ده - یقیناً دوی قوم نافرمان وو - نو هرکله چه دوی زړه او خفه کړو مونږ نو بدله واخسته

مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝ فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ ۝ ع

د دوی نه نو مالغرق کړل دوی ټول - نو کړل مادوی لره ختم شوی او نمونه د روستنو د پاره -

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا اِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّوْنَ ۝ وَ

او هرکله چه بیان شو حال د ځوي د مریمے په مثل کښې - نو د دغه وخت نه قوم ستا د خبرے نه چغے وهي - او

قَالُوْٓا ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ ۭ مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ۭ بَلْ هُمْ قَوْمٌ

او وائي دوی آیا خدایان زمونږ غوره دي یا عیسیٰ - او دا مثل چه بیانوي نو صرف د جګړے د پاره - بلکه دوی ټول قوم دے

خَصِمُوْنَ ۝ اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ

جګړه مار - دے نه دے مګر بنده د مونږ مهرباني کړے وه او مونږ ګرځولے دے ده د پاره د هدایت

اِسْرَآءِيْلَ ۝ وَلَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَّلٰٓئِكَةً فِي الْاَرْضِ يَخْلُفُوْنَ ۝

بني اسرائیلو - او که مونږ اوغواړو نو کړو به تاسو کښې ملائک لره په زمکه کښې خلافت به کوي -

وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ ۭ هٰذَا صِرَاطٌ

او یقیناً دے علامه د قیامت د پاره نو شک مه کوئ په قیامت کښې او زما فیصله او منئ ... دا لاره

مُّسْتَقِيْمٌ ۝ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝ وَلَمَّا

لار ده - او منع دے نه کړي تاسو لره شیطان د حق نه یقیناً دا شیطان ستاسو د پاره ښکاره دشمن دے - او هرکله

مطلب دے په فهم د قرآن کښې شان نزول دے یعني بنده ولي د قرآن په حقله واقع پوره دے - بلکه الفاظ د قرآن عام دي ... وه مه ... یعني دا ... د دوی دستور دے ... د عذاب ... دنیا بیان دے یعني ... تاسو کړ ... به ...

لے دا دلیل نقلی تفصیلی دے د عیسیٰ علیه السلام نه و ۲ کے یعنی عیسیٰ علیه السلام چہ پخپله اعلان کوی چه الله تعالیٰ ځی او ستاسو پالونکے دے نو د دے نه ځنګه په الله تعالیٰ غالب کیږی ۱۲ سے دا جواب دے د دے اعتراض چه حرکله عیسیٰ علیه

جَآءَ عِیْسٰی بِالْبَیِّنٰتِ قَالَ قَدْ جِئْتُکُمْ بِالْحِکْمَةِ وَلِاُبَیِّنَ لَکُمْ

راغے عیسیٰ دلائلو لره او وے حقه ما راوړے ده تاسو ته پخه خبره او چه بیان کړم تاسو ته

بَعْضَ الَّذِیْ تَخْتَلِفُوْنَ فِیْهِ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ

بعضے حقه شے چه تاسو په حقه کښے اختلاف کوئ - نو او ویریږئ د الله نه او زما خبره اومنئ - یقیناً الله ځما

رَبِّیْ وَرَبُّکُمْ فَاعْبُدُوْهُ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴿٦٤﴾ فَاخْتَلَفَ

رب دے او رب ستاسو دے نو صرف د حقه محتاجی کوئ دا لار برابر ده - نو اختلاف وکړو ډلو

الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَیْنِهِمْ فَوَیْلٌ لِّلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا مِنْ عَذَابِ یَوْمٍ

په مینځ خپل کښے - نو خرابی ده ظالمانو لره د عذاب د سخت ورځے

اَلِیْمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ یَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِیَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ

نه - نو د بل شی انتظار نه کوی بے د قیامت نه چه راشی دوی ته ناڅاپه او دوی به

